ملحد ټول یقین په مادې باندے وی چه دا هر څه د ځان نه کیږی ، یو متصرف او کوونکی
نشته -- قرآن کریم دا نظام د باران ذکر کړی دی ،
{أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا} [النور: 43]
{ وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيَاحَ} [النمل: 63]
چه کله په اسبابو یقین پیدا شی نو بیا مسبب نه منکر شی ، نو داسې سړی بیا ملحد شی-

## د موسی علیه السلام واقعه

موسی علیه السلام ته د معدې تکلیف وو ، نو الله رب العزت ته ئې فریاد اوکړو ، الله تعالی
ورته اوویل : چې فلانکی بوټی اوخوره ، نو چه هغه ئې اوخوړلو نو خه شو او تکلیف ئې ختم
شو - بیا پرې دوباره تکلیف راغلو نو لاړلو او هغه بوټی ئې دوباره اوخوړلو ، نو بیا خه نه شو ،

نو الله تعالى ته ئې بيا فرياد اوکړو ، الله رب العزت ورته وئيل : چې اول خو زما حکم وو په دويم ځل ورسره زما حکم نه وو ، نو ته ئې خه نه کړې - نو قرآن کريم کښې په اول سر کښې الله رب العزت خپل پيژنګلو کوى :

{الْحَمْدُ لِلَّهِ } [الفاتحة: 2] : ټول کمالات د الله تعالى دى ، ځکه چې (١) الله تعالى خالق دى ، (٢) { رَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [الفاتحة: 2] تربيت کوونکى هغه ذات دى ، (٣) {الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ} [الفاتحة: 3] برکت اچونکى الله تعالى دى ، (٤) {مَالِكِ يوْمِ الدِّيْنِ} [الفاتحة: 4] اختيار مند الله دى ، دا څلور / ٤ طريقې د الله تعالى پيژندلو دى ، چې د نشت نه ئې شته کړې ، او بيا ئې هر قسم تربيت زما اوکړو ، بيا ئې را کښې برکت واچولو ، ماشوم ، ځوان ، بوډا ، بيا مې ځان ته واپس کوى ،

## د الله تعالى د معرفة څلور طريقې:

### اوله طريقه اَلخَالِقُ لِكُلِّ شَئٍ هُوَاللّٰهُ

{الْحَمْدُ لِلَّهِ} [الفاتحة: 2] اَلخَالِقُ لِكُلِّ شَئٍ هُوَ اللّٰهُ : چه كله هر يو بنده دې خبرے ته سوچ اوكړى چه دې كائنات كښې د انسان هيڅ تذكره نه وه او بيا دومره خائسته شكل باندے الله تعالى انسان پيدا كړو ، دارنګه د زمكې ، آسمان ، سپوږمۍ ، ستورى ، دريابونو ، اونو ، سيندونو ، بوټو ، غرونو ، حيواناتو ، نباتاتو ، جماداتو ، مائعاتو هيڅ تذكره او هيڅ وجود نه وو ، او دې ټولو ته الله تعالى وجود وركړو ، نو دده ذهن به په دې خبره خلاص شى ، چه اَوْ : يو پيدا كونكى ذات شته ځكه چه دا ټول څيزونه بغير د پيدا كونكى نه نه دى شوى ، نو ددے يو پيدا كونكى ذات شته چه هغه الله تعالى دى -

### دويمه طريقه: اَلْمُرَبِّىْ لِكُلِّ شَئٍ هُوَاللّٰهُ

{ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [الفاتحة: 2] : اَلْمُرَبِّىْ لِكُلِّ شَئٍ هُوَ اللّٰهُ : بيا چه كله انسان دې خبرے ته سوچ اوكړى چه انسان اول ماشوم وى ، پاپۍ ئې وى ، چاچۍ ئې وى ، بيا لاسونه شى ، بيا خپې شى ، لوئى شى په مزه مزه ، دارنګه بوټى وى ، بيا ترينه اونه جوړه شى ، ګل وى ، ميوه اونيسى ، دا تربيت كونكى هم خوك شته او كه نه ، چه كله يو سړى د ماشوم تربيت ته سوچ اوكړى ، بالكل ماشوم ناپوهه چه په هيڅ نه پوهيږى ، پيدا شى ، د خوراك طريقه ورته الله اوښائى ، اول د مور پۍ بيا روستو خوراكونه ، بيا ګرځيدل ، بيا خبرے كول ، بيا منډى وهل ، تَبْلِيْغُ الشَئ اِلٰى كَمَالِه شَيْئًا فَشَيْئًا ، كه حيوانات دى ، كه جمادات دى ، كه مائعات دى ، كه نباتات وى ، د هر يو مناسب تربيت كونكى هم يو ذات شته نو دده زړه به آواز اوكړى ، چه دا د ځان نه نه دى شوى او نه كيږى بلكه يو تربيت كونكى ذات شته نو دى به اوائى چه هغه الله تعالى دى -

## دریمه طریقه: اَلْمُبَارِكْ فی كُلِّ شَیٍٔ هُوَاللّٰهُ

{ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ} [الفاتحة: 3] : اَلْمُبَارِكْ فی كُلِّ شَیٍٔ هُوَ اللّٰهُ : ورسره چه كله یو بنده په دې خبره سوچ اوكړی چه اول دوه وی یعنی ښځه او خاوند ، اللّٰه تعالی ئې درې كړی ، اول دوه تنه كورنۍ وی ، بیا ۲۰ – ۳۰ تنه كورنۍ شی ، دارنګه اول به دې یوه بورۍ اوړو باندے میاشت كار كیدو ، اوس به دویمه ورځ من اوړه راوړې ، چه پتې ته درۍ جوار اوسې نو كور ته لس / ۱۰ منه جوار راوړې ، چه یو موټې بنډۍ تخم اوكړې ، نو ټوله محله بیا بنډۍ خورې او ختمیږی نه ، چه دوه دړۍ غنم اوكړې ، نو ۲۰ منه غنم ترے كورته راوړې ، چه سړی دې خبرے ته سوچ اوكړی چه بركتونه اچونكی هم څوك شته ، نو دی به اوائی چه او یو ذات شته چه هغه هر څه ډیرونكی دی نو زړه به ئې آواز اوكړی چه هغه اللّٰه تعالی دی -

## څلورمه طریقه: اَلمَالِكُ لِكُلِّ شَیٍٔ هُوَاللّٰهُ

{ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ} [الفاتحة: 4] : اَلمَالِكُ لِكُلِّ شَیٍٔ هُوَ اللّٰهُ : چه كله انسان دې خبرے ته سوچ اوكړی چه زما یوه اراده وی او چه اوځم د كور نه بل اوشی - علی رضی اللّٰه عنه فرمائی : " عَرَفْتُ رَبِّیْ بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ " ، ما خپل رب د ارادو په بدلیدو باندے اوپیژندو ، نو چه بنده سوچ اوكړی چه ارادې بدلونكی یو ذات هم شته نو دی به اوائی ، اَوْ : اللّٰه تعالی ذات زما په ارادو مالك او قادر دی - نو چه كله یو سړے دې څلور خبرو كښې سوچ اوكړی نو دده زړه به آواز اوكړی چه اَوْ : اللّٰه یو ذات شته ، چه دا كارونه كوی ، نو دا څلور طریقې قرآن كریم ده اللّٰه تعالی د معرفت ذكر كړی دی .

بسم الله الرحمن الرحيم

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْن

الاحزاب 40

# ختم نبوت

## ختم نبوت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ} [الأحزاب: 40]

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نبى بَعْدِىْ ،

د اسلام په اهمو عقيدو كښې يوه عقيده د ختم نبوت هم ده چې نبى عليه السلام د ټولو نه آخرى پيغمبر ګڼړل او په نبى عليه السلام د نبوت سلسله ختمه شوه - چه الله رب العزت كوم پيغمبران دنيا له مقرر كړى دى په هغې كښې نبى عليه السلام آخرى پيغمبر وو - دا عقيده د اسلام د ضرورى عقائدو نه ده -

د ضرورى عقيدى مطلب دا دے : كه يو سړى دا اونه منى نو مسلمان كيدى نشى ، چه څنګه مسلمان له پكار دى چې په نورو عقيدو ځان پوهه كوى نو چه په دې عقيده هم ځان پوهه كړى ، لكه د الله تعالى د ايمان څه مطلب ؟ د پيغمبر د ايمان څه مطلب ؟ د كتابونو ، ملائكو ، آخرت ، قبر د ايمان څه مطلب دے ؟ اوس په دې عقيده كښې يو څو خبرے ياد ساتل ضرورى دى :

(١)دا عقيده په كوم دليل ثابته ده ،؟

(٢) د ختم نبوت مطلب څه دے ؟

په دې دوو خبرو ځان پوهه كول ضرورى دى - نو په دې اوله خبره كښې درى / ٣ خبرے دى :

(١)چه دا مسئله په كوم دلائل سره ثابت ده ، : (١) قرآنى آيات (٢) احاديث نبويه (٣) اجماع امت دا درې واړه قطعى دلائل دى ، په دې دلائلو باندے دا عقيده د ختم نبوت ثابت ده -

(١){ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ} [الأحزاب: 40]

ترجمه : نه دى نبى عليه السلام پلار د يو بالغ د نارينه ستاسو نه ليكن د الله تعالى رسول دے او

آخری پیغمبر دے۔

(۲) {وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ نَذِيرًا} [الفرقان: 51]

ترجمه : که زمونږ اراده وی ، نو هر یو کلی ته می جدا جدا پیغمبر لیګلی وو ، لیکن دا ارادا می اونکړه بلکه ته می د ټولو دپاره پیغمبر راولیګلی۔

(۳) {وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ} [البقرة: 4]

دا نه وائی : چه وَمَا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِكَ ، معلومیږی چه نبی علیه السلام آخری پیغمبر دے او د نبی علیه السلام کتاب قرآن کریم چې آخری کتاب د الله تعالی دے ، نور کتابونه ددے نه روستو نه راځی۔

## معنی د خَاتَمْ

خَاتَمْ بفتح الخاء ، خَاتِمْ بکسر التاء ، لغت کښې عالمانو لیکلی دی ، لسان العرب ، محیط وغیره وائی :

خَاتَم خَاتِم آخر الشئ ته وائی ، نبی علیه السلام خاتم النبین دے ، په ده باندے د نبوت سلسله اودریدله۔

صفا د قرآن کریم لفظ دے چه اوس یو سړی ئې معنی غلطه کوی د خپل طبیعت دپاره او کفارو د خوشحالولو دپاره ، دا به ئې خپله غلطی وی ، د قرآن کریم صفا الفاظ دی ، وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ۔

## عمومیت د رسالت د نبی علیه السلام

د جناب رسول صلی الله علیه وسلم پیغمبری د یو مخ د یو چا پورې ، د یو قبیلې ، د یو خاندان ، د یو ملك پورې خاص نه ده بلکه پیغمبری او رسالت د نبی علیه السلام عام دے ترقیامة پورې نبی علیه السلام پیغمبر دے ، چې هغې نه هم معلومیږی نبی علیه السلام آخری پیغمبر دے او بل پیغمبر د هغه نه بعد نشته۔

آيات قرآنی ه فی عمومیت رسالت النبی صلی الله علیه وسلم

(١){قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ رَسُوْلُ اللَّهِ إِلَيكُمْ جَمِيْعًا} [الأعراف: 158]

ایها الناس دا یو داسې آواز دے چې اوس هم چلیږی ، په مخ د زمکه چې څو پورې انسان وی نو دا نبی علیه السلام به پیغمبر وی -

(٢){لِيَكُوْنَ لِلْعَالَمِيْنَ نَذِيْرًا} [الفرقان: 1]

نبی علیه السلام د ټولو مخلوقاتو دپاره یرونکی دے -

(٣){وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِيْنَ} [الأنبياء: 107]

ما نه دی لیږلی تالره مګر رحمت د ټولو مخلوقاتو دپاره -

(٤) {وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ } [سبأ: 28]

نه می دے لیګلے تالره مګر د ټول انسانیت دپاره -

اتم قانون د قرآن کریم دادے چه نبی علیه السلام نه پس بل پیغمبر نه راځی ، که څوك دعویٰ د پیغمبرئ کوی ، لکه مسیلمة الکذاب ، اسود عنسی ، د هغه دور او ددے دور قادیانان نو هغوی د قرآن کریم ددے آیت لاندی کافر دی -

## د نبی علیه السلام ددعوت عمومیت

د نبی علیه السلام د قانون اکمال ، اتمام دا هم د قرآن کریم د ډیرو آیاتونو نه ثابت دے چه د نبی علیه السلام دعوت ټول مخلوق او انسانیت ته وو ، او د نبی علیه السلام قانون چه الله تعالی ورله ورکړی وو هغه قانون قرآن کریم هم عام دے ، او هم اکمل دے ، ځکه قرآن کریم کښې الله تعالی په خپله فرمائی :

{ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا } [المائدة: 3]

## احاديث په ختم نبوت

ذخيره د احاديث کښې تقريباً د ۲۰۰ نه زيات داسې احاديث موجود دی چې هغه د نبی عليه السلام په ختم نبوت دليل دے چې نبی عليه السلام پيغمبر دے ، او د نبی عليه السلام نه روستو بل پيغمبر راتلو والا نشته لکه :

(۱)اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نبی بَعْدِیْ

زه آخری پيغمبر يم زما نه روستو پيغمبر نشته -

(۲) نبی عليه السلام فرمائی : مالره الله رب العزت داسې کمالات راکړی دی چې هغه ئې نورو له نه دی ورکړی ، يو په هغه کمالات کښې دادے چې زه آخری د پيغمبرانو نه يم زما نه بعد به بل پيغمبر نه وی سلسله د پيغمبرانو به آخری په نبی باندے ئې ،

(۳) كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِياءُ ، كُلَّمَا هَلَكَ نبی خَلَفَهُ نبی ، وَإِنَّهُ لَا نبی بَعْدِی ، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ . [صحيح مسلم 3/ 1471]

چه د بنی اسرائيلو اصلاح او سياست به د هغوی پيغمبرانو کولو ، چه کله به يو پيغمبر ددنيا نه لاړلو نو د هغه نه روستو به بل پيغمبر راغے ليکن زما نه روستو به بل پيغمبر نه وی بلکه زما نه روستو به خلفاء وی لکه ابوبکر رضی الله عنه خليفه اول وو ، عمر رضی الله عنه خليفه ثانی وو ، عثمان رضی الله عنه خليفه ثالث وو ، علی رضی الله عنه خليفه رابع وو ، داسې زمانه روستو به خلفاء رائحی خو انبياء به نه رائحی -

(٤) نبی عليه السلام فرمائی چه که زما نه روستو پيغمبر وی ، نو عمر رضی الله عنه به وی -

لَوْ كَانَ بَعْدِیْ نبی لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ . [سنن الترمذی 6/ 60]

معلوميږی چه نبوت ختم شوی دے ، او عمر رضی الله عنه خليفه دے - نو ددے دومره آياتونو او احاديث د نبی عليه السلام نه معلومه شوه چې آخری پيغمبر نبی عليه السلام دے که ددے باوجود هم څوك خبره نه منی ، نو دومره آياتونو او احاديث نه منکِر دے -

## اجماع امت په ختم نبوت

(۳) اجماع امت په ختم نبوت : دا دریم قطعی دلیل دے ، په عقیده د ختم نبوت باندے چه څوك یو صحابی نه شی ښودلی چه هغه وئیلی دی چه بل پیغمبر راتلو والا شته دے -
دارنګه څوك یو تابعی او تبع تابعی نه شی ښودلی چې هغه وئیلی وی چې د نبی علیه السلام نه علاوه بل پیغمبر راتلو والا شته -
دارنګه مجتهدین ، فقهاء کرام ، محدثین ، مفسرین رحمهم الله داسې څوك قائل نه شی ښودلی چې هغوی قول په بل پیغمبر په راتلو او یا شته دی باندے کړی وی ، نو ددے درې / ۳ قطعی دلائلو نه ثابته شوه چې نبی علیه السلام آخری نبی دے ، او بل پیغمبر راتلو والا نشته -
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لَا نبی بَعْدِیْ
چی په کوم لا باندے نفی ده نورو الهه نه شوی ده ، نو په هغه لا باندے د نبی علیه السلام نه روستو د پیغمبری نفی د نور مخلوق نه شوی ده چې بل به پیغمبر نه وی د نبی علیه السلام نه علاوه -

## د ختم نبوت څه معنی ده ؟

زمونږ ذهن کښې د ختم معنی **Finish** ختمیدل پرته ده ، چې یو څیز ختم شو ، یو کار ختم شو ،

## اعتراض د ملحدینو

جی مولانا صاحب تپوس کوم ، چه تاسو مخکښې اووی چې دا نبوت د نبی علیه السلام رحمت دے ، د امت دپاره نو ولی ختم نبوت معنی خو دا ده شوه چې الله تعالی خپل رحمت ختم کړو ، نو الله تعالی خو رحمن رحیم دے ، ولی الله تعالی سره رحمت نور ختم شو ، څه نور رحمت به الله تعالی نه کوی ؟

## جواب

معنی د ختم نبوت اصل کښې معترض د ختم په معنی نه دی پوهه نو اعتراض اوکړی ، ختم په دوو / ۲ معنو باندے ،
(۱)ختمیدل ، **Finish** په معنی راځی ،
(۲) تکمیل په معنی راځی ، **Complete** مکمل ،

## ختمیدل Finish

یو سړی ته یو کار جمع شوی وی هغه سر ته اورسوی نو دغی ته ختمیدل وائی ، ډوډئ خوری په شکور کښې ختم شوه ، سالن په کاسه کښې ختم شو ، متهائی په ډبی کښې ختم شوه ، دا معنی د ختمیدل ، دا یوه قانونی معنی ده ، مطلب دا چې الله تعالی چې د انبیاء کوم تعداد دنیا له مقرر کړی وو هغه مقدار او تعداد د انبیاء ختم شو په نبی علیه السلام باندے ، دا مطلب د خاتم النَّبیین چې آخری پیغمبر دے دنیا ته اوس سلسله د پیغمبرانو په نبی علیه السلام ختمه شوه -
دا یو قانون دفعه ده چې په دې کښې د نبی علیه السلام څه کمال نه معلومیږی بس دا د الله تعالی قانون وو چې دومره انبیاء به رالیږم ، او په نبی علیه السلام به ئې ختموم اوس هغه قانون د الله تعالی پوره شو -
مطلب دا دے چې نور انبیاء کرام به نه راځی - که ددے نه پس څوك هم دعوئ د پیغمبرئ کوی نو هغه به کذّاب او دجال وی -

## تکمیل

(۲) تکمیل **Complete** : یو څیز مکمل کیدل سر ته رسیدل ، دا نه چې ختمیدل ، مثال : یو سړی ته سکول کښې **Home Work** هوم ورك ورکړی حواله شوی وی ، نو دی ماښام کښې هغه اولیکی نو آخر کښې وائی : **Complete** ، دسکول کار مې مکمل کړو یعنی سر ته می

اورسولو-

مثال : دارنګه یو سړی کور جوړولو اراده کړی وی ، اول بنیادونه ، بیا ډی پی سی ، دیوالونه ، لینټر ، پلستر ، پینټنګ ، رنګونه ورکړی ، وائی : کور مې مکمل شو ،

مطلب دا دے : چې الله رب العزت چې دا انسان او کائنات پیدا کولو ، نو حکمت له ئې پیدا کړی وو ، زمکه ، آسمان ، انسان ، دا زمکه الله رب العزت سټیج اوګرځولو ، او انسان ئې په دې سټیج هیرو کړو ،

## حکمت په کښې دا وو

چې الله رب العزت په دې کائنات باندے خپل حکومت بادشاهت ښکاره کولو اراده اوکړه ، ځکه د الله تعالى بره یو عظیم الشان حکومت دے ، یو مستقل حکومت دے ، هغه حکومت ټول د قرآن کریم نه ثابت دے ، چې الله تعالى بادشاه دے ، او هغه :

یو عظیم الشان حکومت او بادشاهی ده :

{إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} [التوبة: 116]

د بادشاه دپاره شاهی تخت پکار وی :

{ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ } [الأعراف: 54]

دبادشاه دپاره کرسی پکار وی ، کما یلیق بشانه :

{وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ} [البقرة: 255]

دبادشاه دپاره ایوان صدر ، پارلیمنټ وی ، حظیرة القدس مع الارکان :

{مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَى} [ص: 69]

د بادشاه دپاره مقرب وزیران وی په پارلیمنټ کښې ، لکه وزیر تعلیم : جبرائیل علیه السلام :

{ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ } [الشعراء: 193]

لکه وزیر خوراک :

{مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ} [البقرة: 98]

لکه وزیر سیاست :

د پارلیمنټ نه ګیر چا پیره کنټرول لائن وی :

{ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا} [نوح: 15]

په آخری دیوال باندے بلبونه لګیدلی وی :

{وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ} [الملك: 5]

په دغه کنټرول لائن سیکورټی ګارډ ولاړ وی :

{فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ} [الصافات: 10]

د بادشاه جیل خانه وی د مجرمانو دپاره :

{كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِى سِجِّيْنٍ} [المطففين: 7]

د بادشاه د منونکو دپاره مهمان خانه وی :

{ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا } [الكهف: 107]

مجرمانو لره د زنځیر ، هتکړئ پکار وی :

{وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِى أَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا} [سبأ: 33]

د میلمنو خدمت دپاره خادمان هم پکار وی :

{يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُوْنَ } [الواقعة: 17]

د بادشاه اډر وی ، او بیا د هغې تپوس کوی :

{يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ} [السجدة: 5]

د بادشاه تابعدار فوج هم وی :

{لَا يَعْصُوْنَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ ويفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ} [التحريم: 6]

د بادشاه د طرف نه شاهی جشن وی :

{ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ } [الأعراف: 54]

د بادشاه خپل لباس وی کما یلیق بشانه :

الْكِبْرِياءُ رِدَائِي، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِى ،[سنن ابن ماجه 2/ 1397]

نو الله تعالى ددغه بره حکومت پشان د يو بل حکومت ده خکاره کولو اراده اوکړه ، نو الله تعالى زمکه ، آسمان ، انسان پيدا کړو ، او مقصد دغه وو ، چه زما دا بره حکومت پشان حکومت لاندی وی ، نو د هغې د چلولو دپاره الله تعالى يو قانون راوليګلو ، يو هدايت نامه ئې راليږلی ده ، او هغې سره به ئې د هغې معلمين هم راليګل ، د هغه قانون ، هدايت ابتداء په آدم عليه السلام اوشوه ، چې لږه حصه ترے آدم عليه السلام ته ورکړی شوه ، څه لږه حصه نوح عليه السلام ته ورکړی شوه ، هغوی به پرې د هغه وخت د خلقو اصلاح کوله ، څه لږه حصه صالح عليه السلام ، شعيب ، لوط ، يوسف ، يونس ، ابراهيم ، موسى ، هارون ، عيسى عليهم السلام ته ورکړی شوه ، ځکه آدم عليه السلام ته الله تعالى اوفرمايل :

{فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى} [البقرة: 38]

چه کله د نبی عليه السلام دور او زمانه راغله ، هغه قانون هدايت ، کمال ته اورسيدو ، هدىً نکره په معرفے باندے بدل شو -

{ هُوَ الَّذِيْ أَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى } [التوبة: 33]

## مثال

مثال : د آدم عليه السلام نه تر عيسى عليه السلام پورې چې څومره وخت وو په دې کښې خلق تيارول وو ، د نبی عليه السلام الهدى ته ، لکه چې سړی عالم ته کيني چې زه علم کوم ، او هغه ورته په اوله ورځ بخاری شروع کړی ، نو دې په هغې نه پوهيږی ، نو دا به قلاره قلاره اول به صرف ، نحو ، بيا فقه ، منطق ، بلاغت وائی ، نو دی به بخاری شريف او مسلم شريف ته جوړ شی ، برابر به شی -

يو سړی کالج کښې MA کوی ، نو هغې کښې څلور / ٤ سمسټری وی ، نو که دې ډائرکټ څلورم سمسټر شروع کړی نو برداشت به ئې نه کړی نو دی وجی اول به دی فسټ سمسټر شروع کړی ، بيا سيکنډ سمسټر بيا ترډ سمسټر بيا به څلورم سمسټر شروع کړی ، نو هغه

ډګرې به دی حاصله هم کړی او دې به پرې پوهه هم شی ـ
دغه شان د دنیا ابتداء د آدم علیه السلام نه اوشوه ، او هدایت او قانون هم هغه ته څه حصه وکړې شوه ، د وخت مطابق هغه هدایت او کمال ته په نبی علیه السلام باندے اورسیدو ـ

## اقسام د ترقۍ

(۱) دمادی دنیا ترقی (۲) روحانی دنیا ترقی
**تفصیل**: د مادی دنیا ترقی :د مادی دنیا ابتداء د جناب آدم علیه السلام او حواء بی بی نه اوشوه ، د جناب آدم علیه السلام تربیت خو په جنت باغ کښې شوې وو ، د شیطانی وسوسی نه بعد چه کله جنتی لباس د هغوی د بدن نه اووستلی شو ، نو جناب آدم علیه السلام دنیا ته راتلو سره د لباس انتظام د بره نه شروع کړو چه زمکه کښې به د لباس ضرورت راځی نو جنتی پاڼړی ئې راوړی ، داسې بوټی دی چې د هغې نه مالوچ او د مالوچ نه کپړی جوړیږی ، او الله تعالی جناب آدم علیه السلام ته علم الاسماء ورکړی وو ـ چې څومره د مادی دنیا ترقی سره تعلق ساتی نو آدم علیه السلام به خبرے کولی او خلقو رو رو لباس طریقه د هغه نه زده کړه ، او د خبرو طریقه ، بیا رو رو یو بل ته نومونه کیخودلی شو ، بیا ژبې جوړې شوی ، اور به سیزل کول ، نو په اوبو به مړ کیدو ، نو تکی به شول ، وی دننه اور بلیږی ، وی ، راځۍ اوبه به اوڅکو ، چې ددننه اور مړ شی ، اوبو انتظام نه وو ، سوچ ئې اوکړو چې د باران اوبه چرته ځی ، نو وی وئیل : چې دا خو زمکه کښې ستهور کیږی ، نو چې نی ئې کتلی ، کوهیان ئې اوکنستل ، نو د کوهیانو نه د اوبو راویستلو څه څیز نه وو ، نو څادرې به ئې غوټه کړی ، نو دا به رسۀ وه ، او یو بل څادرو کښې یا څرمن کښې به ئې اوبه راوخیژولی ، داسې مختلف څیزونه ، خوراکونه ، څکاکونه ، کاروبارونه ، آبادیانی ، فصلونه ، مختلف قسم د ژوند متعلقات ، **stip by stip** په ترقۍ روانه ده ، آخر تردی وخته پورې د آدم علیه السلام عَلَّمَ الْاَسْمَاءَ دا ټول د هغې نظائر دی ، نن دور کښې جهازونه ، ریل ګاډی ، ټیکنالوجی ، نیټ ، موبائیل ، **3g , 4g , 5g** ، بجلی ، ډیمونه ، مستریان ،

میکینک ، مشینان ، دا مختلف څیزونو ، ایټم بم ، میزائل ، راکټ ، بم ، ټوپك ، تمانچه دا ټول د مادی دنیا ترقی دی ، او دا د عِلْمُ الْاَسْمَاء مظاهر دی - لکه څنګه چه دا مادی دنیا ترقی کوی ، او مخکښې روانه ده ، نو دغه رنګه د روحانی دنیا ترقی ده -

## روحانی دنیا ترقی

ددی روحانی دنیا د ترقی ابتداء هم د جناب آدم علیه السلام نه شوی وه ، او هدایت او قانون څه حصه ورته ورملاؤ شوی وه .... الخ

قاری محمد طیب صاحب رحمه الله مهتمم دارالعلوم دیوبند خپل کتاب کښې د ختم نبوت دپاره یو بهترین مثال ذکر کړی دے ، وائی :

مونږ به نبوت داسې فرض کړو ، لکه آسمان ، نو په آسمان کښې ستوری پړقیږی ، نو آدم علیه السلام راغے ، اوپړقیدو ، خو ټول آسمان ئې رڼړا نه کړو ، نوح علیه السلام راغے ، هود علیه السلام راغے ، صالح علیه السلام راغے ، شعیب علیه السلام ، لوط علیه السلام ، یعقوب علیه السلام ، یوسف علیه السلام ، موسی علیه السلام ، عیسی علیه السلام راغے په آسمان کښې اولګیدو خو هغه صرف هغه ځاے ئې رڼړا کړو ، چې کوم ځاے وو ، دی ټولو لږ لږ ځاے رڼړا کړو ، آخر دی ټولو ستورو مطالبه اوکړه چې داسې یو ستوری پکار دے چې ټول آسمان رڼړا کړی نو الله تعالی نمر پیدا کړو چې ټول آسمان ئې رڼړا کړو ، نو سپوږمۍ او ستوری چې دا پړق او چمک کوی ، نو دا د نمر نه اخلی ، خپل ئې نشته -

دغه شان دی ټولو پیغمبرانو مثال دی ټول راتلل لږ لږ د هدایت موقع مناست موقع دپاره ، د یو خاص وخت دپاره د یو خاص خلقو دپاره دوی به صرف د خپل قومونو اصلاح کوله ، د ټول عالم اصلاح ئې کولی نه شوه ، ټول عالم ئې رڼړا کولی نشو ، نو دی ټولو پیغمبرانو مطالبه اوکړه ، نو الله جناب کریم صلی الله علیه وسلم دنیا ته راولیګلو ، نو ټوله دنیا ئې په هغه باندے رڼړا کړه په هغه باندے د هدایت قانون مکمل کړو -

{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ} [المائدة: 3]

د يو خاص وخت او خاص خلقو دپاره هم نه بلکه د ټول انسانيت دپاره پيغمبر شو ، د هغه قانون هدايت ، قرآن کريم د ټولو هدايتونو نو مجموعه اوګرځوله چې نور به نه راځی ، ځکه د نبي عليه السلام حديث دے چې زما او د قيامت په مينځ کښې فاصله د دوو ګوتو ده چې بالکل نزدی به قيامت وی ، نو بل پيغمبر نه راځی - نبي عليه السلام د ټول انسانيت دپاره دے او د هغه قانون ئې د ټولو دپاره اوګرځولو - اوس چې د نبي عليه السلام نه پس که صحابه وو ، که تابعين وو ، که تبع تابعين ، که مجتهدين ، آئمه کرام ، مفسرين ، محدثين وو ، هغوی ددغه قانون نه رنړا حاصله کړيده ، او چې دی زمانه کښې څوك رنړا هدايت حاصلول غواړی ، نو د نبي عليه السلام نه او د نبي عليه السلام راوړلی شوی قانون قرآن کريم نه به رنړا او هدايت حاصلوی ، د نبوت او قانون سلسله په نبي عليه السلام کامله مکمله **Compleet** شوه -

الله تعالی دی مونږ لره په نبوی تقاضو د چليدلو توفيق راکړی -

# د ژوندو او مړو مقبره

## د ژوندو او مړو مقبره

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ .
**{أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ} [الأنعام: 122]**

دې آيت كريمه كښې الله تعالى دوه / ۲ خبرے ذكر كوى : (۱) دنيا مړه وه په قرآن او توحيد باندے ژوندئ شوه -

(۲) د دنيا خائست په قرآن كريم باندے دى -

ددنيا آبادى انسان دى ، بيا د انسان خپل خائست دى او ددنيا خپل خائست دى ، چونكه د انسان خائست په قرآن كريم دے نو ددنيا خائست هم په قرآن باندے دے -

## د انسان تعريف د مقبرې دوه قسمه

انسان هله انسان دے چې انسانيت وى په كښې چې انسانيت په كښې نه وى نو هغه ته څوك انسان نه وائى ، انسان د ظاهرى شكل نوم نه دى ، انسانيت يو جوهر دے ، اعمال دى ، اخلاق دى ، چې كله انسانانو كښې دا كارونه راشى ، نو انسان انسان شى ، يو د ژوندو مقبره ده ، بل د مړو مقبره ده ،

د مړو مقبره : هغه هر څوك پيژنى چې ساه ترے اووځى او خلق ئې مقبره كښې خخ كړى-

دويم : د ژوندو مقبره : چې په كومه معاشره كښې په انسان كښې انسانيت نه وئ راغلے ، نو دې د بل غلامى كوى ، حلال ، حرام نه ګورى ، سود اخلى ، رشوت اخلى ، د الله د حكم خلاف د مخلوق حكم منى د الله د قانون مقابل بل قانون د انګريز جمهوريت ، او سوى د الله تعالى قانون نه نافذ كوى او عمل پرې كوى ، فيصلے د لاډميكالے په قانون كوى ، فلمونه ، ګانى ، فيس بك ، يوټيوب كوى ، خواهش پرست وى ، په غلامئ وغيره كښې د سپې نه لاندى شوى دے ، شرك

کوی ، کفر کوی ، بدعات کوی ، د قرآن کریم علم نه کوی ، د اغیارو تعلیم کوی ، الحاد کوی نو داسې معاشره سیکولرایزم وی ، لبرل ازم وی ، سوشل ازم وی ، دا معاشره اسلامی نه ده بلکه دا د ژوندو قبرستان دے ځکه دی کښې الله تعالی نشته ، د الله تعالی حکم نشته ، پیغمبر نشته ، او د پیغمبر طریقه نشته ، قرآن کریم نشته ، او د قرآن کریم قانون نشته ، توحید نشته -

## د ژوند قسمونه

دارنګه ژوند هم په دوه / ۲ قسمه دے ، (۱) انفرادی (۲) اجتماعی ،
انفرادی ژوند : یواځې والی ته وائی ، چې انسان په خپله واخلی ، اوس که دا انسان نیك وی د الله تعالی په قانون چلیږی او قرآن کریم او اتباع د پیغمبر باندے زندګی تیروی نو دا انسان ژوندې دے -
او که دا انسان په خواهش پرستی کښې اخته وی ، دده زندګی کښې قرآنی تعلیم نه وی ، اتباع د پیغمبر نه وی ، توحید عقیده نه وی ، نو دا انسان اګر که ژوندی دے خو په اصل کښې دې مړ دے ، ځکه الله تعالی وائی : ژوند په قرآن کریم دے ، الله تعالی فرمائی :
{ أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاه} [الأنعام: 122]

## اجتماعی زندګی مواضع سته

اجتماعی زندګی شپږ / ٦ قسمه ځایونو کښې ده : (۱) نظام معیشت (۲) معاشرت (۳) سیاست (٤) عدالت (٥) تعلیم (٦) صحت -
(۱)کوم نظام معاش کښې چې د الله تعالی د قانون موافق کاروبار ، تجارت نه وی ، د سود په طریقه کاروبار وی ، رشوت وی ، ددغه نظام خلق اګر که ژوندی دی ، خو حقیقتاً مړه دی ، ځکه د قرآن کریم د قواعدو موافق تجارت ، کاروبار نه دی -
(۲) دارنګی نظام معاشرت کښې حیاء پرده نه وی او رسم رواج وی ، قرآنی تعلیم نه وی ،

انګریزی فیشن وی ، برقعه نه وی ، جنیکۍ انګریزی فیشن کوی ، هلکان د انګریزانو په طریقه روان وی ، شکل و صورت د انګریزانو وی ، نو دا معاشره د ژوندو قبرستان دے -
(۳) دارنګے کوم سیاست چې د قرآن کریم خلاف وی -
(٤) عدالت کښې قرآنی قانون نه وی -
(٥) نظام تعلیم کښې قرآنی تعلیم نه وی بلکه انګریزی تعلیم وی -
(٦) نظام صحت کښې قران نه وی ، نو دا ټول نظامونه او اداری د ژوندو قبرستان دے اګر که ظاهری ژوندی دی - چې په یو طرفته ته لاکهه مړی پراته وی - او بل طرف ته یو ژوندی انسان دے ، نو دا یو ژوندی انسان ترے خه دے ، په دنیا کښې د ۲۰۱۰ء د سروے مطابق ۲ ارب ۲۰ کروړ مسلمان دی ، په هندوستان کښې د یوی ښځی بی عزتی شوی وه مکمل هندوستان د هغې په حق کښې پاسیدلی وو ، او پوری دنیا کښې ۲ ارب ۲۰ کروړ مسلمانان دی ، او په سویډن کښې د قرآن کریم بے حرمتی شوی وه خوك د هغې په جواب کښې پانه سیدل ځکه نن مسلمان مړ دے ، پوره دنیا کښې تقریباً ۲۷۰ / ۲۷۲ – ۲۸۰ ملکونه دی ، او په دې کښې تقریباً ۵۲ – ۶۰ ملکونه د مسلمانانو دی ، او نیټو پاور چې یوه خبره اوکړی ، او هغه رد کول غواړی نو د دی رد کولو اختیار ، او پاور صرف پنځو / ۵ ملکونو ته حاصل دے ، جاپان ، امریکه ، چې ن ، روس ، برطانیه ، دمسلمان په کښې یو ملك هم نشته چې هغه ته د نیټو پاور یو قانون رد کولو اختیار حاصل وی ځکه مسلمان اجتماعی طور سره مړ دے -
دویم : د انسان خائسته والی او ددنیا خائسته والی چې دے نو هغه په قرآن کریم باندے دے ، هر قسمه تیاری ، بد اخلاقی ، بے حیائی ، ظلم ستم ، دا به په قرآن کریم ختمیږی ، که قرآن کریم معاشری ته رانغے - نو ټول انسانان بغیر د قرآن کریم تعلیم نه مړه دی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# الدعاء

## الدعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ! : -

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ} [آل عمران: 38]

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ ،

الله تعالى دنيا ته انسان رالیږلی دے د یو مقصد دپاره او هغه مقصد پیژنګلو د الله تعالى ده ، او د الله تعالى عبادت کولو دپاره ئې رالیږلی دے - د الله تعالى په عباداتو کښې یو عبادت دعا هم ده ، دعا دا یو ډیر اهم عبادت دے بلکه نبی علیه السلام فرمائی : دعا د عبادت مغز دے -

قرآن کریم کښې الله تعالى د دعا غوختلو ترغیب ورکوی :

{ ادْعُونِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ } [غافر: 60] الله پاك فرمائی ما راوبلئ زه قبلوتیا اوکړم ستاسو دپاره

{ ادْعُوْا رَبَّكُمْ } [الأعراف: 55] رابلی تاسو پالونکی خپل

## ددعا غوختلو طریقه او شرائط د قرآن کریم نه

(۲) قرآن کریم ددعا د غوختلو طریقه هم ښائی او شرائط ددعا هم ذکر کوی :

{تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً } [الأعراف: 55]

دعا به د الله تعالى نه غواړی خو په عاجزئ سره او پټه باندے ، ددے وجی نه احادیث کریمه کښې هم دعا په پټه ثابت ده -

## دعا سنت الانبیاء ده

(۳) دارنګی دعا سنت الانبیاء ده : (۱) ځکه چې جدّ الانبیاء جناب ابراهیم خلیل علیه السلام دعا کوی :

{ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ } [البقرة: 128]

(٢) جناب موسی علیه السلام دعا کوی :

{رَبِّ إِنِّيْ لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ} [القصص: 24]

(٣) جناب یونس علیه السلام دعا کوی :

{ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ } [الأنبياء: 87]

(٤) جناب ایوب علیه السلام دعا کوی :

{ وَأَيُوبَ إِذْ نَادٰى رَبَّه أَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ } [الأنبياء: 83]

(٥) جناب زکریا علیه السلام دعاکوی :

{ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً } [آل عمران: 38]

(٦) دارنګی بی بی مریم ، عیسی علیه السلام ، د اکثر انبیاء کرام دعاګانی قرآن کریم رانقل کړی دی ، جناب کریم به مختلف مقاماتو کښې مختلف دعاګانی کړی دی ، دطائف سفر کښې فرمائی : اللّٰهُمَّ اهد قومی فانهم لایعلمون ،

## د دعا د قبلیدو مقامات

(٦) خبره : ددعا قبلیدو مقامات : (١) چې د الله د قدرتونو کرشمه اوګوری ، نو دعا قبلیږی ، لکه زکریا علیه السلام کرشمه د مریم ،

(٢) حدیث کښې راځی : چه باران وی ، او بانګی بانګ اوائی ، نرئ نرئ هوا وی ، د آذان وقت کښې دغه شان چه د جنګ میدان کښې جنګ ګرم وی ، دعا کوه ، الله تعالی ئې قبلوی ،

(٣) د عباداتو نه پس مثلاً فرض مونځ نه پس ، نفل نه پس ، تهجد نه پس ، دنیك کار نه پس ، مجلس علمی په آخر کښې ،

(٤) د مور او پلار خدمت په موقع باندے ، د استاذ خدمت موقع باندے ده دین دارو د خدمت په موقع باندے، الله دعا ګانے قبلوی ،

## اهميت الدعاء

(۵) اهميت ددعا : حديث كښې راځى : نبى عليه السلام فرمائى : چې څه ضرورت پيښ شى ، نو د الله تعالى نه دعا غواړى ، اګر كه مالګه ته ضرورت ولى نه وى ، حديث : الدعاء مخ العبادة ، حديث :

لاشئ على الله اكرم من الدعاء ،

الله تعالى دانسان دعا نه رد كوى ، مثال : چې د مالدار سړى كوڅے ته لاړ شى نو هغه شرم محسوس كوى چې خالى لاس مسافر پريدى ، نو الله تعالى خو قوى ذات دے چې د الله تعالى دربار ته لاړ شى ، او لاس اوچت كړى ، الله تعالى به دے ولے هسے پريدى ؟

## د عمر رضى الله عنه قول

عمر رضى الله عنه فرمائى : زما سره ددعا د غوختلو غم دے ، د قبليدو نه ځكه قبلول كار د الله تعالى دے -

## د حافظ شيرازى رحمه الله قول

حافظ شيرازى رحمه الله فرمائى : كه الله تعالى ئې راكوى او كه نه خو زه به ئې ترينه غواړم - مونږ اوقاتو په هر يو سيكنډ كښې الله تعالى ته محتاج يو ، كه بيمارى ده نو صحت به د الله نه غواړو ، اولاد به د الله تعالى نه غواړو ، حاجت پوره كيدل د الله نه غواړو -

## د ويسه شيخ رحمه الله واقعه

ويسه شيخ صاحب رحمه الله درس كښې زه امير ووم ، ما ته به ئې په اوومه او اتمه ورځ وئيل ، چې امير صاحب اته يا لس كسان به ځان سره كور ته راولى ډوډئ له ، چې ډوډئ به ئې اوخوړله نو ويسه شيخ صاحب رحمه الله به وئيل : چې بيا لاړ شئ هلته به دعا اوكړئ ځكه كور كښې

لړه بیماری ده -
او اکثر به ئې دا عادت وو چې په خپله به بیمار شو نو اول دوه رکعته او بیا دعا کوله د هغې نه پس به ئې صدقه کوله د هغې نه پس به ډاکټر له تلو - نو اسباب به استعمالوے خو طمع به د الله تعالی نه کوے -

## طريقة الدعاء

(۷) خبره : طریقه د دعا : ددے نه مخکښې یو مسئله چې ددعا د قبلیدو دپاره اهم فالاهم شرط حلال خوراك دے او تقویٰ ولے که چرته ګیډه کښې حرام پراته دی نو دعا نه قبلیږی -

## یو مسئله او فتاوی مصریه حواله

(۲) مسئله : بعض خلق د قبر په خوا کښې دعا غواړی او دا عقیده ساتی چې د قبر په خوا کښې دعا خه قبلیږی ، فتویٰ مصریه صـ کښې لیکلی دی : چې د چا دا عقیده وی چې د قبر په خوا کښې د مسجد نه دعا خه قبلیږی نو دا سړے کافر دے -

## دعا کښې لاس اوچتول د نبی علیه السلام نه ثابت دی

طریقه ددعا : (۱) دعا کښې لاس اوچتول ثابت دی د نبی علیه السلام نه ، اول د الله تعالی حمد وثناء اوایه -
(۲) دویم : درود شریف په نبی علیه السلام اوایه ، او خپله عاجزی الله ته پیش کړه چې زه عاجز خوار بنده ګناهګار یم ، بیا خپله وفاداری پیش کړه چې الله همیشه د فریاد ځاے ته ئې ، بیا د هغې نه پس خپل حاجت اوغواړه الله تعالی به ئې قبلوی -

## وسائل

وسائل : الله ته به د الله تعالى اسماء حسنیٰ وسیله کوی ، احسانات ، او انعامات به ورته وسیله کوی ، د الله تعالى قدرتونه به ورته مخکښې کوی ، چې یا الله ته رحمن ئې رحم راباندې اوکړې ، غفور ئې بخښنه راته اوکړې -

بسم الله الرحمن الرحیم

# تقابل د قرآنی تعلیم

# او انګریزی تعلیم

## تقابل د قرآنی تعلیم او انګریزی تعلیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
**{وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ} [البقرة: 129]**
وقال النبی صلی الله علیه وسلم : اِنَّمَا اَنَا بُعِثْتَ مَعَلِّماً

زما عزت مندو مسلمانانو رونړو : مونږ او تاسو چې دنیا ته الله پاك راليږلی يو نو دغه شان الله تعالی زمونږ او ستاسو سره ددے ژوند تيرولو دپاره يو قانون او نظام حيات هم راليږلی دے چې په هغې به زندګی تيروی ، مثال ئې داسې دے لکه دنيا کښې عام عادت دا وی چې يو سړی کمپنی نه مشين واخلی ، موبائيل واخلی ، پريزر واخلی ، هغه کمپنی والا د هغې سره يو پوره کاپی ورکوی ، هغه ددے دپاره وی چې دا مشين ، موبائيل او پريزر چې ددے هدايت نامی مطابق چليدو نو ديکښې به خرابی نه راځی ، او کچرته ددے مطابق نه چليدو نو دا مشين وغيره به زر خراب شی اګر چه لږ وخت به کار اوکړی - دغه شان زمونږ او ستاسو دپاره الله تعالی د ژوند نظام حيات راليږلی دے نو که مونږ او تاسو په هغې باندے زندګی تيروله نو زندګی به په آسانه ، خکلی تيريږی ، او کنه نو بيا به دا زندګی ډيره ګرانه شی ، هم دنيا کښې تاوان او هم آخرت کښې تاوان - زما عزت مندو د مسلمان اصل تعليم قرآن کريم دے ، انګريزی تعليم د مسلمان نه ددے خپل مشن اغستلو دپاره جوړ شوی دے ، چې کله د مسلمان نه خپل اصل تعليم ختم شی نو دی به ظاهراً مسلمان وی خو دننه به دی انګريز وی -

## قرآن کریم دتعلیم یو څو نمونې

اصل تعليم قرآنی وو : (١) په دې کښې ژوند هم دے او خائست هم دے ، د انسان او دنيا ، قرآن کريم وائی ،

{أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِيْ بِهِ فِى النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهُ فِى الظُّلُمَاتِ} [الأنعام: 122]

## قرآنی تعلیم د الله تعالی خوښ دے

(۲) دا قرآن تعلیم د الله تعالی خوښ دے لکه
{وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا } [المائدة: 3]
اسلام هم د قرآنی تعلیم نوم دے ځکه چې اسلام کښې د قرآن کریم احکامات دی -

## قرآن تعلیم د دین اسلام حفاظت دے

(۳) قرآن کښې تعلیم د دین اسلام حفاظت دے لکه
{ إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ } [آل عمران: 19]
{ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُوْنَ} [الحجر: 9]

## قرآنی تعلیم کښې حفاظت د بدن دے

(4) قرآنی تعلیم کښې حفاظت د بدن دے لکه
{ أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ} [المائدة: 45]
یقیناً یو تن به قصاص کیږی په بدله د یو تن کښې او سترګه په بدله د سترګه کښې او پوزه به په بدله د پوزه کښې او غوږ به په بدله د غوږ کښې او غاښ په بدله د غاښ کښې او نور زخمونه هم بدلے والا دی -
{يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ} [البقرة: 178]
اے ایمان والو فرض کړی شوې دے په تاسو باندے قصاص جاری کول -
{فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ } [البقرة: 194]
چا چې زیاتی اوکړو په تاسو باندے نو تاسو هم زیاتی اوکړئ په هغه باندے پشان د هغې چې

زیاتی کړی دے په تاسو۔

## قرآنی تعلیم حفاظت د مال او کوی

(٥) قرآنی تعلیم حفاظت د مال کوی لکه :
{وَلَا تَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ} [البقرة: 188]
او مه خورئ مالونه د یو بل په کورنئ کښې په ناروا طریقو سره۔
دارنګی بل آیت کریمه کښې فرمائی :
{يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً} [آل عمران: 130]
اے ایمان والو مه خورئ تاسو سود لره دوچند په دوچندئ ډیری سره۔

## قرآنی تعلیم کښې حفاظت د عقل دے

(٦) قرآنی تعلیم کښې حفاظت د عقل دے لکه :
{ يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقْرَبُوْا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى} [النساء: 43]
اے ایمان والو مه نیزدے کیږئ مانځه ته او حال دا چه تاسو نشه یئ۔
{يسْأَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَا إِثْمٌ كَبِيْرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ} [البقرة: 219]
تپوس کوی دوی ستا نه په باره د شرابو او جوارئ کښې ته اوایه په دے دواړو کښې ګناه لویه ده او څه نفع ده دپاره د خلقو۔

## قرآنی تعلیم کښې حیاء عزت ، ناموس او پرده ده

(٦) قرآنی تعلیم کښې حیاء ده ، عزت ، ناموس دے ، پرده ده ، سورة النساء اوګوره او سورة النور مکمل اوګوره ، سورة الاحزاب ، سورة البقره څه حصه ، دا ټول د حیاء عزت ناموس پردې په تعلیم نازل شوی دی لکه : {وَقَرْنَ فِی بُيُوْتِكُنَّ } [الأحزاب: 33]
او اوسیږئ په کوټو خپلو کښې۔

لکه : { قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ أَبْصَارِهِمْ} [النور: 30]
اوايه مؤمنانو ته چه کوز ساتی بعضی د نظرونو خپلو نه -
لکه :{وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ} [النور: 31]
او اوايه مؤمنانو زنانو ته چه کوز ساتی د نظرونو خپلو نه -

## قرآنی تعلیم آداب ورکوی

(۷) قرآنی تعلیم ما او تا ته آداب تعلیم راکوی سورة الحجرات اوکوره ، آداب سبعه ذکر کوی :
(۱)الله ورسول عظمت ساتئ خپلے رائي په قرآن وسنت مه مخکښې کوی :{يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يدَيِ اللّهِ} [الحجرات: 1]
(۲) د نبی علیه السلام احترام کوے :{يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِى } [الحجرات: 2]
(۳) بغیر د تحقیق نه د چا خبره مه منے :{وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يغْتَبْ} [الحجرات: 12]
(٤) د مسلمانانو په مینځ کښې صلح کوئ :{يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا يسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ} [الحجرات: 11]
(٥) د مسلمانانو د اهانت او تحقیر نه ځان ساتئ :{وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْأَلْقَابِ } [الحجرات: 11]
(۷) فضیلت صرف په تقویٰ ملاویږی نه په نسب وغیره :{ إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوْا} [الحجرات: 6]
دا ټول آداب قرآن کریم ذکر کوی ،
(۸) د قرآن کریم تعلیم زما واړه معاشره کور کلی برابر وی ، ۱۸ اصول سورة البقره ، ۱٦ اصول سورة النساء کښې اوګوره ،
(۹) قرآنی تعلیم زما او ستا غټه معاشره برابروی ، اصول اربعه په بقره کښې اوګوره : (۱) قصاص (۲) صوم (۳) تقسیم الاموال بالقانون الشرعی (٤) نهی عن الارتشاء -
(۱۰) قرآنی تعلیم د تنظیم آداب ما او تاته ښائی لکه سورة ال عمرآن کښې آداب خمسه دپاره د تنظیم اوګوره -

(۱۱) قرآنی تعلیم د حاکم او امیر آداب او شرائط ذکر کوی لکه :

{إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَه بَسْطَةً فِی الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ} [البقرة: 247]

یقیناً الله تعالی غوره ورکړی دے ده لره په تاسو باندے او زیاتی کړیدے ده دپاره فراخی په علم او جسم کښې۔

(12) ترغیب ده اطاعت د الله او د رسول ورکوی لکه :

{أَطِيعُوْا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ} [آل عمران: 32]

تابعداری کوئ د الله تعالی او د رسول۔

(12) د مور او د پلار د آداب یو ترغیب ورکوی لکه :

{فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ} [الإسراء: 23]

ته مه وایه دوی ته اُف قدرے۔

(14) د شرك نه د بچاؤ ترغیب ورکوی لکه :

{لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ} [لقمان: 13]

شرك مه کوه د الله تعالی سره یقیناً شرك لوئې ظلم دے۔

(۱۵) عقائد برابروی ، ایمان باالله لکه :

{وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّيْنَ} [البقرة: 177]

او لیکن نیکی ( نیکی ) د هغه چا ده چه ایمان ئې راوړے وی په الله تعالی او په ورځ روستنئ او په ملائکو او په کتابونو او په پیغمبرانو باندے۔

(١٦) اعمال برابروی لکه :

{ أَقَامُوْا الصَّلَاةَ} [الحج: 41]

پابندی به کوی د مونځ۔

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ} [البقرة: 183]

{وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ } [آل عمران: 97]

{وَآتَوُا الزَّكَاةَ} [الحج: 41]

{فَاعْلَمْ أَنَّه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ} [محمد: 19]

{وَلِيَعْلَمُوْا أَنَّمَا هُوَ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ} [إبراهيم: 52]

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ} [البقرة: 216]

(۱۷) د مسلمان صفات خمسه ذکر کوی : بقره اوله کښې۔

(۱۸) معاملات برابروی لکه :

{يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى} [البقرة: 282]

(۱۹) اخلاق برابروی لکه :

{فَقُوْلَا لَه قَوْلًا لَّيِّنًا} [طه: 44]

{ قَوْلٌ مَعْرُوْفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ } [البقرة: 263]

{وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا} [الكهف: 19]

(۲۰) معاشره برابروی : که وړه معاشره وی او که غټه معاشره وی ، او که نظام سیاست وی لکه :

{ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ} [الأنعام: 57]

که نظام قضاءاو عدالت وی لکه :

{الزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا} [النور: 2]

{وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا} [المائدة: 38]

که نظام معاش وی لکه :

{أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ} [المائدة: 4]

{لَا تَأْكُلُوْا الرِّبَا } [آل عمران: 130]

که نظام معاشرت وی لکه :

{وَقَرْنَ فِى بُيُوْتِكُنَّ} [الأحزاب: 33]

که نظام صحت وی لکه :

{فِيْهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ} [النحل: 69]

{أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ} [المائدة: 4]

{لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِيْنَ } [النحل: 66]
{ مِنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى} [محمد: 15]
که نظام تعلیم وی لکه :
{وَيعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ} [البقرة: 129]

غرض د قرآن کریم تعلیم په هر هر قدم مونږ او تاسو ته یو طریقه پریخودی ده ، مکمل زندګی ئې مونږ او تاسو ته بیان کړیده ، ددنیا او آخرت کامیابی د قرآن کریم په تعلیم کښې ده -

## قرآن د هرې فتنی رد کړی دے

دنیا کښې چې کومی فتنی دی ، د هری فتنی رد قرآن کریم کړی دے ، که فتنه د الحاد ، استشراق ده ، او که دجالیت ده ، غرض قرآن کریم نظام حیات دے ، دا هر څه د قرآن کریم په تعلیم کښې دی او دا بیان کوی ، ددے مقابل کښې انګریزی تعلیم دے چې د قرآن کریم د مقابلی دپاره رایستلې شوې دے ،

راشئ اوګورئ چې نن انګریزی تعلیم څه څه اوکړل ؟ او څه څه نه کوی ؟ ځکه الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی :
{وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ} [آل عمران: 85]

د اسلام او د قرآن نه علاوه بل دین قبول نه دی - نن مونږ قرآن کریم پریخودی دے او د انګریز تعلیم پسې شوی یو -

## د انګریزی تعلیم ۱۷ نقصانات

(۱) ټولو نه اول ایمانیات دی بیا په ایمان کښې اول ایمان بالله دے ، نن د انګریزی تعلیم ثمره داده چې نن سټوډنټان یقین او عقیده د مټیریلزم ده چې دا هر څه ماده کوی ، داسې یو ذات نشته چې دی عالَم له ئې وجود ورکړی دے ، نن د انګریز د تعلیم د برکت نه هلکان الحاد طرف ته لاړل -

(۲) په قرآن کريم اعتراض تعليم يافته طبقه کوی چې دا ددے دور سره نه چليږی ، او د بيك ورلډ زمانے خلقو دپاره وو او مونږ ترقی يافته خلق يو -

(۳) په پيغمبرانو اعتراضات تعليم يافته خلق کوی -

(٤) په دين اسلام اعتراضات کوی -

(٥) د الله تعالی په وجود اعتراضات کوی ، دهريان شو ، نن خلق ځکه په يونيورسټو کښې د الحاد او دهريت تعليم ښائی -

(٦) په تقدير باندے اعتراضات کوی تعليم يافته خلق -

(٧) د انګريزی تعليم کښې حياء ، پرده ختم شوه ، مخلوط تعليم يافته شروع شو -

(٨) انګريزی تعليم او اداری د زناګانو اډې اوګرځيدی ، د عزت او د ناموس خيال نه ساتلے کيږی -

(٩) د انګريزی تعليم د وجې دا انګريز اقدار نافذ شی ، فيش د انګريز ، ګيره د انګريز ، ويښته د انګريز ، ژبه د انګريز ، قانون د انګريز شو -

(١٠) سود عام شو ځکه ذميدار سړی سود نه شی کولی چې تعليم يافته سړی وی نو هغه سود کوی -

(١١) رشوت عام شو ځکه رشوت په هر ځائے کښې عام شو ، چې په نوم د انګريز تعليم ئې کړے وی که پوليس وی که فوجی که عدالت وی دا ټول د رشوت اډې دی -

(١٢) جمهوری سياست د قرآن کريم خلاف څوك کوی ؟ چې تعليم يافته وی نو هغه به ئې کوی ځکه زميدار سړی سياست کولی شی ؟ نه شی کولے -

(١٣) کرپشن کول دی دا يو غريب سړی نه شی کولی بلکه دا د تعليم يافته سړی کار دے --

(١٤) دينی مدارس والا ته تعليم يافته بد ګوری ، وائی : دا اوزګار خلق دی ، دا د معاشری سره نه چليږی ، دا ژوند تيرولو په طريقه نه پوهيږی ، د دوی ذهنونه خراب شوی دی -

(١٥) د قرآن کريم د قانون مقابله کښې بل قانون نافذ کونکی خلق څوك دی ؟ هغه تعليم

یافته دی ، که ټرانس جینډری شو ، که حلت د شرابو ، که زنا بالرضا شوه ، که د قتل سزا ۲۵ سال قید ، که دلاس کټ کولو مقابل کښې ۳ ساله قید ، دا ټول قوانین الهی بدلونکی تعلیم یافته خلق دی -

(۱٦) کله د قرآن کریم خلاف نظام معاش چلوی ، هغه تعلیم یافته دی ، نظام معاشرت ، نظام صحت ، نظام تعلیم ، نظام طاغوت ، که نظام سیاست دے -

(۱۷) ددے تعلیم د برکت ده وجی نه ، نن ماشومان انګریزی زده کوی ، دا انګریزی تعلیم اصطلاحات پیژنی ، نو که نه پیژنی ، نو د قرآن کریم اصطلاحات نه پیژنی ، الله تعالی دی مونږ او تاسو قرآنی تعلیم والا جوړ کړی او الله تعالی دی مونږ د غیر د تعلیم نه اوساتی -

## تنبیه

مفتی صاحب به وئیل : که ددے انګریزی تعلیم سره د قرآن کریم تعلیم وو ، نو بیا صحیح ده ، او که د قرآن کریم تعلیم ورسره نه وی ، نو بیا بالکل ناروا دی ، حرام دی ، ځکه زمونږ ایمان د انګریز دی ، که چرته انګریزانو مونځ شروع کړو ، نو کیدی شی ټول جوماتونه ډك شی ، متیازی د انګریز په طریقې ، ډوډئ د انګریز په طریقه ، فیشن دانګریز په طریقه ، ویښته د انګریز ، ګیره د انګریز په طریقه ، صحابی بازار کښې روان وو ، وائی : ما ته دنبی علیه السلام د دور په دې زمانه کښې هیڅ هم نه خکاری علاوه د مونځ نه ، او د آذان نه ، نور ټول د اغیارو په طریقه دی .

الله تعالی د مونږ په تعلیم قرآنی روان کړی او انګریزی تعلیم نه دی الله تعالی مونږ اوساتی ، آمین

بسم الله الرحمن الرحيم

# فکری جنگ

# فکری جنګ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{يسْأَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ } [البقرة: 217]

زما عزت مندو رونړو دی آیت کریمه الله رب العزت یو مسئله ذکر کوی ، چې د عزت په میاشتو کښې د کفارر سره جنګ کول څنګه دی ؟

خو اصل مسئله دا ده چې کفارو اعتراض کوو چې صحابو کرامو رضی الله عنهم د رجب په اول تاریخ جنګ کړی دے ، میډیا باندے خبره مشهوره شوه چې د عزت په میاشت کښې جنګ کوی ، الله پاك د هغې په جواب کښې دا آیاتونه مبارکه نازل کړل.

چې کچرته په دین اسلام حمله کوی ، نو تاسو هم کوی ، که دوی ددے میاشتو خیال ساتی ، نو تاسو هم ساتی ، خو دوی خپل ګناهونو ته نه ګوری ، او ستاسو یو ګناه په میډیا ورکوی -

مثال ئې داسې دے ، چې یو طالب د مدرسی نه اوتختی ، نو پوره میډیا باندے خبره چلیږی ، او چې بهاولپور کښې ۵۰۰ جینکو سره بربنډی ویډیوګانو د پروفیسر د یونیورستی سره وی ، نو هغه د میډیا نه خو زر تر زره ختم کړی ، دا د یهودو یو مشن دے ، دا وړه خبره خوروی ، او بے دینی غټه خبره د میډیا نه زر تر زره ختم کړی دا د هغوی کوششونه دی صرف د مسلمان په اسلام بدظنه کولو دپاره -

## د کافر د مسلمان سره دوه قسمه جنګ

اصل کښې کافر د مسلمان سره دوه / قسمه جنګ کوی : (۱) مسلح (۲) فکری ،

## د اسلام نه اړول دوه قسمه دی

دارنګی د اسلام نه اوړیدل هم دوه قسمه دی : (۱) ظاهری ارتداد (۲) فکری ارتداد ،
په مسلح جنګ باندے ظاهری ارتداد راځی او په فکری جنګ باندے فکری ارتداد راځی ، نن کافرانو مسلح جنګ پریخی دے او په فکری جنګ باندے ئې زور ورکړی دے -

## فکری جنګ تاریخ

تاریخ ئې دادے : قرآن کریم اول سر کښې په دې خبره باندے خبرداری ورکوی چې ددے خلقو د مشن نه ځان خبر کړی :

(۱){وَدَّ كَثِيْرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا } [البقرة: 109]

(2) {وَقَالَتْ طَّائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوْا بِالَّذِیْ أُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ} [آل عمران: 72]

(۳) { وَلَا تُؤْمِنُوْا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ} [آل عمران: 73]

(٤) {يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنْ تُطِيعُوْا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰى أَعْقَابِكُمْ} [آل عمران: 149]

(٥) { لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوْا فِى الْأَرْضِ أَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا} [آل عمران: 156]

(٦) {يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ} [المائدة: 51]

(٧) { يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا } [المائدة: 57]

قرآن کریم ددے بیان کړی دے ، اول د نبی علیه السلام نه پس عیسایانو سل / ۱۰۰ کاله بعد د نبی علیه السلام په سیرت باندے حمله اوکړه ، کله وائی : دا د پیغمبرئ لائق نه وو ، کله وائی : دده ژوند د پیغمبرانو نه دی ، کله وائی : نبی علیه السلام بحیثیت پیغمبر ناکام وو ، او بحیثیت سیاسی

ليډر کامياب وو ، اول ئې په سيرت حمله اوکړه چې مسلمانان بدظنه شي ، کله به ئې وئيل : ښځې ئې ډيرې کړې دی ، داسې لړی لړی خبرے به ئې کولې ، په منظمې طريقې سره ۱۷۷۰ کښې شروع اوکړه ، او په ۱۸۳۰ کښې دوی په فرانس کښې کانفرس اوشو چې د اسلام خلاف جنګ شروع کول غواړی ، د اسلام اعمال ، اخلاق ، روايات ، اقدار ، اسلامی محنت ختمول غواړی ، محنت ئې کوی ، ۱۸۳۰ کانفرس کښې د يهودو او عيسايانو لوئې لوئې خلق راجمع وو ، ګولډ سټون د فرانس صدر په کښې ناست وو ، په هغې کښې هغه دا خبره اوکړه چې مسلمان به داسلام نه څنګه اوړی ؟ چې زمونږ مشن په دې دنيا کښې عام شی ، زمونږ اخلاق ، تعليم ، احترام ، ژبه ، کرنسی ، ناسته پاسته دنيا کښې عام شی ، هغوئ وی ديته رکاوټ اسلام دے ، ځکه اسلام عقيده ، عمل ، اخلاق ، قانون ، معشيت ، معاشرت ، تعليم ، صحت ، عسکر ، سياست عدليه ، قضاء بدلوی ، اسلام هر ځای بدلون راولی ، وائی : زمونږ مشن به دا وی چې هيڅ هم نه وی ، اسلام نه وی ، هندومت نه وی ، سکھ مت نه وی ، بدھ مت نه وی بلکه هرځای زمونږ تعليم او کلچر وی -

ګولډ سټون اوئيل : چې تاسو مسلمانانو سره مسلح جنګ نه شی کولے ځکه چې يو طرفته يو کس د خپل ځان قربانولو دپاره ميدان ته راغلی وی ، او بل طرفته بل د خپل ځان بچ کولو دپاره راوتے وی - نو کوم به جنګ ګټی ؟ چې کوم د خپل ځان قربانولو دپاره راوتلی وی هغه به جنګ ګټی -

وائی : مسلمان ځان قربانوی په اسلام باندے سر کټ کولو ته تيار وی نو تاسو د هغوی سره مسلح جنګ نه شی کولے ، نو هغوی جواب کښې اووی : چې څه به کوو ؟

نو دی ګولډ سټون قرآن کريم د يو طرف نه اونيولو او وی جنګ نکوو چې تر څو دمسلمان سره دا قرآن کريم او ددے تعليم وی نو تاسو هغه نه شی خرابولی ، وائی : دا ترے اغستل غواړی خو طريقه به ئې څه وی ؟

طريقه به ئې دا وی چې دا عربئ تعليم او تعلم ترے ختم کړی ځکه چې عربيت ختم شو ، نو

قرآن کریم به تش الفاظ وی معنی به نه وی -

## د لارډمیکالی قول

۱۸۳۵ء کښې لاډمیکالے وئیل : ما ذهن اوجنګولو چې مسلمانانو نه به عربي تعلیم خنګه اخلو ، او قرآن کریم به ترے خنګه اخلو ؟ وائی : دی مقابل کښې یو داسې تعلیم رائج کول غواړی چې ددنیا تنخوا پرې ملاؤیږی ، ددنیا ترقی وی په هغې کښې ، استاذ ، جج ، وزیر ، وکیل ، **SCHO** ، **DSP** ، دا په کښې عهدی وی او په دې عهدو ډیره ډیره تنخوا په کښې وی نو ددوی نه په خپل تعلیم پاتی شی او زمونږ تعلیم به راوخلی -

سوال : پرې چا اوکړو چې ستا د تعلیم اثر به څه وی ؟

جواب : ئې اوکړو ، چې په شکل به هندوستانی ، پاکستانی وی ، او اخلاق ، اعمال ، کردار ، شکل ، شباهت ، اقدار ، روایات ، رسم و رواج ، سوچ فکر ، نظریه ، عقیده دا به ئې د انګریز وی -

سوال : پرې چا اوکړو : چې په دې به ډیر وخت لږی ؟

جواب : ئې اوکړو چې ما کله وئیلی دی چې ددے اونی میوه به زه خورم ، اګر که دوه سوه / ۲۰۰ درې سوه / ۳۰۰ سال بعد ولی دا کار او نشی -

مقصد : (۱) به دا وی چې مسلمانان دنیا دار شی ، دین داری به ختمه شی نو ټول طاقتونه به ئې په دنیا او شهوات ، بنګلو ، ښځو او ډالرو ، تنخوا ګانو ، ددنیا په محنت به صرف کیږی -

(۲) مقصد : شبهات په خپل دین به خلق بدګمانه کوی ، وائی چې د مدرسی نه فارغ شی نو امام به شی او چې سکول نه فارغ شو نو ۳۵. ۴۰ – ۷۰ هزار تنخوا به وی -

د جهاد به داسې تعبیر اوکړی چې خلق به بدګمانه شی ، مدرسه به بدنامه کړی ، کله حدود داسې طریقې سره پیش کړی چې اسلام باندے خلق بدګمانه شی ، قرآن کریم ، حدیث ، پیغمبر ، ګیره ، اسلام باندے اعتراض کوی ، چې د خلقو دا ذهن په اسلام بدګمانه کړی ، خلق به **PHD** کوی ، چا به په قرآن کریم **PHD** کړی وی ، رشوت ، سود ، یارانی به کوی ، سکول والا کوی ، د

ټولو بے دینو جرړه انګریزی تعلیم دے که د قرآن کریم تعلیم ورسره نه وی ، عالمان چې اجازت د سکول ورکړی وو ددے وجی نه چې دی سره به د قرآن کریم تعلیم وی ، زمونږ ذهنونه فکری جنګ کښې تباه شو ، ذهنونه زمونږ انګریزی دی ، هلکانو ناسته پاسته ټوله دانګریزو ده ، نن په اسلام باندے مسلمان مطمئن نه دی بدګمانه دی -

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# اللہ دیکھ رہا ہے

## اللہ دیکھ رہا ہے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيرٌ} [الحديد: 4]

الله تعالى زمونږ او ستاسو پيدا كونكى دے ، او زمونږ او ستاسو د عملونو او د اخلاقو او د ژوند سمونكى دے ، الله تعالى زمونږ او ستاسو د ژوند د سمولو دپاره د اعمالو دپاره او د اخلاقو او معاشرى د سمولو دپاره خپل قانون قرآن كريم ، اسلام راليږلى ، مونږ او تاسو ئې د هغې د عمل پابند كړى يو لكه :

{اتَّبِعُوْا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ} [الأعراف: 3]

چې الله نازل كړى دى د هغې تابعدارى اوكړى ،

{وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُونِه أَوْلِيَاءَ } [الأعراف: 3]

## د الله تعالى مقابله كښې څوک نه منل

د الله تعالى مقابله كښې چې څوك او څه راځى ، هغه نه منل ، دا تابعدارى په مونږ باندے فرض ده -كه د ايمان مسئلے دى ، داعمالو ، معاملاتو ، اخلاقو ، معاشرتى ، سياسى ، عدالتى مسئلى وى ، نو په ټولو كښې مونږ او تاسو د الله تعالى ددين پابند يو ، د الله تعالى د قانون پابند يو ، انسان دے ، ماحول دے ، شيطان دے ، كله كله سړى وائى ، زه غلى به شم او د قانون نافرمانى به اوكړم ، دا به تا نه وى ليدلى چې بادشاه وى او فوج ولاړ وى ، نو څوك خلاف نه شى كولى ، ټريفك پوليس ولاړ دى نو څوك خطا ګاډى نه شى بوتلى ، وائى : پرچه به راله راكړى ، د الله تعالى علم په مونږ ګيره اچونكى دے لكه الله تعالى فرمايلى دى :

{لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى السَّمَاوَاتِ وَلَا فِى الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ } [سبأ: 3]

نه شی پټېدلے د هغه نه په وزن د یو ذرے په آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې او نیشته
وړوکی ددے نه او نه لوے۔
{يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ } [سبأ: 2]
عالم دی په هغه څه چه ورننوځی په زمکه کښې او په هغه څه چه را اوځی د هغې نه او په هغه
څه چه راکوزیږی د آسمان نه۔
{إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ} [الفجر: 14]
یقیناً رب ستا خامخا په ځاے د څوکۍ کښې دے۔

## الله تعالی زمونږ دعملونو تماشه کوی

الله تعالی زمونږ د عملونو تماشه کوی لکه:
{ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ} [الحديد: 4]
یعنی چې کوم ځاے ئې الله تاسو سره دے الله تعالی په هغې عملونو باندے چه تاسو کوے
لیدونکی دے۔ پوهه دے، الله تعالی د نافرمانو یو خیال ذکر کوی چې
{وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِمَّا تَعْمَلُوْنَ } [فصلت: 22]
تاسو څه وائی چې الله زمونږ په ډیرو کارونو نه پوهیږی، کمبل کښې، کمره کښې، الله ته مونږ
نه خکارو، وائی: ګمان غرق کړی، الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی:
{يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللهِ} [النساء: 108]

## د خلقو نه ځان پټول د الله نه نشی پټیدلی

د خلقو نه ځان پټوی دوئ د الله تعالی نه شی پټیدلی
بلکه { وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ} [النساء: 108]
ګناه الله تعالی قهر ته دعوت دے، هغه الله تعالی د دوی سره دے، دا خبره ځان ته حاضرول
پکار دی چې که نیک کار کوم او که بدکار کوم الله تعالی زما سره دے، الله تعالی ما وینی، زما

خبرے اوری ، د ثبوت دپاره الله تعالی لیکل هم کوی لکه :
{اقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا } [الإسراء: 14]

## زمونږ او ستاسو هر څه لیکلی شی

زمونږ او ستاسو هر څه فرشتی لیکی لکه :
{سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا } [آل عمران: 181]
ددی خبرے یقین کول چې الله تعالی ما وینی ، دا خبره ده ګناهونو نه د بچ کیدلو ذریعه ده۔
{ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ } [الحديد: 4]
جومات ، کور ، بازار ، الله تعالی درسره په هر مقام کښې دے ، انسان بیټهک کښې وی ، مارکیټ کښې وی ،
{إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ} [الفجر: 14]
الله تعالی د انسان تماشه کوی ، مونږ سره ددے نه دومره بهادر یو چې د الله تعالی مخی ته د الله تعالی حکم ماتوو۔ الله راته ګوری او مونږ ئې په حکمونو خپې ږدو ، دا د الله تعالی د قهر او غضب ته دعوت دے۔ غل د خلقو نه ځان پټوی ، ډاکو ګوره خلقو نه ځان پټوی ، سود خور د خلقو نه ځان پټوی ، رشوت والا ، کرپشن والا ، زنا کار ، ځان د خلقو نه پټوی ، خو د الله تعالی نه چرته هم پټیدلی نه شی ، موبائیل کښې ، فلمونه ، ډرامی ، فیس بك ، یوټیوب باندے هر څه ګوری ، او الله تعالی مونږ ته ګوری ، چې کله دا یقین راغے ، چې :
{ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ } [الحديد: 4]
چې څه کوی ، الله تعالی دی وینی ، رونړو الله تعالی مونږه وینی ، دا الله تعالی نه حیا او شرم پکار دے ، چې د الله تعالی مخکښې د الله تعالی حکمونه مات نه کړو۔

بسم الله الرحمن الرحيم

# د قرآن کریم دشمنان

## د قرآن کريم دشمنان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا } [الأنعام: 123]

مخکښې آيت کريمه کښې اصل انسانيت بيان شو ، اوس د اصل انسانيت دشمنانان ذکر کوی ، چې د قرآن کريم ، د توحيد ، د دين اسلام ، ددے دشمنان څوك دی ؟

نو دی آيت کريمه کښې الله تعالى دوه / ۲ خبرے کوی : (۱) دشمنان قرآن ، توحيد ، (۲) ترغيب استقامت ته ،

## د قرآن کريم دشمنان

د قرآن کريم دشمنان درې / ۳ قسم دی : (۱) بے دينه غلط ليډران (۲) غلط پيران (۳) غلط او بے دينه مليان۔

## بی دينه ليډران

اول : بے دينه ليډران : دوی دا نه غواړی چې انسان کښې انسانيت راشی ، قرآن کريم په دنيا کښې نافذ شی ، او قرآنی نظام په دنيا کښې عام شی ځکه هغه وائی : که چرته انسان کښې انسانيت راغے او قرآن کريم نظام راشی ، نو زما ليډری به ختمه شی او د قرآن کريم حکومت به شروع شی ، ما ته به بيا څوك ليډر نه وائی ، څوك به راته کينی ، او پاځی نه۔

## واقعه

واقعه : نبی عليه السلام په لاره روان وو ، يو سړی ورته وئيل : ته دی خلقو له څه دعوت ورکوی

؟ نبی علیه السلام هغه سړی ته وائی : که تاله دغه دعوت درکړم ، نو ته به ئې اومنی ؟
هغه ورته اوئیل : او ، نبی علیه السلام اووئیل : زه وایم : ایهاالناس قولوا لا اله الا الله تفلحوا ، هغه جواب ورکړو ، هذا امر تکرهه الملوك ، ته خو وائی ، بادشاهی به صرف د الله تعالی وی ، نور بادشاهان او حاکمان به نه وی ، نو ته په لیډرانو رد کوی ، نو هغوی باندے دا خبره بدلګی ،

## واقعه

واقعه : نبی علیه السلام یوې میلې ته تلې وو دعوت دپاره : ابوبکر صدیق رضی الله عنه به ترے مخکښې ګشت کولو ، نبی علیه السلام به دعوت ورکولو ، ابوبکر رضی الله عنه وائی : داسې سړی دے ، او داسې خبرے کوی ، هغوی وئیل : صحیح ده ، راوله خبره به ئې واورو ، چې نبی علیه السلام دعوت ورکړو ، هغوی وئیل : ستا دا خبره په ټولو حاکمانو ، بادشاهانو ، لیډرانو ، افسرانو ، غټو غټو بتانو باندے رد دے ځکه ته وائی : حاکم به صرف الله تعالی وی ، {إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ} [الأنعام: 57] { أَلَا لَهُ الْحُكْمُ} [الأنعام: 62] نو ددے د وجی نه به بادشاهان ستا سره جګړه کوی ، نو مونږ خو ستا خبره منو د عربو جنګ ته به ستا ملګرتیا اوکړو خو د عجمو یعنی کسریٰ سره جنګ نه شو کولې ځکه زمونږ ورسره معاهدی دی ، نبی علیه السلام دا نه وائی : چې دی عربو کښې راسره ملګری شئ ، بلکه نبی علیه السلام وائی : نیم ملګرتیا می نه ده خوښه چې اسلام راوړئ ، نو مکمل اسلام راوړئ ، په مکملو حاکمانو باندے به رد کوی او حاکم به صرف الله تعالی منې -

## غلط پیران

(۲) د انسانیت قرآن کریم ، سنت ، او توحید دشمن غلط پیران دی ، هغوی هم خلق ددین نه بند وی ، خلقو ته وی زما خیال ساتئ په میاشت کښې دومره روپئ راکوی ، ستاسو هیڅ شی ته حاجت نشته ، زه به ستاسو دپاره هر څه کوم ، خلق د قرآن کریم نه بند وی ، ددین نه بند وی -

## بی دینه ملیان

(۳) دشمن د قرآن کریم د رنړا او د انسانیت هغه بے دینه ملیان وی ، هغوی هم په مختلفو طریقو سره خلق ددین نه بنده وی ، کله یو شبهه ذهن کښې اچوی او کله بله ، قرآن کریم ددے تفصیل ذکر کوی :

{إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا وَرَأَوُا الْعَذَابَ} [البقرة: 166]

کله چه جدائی به اوکړی هغه خلق چه تابعداری ئې کړې شوې ده د هغې کسانو نه چه د دوی تابعداری ئې کړې وه او دوی به اووینی عذاب لره او پرې به شی ( ختم به شی ) د دوی تعلقات د یو بل سره -

{إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ} [إبراهيم: 21]

یقیناً مونږ ستاسو تابع وو نو آیا تاسو لرې کولی شئ زمونږ نه د عذاب د اللّٰه تعالی نه څه شے -

{رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا} [الأحزاب: 67]

اے ربه زمونږه یقیناً مونږ تابعداری کړې وه د سردارانو خپلو نو ګمراهان ئې کړو مونږ د حق د لارې نه -

دین ددے خلقو د لاسه خراب دے ، نن خلق لیډرانو غرق او تباه کړو ، لیډران په خلقو سواره وی ، ځان پرې کرسئ ته ورسوی ، نن دا خلق زما او ستا د ووټ ده وجې نه کرسئ ته رسیدلی دی ، تا د جمهوری نظام تائید اوکړو - چې کله دا خلق ستا په ووټ باندے اسمبلئ ته اورسیدل ، او دوی دغه ځاے ځومره ګناهونه ځومره ظلمونه کوی ، کوم حکم د قرآن کریم بدلوی ، د قرآن کریم نه خلاف قوانین نافذ کوی ، په دې ټولو کښې به ستا حصه وی - د جمهوری او غلط نظام د لاندی که فرشته هم راشی نو هغه غلط کار کوی ، که حاجی عبدالوهاب صاحب هم راشی ، او مشر شی ، هغه به هم دغه ظلمونه کوی ولی ؟ ځکه دا نظام د کفر دے ، جمهوری دے ، اسلامی نه دی ، لیډران لا ۱۴ اګست هم مناووی ، آزادی هم مناوی ، ته څه له آزادی مناوی ، ته خو لا غلام ئې چې په خپل ملك کښې د تیل ریټ نه شی مقرر کولی او بیت الخلاء ته بغیر د اجازت

IMF نه نه شي تلے او ته آزادي مناوهي ، شاعر وئيلي دي ، شعر :

هَلْ اَفْسَدَ الدِّيْنَ اِلَّا الْمُلُوْكُ وَ اَحْبَارُ سُوْءٍ وَ رَهْبَانُهَا

دين كی خرابي ہے تين سے ملك ظالم پير جاہل مولوی بے دين سے

## پنځه قسمې حربې

دا قسم خلق ددے خپل كار دپاره مختلفې حربې استعمالوی :

(۱) لويه حربه جمهوری نظام دنيا ته رادننه كول دی ، چه ددے جمهوری نظام د وجې نه قرآنی نظام ختم كړو۔

(۲) حربه : انګريزی تعليم رائج كول دی ، نن اوګوره PHD به ئې كړی وی ، او د قرآن كريم الفاظ او معانی به ورله نه ورځی۔

(۳) حربه :حق پرست جماعت بدنامول ، چې دا خلق دا نه منی ، او دا نه منی۔

(٤) حربه : دينی مدارس بدنامول ، چې په دې مدارس كښې د دين او قرآن خدمت كول ، ختم شی ، اسلام په ملك كښې خور نه شی ، قرآنی نظام رائج نه شی۔

(٥) حربه : هغه عالم به جيل كښې وی ، بدناموی به ئې ، وهی به ئې ، پابندی به پرې لګوی ، چې كوم عالم حق بيانوی ، او ددے جمهوری نظام خلاف كوی ، او د قرآنی تعليم پرچار كوی ، او چې كوم عالم داسې نه وی نو هغه به مذهبی سكالر جوړوی۔

## دا انبياء كرام خلاف حربې مختصراً

اوګوره د انبياء كرامو باره كښې څومره فريبونه جوړ كړی وو ، اول په انبياء كرامو عليهم السلام كښې :

(۱)جناب نوح عليه السلام پسې خلاف فريب : {وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا} [نوح: 22]

(۲) صالح عليه السلام خلاف فريب : {وَمَكَرُوْا مَكْرًا } [النمل: 50]

(۳) موسی علیه السلا خلاف فریب : { لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِيْنَ} [الشعراء: 29]

(٤) لوط علیه السلام خلاف فریب : {لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِيْنَ } [الشعراء: 116]

(٥) ابراهیم υ خلاف فریب : : {وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْأَخْسَرِيْنَ } [الانبيآء : ٧٠]

(٦) جناب عیسی علیه السلام خلاف فریب : {وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِيْنَ } [آل عمران: 54]

(٧) نبی علیه السلام خلاف فریب : {إِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا} [الأنفال: 30]

چی ستا دعوت د کلی مطابق وی په کلی کښې مشر به دی دشمن ، بیا د ضلع مطابق د ضلع مشر هم ، صوبه مطابق د صوبې مشر به دی دشمن وی ، ملك مطابق دعوت ورکوی ، ملك مشران به دی دشمنان وی ، الله تعالی دی ، مونږه د قرآن کریم د دشمنئ نه اوساتی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د انسان رضا او د الله تعالی رضا

## د انسان رضا او د الله تعالی رضا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِيْنَ نَارًا} [الكهف: 29]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِاالنِيَّاتِ -

زما عزت مندو رونړو ! دنیا کښې الله تعالی انسان پیدا کړی دے ، او خپل اختیار ئې ورله ورکړی دے ، او خپله خوښه ئې ورکړیده چې

{ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ } [الكهف: 29]

## انسان په دنیا کښې دوه قسمه ژوند

خو دی دنیا کښې چې انسان زندګی تیروی ، نو ده دوو رضاګانو تر مینځ ئې تیروی : (۱) دده رضا (۲) د الله تعالی رضا ، مثال :

مونځ حکم الله تعالی کړی دے اوس که کوی ، نو ده الله رضا او که نه کوی ، نو ستا خپله رضا - مثال ئې د کانړی دے چې ستا په لاس کښې وی نو که ولی ئې هم دی خوښه ده او که ئې نه ولی نو هم دی خوښه ده - انسان فطرتاً الله تعالی داسې نه دی جوړ کړی چې دی مونځ له راوان وی ، نه نه بلکه دی ناست وی - الله تعالی وائی : آذان اوشی ، مونځ کوی ، زه پرې رضا کیږم - او که نه کوی نو زه پرې خفه کیږم اګر که تا ته پرې آرام ملاؤیږی - مونځ کول نه کول - د انسان اختیار کښې دی ، دغسی لکه په هر عبادت کښې ، روژه ، زکوة ، حج ، مونځ ، صدقه که کوئی نو الله تعالی رضا کیږی ، او که نه کوی - نو الله تعالی خفه کیږی ،

## د ایمان تقاضه

اصل خبره دا ده ، دا ایمان تقاضه دا ده : چې ته د الله تعالی خوښه غالب کړی په خپله خوښه باندے چې کله یوه مسئله راشی نو اوګوره چې په دې کښې زما د زړه خوښه کومه ده ، او د الله پاك خوښه په کښې کومه ده ؟ نو خپله خوښه مغلوب کول او د الله تعالی خوښه غالب کول دا د اسلام او ایمان تقاضه ده ، قرآن کریم اوګوره ،

## قرآن کامیابی څه ته وائی ؟

دا د کامیابی مدار قرآن کریم څه شی ته وائی ؟ لکه

{بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ} [البقرة: 112]

د الله تعالی رضا او نیکی مدار د کامیابی دے ،

{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ } [البقرة: 207]

نو دی آیت کښې هم ده د الله تعالی رضا د کامیابی ذریعه ده ،

## ابراهیم علیه السلام ته خلیل لقب ولے ملاؤ شو ؟

جناب ابراهیم علیه السلام ولے د خلیل مقام ته رسیدلے دی ؟ ځکه الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی :

{وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيْفًا} [النساء: 125]

{وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيْلًا } [النساء: 125]

ځکه چې ابراهیم علیه السلام اعلان کړی وو ،

{إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِي لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا} [الأنعام: 79]

ما صرف د الله تعالی رضا اختیار کړیده ، که یو سړی دا وی ، چې رضا او خوښه به زما کیږی ، او مسلمان دی هم یم ، نو دا خبره ګرانه ده ، اسلام او مسلمانی نوم دے د ځان حوالو کولو ځان به مکمل الله تعالی ته حواله کوی ، د الله تعالی رضا به اختیار کوی ، او خپله رضا به په حکم

کښې پریدی ، او روستو کوی به او قربانی به کوی ، اګر که د الله تعالی په رضا کښې تا ته تکليف ولی نه وی -

## ابوبکر رضی الله عنه ته صديق لقب ولے ملاؤ شو ؟

جناب ابوبکر رضی الله عنه ته صديق لقب د الله تعالی د رضا په خپلی رضا د غلبی د وجی نه ورکړی شوی وو ،
دغه شان عمر رضی الله عنه فاروق لقب ، دغه شان علی رضی الله عنه ته حيدر کرار او عثمان رضی الله عنه ته ذو النورين ، دوی خپله رضا مغلوبه کړی وه په رضا د الله تعالی باندے ، او رضا د الله تعالی ئې غالبه کړيده -
اوګوره صحابو کرامو باندے :
{ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ} [المائدة: 119]
{وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ} [آل عمران: 152]
{ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ} [التوبة: 20]
{ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ} [البقرة: 5]
دا ټول صفات د صحابو کرام قرآن کريم په تفصيل څکه ذکر کوی ، چې د هغوی د الله تعالی رضا مقصود ګرځولی وه ، او خپله رضا ئې کمزوری کړيده ، دارنګه زمونږ اسلاف اوګوره ، چې هغوی هم د الله تعالی رضا په خپله رضا مقدم کړی وه ، او ترجيح ئې د الله تعالی رضا له ورکړی وه ، څکه ترے الله تعالی ددين خدمات واغستلو ددنيا کونے کونے ته ئې د قرآن کريم د دروس رڼرا اورسوله ، الله تعالی دی خپله رضا په مونږ غالبه کړی ،
دارنګه اعتقادات ، تا هم مثلاً الله منلو ، د الله تعالی رضا دا ده ، چې الله تعالی اومنه ، د الله تعالی اومنه ، او د الله تعالی سره محبت اوکړه ، وغيره ټول عقائد ، اعمالو کښې مونځ ، روژه ، معاملاتو کښې اوګوره ، يو معامله کوی ، دوه رضاګانی يو دالله تعالی رضا ، بله ستا خپله رضا د الله تعالی رضا دا ده ، چې معامله په طريقهد شريعت اوکړه ، ستا رضا دا ده ، چې سود په کښې

اوکړی ،

دارنګی اخلاق کښې دوه رضاګانی ، دارنګی معاشره کښې اوګوره ، یو طرف ته خوښه ده دالله تعالی ده ، بل طرف ته ، خوښه د انسان ده ، رسم رواج د معاشرے او بل طرف ته سنت طریقه ده ، نو دی ټولو کښې د الله تعالی رضا غالب کول غواړی ،

دارنګی نظام سیاست کښې یو حکم الهی ، بل حکم حکم غیر الهی ، اوس ستا د رضا او د الله تعالی د رضا تقابل راغے چې ته کومې له ترجیح ورکوی ؟

دارنګی نظام عدلیه ، قضاء ، فیصله یوه موافق د رضا الهی کول دی ، او بل فیصله موافق د خپلی رضا کول وی ،

دارنګی نظام تعلیم دے ، نو تعلیم کښې رضا الهی تعلیمی دینی دے ، او خپله رضا صرف او صرف ده انګریز تعلیم دے ، چې ته کوم له ترجیح ورکوی ، بهر حال په هر قدم باندے بنده له ځان ته کتل پکار دی چې دی وخت کښې یو زما خوښه ده او بل د الله تعالی خوښه ده ، نو د الله تعالی خوښی له ترجیح ورکول پکار دی او خپله خوښه مغلوب کول غواړی - الله تعالی دی مونږ ته د الله رضا غالب کول خائسته خکاره کړی ، او عمل توفیق دی الله تعالی راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# امتحان

## امتحان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا} [هود: 7]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِاالنِيَّاتِ -

مونږ او تاسو لره الله تعالی نعمتونه او طاقتونه راکړی دی ، او د عمل کولو اراده ئې هم راکړیده ، په مخلوق کښې بعض داسې مخلوق هم شته چې هغوی لره الله تعالی قدرت هم نه دی ورکړی ، او بعض لره ئې اراده هم نه ده ورکړی ، الله تعالی چې انسان لره څه هم ورکړی دی دا د امتحان دپاره دی ، چې دا انسان په خپل مرضئ استعمالوی ، او که د الله تعالی په مرضئ ئې استعمالوی ، الله تعالی دی انسان له اختیار هم ورکړی دے چې ستا خوښه ده چې ته په کوم طرف ځې ، نو څه ، روستو ورسره الله تعالی نتیجه ذکر کړیده هغه دا چې :

{ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِيْنَ نَارًا} [الكهف: 29]

که په امتحان کښې کامیاب شوی نو جنت او که ناکام شوی نو دوزخ -

## امتحان د بدن

اول : په هغې کښې بدن د انسان دے ځکه چې مکمل بدن الله تعالی د امتحان دپاره ورکړی دے ،

(۱)خوله : چې په دې ته خی خبرے کوی او که بدی ، قرآن کریم وائی په دې باندے او که کنځل پرې کوی ، دروغ ، که رشتیا ددین دعوت پرې ورکړی او که ددین نه پرې خلق منع کوی -

(۲) سترګی : چې په دې باندے قرآن کریم ته کتل کوی او که فلمونه ، ډرامی ، یوټیوب ، او بے حیائی پرې ګوری ، حلال ګوری ، او که حرام -

(۳) پوزه : چې په دې باندے ته خه ښیزونه بوئی کوی ، او که بد ، ته به په دې شراب ، چرس ، افیون ، او دارنګه حرام ښیزونه بوئی کوی ځکه د بوئی د وجی نه شوق د انسان راځی ، خوراك او استعمال ته -

(٤) غوږونه : چې په دې باندے قرآن کریم اوری او که غلط ګانی ، غیبت ، چغل خوری ، دا ټول د امتحان دپاره دی -

(٥) دغه رنګی زړه هم دے ، خپې ، لاس ، ذهن ، سوچ ، دا ټول الله تعالی د امتحان دپاره ورکړی دی ، چې ته ئې په کومه طریقه استعمالوی ، الله تعالی په قیامت په ورځ د هر یو اندام نه تپوس کوی ، خوله به بنده شی په خوله به مهر اولګولی شی لکه قرآن کریم وائی چې :
{الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ } [يس: 65]

## انفرادی زندګی کښې امتحان

درانګی انفرادی زندګی هم د امتحان ، اجتماعی زندګی هم د امتحان ، چې ته انفرادی زندګی کښې اعمال کوی ، اخلاق استعمالوی ، او که په غلطو کارونو کښې اخته ئې -

## اجتماعي زندګۍ کښې نظامات سته

دارنګې اجتماعي زندګۍ کښې نظامات سته دي : (۱) نظام تعليم (۲) نظام صحت (۳) نظام معاش (٤) نظام معاشرت (٥) نظام قضاوت (٦) نظام سياست -
دا ټول نظامونه کښې الله تعالى ما او تاته ګوري ، او زما ستا امتحان اخلي ، چې دى زما په حکم او رضا باندے روان دے او که د غير په حکم او رضا باندے روان دے -
دارنګې انسان له الله تعالى دين ورکړى دے دپاره د امتحان ، چې دے په دين عمل کوي ، او که نه کوي مال ، عقل ، بدن ، حسن معاشرت ، په دې ټولو کښې انسان په امتحان کښې دى ، په وړه معاشره کښې دده امتحان دادے چې دے په کور کښې څنګه زندګى تيروى ؟ او غټه معاشره کښې هم دده امتحان دے چې د قرآن کريم موافق په معاشره کښې زندګى تيروى او که نه ؟

## په قيامت کښې سوالات

دارنګې حديث کښې راځي ، چې انسان تر څو د قبر نه دوباره راپورته کيږى ، نو يو قدم به نه وى اغستى ، نو الله تعالى به ترے د پنځو / ٥ سوالونو تپوس کوى ، چې مال مى درکړى وو ، څه کښې دى لګولى وو ؟ څنګه دى خرچ کړى وو ؟ دارنګې صحت مى درکړى وو ، علم مې درکړى وو ، څنګه دى پرې عمل کړى وو ، دارنګې عمر مې درکړى وو -
دارنګې ځوانى مې درکړى وه ، ددے ټولو تپوسونه به کوى ، دارنګې آخرت کښې هم ، يعنى قبر کښې هم الله تعالى امتحان دپاره فرشتى راليږلى ، ددے سوالونو امتحان پرې اخلي ، (۱) من ربك (۲) ما دينك (۳) من نبيك ، ددے سوالونو امتحان پرې اخلي ، چې کوم انسان په امتحانانو کښې پاس شو نو کامياب او فيل شو نو ناکام -

بسم الله الرحمن الرحيم

# حقوق د قرآن کریم

# حقوق د قرآن کریم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَه وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ } [الأعراف: 204]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : القرآن سبب طرفه بایدیکم وطرفه بید الله ،

الله پاك زمونږ او ستاسو د اصلاح دپاره یو قانون رالیږلے دے چې د هغې نوم قرآن کریم دے ،

## قرآن کریم د رحمت ذریعه ده

دا قرآن کریم د رحمت ذریعه ده لکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ

دارنګی قرآن کریم کښې راځی :

{وَهَذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا} [الأنعام: 126]

قرآن کریم د الله تعالی لاره ده او د الله تعالی په لاره باندے انسان الله تعالی ته رسوی ، نو قرآن کریم سبب د قرب الی الله دے او قرآن کریم سبب د نزول رحمت الهی دے ، ځکه دنیا کښې انسان الله پاك نه شی لیدلی نو دی د دیدار الهی شوق ساتی ، دنیا کښې په د قرآن کریم لاره روان شه ، آخر کښې به ماته اورسی ، او زما دیدار به حاصل کړی ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

{ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْ أُوْحِيَ إِلَيْكَ} [الزخرف: 43]

نو کلك اونیسه هغه چه وحی کړی شوی ده تا ته -

دا قرآن کریم مضبوط اونیسی او عمل پرې اوکړئ ، د قرآن کریم دشمنان ډیر وی هغوی دا مشوره کړیده چې مسلمان قرآن کریم زده نه کړی ، که چرته مسلمان قرآن زده کړی نو دې به

په قرآن کريم عمل شروع کړی او بيا د قرآن کريم بادشاهی په ملك کښې غواړی نو زمونږ بادشاهی به ختم شی - دا خلق زمونږ او ستاسو نه قرآن کريم په زور باندے اخلی ، مونږ او تاسو قرآن کريم ته نه پريدی ، کله کله خه په مشن باندے د قرآن کريم د ختمولو کوشش کوی لکه واقعه مشهوره ده ،

## مشهوره واقعه

هندوستان ته انګريزان راغلی وو د قرآن کريم د ختمولو دپاره ، د کمپنيانو نه به ئې قرآن کريم اغستل او هغه به ئې درياب ته ويشتل ، هندوستان کښې پرې يو عالم پوهه شو ، هغه لاړو ، او دانګريزانو مشر چې کوم دفتر کښې وو ، هغه لره ئې خپل ماشوم بوتلو ، او هغه انګريز ته ئې اووی ددے ماشوم نه قرآن کريم واوره ، هغه ترے مخلتف تپوسونه اوکړل ، هغه ماشوم په يادو جوابونه ورکړل ، هغه عالم خپل ماشوم ته وئيل : زه اوس ځه ، انګريز وئيل : ما پوهه کړه ، څله راغلی وی ؟ او څله لاړی ؟ هغه عالم ورته ووئيل : زه خبر شوم چې انګريز د قرآن کريم ختمول شروع کړی دی نو دی که د قرآن کريم مصحف ختم کړی نو دا ماشومان به څنګه ختموی ؟ نو انګريز پوهه شو چې دا مشن صحيح نه دی ، بيا ئې د قرآن کريم مقابل انګريز تعليم رائج کړو ، چې قرآن کريم ترے په دې طريقه باندے واخلی ، نو نن سبا اوګورئ ، هغوی په دې مشن کښې کامياب روان دی - اوس ځکه نن مسلمانانو په اتفاق سره قرآن کريم پريخودے ، مشرانو ، کشرانو ، هلکانو ، جينکو ، سکوليانو ، ډاکټرانو ، انجيرانو ، علماء ، طالبانو ، نن مکمل ټولو خلقو صراحتاً قرآن کريم پريخودو ، عمل بالقرآن خو لاپريده ، تلاوت هم پاتی شوې دے ، قرآن کريم کښې الله فرمائی :

{وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ} [البقرة: 102]

دوی هغه تعليم زده کوی ، چې دنيا وی فائده وی او دوی ته په کښې ضرر وی ، نن د انګريز تعليم د قرآن کريم مقابل راغستی شو ، نو دا ضروری علم دے ، تهانوی صاحب رحمه الله ذکر

کوی : چې په کوم علم سره قرب الی الله راځی ، نو دا علم فائده مند دے ، او چې کوم علم قرب الی الله نه راولی ، نو دا علم ضَرَرِیْ دے ، چې کله د طالب العلم او عالم دا علم که دے الله ته قرب راولی نو صحیح ده ، او کنه نو دا علم دده ضرری دے -
آیت کریمه کښې الله تعالی فرمائی : چې قرآن کریم سبب د رحمت دے ، د قرآن کریم په حقوق کښې دری / ۳ حقوق ذکر کوی ،

## د قرآن کریم درې حقوق

{وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ} [البقرة: 129]
تعلیم د کتاب او پوهه د کتاب ، ددے آیت په تشریح کښې علماء لیکلی دی :
(۱)زده کول د قرآن کریم
(۲) ځان پوهه کول ،
(۳) ځان خبرول د قرآن کریم نه ،
مطلب : (۱) الفاظ (۲) ترجمه (۳) نفس مقصد د آیت کریمه چې دی آیت کریمه کښې الله پاك ما ته څه فرمائی ؟ نبی علیه السلام فرمائی :
يَا اَبَا هُرَيْرَةَ تَعَلَّمِ الْقُرْآنَ وَعَلِّمْهُ النَّاسَ
اے ابوهریره : قرآن ایزده کړه او خلقو ته ئې اوخایه ، او که په دغه حالت کښې مرګ درله راغے ، نو شهید به مری -

## مفسرین قول

مفسرین حضرات فرمائی : چې دی آیت کریمه کښې الله تعالی مخلوق راګیر کړی دی ، ماشومان ، ځوانان ، بوډاګان ،
ماشوم به د قرآن کریم الفاظ زده کوی ،

ځوانان به د قرآن کریم الفاظ او معانی او ترجمه زده کوی ،
دریم قسم خلق : بوډاګان دی ، که دی په الفاظو او ترجمه نه پوهیږی ، نه شی زده کولی ، نو دومره خو دی اوکړی کنه چې دی آیت کریمه کښې الله تعالی ما ته څه وائی ؟ زما نه څه غواړی ؟ ما ته الله تعالی څه څه احکام بیانوی ؟ ده څه څه نه مې منع کوی ، دومره خو ده ته پته اولګی ، نن سبا اوګوره ، چې ځوانان او ماشومان د قرآن کریم د الفاظو مقابل کښې څه زده کوی ، ټول انګریزی زده کوی ، د موبائیل په پرزه په هر څیز پوهیږی ، خو که نه زده کوی ، او ورله نه ورځی نو د قرآن کریم الفاظ او ترجمه ورله نه ورځی ، **Parts of Body** ماشومانو له ورځی ، خو قرآن کریم الفاظ نه ورځی ، نن بوډاګان هر څه کوی ، کنځل ، د ټی وی ، فیس بك **Facebook** په هر څه پوهیږی ، نو صرف د قرآن کریم په لنډ مقصد نه پوهیږی ، که قرآن کریم ته انسان کینی ، ماشوم ، ځوان ، بوډا ، ټول د قرآن کریم د رحمت نه نه خالی کیږی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# ایمان ته اوبه اچول

## ایمان ته اوبه اچول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَہ

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ} [الحديد: 16]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : إِذَا مَرَرْتُم بِرِيَاضِ الجَنَّةِ فَارْتَعُوا قَالُوا : وَمَا رِيَاضُ الجَنَّةِ ؟ قَالَ : حِلَقُ الذِّكْرِ . [سنن الترمذی 5/ 413]

الله جل جلاله په مونږ او تاسو باندے بے شماره احسانات کړی دی ، د هغه احسانانو نه یو اهم احسان او انعام ایمان هم دے چې الله تعالی مونږ او تاسو ته ایمان نصیب کړی دے ، دا د الله تعالی خصوصی مهربانی ده ، زمونږ او ستاسو درخواست نه وو ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

## د ایمان مثال

{ كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ} [إبراهيم: 24]

د ایمان مثال په شان د بوټی دے چې کله یو سړی میوه داره اونه یا بوټی اوکری نو په هغې باندے ډیر حالات تیریږی ، چې کله دی اونی ته اوبه اچولی کیږی ډیران ، سره ، او دغه شان ددے د ضرری حیواناتو نه حفاظت کیږی ، نو دا اونه به ترقی کوی ، او خکلی خکلی میوی به ورکړی - خو چې کله دی اونی ته ډیران سره اوبه په خپل وخت نه اچولی کیږی ، او دارنګه د ځناورو نه ددے اونی حفاظت نه کیږی ، نو دا اونه ترقی هم نه کوی ، او میوی به هم نه ورکوی ، څه وخت به وی ، خو بیا به اوچه شی -

دارنګی مثال زمونږ او ستاسو د ایمان هم دے ، چې کله دی ایمان ته اوبه سره ، ډیران او د روکاوټونو نه حفاظت کیږی ، نو ایمان به ترقی کوی ، او چې کله اوبه سره ډیران او د روکاوټونو نه

حفاظت نه کیږی ، نو ایمان ترقی نه کوی ، آخر ایمان زوړ شی ، کمزوری شی .
مفتی صاحب حفظه الله فرمائی : چې زما استاذ میر سمیع الحق صاحب رحمه الله فرمایل : چې داسې ایمان بازار کښې د تور توت په قیمت هم نه خرڅیږی -

## د ایمان اوبه سره او ډیران

د ایمان اوبو سره ، ډیران سره او ترقی په قرآن کریم ده ، دا قرآن کریم مجالس ، د قرآن کریم درس تدریس ، د قرآن کریم بیانات ، د قرآن کریم تبلیغ کول ، د قرآن کریم تلاوت کول ، د قرآن کریم سره مینه ساتل ، د قرآن کریم تفسیر او ترجمه کول ، د قرآن کریم په مقصد ځان پوهه کول ، د قرآن کریم احکام زده کول ، قرآن کریم د خپل زندګئ قانون جوړول ، او د قرآن کریم په احکاماتو او اوامرو باندے عمل کول ، او د قرآن کریم د نواهی نه منع کیدل ،
دارنګی د قرآن کریم مجالس قائم کول ، د قرآن کریم معاشره جوړول ، د قرآن کریم معاش قائم کول ، د قرآن کریم سیاست قائم کول ، د قرآن کریم قضاء عدالت قائم کول ، د قرآن کریم تعلیم ، او د قرآن کریم صحت قائم کول ، دا ټول او د قرآن کریم وړه معاشره او غټه معاشره قائم کول ، دا ټول کارونه کول ، خپل ایمان ته اوبه اچول وی ، په دې سره ایمان ترقی کوی ، او ایمان کامل کیږی ، او ایمان ثمرات او میوی ډیری خائسته خائسته دی ، دغه ایمان چې کوم کامل وی ، او په ترقی دی ، دا ایمان معتبر عند الله دے ، او دا ایمان سبب د نجات عند الله دے ،
ځکه چې دا ایمان په فرائض کښې یو اهم فرض چې دایمان حفاظت دے نو د ایمان حفاظت په مجالسو د قرآن کریم کښې کیږی ،

## فرائض الایمان

فرائض الایمان : (۱) ایمان زده کول ،
(۲) نورو خلقو ته ئې دعوت ورکول ،

(٣) د ايمان تقاضو باندے عمل کوی ،
(٤) د ايمان حفاظت کول ، صحابه کرام رضى الله عنهم اجمعين به فرمايل :
فَتَعَلَّمْنَا الْإِيمَانَ قَبْلَ أَنْ نَتَعَلَّمَ الْقُرْآنَ ، ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ فَازْدَدْنَا بِهِ إِيمَانًا . [سنن ابن ماجه 1/ 23]
مونږ اول ايمان زده کړو ، بيا مو قرآن کريم زده کړو ، او بيا مو خپل ايمان په قرآن کريم مضبوط کوو ، زيات هم کړو ، ددے نه هم معلوميږی چې ايمان ترقی په قرآن باندے ده -

## معتبر ايمان عند الله

معتبر ايمان عند الله : قرآن کريم الله تعالى فرمائی :
{يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا آمِنُوْا} [النساء: 136]
اے ايمان والو ايمان راوړئ ، نو يو د خُلی ايمان دے او بل د زړه ايمان دے ، الله تعالى فرمائی : د خُلی ايمان معتبر نه دی ، داسې خو په خوله باندے کافر هم کلمه د لا اله الا الله وائی ، نو ته به هغه ته هم مسلمان وائی ؟ نه نه الله فرمائی : د زړه نه ايمان راوړی ، او عمل باالارکان اوکړئ ځکه د زړه د ايمان پته په جوارحو باندے لګی ،
کوم حديث کريمه کښې چې مونږ وئيلی وو ، نو هغې کښې نبی عليه السلام فرمائی چې کله د جنت په باغيچو باندے تيريږئ نو خه اوخريږئ ، صحابو تپوس اوکړو چې د جنت باغيچی څه مطلب ؟ نبی عليه السلام جواب ورکړو ، حِلَقُ الذِّكْرِ -
مطلب د قرآن کريم مجالس ، او ذکر اذکار مجالس ځکه چې دی کښې د انسان ايمان مضبوط کيږی ، صحابه کرامو دايمان مستقل محنت کړی دے ، چې کله به صحابه کرامو يو بل فارغ اوليدل نو وئيل به ئې راځئ چې خپل ايمان تازه کړو ، او اوبه به ورته واچوو -
مطلب دا چې د ايمان مکالمه اوکړو او د هغه کارونو اجراء او مکالمه اوکړو چې په هغې باندے ايمان تازه کيږی او مضبوط کيږی ، ددے وجی صحابه کرامو رضى الله عنهم به د خپل ايمان

طرفته ته ترغیب ورکوو ، او چې کوم ایمان د صحابو وو ، هغه معیار ددین او حق وو ، قرآن کریم وائی :

{فَإِنْ آمَنُوْا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا} [البقرة: 137]

د صحابو ایمان سبب د هدایت دے -

## دداسې قسم ایمان پنځه ثمرات

چې کوم ایمان ته اوبو اچولی شوی وی ، او ترقی ئې کړی وی ، او مضبوط شوی وی ، نو دغه ایمان اثرات به مونږ ته څنګه معلومیږی ، چې دا ایمان مکمل دے ، حق ته رسیدلی دی :

(۱)ددغه ایمان والا به ته معاشره برابر وینی -

(۲) ددغه ایمان والا به ته معاش ، صحت ، تعلیم ، عدالت ، سیاست به برابر وینی -

(۳) ددغه ایمان والا به د خیر په مجالس کښې حاضر وینی -

(٤) او د بے دینی په مجالسو کښې به ددغه ایمان والا غیر حاضر وینی ، فلمونه ، ډرامې ، فیس بك ، دارنګی دروغ ، غیبت ، چغل خوری ، مجالسو کښې به ددغه ایمان والو غیر حاضر وینی -

(٥) دینی خدمات حقوق مطلقاً ادا کولو کښې به ته دغه ایمان والا حاضر وینی ، الله تعالی دی زمونږ ایمان مضبوط کړی -

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# محاسنِ اسلام

## محاسن اسلام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ} [الضحی: 11]
وقال النبی صلی الله علیه وسلم : بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْاَخْلَاقِ -

محاسن د اسلام معنی ، د اسلام خوبیانی ، او خکلے والی د اسلام حسن دی دور کښې خلق ددے نه متنفره شوی دی ټول خلق په اسلام بدګمانه دی ، د غیر په تعلیم او ښودنه باندے روان دی ، ددے وجه علماء کرام ، طلباء له پکار دی چې خلقو ته د اسلام محاسن خکلے والے خوبیانی بیان کړی ، چې د خلقو ددین اسلام سره مینه او محبت پیدا شی -

## د ابوسفیان او قیصر روم واقعه

مشهور واقعه ده ، قیصر روم د ابوسفیان نه تپوس اوکړو د اسلام د محاسن باره کښې نو ابوسفیان اګر چې لا اسلام نه وو قبول کړی خو بیا هم قیصر روم ته وائی : چې اسلام د تقویٰ ، صله رحمی ، پاك دامنی ، حیاء ، عزت ، اخلاق دعوت ورکوی -

## د عمرو ابن عبسه سوال او د نبی علیه السلام جواب

دارنګی عمرو ابن عبسه راغلے وو چې اسلام څه دے ؟ نبی علیه السلام نه ئې تپوس اوکړو ، نبی علیه السلام جواب ورکړو ، خلقو باندے سلام کوه ، او کمزور او غریبانانو باندے خوراك کوه ، د کمزوری مدد کول ، نور محاسن ئې بیان کړل - محاسن د اسلام دوه قسم دی : (۱) کلیات (۲) جزئیات ، مونږ دلته کلیات ذکر کوو ، یعنی غټ غټ محاسن او خکلاګانی ، او کمالات ذکر کوو ، د اسلام د محاسنو دجزئیاتو دپاره مفید کتابونه "کیمیائ‌ې سعادت" ، "احیاء العلوم"، "احکام اسلام

عقل کی نظر میں " دا کتابونه اوګورئ -

## د اسلام دیارلس / ۱۳ محاسن

(۱)حسن اول : الاسلام جامع الملل والادیان ، د مخکنبې ټولو دینونو را جمع کونکی دین اسلام دی ، د هغوی کوم حسن وو هغه په اسلام کنبې شته ، چې کله دی اسلام اومنلو نو ټول دینونه او ټول انبیاء دی اومنل ځکه نبی علیه السلام فرمائی :
لَوْ كَانَ مُوْسٰی حَيّاً لَمَاَ وَسَعَهُ اِلَّا اِتِّبَاعِیْ
که موسی علیه السلام جوندی وی نو جائز نه وه هغه ته مګر زما اتباع -
د اسلام پریخودل د ټول دینونو او انبیاء پریخودل دی ځکه قرآن کریم مُصَدِّقْ دے ، ددے منل د ټولو تصدیق دے او ددے تکذیب د ټولو دی ، ددے مقابل بل دین جوړول دا ظلم دے ، که یهودیت ، عیسائیت وی ، که سیکولرازم وی ، که لبریزم ، پارټی ایزم ، لیډرایزم ، ډیموکراسی وی ، که جمهوریت وی ، دغه نظامونه ته هیڅ ضرورت نشته -

## الربا نیه

(۲) الربانی ة : یعنی اَنَّ الْاِسْلَامَ دِیْنٌ اِلٰهِیٌّ
د خلقو د اصلاح او عالم د اصلاح دپاره ئې رالیږلی دے ، نو رالیږل هم من الله او غایه هم الی الله ، نو مصدر د شریعت وحی او سنت دی ، دا مکمل عالم ده تربیت دین هغه اسلام دے ، که تکوینی تربیت دی او که تشریعی تربیت دی مکمل په اسلام کنبې دی ، دا دالله تعالی دین دے څه قسم عیب او نقصان په کنبې نشته د الله تعالی په علم نازل دے ، د انسانیت دپاره کافی دے ، انسان چې یو روړ جوړوی ، بیا ئې سبا له روانوی ، او د الله تعالی قانون دے ، ترقیامة دے -

## الشمول

(٣) الشمول : مطلب : اسلام دين دے ، سياست دے ، معاش دے ، معاشرت دے ، صحت دے ، تعليم دے ، اقتصاد دے اسلام هم دنيا ده هم آخرت دے ، د انسان هم دے ، او د پيريانو هم دے ، بيا دا شمول د اسلام په څلور قسمه دے : زمانی ، مکانی ، انسانی ، اکمالی

: (١) زمانی : د نبی علیه السلام د زمانی نه واخله ترقیامة پورې اسلام دين دے ، هدايت دے ، دا نه چې مخکښې هدايت وو ، اوس هدايت نه دی ، اوس خلق ايډوانس دے ، نو قرآن کريم وائی :

{هُدًى لِلنَّاسِ} [البقرة: 185] {كَافَّةً لِلنَّاسِ} [سبأ: 28] {وُضِعَ لِلنَّاسِ} [آل عمران: 96]

(2) مکانی : د زمکې داسې يو ټکړه نشته ، چې څوك اوائی : چې دا اسلام ته مخاطبه نه ده ، داسې نه ده چې قرآن کريم اسلام صرف د عربو دين وو ، نه نه هم د عربو هم عجمو او هم د پاکستان ، هندوستان ، افغانستان ....

(٣) شمول : انسانی : اسلام د انسان مکمل شعب ته هم شامل دے ، چې کوم شعبه کښې انسان زندګی تير وی ، سياست ، معاش ، معاشرتی ، صحت ، تعليم ، اقتصاد ، تجارت ، معاملات مکمل ، عبادات ، اعتقاديات -

(٤) شمول عالمی : د عالم اصلاح په اسلام کښې ده ،که اوچه وی که لمده وی - که چرته وی اسلامی نظام نو هلته مهيان په اوبو کښې ، مارغان په هوا کښې په تکليف نه وی - چې اسلامی نظام نه وی نو مهيان مارغان ، جينجی ، ميری ټول په تکليف کښې وی -

{ أدْخُلُوا فِى السِّلْمِ كَافَّةً} [البقرة: 208]

ځکه يو عالم ذکر کوی ، رجل داخل ورجل خارج وسدد الباب لغير المسلم ، اسلام ته دننه شه قلباً ، قالباً ، وطراً ، رجلاً ، لساناً ، سمعاً ، بصراً ، بدناً ، روحاً ، هر قسم داخل شه ، پارليمنټ دی د اسلام که ، هسپتال ، تهانه ، بازار دی د اسلام کړه ، اسلام کښې طول شته ، ځکه انسانانو ، پيريانو ، دواړو دپاره دے ، عرض په کښې شته ، ټولی زمانی له دے ، عمق په کښې شته ، دا انسانانو ټولو کارونو ته شامل دے -

## الفطرت

(٤) الفطرت : دين اسلام د فطرت سره موافق دے ، د انسان اصل طبعيت ، چې طهارت ، اخبات ، سماحت ، عدالت وو ، نو دين اسلام د هغې سره موافق دے ، دا احكام تكليفة چې الله تعالى موازنه اوکړه نو غرونو سره يې برابرتيا نه راتله ، انسان سره موازنه برابر شوه ، نو الله تعالى انسان باندے لازم کړو ځکه د انسان فطرت اسلام غواړی دا د انسان طبعی تقاضا ده -

حديث : كل مولود يولد على الفطرة ، فابواه يهودانه وينصرانه او يمجسانه

هر يو ماشوم پيدا کيږی په فطرت سره مور او پلار ئې يا يهودی کړی او يا نصرانی کړی او يا مجسوسی کړی -

## الوسلية والتوازن

(٥) الوسيلة والتوازن : اسلام ددنيا د امور خيال ساتل دے ، نو آخرت ئې مهمل نه دی پريخو ددے - او چې د آخرت داحكامو بيان يې کړی دے نو دنيا ئې نه ده پريخودی كله دعقيدی ترغيب ورکوی ، كله د عمل ترغيب ورکوی ، كله اجتماعی اصلاح کوی ، كله انفرادی اصلاح کوی ، كله وايې ، « وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقٌّ » كله وايې :« وَلِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقٌّ » تردې چې د ځناورو حقوق هم ذکر کوی ، اسلام د عدالت او برابروالی دين دے -

## كامل ، الكمال

(٦) كامل ، الكمال : ددين اسلام چې کوم عقائد ، اعمال ، معاملات ، عبادات ، معاشرت ، دا ټول مکمل دی ديکښ هيڅ نقصان هيڅ عيب نشته ، خلق په اسلام کښې قباحت يا قبيح څيزونه ګوری اسلام کښې قباحت يا قبيح څيزونه نشته ، الله تعالى فرمائى :

{ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ} [المائدة: 3]

## الوضوح

(۷) الوضوح : اسلام واضح دين دے ، حديث : تَرَكْتُكُمْ عَلٰى مِلَّةٍ بَيْضَاءَ لَيْلَهَا كَنَهَارِهَا
احكامات ، عبادات اعمال يې آسان دی ، ګران والی په کښې نشته ، {تِبْيَانًا لِكُلِّ شَىءٍ} [النحل: 89] دے ،
قرآن کريم او اسلام آسان دے ، پوهيدل پرې آسان دی ، عمل پرې آسان دے ، نو نافذ کول يې هم آسان دی -

## الاسلام دين الاخلاق

(۸) الاسلام دين الاخلاق : اسلام په هر نظام او دستور اوشعبه کښې د اخلاقو تعليم ورکوی -
{وَإِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ } [القلم: 4]
اخلاق څه ته وايې ؟ اَلْعَمَلُ بِالْقُرْآنِ ، نبی عليه السلام فرمائی : بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْاَخْلَاقَ
أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا ، وَاعْفُ عَنْ مَنْ ظَلَمَكَ ، وأَحْسِنْ إِلَى مَنْ أَسَاءَ إِلَيكَ .
زه ليږلی شوی يم چې پوره کړم ښه اخلاق ، کامل ايمان والا ښائسته اخلاقو والا ، عفو کوه چې څوك درسره ظلم کوی ، او احسان کوه هغه چا سره چې زياتی کوی درسره -
اخلاق د بد اخلاقو نه زده کيږی ، د غير مکمل طور طريقې پريګده دا اخلاق دی -
(۹) الاسلام دين العلم : اسلام د علم ډير ترغيب ورکوی ، تردی چې علم ته نور وائی ، او جهل ته ظلمات وائی ، علم ته حيات او جهل ته موت وائی -
{ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ} [الحشر: 21]
{لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ} [البقرة: 73]
{ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ} [البقرة: 189]
{ لِيَتَفَقَّهُوْا فِى الدِّيْنِ} [التوبة: 122]
{إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} [فاطر: 28]
مَنْ يرِدِ اللّٰهَ بِه خَيرًا يفقِّهْهُ فى الدينِ [صحيح البخارى 1/ 24] ، د اسلام نه مخکښې تيارى وى ، د

هغې سبب جهالت وو ، د الله تعالی د معرفت او د اسلام نصاب تعلیم نن شته ، او خلق د انګریز په نصاب تعلیم روان دی ،

{وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ } [البقرة: 31]

(۱۰) الاسلام نعمة من الله : احکامات ، عبادات ، اعمال ، اوامر ، نواهی ، دا ټول نعمت الهی دے ،

{وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي } [المائدة: 3]

{وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ } [البقرة: 150]

{ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ} [التكاثر: 8]

## الاسلام دين مرضى

(11) الاسلام دین مرضیٰ : دا الله تعالی مرضی نظام دے ، دا د الله تعالی د خوشحالولو سبب دے ،

{ إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ} [آل عمران: 19]

{وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا } [المائدة: 3]

اَلَا اِنَّ الطُّرُقَ كُلُّهَا مَسْدُوْدَةٌ سِوٰى طَرِيْقُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم

خبردار ټولې لارې بندې دی سوی د لارې د محمد صلى الله عليه وسلم -

دا اسلام د الله رضا ده او الله تعالی ته ده رسیدو ذریعه ده ، الله تعالی پرې ملاؤیږی -

## العملية

(۱۲) العملية : اسلام نوم دے ، تطبيق الاسلام بالعمل ، اسلام سکول په شان نه دی چې نمبری به واخلی ، چې ایتم څه شې دے ؟ جواب : *ایک ذرہ ہے* ، بس ۱۰ نمبری شوی ، نه نه اسلام تش اقوال نه دی ، بلکه عمل باندے په اسلام کښې نمبری دی -

*علم را بر تن زنے مارے بود* *علم را بر جان زنے یارے بود*

*عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی* *یہ خاکی اپنے فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری*

(۱۳) الاسلام سعادت الدنيا والدين : ددنيا د آخرت د کامیابئ ذریعه دین اسلام دے -

{فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ } [البقرة: 38]
نو چا چې تابعداری اوکړه د هدايت ځما نو نه به وی هيڅ يره په دوی باندے او نه به دوی غمژن کيږی -
{وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِی الزَّبُوْرِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِیَ الصَّالِحُوْنَ } [الأنبياء: 105]
او يقيناً ليکلی دی موږ په زبور کښې روستو د ذکر ( تورات ) نه چې بيشکه زمکې وارثان به وی د هغې بندګان زما نيکان -
{وَعَدَ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْأَرْضِ} [النور: 55]
وعده کړيده الله تعالی د هغه چا سره چې ايمانئ راوړی دے ستاسو نه او عملونه ئې کړی دی نيك ( په تابعدارئ د نبی سره ) خامخا خلافت به ورکوی دوی لره په دنيا کښې -
{وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُولَه وَيَخْشَ اللهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ} [النور: 52]
او چا چې تابعداری اوکړه د الله تعالی او د رسول د هغه او يريږی د الله تعالی نه ( په باره د تير شوؤ عملونو کښې ) او په تقوی په راتلونکو عملونو کښې نو دغه کسان دوی کامياب دی -
خلاصه : دا ده چې اسلام دا کليات چې محاسن وو ، هغه مکمل ذکر کړی دی ، تردی چې دين عبادت د ضروورياتو :

## تحسينات

(۱)تحسينات : حاجيات ، فهم عبادت نو اسلام ضروريات هم مکمل ذکر کړی دی ، دين ، عقل ، مال ، نفس ، نسل -

## حاجيات

(۲) حاجيات ، سهوليات ، رخصتونه ، لکه قرآن کريم کښې وائی ، که مسافر شی نو قصر اوکړه ، که بيمار ئې تيمم اوکړه ، د انسانيت او رخصت اسلام کښې دے نورو اديانو کښې نه وو-

## تحسنات

(۳) تحسنات : یو سړی د الله محبت کښې ګیر وی وائی : څه به کوم ، نو نفلی مونځونه ، روژې ، عبادات دی ، صدقې دی شروع کړی ، دا ټول محاسن د اسلام دی ، الله تعالی دی مونږ په اسلام مکمل روان کړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# الايمان بين الخوف والرّجاء

## الایمان بین الخوف والرجاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{نَبِّئْ عِبَادِيْ أَنِّي أَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ} [الحجر: 49]

الله تعالی مونږ او تاسو ته د ایمان دولت را نصیب کړی دے ، ایمان د زړه خیز دے ، د زړه دولت دے ، مونږ ایمان مجمل کښې هم وایو :

اِقْرَارٌبَالْلِسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ،

یو څیز د زړه نه منلو ته ایمان وائی ، ایمان په زړه کښې د ژوند دولت دے ،

اَلْاِيْمَانُ شَيْءٌ وُقِرَ فِى الْقَلْبِ ،

ایمان یو داسې دولت دے ، چې په زړه کښې انتهائی دروند دے ،

{وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيْمَانِ} [النحل: 106]

د ایمان د زړه څیز دے -

{كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ الْإِيْمَانَ } [المجادلة: 22]

## د ایمان اثر په اندامونو د ښکاره کیدلو طریقی

د ایمان اثر په الزامونو خکاره کیږی ، په دوو / ۲ طریقو سره ، نبی علیه السلام فرمائی :

اَلْاِيْمَانُ بَيْنَ الْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ

ایمان د یری او امید تر مینځه دے ، حدیث کښې راځی ، نبی علیه السلام فرمائی : که د مسلمان یره او امید تول کیدی شی نو لَاَعْتَدَلَ دا به برابر وی په عمل کښې - د الله تعالی نه د یری نوم ایمان دے ، او په عمل کښې د الله تعالی د رحمت امید ته ایمان وائی -

## الرجاء

الرجاء : که په یو سړی امید دومره غالب شی ، چې دی د الله تعالی په نافرمانی بهادر شی ، او وائی : الله غفور رحیم دے ، کوه کوه ګناهونه معاف کوی به دی ، دیته دا شیطان وسوسه وائی ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :
{وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ} [فاطر: 5]
علماء فرمائی : یو دهوکه ئې داده : سړی ته د الله تعالی مغفرت مخے ته کیدی ، وائی : ګناهونه کوه ، الله معاف کونکی دے په ګناه ئې بهادر کړی ، نو په دې سړی باندے د یو طرف زور وی ، دی دا د شیطان محنت دے -

## والخوف

والخوف : او په چا باندے یره دومره غالبه شی ، هغه وائی : نیك عمل مې هم نیك نه دی ، غرق یم ، تباه یم ، الله تعالی ډیر قهار دے ، ذو انتقام دے ، زما نیکی هسی فضول دی ، د الله تعالی د رحمت جانب ته نه ګوری ، دی د ناامیدئ شکار شی نو دا هم تباهئ ده ، الله تعالی فرمائی :
{لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ} [الزمر: 53]
{وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّه إِلَّا الضَّالُّوْنَ} [الحجر: 56]
ځوك چې ناامیده کیږی ، د الله تعالی د رحمت نه ګمراه دی ، بل ځاے فرمائی :
{لَا يَيأَسُ مِنْ رَوْحِ اللّٰهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ} [یوسف: 87]
نا امیدی کونکی د الله تعالی د رحمت نه دا کافران دی ، یو طرفته د امید ، بل طرف ته د یری ، دواړه پاتلئ بوتلل غواړی ، چې ثمرات د رحمت او امید وی نو نیك اعمالو ته به شوق وی ، دا د ایمان اثر دے - او چې یره وی نو ګناهونو پریخودل به هم آسان وی ، بنده ته به د الله تعالی نافرمانی او خلاف پریخودل آسان وی د یرې مطلب هم دادے -

## تقابل

تقابل : د الله نه یره دا د مار ، لنډئ ، سپي وغیره نه یره نه ده مراد بلکه دا د محبوب او مولیٰ یره ده ، یو سړی دپلار نه یریږی دا مطلب نه دی چې پلار ئې وژنی ځکه ترے یریږی ، نه نه بلکه مطلب دادے : چې یریږی ترے ځکه چې پلار رانه ناراضه نه شی ، خه ئې راسره کړی دی ، احسانات ئې راسره کړی دی ، دغه شان د استاذ نه یره کول دی ، نو د الله تعالی د یری مطلب هم دادے چې مونږ د الله نافرمانی او ګناهونه یریدو ، هسی نه چې الله تعالی رانه ناراضه شی ، نیکی کول ، ددے دپاره نه دی ، چې د الله تعالی دربار کښې د سجدو ، او رکوع او تسبیحات کمی دے هغه مونږ زیاتوؤ بلکه مطلب دا دے : چې امید مې دے نیکی کوم کیدی شی الله تعالی می ځان ته نزدی کړی او رضا شی رانه ، د الله تعالی رضا کولو والا اعمالو ته نیکئ وائی ، د الله تعالی د مینی مطلب دا چې د الله تعالی د منشأ مطابق اعمال اوکړو ، او د یرې مطلب دا دے چې خلاف منشأ الهی اعمال اونکړو-

## دعا د نبی علیه السلام

نبی علیه السلام په دعا کښې فرمایلی دی : اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا مَنْ طَاعَتِكَ مَا تَبْلُغُ بِه جَنَّتُكَ ، وَارْزُقْنَا مَنْ خَشِيَّتِكَ مَا تَحُوْلُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعْصِيَّتِكَ

اے الله راکړی مونږ ته د طاعت ستا نه هغه چې رسیږو پرې جنت ستا ته ، او راکړی د یرې د ستا نه هغه چه واقع کیږی په هغې سره په مینځ زمونږ او معصیت کښې -

الله تعالی دومره اطاعت راکړی چې نیکی پرې اوکړو ، او دومره یره راکړی ، چې د ګناه نه بچ شو - نو په خپل نیك عمل غاوره کیدل نه دی پکار او په ګناه بهادر کیدل نه دی پکار بلکه یره او امید به دواړو بوځی ، د الله تعالی حکمونه به هم د لاس نه نه اوباسی او د هغه نه یره او امید هم کلك اونیسی دا د ایمان نوم دے ، دا دواړه پاټلۍ یو ځاے بوول دی چې زمونږ او ستاسو نیك عمل سره مینه پیدا شی او د ګناه نه نفرت راغے ، نو اوس ایمان ایمان شو - نو د قرآن کریم د درسونو محفلونو ته په دې وجه حاضریدل چې په دې سره زما د ایمان ترقی کیږی ، دا په مونږ ضروری دی ، او که مجالسو د ګناه ته حاضریږو نو دا حیوانیت ته اوبه اچول دی ، د قرآن کریم محفلونو ته تلل د ایمان اوبه اچول دی ، دا د ایمان آبیاری ده ، خپل ایمان له ترقی ورکول پکار دی ، الله تعالی دی مونږ او تاسو ته نیك مجالسو ته د حاضری توفیق راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ایمان زړیدل

## د ایمان زړیدل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{المص ° كِتَابٌ أُنْزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِى صَدْرِكَ حَرَجٌ } [الأعراف: 1، 2]
وقال النبى صلى الله عليه وسلم : إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَخْلَقُ فِى جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلَقُ الثَّوْبُ الْخَلِقُ ، فَاسْأَلُوْا اللَّهَ أَنْ يُجَدِّدَ الْإِيمَانَ فِى قُلُوبِكُمْ . [المستدرك على الصحيحين للحاكم 1/ 45]

جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی : چې ایمان د انسان په زړه کښې زړیږی ، لکه څنګه چې د انسان په بدن باندے کپړه زړیږی ، الله تعالی انسان پیدا کړی دے او د ټولو نه غټ نعمت او احسان د الله تعالی په انسان ایمان دے ، او ایمان اصل دے په انسان کښې - اوس دا ایمان چې د انسان په زړه کښې زړیږی ،

## د ایمان د زړیدو اصل وجه

نو ددے اصلی وجه غفلت دے - انسان چې په کومو شعبو کښې ژوند تیروی ، نو ده ته د هغه شعبې ټول افعال ، کردار ، معلوم وی ، مثلاً :

زمیدار چه وی نو هغه ته خپل رمبې ، جغ ، غوائی یا دوی ، پټی اړول ، کرل ، ریبل دا ټول ده ته یادوی -

سکول : والا چې سحر شی خپل بیګ ، کاپی ، پنسل ، فن ، دا ټول ورته یادوی ، او روان وی سکول ته ځی -

دوکاندار چې سحر ځی ، کهاته ، چابیانی ، دا ټول ورته یادوی -

سیاسی : چې سحر پاسی نو هغه ته پته وی ، چې نن د کومی پارټی میټنګ دے ، دی ځاے کښې جلسه ده -

وکیل : چې سحر پاسې خپل فائل واخلي ، او روان شي ، چې نن د فلانکي تاریخ دے -
ډاکټر : خپل د تبې تهرمامیټر واخلي ، د بلډ پریشر آله راواخلي ، ستن ، ډراپ واخلي ، او روان شي ، او هسپتال ته ځي ، وغیره وغیره -
دا ټول چې کله دې خپلو شعبو له ځي نو دوی ته دا خپل خپل اشیاء او خپل کار ورته معلوم وی ، خپل شغل ورته معلوم وی ، او یاد ورته هم وی -

## دانسان نه هیرې خبرې

خو ددے انسان نه صرف دوه / ۲ خبرے هیرې وی : (۱) زه د الله تعالی بنده یم ، (۲) زه د نبي علیه السلام امتي یم ،دا ټول کارونه ، ددنیا سره ختم -

## آخرت کښې دوو خبرو تپوس

خو آخرت کښې به ددے دوو / ۲ خبرو تپوس کیږی ،
مَنْ ربك ؟ من نبیك ؟ مونږ په کور کښې ناست یو ، خواهش تعلقات ددنیا مشغولتیا دا ټول په مونږ دومره غالب شي چې مونږ ته د سره پته هم نه لګی چې مونږ د الله تعالی بندګان یو ، د نبي علیه السلام امتیان یو - ددے غفلت د وجې نه چې مونږ ته خپل الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم یاد نه وی ، (۱) نو زمیندار خپل پټې کښې کار کوی ، خو ده ته د مونځ وخت معلوم نه وی ، دسره د مونځ نه خبر نه وی -
(۲) سکول والا نه دا هیره وی چې زه د الله تعالی بنده یم ، دے د الله اکبر د آواز په وخت کښې خپل کاپي او فن نه ګذاروی ، چې ما ته زما رب آواز کوی -
(۳)دوکاندار خپل دوکان نه بندوی چې زما رب ما بلي -
(٤) سیاسی دومره غافل وی خپل میټنګ کښې دومره مشغول وی چې دا د سره وائی هم نه چې ما ته لا زما رب آواز اوکړو -

(٥) وکیل د خلقو په فیصلو کښې آخته وی ، خو د الله تعالی د حکم پته ورته نه لګی -
(٦) دارنګی ډاکټر وغیره وغیره ،
اصل وجه ددے غفلت دا ده ، چې مونږ او تاسو د الله تعالی او رسول ده یاداشت ځایونو ته نه ځو ، هلته حاضری نه کوو ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :
{أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ} [الحديد: 16]
په مسلمانانو داسې وخت نه دی راغلے چې ددوی زړونه د قرآن کریم بیان ته نرم شی ، دی آیت کریمه کښې الله پاك دری / ٣ خبرے ذکر کوی :
(١)چی کله الله تعالی یاد کړی شی ، د الله تعالی تذکر ه اوشی ، نو ځان د الله تعالی حکم ته عاجزه کول او د الله تعالی حکم منل پکار دی -
(٢) قرآن کریم ته راتلل پکار دی -
(٣) دا دی نه کوی چې د غیر مسلم په شان دی د الله د یاد نه مخ واړوی چې څنګه د هغوی زړونه سخت شوی وو ستاسو زړونه به هم سخت شی -
چی کله انسان کښې اوصاف ثلاثه راغلل نو صحیح ایمان به ئې ترقی کوی - او چې کله فقدان ددے اوصاف ثلاثه راغلے نو بیا ددے انسان زړه کښې ایمان زوړ شی ، خړ شی ، داسې زوړ شی ، لکه بدن باندے چه کپړه زړیږی ، ددے وجی نه انسان له داسې مجلسونو ته تلل پکار دی چې هغه مجالسو کښې ایمان ته اوبه اچولی کیږی ، او د ترقی مشن هلته وی ، قرآن کریم د ایمان آبیاری ده ، حدیث د ایمان ابیاری ده ، د علم لار د ایمان ابیاری ده ، تبلیغ ، جهاد ، حج ، مونځ ، روژه ، زکوٰة ، مکمل عبادات دا د ایمان آبیاری ده -
دارنګی خپل شغف کښې ددے دوه خبرو خیال ساتل چې د الله تعالی بنده یم ، نو د بنده والی په تقاضه عمل کول ، او د امتی په تقاضه عمل کول ، په شعبه د معاشری ، معاش ، سیاست ، عدالت ، قضاوت ، تعلیم ، صحت دا ټولو کښې ددے دوو خبرو خیال ساتل ، داسې وئیل او کول ، چې تهانه کښې زه د الله تعالی بنده یم ، د نبی علیه السلام امتی یم ، زه به په هغه طریقه

فیصله کوم ، دغه شان د ټولو شعبو حال دے ، اوس ایمان چې کله د سخت والې ، تور والې ، خړ والې ، زوړ والې نه بچ شو ، نو ددے حفاظت اوشو ، او حفاظت د ایمان دا هم د فرائض نه دی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسلامی انقلاب او جهاد

# خلاف د انګریز تحریک

## داسلامی انقلاب او جهاد خلاف د انګریز تحریک

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ } [آل عمران: 55]
ددی آیت کریمه په تشریح کښې مفتی صاحب حفظه الله د عیسائیت او د عیسائیانو د اسلام خلاف دا تاریخ بیان کړو، چې څنګه د اسلام خلاف تحریکونه مخکښې شوی دی ؟

## د اسلام خلاف د تحریکونو مختصر جائزه

نو هغه شان تحریکونه د اسلام خلاف په مختلف شکلونو باندے کیږی، انګریز د جهاد اسلامی انقلاب ختمولو دپاره اول په برطانیه، امریکه کښې محنتونه شروع کړو، بیا په ۱۵۰۱ کښې دعیسائیت پرچار کونکی اولنی داعی هنری مارټن هندوستان ته راغے، ددے دپاره چې عیسائیت خور شی، او اسلام بدنام شی، او اسلامی نظام د خلقو د ذهنونو نه ختم شی، بیا ۱۸۳۰ کښې د دوی محنت ډیر تیز شو، په ایسیټ انډیا کمپنۍ کښې چې کوم د برطانیه نه انډیا ته راتلل، په هغې کښې د عیسائیانو مبلغین هم راغلل، (۱) ویلیم کیری **valyam cary** او جارج فنډر**Jarch pindar** په ۱۸۳۰، ۱۸۳۵ کښې راغلل، اسلام ئې بدناموؤ او عیسائیت ئې خوره وو، د هغوی د ویستلو دپاره علماء دیوبند په ۱۸۵۷ کښې جنګ آزادی اوکړو، مشهور جنګ وو شکست یې اوخوړو، خو علماء همت او نه بیللو او وی کوشش او محنت به کوو، چې عوام خلافت ته تیار شی، د هغې دپاره ئې د دارالعلوم دیوبند بنیاد کیخودو چې د خلقو د ذهن نه اسلامی خلافت ختم نه شی، فکری محنتونه ئې شروع کړل چې د مسلمانانو ذهن جهاد، او خلافت ته تیار شی، انګریزان په یره کښې شول چې خلق خو دا نه هغوی په بل طرف کړل، هغوی اولګیدل،

## د اسلام خلاف د اغیارو محنتونه

## غلام احمد قادیانی

## محنت اول

محنت اول : د مسلمانانو د محنت او کوشش خلاف ئې یو کس راپاسو ، چې دهغه نوم غلام احمد قادیانی وو دانډیا علاقې قادیان وو -

(۱)هغه اولنئ دعوی د مُلْهَمْ اوکړه .

(۲) بیا ئې وئیل : چې په ما باندے د پیغمبرئ سورې شوې دے یعنی د ظلیت دعوی ئې اوکړه .

(۳) او بیا ئې وئیل : زه پیغمبر یم .

(٤) بیا ئې وئیل : زه هغه یم چې قرآن کریم وائی : چې هغه به په آخر کښې راځی ، او عیسی علیه السلام اووئیلو ، { يأْتِيْ مِنْ بَعْدِى اسْمُه أَحْمَدُ} [الصف: 6] نو زما نوم هم احمد دے -

(٥) ما ته وحی شوی ده ، چې جهاد ختم دے ، او منسوخ دے -

(٦) د نن نه پس به د جهاد خبرے نه کوی ، د انګریز غلامی ئې اوکړه -

(٧) بیا ئې وئیل : انګریز د روشن استقبال دپاره راغلے دے -

(٨) بیا یې وئیل : د انګریز عدالت د الله تعالی نعمت دے -

علماء دیوبند د هغه خلاف د کفر فتوی ورکړی ، وی دا کافر دے ، او وی : چې څوك ورته کافر نه وائی ، نو هغه هم کافر دے ، نو د هغه ډیوه بله نه شوه ، د هغه امتیان هغه وخت کم وو ، اوس ډیر دی ، ټوپئ کښې د پاکستان د جوړیدو نه پس د قادیانانو خلاف غټ جنګ اوشو -

دارنګه فیصل آباد کښې هم ددوی خلاف جنګ اوشو ، بیا دوی آئینی کافران حساب شول ، او دا خبره به ئې هم کوله ، چې هغه عیسی علیه السلام مړ دے ، او هغه څه یم ، آیاتونو کښې به یې تحریف کولو ، وی ، إِنِّي مُتَوَفِّيكَ نه معلومیږی ، هغه مړ دے ، وَرَافِعُكَ إِلَيَّ روح لره دی اوچتوم

نو هغه مړ دے ، د متوفيك نه روستو ، بيا رافعك ته څه حاجت وو ، څکه چې وفات شو ، نو روح خپله بره لاړو ، خو کم عقل بے وقوف وو ، پوهيدو نه ، د جينكو او شرابو جنت ئې ځان له جوړ کړی وو ، اوس هم ، جنت ئې ځان له جوړ کړی دے ، او قصور علاقه کښې د قاديانانو مراكز دی ،

## دويم محنت

محنت ثانی : د جهاد او اسلامی نظام د ختمولو دپاره ئې بل محنت دا وو ، چې بريلی احمد رضا خان ئې راپاسو ، هغه يو کتاب اوليکلو په نوم د اعلام الاعلام بانّ الهندوستان دار الاسلام ، وی هندوستان کښې جنګ حرام دے څکه دا دار الاسلام دے ، د علماء ديوبند خلاف ئې خبرے شروع کړی ، د هغه مرکز ( بريل ) مقام په هندوستان کښې دے ، هغه ځاے دده مرکز وو ، بريلی وو ، قبر پرست ، بت پرست وو ، خلقو کښې ئې اسلامی انقلاب جذبه ختمول ، خلق ئې په شرکياتو ، رسم رواج کښې اخته کول ، او انقلابی محنت نه ئې واړول -

## دريم محنت

محنت ثالث : د اسلامی نظام او جهاد ختمولو دپاره بل محنت د انګريز دا وو ، (١) چې نذير حسين دهلوی ، (٢) حسين احمد بهټالوی (٣) نظير احمد دهلوی (٤) محمد حسين بهټالوی راپاسول ، او د علماء ديوبند مخکښې ئې د اسلامی کوششونو خلاف : (١) آمين بالجهر مسئله (٢) رفع اليدين مسئله ، فاتحه خلف الامام مسئله راوغسته اوخلقو کښې ئې انتشار پيدا کړو ، او په خلقو کښې چه اصل محنت اسلامی انقلاب او جهادی محنت وو ، هغه ئې وو ويستل ، او مناظری شروع شوی په دې باندے دا هم د انګريز کوشش دے چې په فروعاتو باندے به خلق مشغول کړی او اصل کار به دخلقو نه روستو کړی ، نن سبا د هغوی اُمَّتيان ډير زيات دی ، او ډير په تيزئی سره کار کوی -

## څلورم محنت

څلورم محنت : ددغه مشن دپاره چې اسلامی انقلاب ختم شی ، خلق ئې په نورو فروعاتو کښې اونخلول هغوی په دغه فروعاتو باندے خلق دا اصل مسئلے نه اړوی -

## پنځم محنت

پنځم محنت : د اسلامی خلافت مقابله کښې ئې جمهوریت د ترکو په لار په مسلمانانو کښې رادننه کړو ، مستشرقین علماء ددے محنت اوکړو ، وی دا نظام ډیر ضروری دے ، د سرسید غوندی نور خلق هغوی هم دا وی ، دا نظام ددے وخت سره مناسب دے ، وی که اسلامی نظام راځی هم نو د جمهوریت په لار به راځی ، د هغې دپاره دی وخت کښې هم ملیان پیدا کړل چه جمهوریت چې اوکړی حالانکه انګریزی نظام دے د قرآن کریم مکمل خلاف دے خو ملیان د هغې محنت کوی او هغې ته خلق رابلی ، او د هغې دپاره شرکت ، انتخابات کوی ، او د خلقو په ذهن کښې دا خبره اچوی چې اسلامی نظام ته ضرورت نشته وائی : د جمهوریت په لار باندے محنت کوی ، ددے دپاره دوی سره حربې هم وی -

## شپږم محنت انکار حدیث

انکار حدیث : وائی : چې د حدیث نه انکار اوشو نو قرآن کریم به مهمل پاتی شی نو بیا ستا خوښه ده چې قرآن کریم کوم طرفته اړوی - دا کار ئې د سرسید احمد خان نه واغستلو چې حدیث ته ضرورت نشته - وائی ، دا نبی علیه السلام د قرآن کریم تشریح د خپل وخت مناسب کړی وه نو مونږ به ئې د خپل وخت مناسب تشریح کوو - تفسیر ترجمان القرآن ئې اولیکلو خو په حقیقت کښې تحریف القرآن وو - د انکار حدیث د محنت دپاره ورته ښوك ملیان نه میلاویدل ، ځکه دی خو خپله مولا نه وو نو د اسلم جیراج پوری نه ئې دا کار واغستلو - هغه به صفا بیان د انکار حدیث نه شو کولے نو د لاهور غلام احمد پرویز ئې د انکار حدیث دپاره راپاسو او دا

محنت ئې کوو - هغه وائی : حديث ته حاجت نشته ، وائی : که د حديث راوی جبرائيل عليه السلام وی او د نبی عليه السلام نه نقل کوی نو هم ئې زه نه منم - دا محنت ئې د سکولونو په لار شروع کړو ، مسلمانانو کښې ئې رادننه کړو ، د نيم نه زيات سکول او کالج والا منکرين حديث دی ، وائی : حديث ضعيف دے او موضوعی دے - سکول والا به دا خبرے کوی خو مقصد ئې دا وی چې حديث په شريعت کښې هيڅ حيثيت نه لری ، حديث د قرآن کريم نه لرې کړه او قرآن کريم بيا اړوه او خپله تشريح ئې کوه - د سرسيد نظريه د نچريت وه ، وائی : زما مذهب قدرتی دے ، وائی : زما رب نه عيسائی دے ، نه يهودی دے نه هندو دے نه سکه دے نو زه هم داسې يم ، وائی : زما خدائے زما مذهب دے ، وائی : زه نه مسلمان نه کافر نه عيسائی ، او نه يهودی يم ، د محنت ، دا انکار حديث شی په سکولونو کښې شروع کړو -

بسم الله الرحمن الرحيم

# حدود

## حدود

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَأُوْلٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ } [البقرة: 229]

الله تعالی زمونږ او ستاسو بادشاه دے ، او دبادشاه خپل یو قانون وی او هغه قانون هم بادشاه وی د نورو قوانینو - نو د الله تعالی قانون مونږ او تاسو ته په شکل د قرآن کریم کښې دے - مکمل د ژوند د اصلاح او قوانین په دیکښې دی - په بادشاهی قانون او آئین کښې بادشاه څه حدود هم مقرر کړی وی او د هغه حدودو خیال ساتلو ترغیب هم ورکوی چې کوم خلق د هغه حدود پابندی اوکړی نو هغه کامیاب شی - او چې څوك انکار اوکړی نو هغه ناکام شی - قرآن کریم د الله قانون دے ، مختلف قسم حدود ئې مونږ او تاسو ته ذکر کړی دی ، د انفرادی زندګی حدود ، او د اجتماعی زندګی حدود -

## انفرادی حدود

انفرادی حدود : چې کله ئې ایمان راوړو نو د هغې نه پس بیا احکام الهی ورته متوجه شو ، مونځ ، روژه ، حج ، زکوة وغیره نور احکام او حدود ورته متوجه دی - نن مسلمان انفرادی زندګی کښې اول د ایمان حدودو کراس کړی دی چې مؤمن وی او دے د ایمان په تقاضه نه چلیږی ځکه الله پاك د ایمان کلمه : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، ګرځولی ده - په دې کښې اولنې جزء " لا " دے ، د لا ډیر غټ باب دے - او دا ډیر اهمی مسئلې ته اشاره ده چې انسان ته دا خبره وی معلومه چې ایمان راوړی او مسلمان کیږی نو اول به بائیکاټ کړی ، دا لام قینچی لام دے - ستا ایمان به هله کامل وی چې بائیکاټ وی ده غیر خلقو نه ، د انګریز یهودی ، عیسائی چې کوم خلق ستا د ایمان ستا اسلام دشمنان دی هغوی سره به بائیکاټ اوکړی نو هله به ستا مسلمانی جمع کیږی - نن مسلمان

ده کلمه طيبه ، اولنے لا چې هغه بائيکاټ دپاره ده ، ذهنی حدود ئې کراس کړی دی ، او د انګريز په طور طريقه په مشابهت او قانون پس روان دے او خپل قانون الهی خپل حدود ئې پريخودی دے -الله تعالی ورته قرآن کريم کښې فرمائی : منع کوی ئې ،

{يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى أَوْلِيَاءَ} [المائدة: 51]

{يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ } [آل عمران: 156]

{ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا} [المائدة: 57]

{يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّىْ وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ} [الممتحنة: 1]

مختلف آياتونو کښې د کافرانو مشرکانو وغيره ټولو نه بائيکاټ لازم دے - د ايمان تقاضه دا ده چې ستا نظريه او عقيده به د توحيد وی ، چې کله دی بائيکاټ اوکړو او د الله تعالی سره دی جوړه اوکړه نو ايمان به دی کامل شی - نن مسلمان د عقيدی او نظريې حدود هم کراس کړی دی ، په عقيده او نظريه د شرك کښې اخته دی ، يا فی العبادات ، يا فی الحاکميت کښې اخته شوی دے ، نو خپله عقيده ئې هم خرابه کړيده -

دارنګه مونځ د الله تعالی حکم دے - قرآن کريم وائی :

{إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ} [العنكبوت: 45]

نبی عليه السلام فرمائی :

اَلصَّلٰوةُ عِمَادُ الدِّيْنِ -

اَلصَّلٰوةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ -

اَلصَّلٰوةُ نُوْرٌ -

د مونځ تقاضه دا ده چې سړی ددے د وجی نه بهر دنيا کښې د حلال او حرام نه ځان بچ اوساتی چې څنګه په مونځ کښې دی حلال کار پريخودی وی - نن مونځ شته خو د هغه په تقاضو عمل نشته ، سره د مونځ نه ګناه کوو ، بد نظری کوو ، زناګانی کوو ، فلمونه ګورو ، ډرامی ګورو ، فيس بك ، يوټيوب کوو ، سود اخلو ، رشوت اخلو ، حرام خور ، چغل خوری کوو ، دروغ وايو ، مونځ

ددے ټولو نه منع کوله او سره ددے نه چې مونږ مونځ اول کوو نه او که کوو هم خو یو مونځ دوه وی او هغه سره داسې داسې ګناهونه کوو چې د مونځ نورانیت ختم شی بس هسی خکته پورته کیدل شی ځکه د هغې په حدود عمل رانغے - دغه شان نور افعال شرعیه عبادات شرعیه شو ،

## اجتماعی حدود

اجتماعی زندګی کښې : د ټولو نه اول ، نظام معاش دے ، مطلب کار کسب کول ، د ملك معیشت سنبهالول ، نن د معاش نظام زمونږ تباه دے - ځکه د هغې حدود دا وو چې د معاش نظام به د قرآن کریم د حدودو لاندې وی ، قرآن کریم د معاشی نظام دپاره بقره آیت المیراث او دارنګه نورو ځایونو کښې اشاره کوی چې دا به د قرآنی قانون لاندی وی - د قرآن کریم قانون خلاف معشیت به نه شی کولی خو نن اوګوره حدود د معاشی نظام کراس شوی دی ځکه نن مکمل نظام معاش په سودی طریقې سره چلیږی ، کاروباریان هم سود باندے کاروبار کوی - عالمی سطح باندے آئی ایم ایف نه قرض په سود اغستے کیږی ، د سود شرح ورځ تر ورځه په ملك کښې سوا کیږی ، بینکی نظام هم ټول په سود چلیږی ، د ملك ټول معیشت په سود باندے روان دے -

دارنګه نظام معاشرت ته اوګوره معاشره کښې د اسلام حدود کراس دی ، بے حیائی ، بے پردګی ، انګریزی ، د هندوانو رسمونه ، رواجونه ، بدعات شروع دی ، معاشره کښې کشر د مشر خیال نه ساتی ، مشر د کشر تربیت نه کوی - مکمل معاشره ده یهود او انګریز د لاسه تباه شوه ، معاشره کښې ماشوم وی ، او که لوئی وی ، موبائیل ورسره وی ، د قرآن کریم تلاوت نه کوی ، مدارس غیر آباد دی ، سکولونه د په غیر تعلیم آباد دی ، دارنګی نظام تعلیم کښې حدود اسلامی کراس شوی وی ځکه په سکول کښې صرف د انګریز تعلیم دے ، اسلامی روایات اقتدار په کښې نشته ، اسلامی تعلیم او قرآنی تعلیمات په کښې نشته ، دارنګی نظام صحت کښې حدود کراس دی ، ځکه د ډاکټرانو نه قصابان جوړ شوی دی ، غریب که مری او که چوی نو د ډاکټر فیس به

ورکوی ، او فیس لږ دے که ډیر دے ، ۱۰۰۰ / ۲۰۰۰ فیس وی ، او بیا ۵۰۰۰ روپۍ دوائی ، د غریب خیال ساتل پکښې نشته -

دارنګی نظام عدالت د الله تعالی قانون نه خلاف فیصلی کوی د لارډمیکالے په قانون فیصلی کوی ، حدود ئې کراس کړی دی - دارنګی نظام سیاست کښې هم دشریعت حدود ئې کراس کړی دی ، په ملك کښې غیر اسلامی قانون ، د غیر نظام د انګریز نظام روان دی ، په نظام حکومت کښې ئې د قرآن کریم حدود کراس کړی دی ، دا مکمل حدود چې دی ، هغه په ملك کښې انفرادی لحاظ سره او اجتماعی لحاظ سره پریخودی شوی دی - الله تعالی دی مونږ د قرآن کریم حدودو خیال ساتونکی کړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# ضرورتِ خلافت

## ضرورت خلافت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ}** [البقرة: 253]

دی آیت کریمه کښې مفتی صاحب تفسیر کولو ، او هغه وخت يې ضرورت د خلافت ته اشاره کړیده آیت کریمه کښې - اصل کښې مخکښې ددے آیت کریمه نه د اقامت دین ، محنت دپاره ئې مراحل ثلاثه ذکر کول -

## د اقامت دین د محنت دپاره مراحل ثلاثه

(۱)چې انسان په خپله برابر شی ، او دده دین ، عقیده ، عمل ، اخلاق او افعال ټول به برابر شی ، دا اوله مرحله وه ، د اقامت دین دپاره او دیته اشاره په :

**{لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ}** [البقرة: 177] سره اوشوه -

(۲) مرحله : د اقامت دین هغه د کور اصلاح وه کور کښې مختلف حالات راځی ، نکاح ، طلاق ، دماشوم مسائل دی ، د ښځی او خاوند متعلق مسائل دی ، د بچی د رضاعت مسائل دی ، د یتیم مسائل دی ، دارنګی کورنۍ مسائل چې څومره دی د هغې اصلاح او برابرلو ته اشاره اوشوه ، په :

**{يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ}** [البقرة: 215]

(۳) مرحله : د اقامت دین دپاره هغه چې کله یو کور بل کور ، محله ، کلی ، ښارونه راجمع شی ، او د هغې نه یو مجموعه جوړه شی نو هغې ته ملک وائی - نو د ملک او د وطن اصلاح اوشوه په مختلف طریقو سره که په طریقه د قصاص وی ، که په طریقه د نهی عن الرشوت وی ، که په طریقه د تقسیم الاموال بالقانون الشرعی ، که په طریقي د اصلاح النفس وی په روژی سره ، دا

درې / ۳ مراحل وو ، د اقامت دين - نو چې كله دی دريو مراحلو كښې ددين خدمت اوشو ، نو اوس به په قلاره نه كينی بلكه ته به د خلافت كبرئ دپاره محنت كوی - مطلب چې په سالم دنيا كښې مسلمانان ځاے په ځاے متفق شی ، يو جنګی كماندر جوړ كړی ، امير ځان له مقرر كړی ، په سالمه دنيا كښې د الله تعالی دين د بادشاه كولو محنت اوكړی دې دپاره چې :

{ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ } [التوبة: 33]

ټوله دنيا كښې اسلام ښكاره شی ،

{وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ} [الأنفال: 39]

د الله تعالی دين اوځليږی ، د الله تعالی راج قائم شی نو دی محنت ته خلافت وائی -

## يو سوال او د هغې جواب

سوال : خلافت ته ضرورت څه دے ځكه دنيا كښې دنبی عليه السلام نه مخكښې عيسائيت او يهوديت موجود وو او د نبی عليه السلام بعثت ته څه ضرورت دے ؟

جواب : {تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ} [البقرة: 253]

دی آيت كريمه كښې الله تعالی د ضرورت د خلافت تذكره كوی ، او مقصد او بعثت د نبی عليه السلام تذكره كوی چې ما نبی ولی راوليږلو ، د نبی عليه السلام بعثت او د هغې ضرورت ددے دپاره وو چې هغه په دنيا كښې يو قانون نافذ كړی د يو بادشاه بادشاهی نافذ كړی ، ټول انسانيت ددغه بادشاه دبادشاهئ لاندی كړی - دا ځكه چې د نبی عليه السلام نه مخكښې انبياء راغلی وو ، خو هغه قومونو ته راغلی وو موسی عليه السلام بنی اسرائيلو ته پيغمبر وو ، عيسی عليه السلام عيسائيانو ته پيغمبر وو ، دغه پيغمبرانو به وقتی طور اصلاح كوله ، د اصلاح د قوم دپاره به ئې ورله قانون الهی هم راوړو ، تورات ، انجيل چې كله دغه آنبياء لاړل ، او قومونه پاتی شو ، نو هر قوم والا وئيل : چې زمونږ دين حق دے ، او مونږ په حق دين باندے يو ، زمونږ نه علاوه كفر دے ، بل قوم والا هم دغه شان وئيل ، چې مونږ په حقه يو ، دا نور كافران دی قرآن كريم اشاره

کوی :

{وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصَارٰى عَلَى شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلَى شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتَابَ} [البقرة: 113]

یهودیانو وئیل : موسی علیه السلام حق دے ، او دهغه قانون بس هغه قانون دے تورات ، عیسائیانو به وئیل : چې عیسی علیه السلام اصل دے ، حق دے ، او د هغه کتاب حق دے ، او د عیسی علیه السلام به منلی شی ، یهودیانو به وئیل : د موسی علیه السلام به منلی شی ، عیسائیانو به وئیل : د موسی علیه السلام دین منسوخ دے ، یهودو به وئیل : چې د عیسی علیه السلام دین منسوخ دے ، تردې چې دومره اختلاف هغوی شروع کړو ، چې یوې ډلی به وئیل : چې مونږه به جنت ته ځو - او بلې ډلی به وئیل : مونږ به جنت ته ځو ، خپلو پیغمبرانو ته ئې د الوهیت درجه ورکړه - قرآن کریم فرمائی :

{وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ نِ ابْنُ اللهِ وَقَالَتِ النَّصَارٰى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللهِ} [التوبة: 30]

یو بل به ئې د عبادت خانو نه منع کول ، ضد ، عناد ، تعصب ېې شروع کړو - ابراهیم علیه السلام چې د یو قوم نه ۲۵۰۰ سال مخکښې وو ، د بل نه ۲۰۰ سال مخکښې وو ، هغه ته به ئې ، د یهودی او عیسائی نسبت کوو ، د یو بل عبادت خانو نه به ئې یو بل منع کول ، دوی له الله تعالی خپل قانون ورکړی وو ، تورات او انجیل ، دوی په هغې کښې تحریف شروع کړو ، د خپلی خوښې به ئې منل د الله تعالی به ئې نه منل - دا یهودیان او عیسائیان د زمکې مشران او خلیفه ګان وو ، دوی الله تعالی د زمکې خلافت له رالیږلی وو ، او قانون ئې ورله هم ورکړی وو ، دوی د هغه نعمت الهی چې خلافت وو قدر اونکړو بلکه ناشکری ئې اوکړه د نعمت الهی نو الله تعالی چې اوکتل چې دوی ناشکره دی نو الله تعالی ددے ختمولو دپاره ، او د خلافت ذمه وارئ سنبهالولو دپاره د نبی علیه السلام انتخاب اوکړو ځکه چې نبی علیه السلام امام الانبیاء دے ، او د هغه دین جامع الملل دے ، د یهودیت ، عیسائیت ټولی خکلاګانی ئې په دین محمدی کښې دی ، د ټولو انبیاء کمالات الله تعالی نبی علیه السلام له ورکړل ، او د نبی علیه السلام ددین باره کښې

الله قرآن کریم کښې وائی :
{ إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ} [آل عمران: 19]
د نبی علیه السلام دین له ئې نوم د اسلام کیخودلو ، او چې د نبی علیه السلام امت وی ، نو هغې له ئې نوم د مسلمانی کیخودو -
{ الْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ } [المائدة: 3]
کامل دین د نبی علیه السلام دے -
دارنګی {وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا} [المائدة: 3]
نو چې افضل او کامل دین د نبی علیه السلام دے ، او نبی علیه السلام امام الانبیاء دے ، الله تعالی د اختلاف د ختمولو دپاره رالیږلی دے نو د خلافت ستیج او ذمه داری الله تعالی نبی علیه السلام له ورکړه چې اوس به په زمکه زما خلافت یعنی زما احکام نافذ کونکی نبی علیه السلام وی ، او د هغه امت به وی نو ځکه د خلافت تاج ئې د یهودو او د عیسائیانو نه واغستلو ، او د نبی علیه السلام او د امت محمدی په سر ئې کیخودو ، او الله حکم اوکړو چې :
{ادْخُلُوْا فِى السِّلْمِ كَافَّةً} [البقرة: 208]
ټول په ټوله په دین محمدی کښې داخل شئ ، ځان ، کور ، معاشره ، معاش ، تهانه ، تحصیل ، سکول ، کالج ، پارلیمنټ ټول ددے دین لاندی کړئ ، او ددے دین په قوانینو ئې برابر کړئ او الله تعالی فرمائی :
{صِبْغَةَ اللهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ صِبْغَةً} [البقرة: 138]
د الله تعالی په رنګ رنګ شئ ، یعنی په دین الهی رنګ شئ ، الله تعالی فرمائی :
{أَفَغَيْرَ دِيْنِ اللهِ يبغُوْنَ} [آل عمران: 83]
اشاره ده ، چې ددے اسلام نه علاوه بل دین مه لټوئ - الله تعالی فرمائی :
{وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ} [آل عمران: 85]
د اسلام مقابله کښې ، یهودیت ، عیسائیت ، هندومت ، سکھ مت ، بدھ مت ، سیکولرازم ، نیشنل ایزم ، هیؤمن ایزم ، پارټیزم ، ماسونیزم الله تعالی ته قابل قبول نه دی ، اګر که جمهوریت ،

اکثریت ولی نه وی ، نو دا وو ضرورت خلافت او ضرورت بعثت النبی صلی اللّٰہ علیه وسلم ته -

## خلافت د نبی علیه السلام امت ته ولے ملاؤ شو ؟

دا خلافت ځکه د نبی علیه السلام امت ته ملاؤ شو او د یهودیانو ، عیسائیانو نه واغستے شو ، چې هغوی نافرمانی شروع کړه - من وجه د هغې نه دادی :

(۱)چې هغوی ته اووئیلې شو چې ایمان په نبی علیه السلام او قرآن کریم راوړئ نو هغوی جواب ورکړو چې مونږ په خپل پیغمبر او په تورات ، انجیل ایمان راوړو ، {وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَاءَهُ} [البقرة: 91]

(۲) هغوی ته وئیلی شوی وو چې ایمان په الله راوړئ نو هغوی وئیل :

{حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً} [البقرة: 55]

(۳) د هغوی نه طلب اوشو چې د الله تعالی لاره کښې خرچ اوکړئ نو هغوی وئیل :

{إِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ} [آل عمران: 181]

(٤) هغوی ته ئې اوئیلی شو چې په آخرت ایمان راوړئ نو دوی وئیل : چې جنت زمونږه دے د بل چا نه دی -

{لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُوْدَاتٍ} [آل عمران: 24]

(۵) پیغمبران به ئې وژل -

(٦) انکار د انبیاء نه به ئې کوو -

(۷) د نبی علیه السلام نه ئې انکار کوو -

(۸) ناشکری د نعمتونو ئې کوله -

ددے مقابله کښې د نبی علیه السلام امت وو :

(۱)چې کله هغوی ته اوئیلی شو چې ایمان په الله تعالی راوړئ نو هغوی وئیل :

كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه

(۲) چې کله ورته په آخرت باندے د ایمان راوړلو اوئیلی شو نو هغوی وئیل :

{وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ} [البقرة: 4]

(۳) په قرآن کریم ، تورات ، زبور او انجیل باندے د ایمان راوړلو ورته اوئیلی شو نو :
{وَالَّذِيْنَ يؤْمِنُوْنَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ} [البقرة: 4]
(٤) چې د زکوة او صدقه ترے طلب اوشو ، نو هغه هم :
{ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ ينفِقُونَ} [البقرة: 3]
(٥) انبياء باره کښې په ټولو ایمان وو
{لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ} [البقرة: 136]
نو ددے وجی نه چه هغوی کښې دومره خامیانی او امة محمدیه کښې دومره خو بیانی وی نو د خلافت ذمه داری نبی علیه السلام او د هغه امت ته حواله شوه - اوس یهودیت ، عیسائیت منسوخ دی - په اوس زمانه کښې چې څوك ایمان په نبی علیه السلام نه راوړی او په قرآن کریم باندے او بیا د جنت دعوی کوی نو دا جاهل مطلق دی ، نو تِلْكَ الرُّسُلُ کښې دغه ته اشاره کوی:
(۱)تِلْكَ الرُّسُلُ ایمان په انبیاء باندے یو شان دے -
(۲) مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللهُ درجو کښې فرق شته -
(۳) وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ په ټولو کښې غوره نبی علیه السلام دے ، ځکه امام الانبیاء جامع الملل والادیان دے ، بنا بر تفسیر راجح ، ددے پیغمبرانو تذکره نبی علیه السلام په مینځ کښې اشاره چې دواړو اختلاف ختمونکی او د خلافت حق دار دغه دی - که عیسائیان وی او که یهود پس د نبی علیه السلام نه د نبی علیه السلام تابعدار به وی -
(٤) حکمت الهی : وَلَوْ شَاءَ اللهُ مَا اقْتَتَلُوْا-
(٥) ضرورت خلافت : وَلَكِنِ اخْتَلَفُوْا -
(٦) حکمت الهی : هغوی اختلاف اوکړو : وَلَكِنَّ اللهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ -
الله تعالی راولیږلو چې انسانیت کے وحدت راولی -

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُوْنَ

فاطر: 3

# غفلت

## غفلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ يا أَيهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ} [فاطر: 3]

### روح هم بيماريږى څنګه چه بدن بيماريږى

د ظاهرى بدن پشان روح ته هم بيمارى لګى لکه څنګه چې د انسان ظاهرى بدن ياديږى ددے دپاره د ډاکټر او علاج ضرورت وى نو دغه شان د انسان زړه ، روح د انسانيت ته بيمارى لګى او بيماريږى - د انسان د روحانى بيمارى دينى بيمارى ، ددين کمزورى کيدلو ، او په دينى محنت کښې د منډې نه وهلو ګنى وجه کيدلى شى چې دانسان دين طرف کمزورى وى ، مونځ نه کوى ، ددين دپاره منډه نه وهى ، هغه ورته اهم نه ښکارى ، حکمونه ترے ماتيږى ، که هغه نيك عملونه دى ، هغې کښې کمزورى ګناهونه نيغ روان وى - دا د انسان لويه بيمارى ده ، دا ددين طرف چې بيمار شى او کمزورى شى ، که دده بدن برابر وى خو بيا هم دے تباه برباد دے او دننه نه ختم دے - د هغې لويه وجه هغه غفلت دے چې دى کښې غفلت راغلى دے - غفلت دا دے چې دې نه پوهيږى چې زه د الله تعالى بنده يم ، د پيغمبر عليه السلام امتى يم - ددے نه غافله دے چې زه به قيامت کښې الله تعالى ته اودريږم - دى د خپلې ذمه دارئ نه غافله دے - دا غفلت ددينى کمزورتيا يوه لويه ذريعه ده نو ددے غفلت نه بيداريدل ډير ضرورى دى - الله تعالى مونږ کله بيداروى په تکوينى داعيانو باندے او کله په تشريعى داعيانو يعنى عالمانو باندے - غفلت بيمارى د کينسر حيثيت لرى نو که لرى نه شى بيا انسان تباه شى - قيامت کښې به ورته وائى :
{لَقَدْ كُنْتَ فِى غَفْلَةٍ} [ق: 22]

{اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِى غَفْلَةٍ مُعْرِضُوْنَ} [الأنبياء: 1]
{ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ} [الأنبياء: 2]
{لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ } [الأنبياء: 3]

## غفلت لویه بیماری ده

غفلت لویه بیماری ده چې دې اوده دے دا فکر ورسره شته دے نه چې زه د الله تعالی بنده یم ، دی وخت کښې د الله تعالی حکم څه دے ؟ د نبی علیه السلام امتی یم ، دی وخت کښې د نبی علیه السلام څه طریقه ده ؟ سبا روان یم ، ما سره څه توخه ده ؟ زما ایمان دے چې پاس شم - نیك عمل شته چې بل جهان ته ځان سره یوسم - دی غفلت کښې مونږ پراته یو ، زما کور ، بچی ، بنګله ، دنیا دا خائسته کول دی ، الله تعالی زمونږ نه هیر دے - احکامات د پیغمبر هیر دے - الله تعالی فرمائی :
{ يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اذْكُرُوْا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا} [الأحزاب: 41]
الله ډیر ډیر یادوی د الله تعالی یادولو یوه طریقه دا ده : چې د الله تعالی نعمتونه یاد کړه :
{نِعْمَتِى الَّتِىْ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ} [البقرة: 40]
مونږ پیدا شوی یو ، خرو ، څکو ، اوسیږو ، ګرځو ، اغوندو د الله تعالی په زمکه ، د الله تعالی په اوبو ، خوراك ، پیو ، بدن ، جامو ، لامبو ، لاسو ، خپو باندے ، سترګو باندے ، غوږونو ، خوله ، ژبه باندے د الله تعالی نافرمانی کوو ددے وجه صرف دا ده چې د الله تعالی نه ناخبره او غافله یو ، ٢٤ ګهنټے تیریږی ، د الله تعالی خط مونږ نه راخلو ، ددے نه ځان نه خبرو چې دی کښې څه دی ؟ زما نه څه غواړی ؟ دا د غفلت زندګی دا زمونږ تباهی ته طرف ته اوړی - ځان خبرول پکار دی ، احکام منلو ، مجالس دینی ، دینی تعلیم ، مراکز او قرآن کریم درس ته ځان لږ نزدی کول غواړی - دا د دنیا تباهی ده - زمونږ سره دی الله تعالی احساس پیدا کړی - الله تعالی دی مونږ بیدار کړی-

بسم الله الرحمن الرحيم

# اهميت الاسرار

# اهميت الاسرار

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَہ
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{يا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِنْ دُوْنِكُمْ} [آل عمران: 118]

## اهميت الاسرار د جماعت د ترقی او حفاظت اهم رکن

اهميت الاسرا د جماعت د حفاظت او ترقی دپاره يو اهم رکن دے - چې کوم ملګری ستا د مشن نه وی نو هغه به ستا راز خکاره کوی ، او کوم چې ستا ملګری وی د مشن او په اسلام مئين وی نو هغه خلق راز نه خکاره کوی ، نه ئې فاش کوی - چې کوم انقلابی ملګری وی او هغه دا غواړی چې دنيا باندے دی مونږ انقلاب راولو نو هغه دی د رازدارئ خيال اوساتی ، خپل مرام ته به ورسی -
مَنْ کَتَمَ سِرَّهُ بَلَغَ مُرَامَهُ
په راز او اهميت الاسرار باندے د اسلام تاريخ ګواه دے -

## د اهميت الاسرار باره کښې واقعه

(۱)نبی عليه السلام يو څو ملګرو سره مشوره اوکړه ، نورو صحابو ته ئې څه اونه اووئيل ، وئيل : غشی جوړوئ ، توری تيری کوئ ، زغری تياروئ ، هغوئ لګيا دی څوك غشی ، څوك توری تيری کوی ، څوك زغری جوړوی - نور صحابه راځی چې دا څه چل دے ؟ هغوی وئيل : مونږ ته پته نشته خو بس نبی عليه السلام حکم کړی دے - چا چې جوړول هغوئ ته هم پته نه وه چې دا څله جوړوی ؟ بس د حکم تعميل شروع وو يو صحابی د خپل حفاظت او خپلے فائدې دپاره معمولی خبره خط اوليکلو او يو ښځی له ئې ورکړو چې دا فلانکی ځای ته اورسوه ، زنانه هم نه

وه خبر چې خط کښې څه دی ؟ هغه په خپل کونسو کښې خط کیخودو ، او کونسۍ ئې پټې کړی ښځه روانه ده - نبی علیه السلام ته الله تعالی وحی اوکړه چې راز دی فاش شو - هغې خط کښې لیکلی وو چې مسلمانان توری تیاروی ، زغری جوړوی ، غشی تیره کوی - نبی علیه السلام علی رضی الله عنه او زبیر رضی الله عنه او مقداد رضی الله عنه اولیږل چې فلانکی مقام کښې ښځه روانه ده د هغې سره خط دے نو هغه خط ترے راوړئ ، علی او زبیر مقدار رضی الله عنهم اورسیدو - وائی :

ستا سره خط دے ، مونږ له ئې راکړه -

هغی ښځی وئیل : ما سره خط نشته -

علی رضی الله عنه : ورته درې / ۳ پیری اوی چې خط راکړه ، بیا ئې ورته اوئیل : چې زمونږ پیغمبر وئیلی دی چې دی سره خط دے ، راکه خط ، که تالاشی دی اخلم نو کپړی به درنه اوباسم ، ښځه اویریده ، او خط ئې د بهې او کونسو نه راواغستلو ، علی او مقداد او زبیر رضی الله عنهم ئې هم نه ګوری ، او نبی علیه السلام له ئې راوړو ، دا دومره اهمیت دے د اسرار او د راز ساتلو -

دارنګې تاریخ ګواه دے چې اسلام چرته هم ماتی خوړلی ده نو هغه ئې د راز فاش کیدو د وجی نه ماتی خوړلی ده -

## د صلاح الدين ايوبي رحمه الله تذکره

(۲) صلاح الدين ايوبي رحمه الله جاسوسی نظام وو او جاسوسی نظام د هغه ډير مضبوط وو ، دا د صلاح الدين ايوبي رحمه الله د کارنامو نه شمارېږی چې په غير قومونو کښې به ئې خپل جاسوسان ، انټيليجنس ليږل ، حطيّن مقام کښې معرکه اوشوه ، او لويه حمله اوشوه ، انګريز حيران وو چې دا فوج د کوم طرف نه راغے ؟ دا د هغه جاسوسی نظام وو -

## د تحريک ريشمی رومال تذکره

(۳) دارنګې علماء ديوبند د جنګ آزادئ دپاره تحريکونه پيش کول ، په هغې کښې د ټولو نه مضبوط او کامياب تحريک ، تحريک ريشمی رومال وو ، په رومال به ئې ګلونه اوويستل - خلقو به وئيل چې دا ګلونه دی ، هغه به خبرے وی ، يو بل له به ئې رومال ورکولو ، آخر کښې د هغې راز چا فاش کړو نو هغه تحريك ناکام شو -

## شاه اسماعيل شهيد رحمه الله واقعه

(٤) دارنګه د شاه اسماعيل شهيد رحمه الله يو لوئې تحريك وو په دې علاقې داسلام حکومت هغه راوستے وو ، ٦ کالو پورې اسلامی نظام وو ، اولنے مرکز هيډکواټر ئې هنډ وو ، بيا صوابی ، سليم خان ، مانيرئ - دا ميدانی علاقه وه ځکه حمله آسانه وه ، بيا آخر کښې پنج تار د بونير ته لاړل ، په مانيرئ کښې يو ورانه وه ، تقريباً ٦٠ مړی په کښې شوی وو ، د شاه اسماعيل شهيد رحمه الله په اسلامی حکومت کښې د هغې روغه اوشوه ، خلقو اومنله چې دا يو لوے تحريك دے ، او واقعی ددے نظام حيثيت شته - شاه صاحب رحمه الله هنډ کښې وو ، د ملګرو سره ئې مشوره کوله ، پورې اټك کښې سکهان وو ، او سيد احمد شهيد رحمه الله به تيارې کوله د حملے دپاره - شاه اسماعيل شهيد رحمه الله د جنګ کمانډر او سيد احمد شهيد رحمه الله امير جماعت وو ، خو دا امير صاحب لګ ساده مزاج وو ، مشوره شروع وه ، د امير صاحب سره يو کس نوی

ناست وو ، شاه صاحب دغه امیر صاحب ته وئیل چې دا ستا خوا کښې کس د مشورې نه پاسوه - هغه وئیل : دا خه ملګرې دے ، پرون ئې ټول طالبان ملګرې راوستې وو ، او بیعت ئې اوکړو ، مخلص ملګرې دے - شاه صاحب وئیل چې زه هم دغه وایم چې دې پرون راغلے دے کنه نو لرې ئې که د مشورې نه - امیر صاحب وې ، پریدوه ، هر چا باندے بدګمانی کوې ، مشوره شروع شوه ، وې په کشتو به پل جوړ کړو ، او پورې به واوړو ، په قلعه به حمله اوکړو ، چې سکهان څو خبرېږې نو مجاهدین به قلعه قبضه کړې وې - مشوره ختمه شوه - دا سړې لاړ او هلته په خپل ګلې کښې په جماعت کښې د مانځه نه پس د اخلاص دعا کوې چې دعا ئې اوکړه - یو څو ورځې پس مجاهدینو په سکهانو حمله کوې ، دا یو لوے پروګرام دے ، غټه حمله ده چې الله تعالی ئې ورته برې ورکړې ، هغه جومات کښې څه جاسوسان د سکهانو ناست وو - چې هغوې لاړل سکهانو ته ئې اوئیل : چې مجاهدین حمله کوې ، سکهان تیار ولاړ وو لار کښې ، چې مجاهدین پورې وتل ، سکهانو پرې حمله اوکړه ، دومره مجاهدین په هغې کښې شهیدان شول چې علماء ذکر کوې ، چې اټک سیند د وینو سور روان وو د مجاهدینو په وینو باندے - دا صرف د یو سړې ده راز فاش کیدو د وجې نه -

قرآن کریم وائی چې غیر خلق راز دار مه جوړوه - چرته هم ستا دشمن ستا ملګرې نه شی کیدې ، د هغه نه بائیکاټ اوکړې ، او بائیکاټ د اسلام اهم وجه ده - د کلمے اولنے حصه بائیکاټ دے ، ( لا ) انفرادی زندګی کښې ترے ځان ساتل آسان وې ، خو اجتماعی زندګی کښې ترے ځان ساتل ګران وو - نو قرآن کریم وائی دې شرمخ دے ، ځان ترے اوساته -

## د غیر رازدار یو څو نمونې د قرآن کریم نه

قرآن کریم د غیر راز دار ، مونږ او تاسو ته یو څو نمونې هم ذکر کوې چې ته ئې اوپیژنې چې دا زما دشمن دے :

(۱)ستا او د هغه په مشن کښې فرق دے ځکه ته اسلام غواړې او هغه کفر غواړې -

(۲) دے ستاسو ما بین کښې فساد خوروی -
(۳) مسلمان ته تکلیف رسول خوښوی -
(٤) دوی په زړه کښې درسره بغض کوی -

## میر صاحب رحمه الله واقعه

میر صاحب رحمه الله وائی چې ما ته چا وئیل چې ته د هغه طاهر شاګرد ئې ؟ ما ورته وئیل چې د محمد سره دی کوم وخت نه بغض دے - زه د محمد طاهر شاګرد یم نو دې به ستا سره بغض کوی -
(٥) ستا د ختمولو منصوبې به تیاروی -
(٦) ستا سره بغض کوی ، ځکه الحب من الجانبین ، والبعض هکذا -
لطیفه : یو طالب جان وی چې زه به د بادشاه د ښځی سره نکاح کوم - چا ورته وئیل : څنګه چل اوشو ؟ وی شوی ده ، ځکه زما د طرف نه قبول شوی دے خو صرف د هغه د طرف نه ایجاب پاتی دے -
(۷) تاسو ټول کتاب او ټول مکمل دین منی او هغه نه منی -
(۸) ستا خواله راشی نو وائی چې زه منم خو چې اسلام خوریږی نو په ګوتو چکونه لګوی او خفه وی -
(۹) ستا په خوشحالئ خفه وی -
(۱۰) ستا به خفګان خوشحاله وی چې که ته خپل خفګان خکاره کوی نو دوئی خوشحالیږی ، نو خفګان مه خکاره کوه ، مِنَ الْبِرِّ كِتْمَانُ الْمَصَائِبِ -

## محمد امیر بندیالوی رحمه الله تذکره

مولانا محمد امیر بندیالوی ډیر بیمار وو ، سحر آذان ئې خپله وئیلو ، چې بریلیانو ته پته اولګیده ، چې سحر شو ، بندیالوی ژوندې دے - او ماښام آذان به ئې خپله وئیلو چې ماښام شو

په خیر سره او بندیالوی ژوندی دے۔
نبی علیه السلام چې کله د هجرت نه پس اولنے عمرے له راغے ، کافرو صحابو ته کتل ، کافرو وئیلو : چې د مدینې تبو وهلی دی ، کمزوری شوی دے ، الله تعالی حکم ورکولو ، نبی علیه السلام صحابو ته وئیلو چې پهلوانی شروع کړئ چې کافر خوشحاله نه شی چې دوی کمزوری شوی دی۔

## شیخ غلام الله خان رحمه الله واقعه

شیخ غلام الله خان رحمه الله ډیر بیمار وو ، هسپتال کښې پروت وو هسپتال کښې ورسره مولانا حسین علی رحمه الله ځوئی وو نو یو بریلی عالم ئې خواله تلو د بیمار پرسی دپاره مولانا حسین علی رحمه الله شیخ ته وائی چې بریلی عالم راغے ، شیخ ډائرکټ پاسیدو ، کټ کښې کیناستو ملګرو ته وئیل ، بالختونه راته کیدئ ، دا پتکې راکړئ چې بریلی راغے ،جی کیا حال ہے؟
شیخ صاحب : بالکل ٹھیک ہوں ، بس ڈاکٹروں نے دو دن آرام کا کہا ہیں ، کوئی مسئلہ نہیں ، ان شاء اللہ آئندہ جمعہ لیاقت باغ میں پڑھاؤنگا۔
چی کله هغه بریلی عالم لاړو نو چا ورته اووئیل چه شیخ صاحب : دا تا څه چل اوکړو ؟ چه دومره تکلیف سره کیناستے نو شیخ صاحب وئیل چې یہ عیادت کیلئے ہی نہیں آیا تھا بلکہ یہ دیکھ رہا تھا کہ غلام اللہ خان کے مرنے میں کتنا دیر ہے اس لئے ہی میں نے ایسے کیا۔
دا صرف د دشمن د خفه کولو دپاره ، دا هم عبادت دے ، چې د اسلام دشمن وی ، ته ئې خفه کوی۔
{ وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ} [التوبة: 120]
د کافر غصه کول دا اهم عبادت دے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

# تقاضا د روح او بدن

## تقاضه د روح او بدن

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{فِيْ بُيُوْتٍ أَذِنَ اللّٰه أَنْ تُرْفَعَ ويذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهُ} [النور: 36]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم :

إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ مَأْدُبَةُ اللهِ ، فَتَعَلَّمُوْا مِنْ مَأْدُبَةِ اللهِ مَا اسْتَطَعْتُمْ ، [مسند ابن أبي شيبة **1**/ **251**]

وقال النبی صلی الله علیه وسلم :

فَطُوبٰى لِمَنْ جَعَلَه مِفْتَاحًا لِلْخَيرِ، وَمِغْلَاقًا لِلشَّرِّ، وَوَيلٌ لِمَنْ جَعَلَه اللهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ، وَمِغْلَاقًا لِلْخَيرِ

مونږ او تاسو الله انسانان پیدا کړی یو ، انسان د الله تعالی په مخلوق کښې عجیبه دے ، انسان د الله تعالی د خلقت یو عجیب شاهکار دے ، هر شئ د انسان نه علاوه یو مخی دے ، چې کوم مخلوق بره دی ، هغه بره دی ، چې کوم خکته دی ، هغه خکته دی ، انسان داسې مخلوق دے که دے بره تلل اوغواړئ نو د خاوری نه پیدا بنده په بره لاړ شی او د الله تعالی مقرّب شی ، الله تعالی ته نزدی شی - او که دې ځان خکته کول غواړی ، نو دومره خکته شی چې اسفل سافلین مرتبی ته اورسی -

انسان کښې یو بدن دے او بل روح دے - د بدن جدا تقاضی دی او د روح جدا تقاضی دی - چې څنګه ددے بدن پیدائش عجیبه او ناآشنا دے ، دغه رنګه د روح یو عجیبه پیدائش دے -

## د روح تعریف

روح د الله تعالی امر دے :

{قُلِ الرُّوْحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّيْ} [الإسراء: 85]

عجیبه مخلوق دے په عجیبه طریقه باندے پیدا دے - اللّٰه تعالی په خلقت مقدسه سره روح پیدا کړی دے ، بدن ئې د خاورې نه جوړ کړو ، او د روح څاڅکی ئې په کښې د برے نه اوکړو ، نو دی وجی نه بدن مقتضیات د زمکې سره متعلق دی او د روح مقتضاګانی د بره عالَم سره متعلق دی - لکه څنګه بدن بیمارېږی ، هسپتال ته ضرورت راځی ، په هسپتال کښې ماهر ډاکټر ته ځو ، میډیکل سټورنه ګولې راخلو ، مونږ د بدن خواهشات خپل خواهشات ګڼړو ، د بدن ضروریات خپل ضروریات ګڼړو ، چې بدن تږی وی ، نو مونږ هغې له اوړ اوبه ګورو ، چې بدن اوږی شی ، هغې له ډوډئ ګورو - چې بدن بربنډ وی نو هغې له جامه ګورو - چې بدن له یخ کیږی نو هغې له ګرمی کپړی کوټ بلوز ګورو - چې بدن ګرم وی نو هغې له نرې کپړی ګورو - چې بدن وائی : شهوت می دے نو د نکاح بندوبست کوو چې د بدن شهوت پوره شی - که بدن وی غریب وی نو قسم قسم مزدوری د بدن د راحت او مالداری دپاره کوو - دبدن د ضرورت دپاره بازار ته ځو ، سکول ته ځو ، پټی ته ځو د غنمو جوار دپاره - دبدن تعلیم په مونږ زورور دے - چې بدن کوم خواهش کوی ، که جائز وی ، او که ناجائز وی خو هغه خواهش مونږ پوره کوو - که چرته ضرری څیزونه وی ، اور ، مار ، لړم ، چاړه وی ، ددے ټولو څیزونو نه مونږ د بدن بچاؤ کوؤ -

ددی مقابل کښې په بدن کښې یو څیز دے چې هغې ته روح وائی هغه روح هم بیمارېږی ، هغه ته د ډاکټر ضرورت راځی ، هغه ته د دوائی ضرورت راځی - چې روح تږی شی نو اوبه غواړی - اوږی شی نو ډوډئ غواړی - کپړې غواړی ، په یخ کښې بلوز ، کوټ غواړی - ګرمې کښې نرۍ کپړی غواړی -کمزورتیا کښې ډرائی فروټ ، فریش فروټ غواړی ، د حفاظت دوائی غواړی ، د روح هم تعلیم ضرورت راځی - دغه روح دے دی هم راغواړی چې څه دی ، د ضرری څیزونه بچ شم ، مار ، لړم ، چاړه ، اور بلکه نه تقاضی چې څنګه ده بدن دے نو دغه شان د روح دی - خو آرمان دا دے چې مونږ د بدن مکمل تابعدار یو ، او د روح ددے تقاضو راسره هډو فکر نشته- راشه اوس اوګوره چې د روح ډاکټر هسپتال ، تعلیم ، فروټ ، د ډوډئ څه څیزونه دی ؟ د

روح ډاکټر جناب محمد صلی الله علیه وسلم دے ، د روح هسپتال مدرسه او جومات دے ، هغه هم د قرآن کریم دے ، د روح فروټ اوبه او ډوډئ ، هغه هم د قرآن کریم زده کول او عمل کول دی ، دا مدارس د روح او ایمان د حفاظت مراکز دی ځکه الله تعالی فرمائی :
{وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ } [النور: 36] ای يُتْلٰى فِيْهَا كِتَابَه

## د مدرسی لوئی عمل تعلیم تعلم

د نبی علیه السلام د مدرسے لوے عمل تعلیم او تعلم وو ، نو مونږ او تاسو لره د روح د ترقی دپاره قرآن کریم سره تعلق ساتل ډیر ضروری دی - څنګه چې بدن باندے ده اور د وجه نه تور داغ اولګی اوسوزی نو دغه شان دی روح باندے د ګناه ده وجه نه تور داغ اولګی - نبی علیه السلام فرمائی :
اذا اذنب العبد نكتت نكتة سودا فی قلبه ،
که توبه اوباسی نو صحیح ده ، وَإِلَّا فَلَا : نو زیاتیږی ، آخر تور شی ، بیا پرې د حق خبره اثر نه کوی ، چې څنګه بدن د توروالی نه ساتونو پکار ده چې روح هم د ګناهونو نه پاك اوساتو ، د ضرری څیزونو نه محفوظ اوساتو ، د روح په تقاضو په عمل باندے الله ددنیا او آخرت د دواړو د برابرولو وعده کړیده -
او د بدن په تقاضه د عمل باندے صرف ددنیا وعده هم د الله تعالی د منشأ مطابق ده که اوغواړی ورکوی ، او که نه غواړی نه ورکوی -
دا قرآن کریم د روح ترقی ده د روح په تقاضو تازګی ده ، دا روح د بره نه راغلے دے چې کله په دنیا کښې د روح په تقاضو عمل اوشی ، نو انسان بره بوځی او جنت کښې ئې داخلوی ، نو قرآن سره تعلق ضروری دے -

## د نبی علیه السلام علی رضی الله عنه ته وصیت او خوشخبری ورکول

نبی علیه السلام علی رضی الله عنه ته وائی :
یَا عَلِیُّ تَعَلَّمِ الْقُرْآنَ وَعَلِّمْهُ فَاِنَّکَ اِنْ مُتَّ وَاَنْتَ عَلٰی هٰذَا مُتَّ شَهِیْداً

## قرآن کریم د روح غذا ده

قرآن کریم د روح غذا ده ، ځکه نبی علیه السلام فرمائی : اَلْقُرْآنُ مَاْدُبَةُ اللّٰهِ ،
مادبة تیار دسترخوان ته وائی چې هر څه پرې پراته وی ، نو الله تعالی حکم کوی چې :
فَتَعَلَّمُوا مِنْ مَأْدُبَةِ اللّٰهِ مَا اسْتَطَعْتُمْ
ددی دسترخوان نه څه واخلی ، زده ئې کړی ، عمل پرې اوکړی ، نافذی کړی ، حَکَمْ ئې کړی ، دعوت ئې ورکوی ځکه په قرآن کریم کښې روح ډوډئ هم ده او کولډرنکس هم دی ، ډاکټران علماء کرام فرمائی چې د موسم میوه روح دپاره د قرآن کریم دے ، که دا میوه روح ته ملاؤ نه شی نو الله تعالی دی نه کړی روح به کمزوری کیږی آخر دا چه مړ به شی - الله تعالی دی زمونږ او ستاسو روح ایمان په ترقی کړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# انقلاب د قرآن کریم

## انقلاب د قرآن کريم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ} [آل عمران: 103]
وقال النبی صلی الله عليه وسلم :
وَإِنَّ اللهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ ، فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ ، إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ، [صحيح مسلم 4/ 2197]

## د دور جاهليت يو جهلک

الله تعالی ددنيا د نقش بدلولو دپاره په هر دور کښې انبياء راليګل - خلقو به په خپل سوچ ، او د خواهش په غلامئ کښې کومه نقشه جوړوی ، د مخلوق د غلامئ د لاندی او د خواهش د غلامئ لاندې د انسانانو د بدنی ضرورياتو او خواهشات پوره کولو د لاندی چې کومه نقشه وه نو خلقو به د خودساخته ليډرانو ، سردارانو هغه نقشه منله او په هغې پسې به روان وو او په هغې ئې زندګی تيروله - حاصل دا دے چې يو څو زورور کسان وو ، کمزوری خلق د هغوی خوراك وو ، کمزوری خلق د هغوی په حکم خکته کيدل ، پورته کيدل ، د هغوی په آثارو ئې ژوند تيرؤ ، هغه نقشه ددنيا د ظلم وه ، د بے حيائی وه ، د کرپشن وه ، د بدرنګی وه ، انسانان به ئې په يو بل باندے اچول ، انسانانو به يو بل وژل قرآن کريم کښې دغی ته الله تعالی اشاره کوی ، **إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً**

په مختصر لفظ کښې قرآن کريم د مخکښينی حالاتو تذکره کوی ، تقريباً د ٥٠٠ / ٦٠٠ سال تذکره کوی ، دا د قرآن کريم کمال دے ، قرآن کريم فرمائی : **أَعْدَاءً** دشمنان وو ، کور کښې دشمنيانی وه ، د اولاد دشمنی ، اولاد به ئې د سردار سره دشمنی وی ، او د قبائلو دشمنی وی ، د اقوام دشمن

وی ، عداوت شخصی ، عداوت بین القبائل ، عداوت بین الاقوام ، عداوت عالمی وو - په ټوله دنیا کښې ددشمنۍ ماحول وو ، د اعس او جبرا دشمنی مشهوری وی ، د قیصر او کسرئ دشمنی مشهوری وی ، د هندوستان او چین د شمنی مشهوری وی ، انفرادی زندګی کښې دشمنی وه ، رور د رور دشمن ، پلار د بچی دشمن ، مور د لور دشمن ، لور د مور دشمن ، اسلام په کښې نه وو ، د الله تعالی قانون باندے چلیدل نه وو ، دغه رنګه اجتماعی زندګی کښې دشمنیانی وی ، ځکه د ملکونو تعلقات په وعدو باندے پاللے کیږی ، د وعدو خلاف ورزی وه ، شراب وو ، زناګانی وی ، پرده نه وه ، معاشره تباه وه ، معاش مکمل په سود چلیدو ، تعلیم د خپلی خوښی وو ، بتانو ته سجده وه ، لغړ طوافونه وو ، عبادت به د ګټو ، ستورو ، اونو ، بوټو ، بتانو او قبرونو کیدو ، معاشره کښې ظلم او بربریت وو ، سیاست د خپلی خوښی وو ، عدالت ، قضاوت ، د خپلی خوښی وو - چې کومه به د سردار خوښه فیصله وه په هغې په عمل کیده ، د غریب او مالدار سره بل شان معامله وه ، د یو بل وینو ته تږی ناست وو ، د یو بل عزتونه به ئې تباه کول ، د بل مال به ئې خپل مال ګڼړو او خوړو به ئې ، لوے لوے ، فلسفیان موجود وو ، مانی ، مزدك وو - چې کله د کتاب الله نه محروم وو نو دنیا له ئې د امن په ځاے بے حیائی ورکړه ، د مال د حفاظت په ځاے ډاکوان شو ، الله تعالی لږ وخت دنیا پریخودله ده د عیسی علیه السلام نه روستو ، الله تعالی وائی چې دا خلق په خپل عقل او نوی تعلیم باندے دا دنیا بدلولے شی او که نه ؟ چې خلقو ته پته اولګیدله چې مونږ عاجزه یو ، دا مانی او مزدك په شان پوهه د قیصر او کسرئ شان زورور په کښې وو خو دوی ددنیا نقشی له امن نه شو ورکولی -

یونان کښې لوے لوے یونیورسټی جامعات وو - خانقاه ګانی ، سکولونه وو خو دنیا له ئې امن ورنکړو ، اتفاق او اتحاد ئې راونستلو - الله تعالی فرمائی :

چې ډیر طاقت والا خلق وو -

{يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [الروم: 7]

{وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ} [العنكبوت: 38]

{وَلَقَدْ مَكَّنَّاهُمْ فِيمَا إِنْ مَكَّنَّاكُمْ فِيهِ} [الأحقاف: 26]

ددنيا وسائل او ټيکنالوجی ورسره وی -

{ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَارًا وَأَفْئِدَةً } [الأحقاف: 26]

سترګی غوږونه ، خوله می ستاسو نه خه ورکړی وو خو دنيا د نقشی په بدلولو نه پوهيدو ، عيسايانو د عيسی عليه السلام بندګی کوله - يهوديانو د عزير عليه السلام بندګی کوله -

يونان کښې د نور ، سپوږمئ بندګی کيدله - ايران کښې آتش کدی وی يعنی د اور بندګی به وه - هندوستان کښې د ۳۵ کروړ خدايانو بندګی به کيدله - په عرب کښې لات ، منات ، عزّی او هبل بندګی شروع وه او په خانه کعبه ۳۶۰ بتان وو - په چې ن کښې د خابنان بندګی کيدله - په جاپان کښې د بدھ مت بندګی کيدله -

اجتماعی زندګئ کښې د مخلوق بندګی وی - سماجی ، معاشرتی ، اجتماعی زندګی ، بادشاهی زندګی وی - الله تعالی د زمکې په نقشه خفه او غصه وو - اهل کتاب وو خو هغوی خپله اصلاح کوله خو د بل اصلاح ئې نشوه کولے غارونو کښې به ناست وو ، دنيا کښې د اصلاح څوك نه وو - قرآن کريم د نبی عليه السلام باره کښې فرمائی :

{ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدٰى} [الضحى: 7]

## صرف يوه هستئ د مخلوق په فکر کښې وه

صرف يو کس وو د عربو په زمکه باندے چې په غار حراء کښې ناست وو د مخلوق په اصلاح او فکر کښې حيران وو چې ددے دنيا دا نقشه به څنګه بدليږی ؟ ددے فکر وو ورسره خو صرف طريقه ئې ورله نه ورتله باقی فکر ورسره وو - نو قرآن کريم د نبی عليه السلام د زړه فکر نه تعبير په نور سره کوی وَلٰكِنْ جَعَلْنَاهُ نُوراً - او الله تعالی وحی راوليږله چې

{اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ } [العلق: 1]

نو نُوْرٌ عَلٰی نُوْرٍ شو ، الله تعالی پيغمبر عليه السلام راوليږلو ، قرآن کريم ئې راوليږلو ، خلق مسلمانان شو د الله تعالی بندګی شروع شوه ، معاشره کښې امن آمان ، حياء راغله ، لات ،

منات خلقو مات کړل ، قیصر او کسری بادشاهۍ ختمی شوی ، ظلم او ستم بربربیت ددنیا نه ختم شو ، بے امنی ختمه شوه ، دشمنیانی ختمی شوی ، رورولی راغله ، ټول د یو بل رونړه اوکرځیدل ، په یو بل به قربانی دل ،

{ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ} [الفتح: 29]

مصداق شو د رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ [المائدة: 119]

اعلانات شروع شو چې

{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ } [البقرة: 5]

{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ} [البقرة: 157]

{أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ } [الحجرات: 7]

{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ } [التوبة: 20]

{أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ} [الحجرات: 15]

دا القابات دنیا ته راغلل ، د یو بل اصلاح کول ئې شروع کړو - سیدنا ابوبکر ، امیر المؤمنین عمر فاروق ، د دوی په شان خلق پیدا شو چې په دنیا کښې د عدل او انصاف حکومتونه ئې اوکړل - دا صرف د قرآن کریم انقلاب وو ، قرآن کریم دا انقلاب او انقلاب نه مخکښې حالات په دوو لفظونو کښې ذکر کوی چې

إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ سره -

بسم الله الرحمن الرحيم

# مبادی او مقاصد د علم

## مبادی او مقاصد د علم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ أَنْ يَّتَطَهَّرُوْا} [التوبة: 108]

الله تعالى زمونږ او ستاسو تعلق د يو لوے نعمت سره راوستی دے چې هغه نعمت په مالدارئ په منصب او مزدوری او قوت باندے نه ملاؤيږی ، چې هغه نعمت د دين اسلام خدمت دے ، ددے دپاره چې الله تعالى د چا انتخاب اوکړی دا لوے نعمت دے د الله تعالى - زمونږ او ستاسو مرتبه او حيثيت مونږ او تاسو ته نه دی معلوم ، زمونږ سره د خپلے مرتبی او حيثيت قدر نشته ، زمونږ ابتداء نسبت د نبی عليه السلام د تابعدارو شاگردانو اصحاب صفه سره دے ځکه دا وراثت د علم دا د انبياء وراثت دے ، ددين اسلام د خدمت شعبی ډيری زياتی دی خو د ټولو نه اهم شعبه د علم د ځکه مقصد د انسان د زندگی په دنيا کښې معرفت الهی دے - او معرفت الهی بغير د علم نه نه راځی -

## علم صلوة الباطن

ددی فن ماهرين ذكر كوی چې علم صلاة الباطن دے ، او لَابُدَّ لِصَلٰوةَ الْبَاطَنْ مِنَ الطَّهَارَةِ ، علم د باطن مونځ دے او د مونځ دپاره د باطن صفائی ضروری ده - نو ددے علم په اهمو ذمه دارو كښې يوه ذمه داری خپل باطن پاكول دی ځكه علم د زړه سره تعلق ساتی او زړه باطن دے -

بيا چې مونږ كله علم زده كوو ، او ددے منصب انتخاب الله زمونږ دپاره اوكړو ، او په لوے احسان او لوئې خدمت كښې ئې مونږ او تاسو اولګولو -

## پنځه خبرې

نو مونږ له په دې کښې د پنځو / ۵ خبرو خیال ساتل ضروری دی :

(۱)تطهیر الفکر والباطن -

(۲) تعمیر الفکر والباطن -

(۳) تخلیق المقاصد -

(٤) تقویة المقاصد -

(٥) تعلیة المقاصد -

## تطهیر الفکر والباطن

تطهیر الفکر والباطن : د علم د حصول دپاره د خپل فکر او دخپل باطن صفائی ضروری ده ځکه علم نور دے -
یَقْذِفُهُ اللّٰهُ فی قَلْبِ الْمُؤْمِنْ ، نو د فکر او باطن صفائی د څه نه ضروری ده ؟
(۱)حب المعاصی (۲) حب الدنیا ، خپل فکر او باطن د ګناه د محبت نه صفا کول ضروری دی ، ځکه ګناه خو کیږی په ظاهری اندامونو باندے خو اصل سبب د ګناه دپاره محبت د ګناه دے ، علماء ذکر کوی : دا ګناه د علم سوری دے ، چې کوم باطن کښې ګناه سره محبت وی هغه باطن کښې علم نه جمع کیږی -

## مثال

مثال :خنبه کښې منګک سوری کړی دے او غنم ترے اووځی لاندی طرف باندے ، او ته ورته نور نور غنم اوچوی ، او هغې کښې جمع کیږی نه ، نو اول ددے سوری غم اوکړه ، نو غنم په دې جمع شی ، نو اول خپل باطن د ګناه د محبت نه صفا کړه چې بیا په کښې علم جمع کیږی -
امام شافعی رحمه الله خپل استاد ته وائی :

شَكَوْتِ اِلٰى وَكِيْعَ سُوْءَ حِفْظِىْ فَاَوْصَانِىْ اِلٰى تَرْكِ الْمَعَاصِىْ
فِاِنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ مِّنْ اِلٰهِىْ وَنُوْرُ اللهِ لَا يُعْطٰى لِعَاصِىْ

نو علم نور دے او نور ګناهګار ته نه ورکولی کیږی - علم د قول نوم نه دی بلکه علم د فعل او عمل نوم دے ، نو علم سره عمل ضروری دے نو ځان د ګناه د محبت نه بچ کول ضروری دی -

## تعمیر الفکر والباطن

(۲) تعمیر الفکر والباطن : چې څه دی د خپل فکر نه لری کړل ، او خالی دی کړو ، نو څه به ورته اوس دننه کړی ، آباد به ئې کړی ، خپل باطن او فکر ته به د انبیاء مشن دننه کړی ، د الله تعالی محبت ، ددین محبت ، د قرآن کریم محبت ، د نبی علیه السلام محبت ورته دننه کړی ، د الله تعالی حصول د نبی علیه السلام حصول ، چې ده ته په فکر کښې وی ، د الله تعالی رضا ستا په فکر کښې وی - چې کوم علم داسې وو چې هغې کښې تطهیر الفکر والباطن او تعمیر الفکر والباطن راتلو ، نو دغه علم ډیر مفید دے ، او بیا ښائسته نتائج ورکونکی دے -

## تخلیق المقاصد

(۳) تخلیق المقاصد : چې ځان او خپل فکر دی د الله تعالی او پیغمبر سره اوتړه ، رضا الهی دی مقصود وه ، نو بیا په خپل مقاصد مخکښې کړی ، چې دا علم کوم خو مقصد به می څه وی ؟
{وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوْا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ} [التوبة: 122]

مقاصدو کښې : (١) اول د الله تعالی رضا -
(٢) د مکمل دين خدمت -
(٣) خپل ځان باندے دين غالب کول -
(٤) خپل معاشره باندے دين غالب کول -
(٥) خپل ملك ، وطن کښې ددين غلبه راوستل -
د غير نظام د ژوند او د زندګی نه لرې کول ، ددين دهرې شعبې خدمت کول ، که هغه شعبه د معاش ، شعبه د معاشرت ، شعبه د سياست ، شعبه د قضاوت ، شعبه د صحت او د شعبه د تعليم وی په مکمل شعبو کښې د دين خدمت کول - دا خپل مقصد جوړول او دا په خپل مقصد ګرځول چې ددين او د الله تعالی د توحيد آواز به څنګه په عالم باندے کوم ؟

## تقوية المقاصد

(٤) تقوية المقاصد : چې کله دی خپل باطن او فکر د غير نه صفا کړو ، او خپل فکر دی آباد کړو ، په ددين الهی ، او خپل مقاصد د زندګی دی هم اوکړل -
نو اوس چې د کوم مقاصدو اراده کړيده چې دا به کوم د هغې دپاره اسباب د قوت استعمالول ، چې دغه کارونو کښې ستا عزم او اراده پخه وی او ددغه مقاصدو دپاره عزم مصمم کول چې هغه مقاصد درنه پاتی نه شی ، د هغې د مضبوطيا دپاره ، اسباب او ذرائع کتل او استعمالول چې زما مقاصد باندے عمل ماته آسان شی او خه هميشه په دغه مقاصدو روان يم -

## تعلية المقاصد

(٥) تعلية المقاصد : ددے ټولو خبرو نه روستو ددے خبرے فکر کول چې زما مقاصد چې کوم دی دا په نورو مقصدونو باندے عالی دے ځکه چې دا مقصد د بعثت د انبياء هم دے ، او د قرآن کريم هم دے ، او د نبی عليه السلام هم دے ، او صحابو هم دے ، او تابعين ، تبع تابعين ، آئمه

كرام ، مفسرين عظام ، د كل امت مقاصد به هم دغه وی چې دا ټول عالی شی ، الله تعالی حاکم شی ، نظام ئې حاکم شی ، نبی علیه السلام اتباع شروع شی ، مکمل زندګی په قرآن کریم شی ، نو دا مقصد به د عالِم هم وی ، د طالب العلم به هم وی ، الله تعالی دی په دې د عمل کولو توفیق را نصیب کړی -

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# تعلیم

# تعليم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
**{ هُوَ الَّذِىْ بَعَثَ فِى الْأُمِّيِّيْنَ رَسُوْلًا مِنْهُمْ يتْلُوْا عَلَيْهِمْ آيَاتِه ويزَكِّيْهِمْ ويعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ} [الجمعة: 2]**
وقال النبى صلى الله عليه وسلم : خَيرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ القُرْآنَ وَعَلَّمَهُ .[صحيح البخارى 6/ 192]

د الله تعالى احسان دے چې مونږ او تاسو ئې ده نيکئ په کار کښې جمع کړی يو د نبى عليه السلام د دعاګانو کښې يوه دعا دا هم وه : والغنيمة من كل برّ ، الله تعالى په هر نيکئ کښې مى حاضر اوليکه ، د هر ګناه مجلس کښې مې غير حاضر حساب کړه ، قرآن کريم کښې يو لفظ راځى ، تقوىٰ ، تقوىٰ دار انسان هغه وى -

تعريف د تقوى دار انسان

اَنْ لَّا يَفْقُدَكَ مَوْلَاكَ حَيْثُ اَمَرَكَ وَلَا يَجْدُكَ حَيْثُ نَهَاكَ

دا سوال د الله تعالى نه پکار دے چې د نيکئ کوم کارونه دى هغې کښې بنده خپله حصه واچوى - نبى عليه السلام يو ځلى سحر کښې اوفرمايل :

چې نن ورځ کښې چا د بيمار تپوس کړې دے ؟

صحابو کښې ابوبکر رضى الله عنه وئيل : ما ،

نبى عليه السلام : جنازه چا کړيده ؟

ابوبکر رضى الله عنه وئيل : ما ،

نبى عليه السلام : نن چا غريب باندے صدقه کړې ده ؟

ابوبکر رضى الله عنه وئيل : ما ،

نبى عليه السلام : چې دا کارونه چا کښې جمع شى نو هغه ته به د جنت هره دروازه آواز کوى چې په کوم تيريږى ، داخل کيږى ، داخليدے شى ، هره دروازه به ورته هر کلے وائى -

د نیکۍ په کارونو کښې مینه لرل - نبی علیه السلام حدیث کښې فرمائی :
اللهُمَّ إِنِّ أَسْأَلُكَ الْهُدٰى ، وَالتُّقٰى ، وَالْعَفَافَ ، وَالْغِنٰى . [سنن ابن ماجه 2/ 1260]
دا د نیکۍ فکر جوړونکی ، او دا فکر جوړیږی په تعلیم باندے ، چې د څه تعلیم کیږی ، د هغې سوچ جوړیږی ، د تعلیم معنی تش پوهه کول نه دی -

## د تعلیم معنی

د تعلیم معنی علماء کرام ذکر کوی :
یو هنر ، یو سوچ ، یو کمال بل چاله ورکول -
چې سړی د کوم څیز تعلیم کوی ، ده کښې هغه شان بدلی راځی ، دا هنر د یو نه بل ته منتقل کیږی -
دی وجی نه چې د کوم څیز تعلیم کیږی د هغې سوچ جوړیږی لکه ماشوم د سړی سره ناست وی ، څه وخت پس هغه ځان له دوکان اوباسی او ځان له استاذ شی ، نو هغه هنر او تعلیم د هغه نه منتقل شو او ده کښې راغے دده دغه سوچ جوړ شو - تعلیم سره هغه شان سوچ جوړیږی ، ماشوم اول د پیمنګ طریقه زده کوی ، نو اول تارونه اوپیژنی ، بټن ، میټر ، سوئچ ، فلګ ، جمع ، منفی ، اوپیژنی ، رو رو څه وخت پس د هغه سوچ د غه شان جوړ شوې وی او استاذ وی ، دغه رنګه پلار ماشوم ځان سره پټی ته بوځی کله لور واخلی ، کله رمبی ، کله غوایان بوځی ، کله بیلچه ، کله کشیې، کله پنجه غاښی ، کله لو کوی ، کله کرل کوی ، کله ګوډ کوی ، رو رو دغه ماشوم دا سوچ د زمیدارۍ جوړ شی ، څه وخت پس دې زمیدار وی -
دارنګه نرسنګ کوی ، اول ډراف اوپیژنی ، ستن ، سرنج ، ګولۍ مختلف اقسام اوپیژنی ، تبی ، ټیمپریچر طریقې ، بلډ پریشر طریقه آخر څه وخت پس هغه ته نرس او ډاکټر وائی ، ولی ؟ ځکه ددے تعلیم ئې کړی وی ، د هغې سوچ ئې جوړ شوی وی -
دارنګه ماشوم سکول ته ځی د هغې ذهن جوړ شی ، پټی ته ئې د هغې ذهن جوړ شی ، هسپتال ته

ځی د هغې ذهن جوړ شی ، بازار ته ځی ، دهغی ذهن سوچ جوړ شی ، تهانه ، تحصیل ، یونیورسټی ، کالج ، عدالت د هغې سوچ جوړ شی -
دارنګه ماشوم ټیلر سره ناست وی اول استری کوی ، بیا رو رو پرتوګ کټ کوی ، بیا آخر پوره ټیلر شی ، نو تعلیم د ټیلرئ هنر منتقل کړو ، چې د کوم ځیز تعلیم کیږی ، هغه منتقل کیږی ، او د هغې سوچ جوړیږی -

## د نبی علیه السلام پوسټ

نبی علیه السلام فرمائی :
إِنَّمَا اَنَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا . [سنن ابن ماجه 1/ 83]
زه د استاذئی او معلمی په پوسټ رالیږلی شوی یم - چې زمونږ په زندګی کښې د کوم ځیز تعلیم کیږی د هغې سوچ به جوړږی ، که د نیکی تعلیم کیږی د هغې سوچ به جوړیږی ، دا ټول کارونه د تعلیم سره تعلق ساتی - تعلیم بدلی راولی او انتقال د یو نه بل ته کوی - بس معاشره کښې چې د کوم ځیز تعلیم وی نو دغه معاشره به هم هغه شان جوړیږی ، د نبی علیه السلام تعلیم آخر کوم تعلیم وو ؟ چې د هغوی معاشره د اخوة ، امن ، حیاء ، پاکدامنی ، انصاف ، عدالت جوړه شوی وه جناب ابوبکر رضی الله عنه کوم تعلیم کړی وو ؟ جناب عمر رضی الله عنه کوم تعلیم کړی وو ؟ جناب عثمان رضی الله عنه ، جناب علی رضی الله عنه کوم تعلیم کړی وو ؟ چې د هغوی په ذریعه الله تعالی په معاشره کښې او په عالَم کښې انصاف ، عدالت ، اخوة ، امن ، حیاء ، پاکدامنی ، راوسته ، آیا هغوی MA کړی وو ، MBBS ئې کړی وو ، PHD ئی کړی وه ، پارټی ئې جوړه کړی وه ؟ هغه کوم تعلیم وو ؟ چې هغه حاصل کړې وو چه دوی ډاکټران وو ، طبیبان وو ، حکیمان وو ، ګورنران وو ، بادشاهان وو ، وزیراعظمان ، سرداران وو ، چې ف جسټس وو ، جنګی کمانډران وو ، آخر د هغې تعلیم باره کښې تپوس کولی شی چې هغه کوم تعلیم وو ؟

## د نبی علیه السلام او د صحابو تعلیم

هغه تعلیم د قرآن کریم وو چې هغوی ئې بدل کړو او معاشره کښې ئې امن راوستلو ، معیشت نه ئې سود ختم کړو ، تعلیم ئې د قرآن کریم شو ، صحت ئې د قرآن کریم شو ، قضاء ، عدالت ئې د قرآن کریم په حدود شو ، سیاست ئې په قرآن کریم شو ، دا صرف د قرآن کریم تعلیم وو چې هغې بدلی راوسته - مونږ اوئیل : چې د کوم څیز تعلیم کیږی نو هغه شان سوچ جوړیږی او بدلی راځی - هغوی کښې د قرآن کریم تعلیم وو نو قرآن کریم ذهنونه او معاشره جوړه کړه -

## واقعه د عمر رضی الله عنه

عمر رضی الله عنه فرمائی :

د فرات په پل یا دریاے نیل په غاړه بیزه د تندی نه مری نو زما نه به تپوس کیږی - مال زیات شو ، وئیل : څه ورسره اوکړو ؟ وائی : هسی نه چې الله تعالی راته اوائی : عمرا دنیا کښې دې خپل یې مزی اغستی دی نو آخرت کښې دی څه نشته هغوی یریدل - په هغوی قرآنی تعلیم غالب وو ، د هغوی د غم فکر جوړ شوی وو ، قاعده مونږ وئیلی وه چې د کوم څیز تعلیم کیږی په هغې بدلی راځی او ذهن جوړیږی ؟

دغه د قرآن کریم تعلیم چې کله معاشره کښې کیږی حدیث کښې راځی :

وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِی بَیتٍ مِنْ بُیوْتِ اللّهِ ، یتْلُوْنَ کِتَابَ الله ، ویتَدَارَسُوْنَهُ بینَهُمْ ، إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِکَةُ ، وَنَزَلَتْ عَلَیهِمُ السَّکِیْنَةُ ، وَغَشِیتْهُمُ الرَّحْمَةُ ، وَذَکَرَهُمُ الله فِیمَنْ عِنْدَهُ . [سنن ابن ماجه 1/ 82]

## څلور انعامات په حدیث شریف کښې

دی حدیث کښې نبی علیه السلام فرمائی : چې څوك قرآنی تعلیم کوی ، درس او تدریس کوی ، نو الله تعالی هغه ته څلور / ٤ انعامات ورکوی ، دا څلور / ٤ انعامات په بل هیڅ تعلیم باندے نشته -

## انعام اول

(۱)انعام : وَنَزَلَتْ عَلَيهِمُ السَّكِيْنَةُ : دنيا كښې چې د قرآن كريم نه علاوه د كوم څيز تعليم كوى ، ټينشن به ئې زياتيږى د قرآن كريم تعليم اثر دادے ، زړه به دى ، خوشحاله وى ، مطمئن به وى -

**سكينه** : خاص تسلى ته وائى ، چې څه كيږى دى به خوشحاله وى چې دا زما د رب فيصله ده - ليلیٰ مجنون ، د مجازى مجنونانو متكى ئې مات نه كړل ، او اصل مجنون منګى ئې مات كړل ، نو ده پيغور وركولو ، هغه اصل مجنون وئيل :

زما او ستاسو فرق څه شو ، چې ماله ئې هم پېۍ راكړى دى -

چې قرآنى تعليم دى اوكړو نو هره فيصله باندے به رضا وى - حديث كښې دى :

ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِى بِاللهِ رَبًّا ، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا ، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا . [صحيح مسلم 1/ 62]

د ايمان خوند او تسلى هغه چا ته نصيب كيږى چې هغه راضى وى په الله تعالى باندے د رب نه او په اسلام باندے د حيثيت د دين نه او په محمد صلى الله عليه وسلم باندے د رسول نه -

## انعام ثانى

(۲) انعام : حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ : د كلى ناظم چې سړى ديرې ته لاړ شى نو دې زر كور ته لاړ شى او خكلى چائې پوخ كړئى ، ناظم صاحب راغلے دے ، فرشتې د الله تعالى عزت مند مخلوق دے لكه

{ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُوْنَ} [الأنبياء: 26]

{بِأَيدِى سَفَرَةٍ ° كِرَامٍ بَرَرَةٍ } [عبس: 15، 16]

فرشتې د الله تعالى فوج دے ، هغې ستاسو نه ګيره اچولى وى ، فوج واله و -

## انعام ثالث

(۳) انعام : وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ : الله تعالى رحمن ، پيغمبر ئې رحمت ، قرآن كريم رحمت ، آياتونه رحمت دے ، او راوريږى په بنده باندے ، آيت اورى زړه ته ځى ، نو رحمتونه زړه ته ځى ، اندامونه

ته ځی ، یو آیت خو خَیْرٌ مِنَ الدُّنْیَا وَمَا فِیْهَا دے ، غوږ به رحمت اوری ، سترګی به رحمت له ځی ، لاس به رحمت له ځی ، خپې به رحمت له ځی ، مطلب دا چې په صحیح طریقه به استعمالیږی -

## انعام رابع

(٤) انعام : وَذَکَرَهُمُ الله فِیْمَنْ عِنْدَهُ : الله تعالی ئې د فرشتو په سنګ کښې تذکره کوی چې د ګلی مشر یو پیره کنځل اوکړی چې هلکه بے غیرته نه خکاری ، دې دومره خوشحاله وی ، ناظم صاحب ، صدر صاحب ، زما نوم اغستی دی او دیرې ته ورشی ، ډیر خوشحاله وی ، الله تعالی د نیکو خلقو په مجلس کښې دده تذکره کوی چې تاسو وئیل چې مه پیدا کوه ، نن فلانکی د فلانکی ځوئی زما کتاب ته ناست وو - د قرآن کریم تعلیم او محفل وو دی وجی نه الله تعالی په صحابو کرامو سلامونه لیږلی دی -

## واقعه د ابوبکر رضی الله عنه او ابی ابن کعب رضی الله عنه

نبی علیه السلام ابوبکر رضی الله عنه ته وائی :
ابوبکر الله تعالی درباندی سلام وائی ،
ابوبکر رضی الله عنه وائی : سَمَّانِیْ په ژړا شو ، نبی علیه السلام ته وائی : سمّانی ،
نبی علیه السلام ابیّ بن کعب رضی الله عنه ته وائی : ما ته تلاوت اوکړه ، او ما ته الله تعالی حکم اوکړو ، چې ابیّ ته اوایه ، چې تا ته تلاوت اوکړی -
ابیّ رضی الله عنه وائی : سمّانی ، زما نوم ئې یاد کړی دے ، نو په ژړا شو ، اَللّٰهُ سَمَّانِیْ ،
نبی علیه السلام ورته وائی : اَللّٰهُ سَمَّاكَ او الله تعالی ستاسو نوم اخیستی دے -
دغه انعامات په قرآنی تعلیم باندے ملاویږی نن صبا دور کښې خلقو د غیر تعلیم راوغستلو ، د لارډمیکالے تعلیم ، انګریزی ، فزکس ، کمسټری ، بیالوجی ، باټنی ، دا د انګریزو تعلم روان دے ، او د هغوی ژبه عامه ده نو نن صبا اوګوره ، چې ددے تعلیم اثرات څومره دی په معاشره باندې؟

## قاعده کلیه

مونږه قاعده ذکر کړیده چې د کوم څیز تعلیم کیږی د هغې سوچ جوړیږی - نن معاشره کښې د قرآنی تعلیم په ځای انګریزی تعلیم د ماشوم دپاره ، د باډئ نومونه **parts of body** راویستل ، او د پښتو د هندسو په ځاے ئې ورته دانګلش هندسی ، **one , two , three** راویستل ځکه نن په ماشومانو هغه اثرات دی - که د کلمه توحید تپوس ترے اوکړی هغه ورله نه ورځی ، الله تعالی نه پیژنی ، پیغمبر نه پیژنی ، سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ورله نه ورځی ، مونځ ، روژه ورته نه وی یاد ، او د انګریز د تعلیم اثر پرې ډیر وی ځکه هر وخت هغې کښې مشغول وی نو هغه به ورته یاد وی - په ځوانانو باندے دانګریز د رسم رواج ، ثقافت ، لباس ، او د هغه شکل شباهت د هغه د انداز اثر دے پرې نو هغه په هغې مشغول وی ، د خپل دین او قرآنی تعلیم ، ناظره ، حفظ ، ترجمه ، تفسیر ،

او دارنګه د قرآنی اخلاقو او قرآنی آدابو معلومات ورته هم نه وی یاد - او ده انګریزی معاشری نه متاثره وی نن صبا زمونږ نوجوانان که په شعبه د تعلیم کښې دی نو دی هیډماسټر ، پرنسپل ، ډاکټر ، منیټر ، سټك ، کلاس ، بریك ، بلیك بورډ ، ډسك ، فارم ، سرټیفیکیټ ، غرض چې څومره د تعلیمی اداری سره منسلك معلومات وی نو هغه به ورته یاد وی خو که ده ته پته نه وی ، نو د الله تعالی باره کښې ورته نه وی ، د پیغمبر باره کښې به نه وی ، د اسلام باره کښې به نه وی ، د ایمان باره کښې به نه وی ، د اسلام د کلمه توحید باره کښې معلومات به ورته نه وی -

نواقض د ایمان او د اسلام نه پیژنی ، د مونځ د واجبات او سنن ، فرائض ، مستحبات ، مکروهات ، نواقض نه به نه وی خبر -

غرض چې څوك په کومه شعبه کښې دے نو هغه ته د هغې معلومات وی ، مثلاً : ډاکټری حاصلوی، نو ده ته دوایانی ، میډیسن ، ډرافس ، انجکشن ، ټمپریچر ، واټ ، بینچ د هسپتال د هر شے چې د هغې متعلقات دی نو هغه پیژنی -

چې څوك تجارت سره تعلق لری ، نو دې هر شی پیژنی ، زمیدار ، لور ، رمبی ... مستری انجن ، بریك

، کلچ وغیره - ټیلرز ، مشین ، سیپي ، پیرکۍ ، موټر ، نڅه ، کټنګ وغیره -
غرض چې د کوم څیز تعلیم کیږی نو د هغې ذهن سوچ جوړیږی - نن زمونږ مشران اوګورئ ، هغوی اکثریت نه دنیوی او نه انګریزی تعلیم کړی وی ، او نه ئې قرآن کریم تعلیم کړی وی ، خو هغوی هم د عام معاشری نه متاثره وی چې معاشره کښې خلق څنګه زندګی تیروی نو دوی هم د اولاد تربیت په هغه طریقه کوی ، نو نن صبا دغه مشران د انګریزی تعلیم د فضاء دغلبې د وجی نه د هغوی جوړ شوی آلات ، فیس بك کوی ، واټساف کوی ، یوټیوب کوی ، نیټ کوی ، د مشرانو سره هم دا فکر نشته چې زما عمر لاړ په ختمیدو دے په آخری لمحاتو کښې یم ، خپې می د قبر په غاړه دی ، چرته قرآن کریم راوخلم ، مولوی صاحب نه قرآن کریم اوایم ، درس ته کینم ، چرته تبلیغ کښې لاړ شم ، چرته د خپل اولاد غم اوکړم ، د هغوی ددین فکر اوکړم ، د هغوی د عقیدی ، اعمالو ، اخلاقو ، معاملاتو فکر اوکړم ، دا فکر ورسره نشته -
غرض دا هر څه چه کیږی ، نو په تعلیم قرآنی باندے کیږی د چا سره چه تعلیم د قرآن کریم وی او په هغې روان وی نو هر څه به برابر وی - الله تعالی دی زمونږ مینه او محبت د قرآنی تعلیم سره پیدا کړی -

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# فطرتِ انسان

## فطرت انسان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{حُنَفَاءَ ويقِيْمُوْا الصَّلَاةَ ويؤْتُوْا الزَّكَاةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ} [البينة: 5]**

وقال النبى صلى الله عليه وسلم :

مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُوْلَدُ عَلَى الفِطْرَةِ ، [صحيح البخارى 2/ 95]

الله تعالى زمونږ او ستاسو مالك خالق دے او مونږ او تاسو د الله تعالى مملوك او مخلوق يو لكه څنګه چې مونږ او تاسو د الله تعالى مخلوق نو يو دغه رنګه دا پوره كائنات هم دالله تعالى مخلوقات دے ، او الله تعالى د كائنات تخليق په عجيب او نااشنا انداز سره كړى دے - په كائنات كښې چې څومره مخلوقات دى ، لكه نباتات ، حيوانات ، مائعات ، جمادات هر يو مخلوق لره الله تعالى خپل خپل مزاج او فطرت او طبيعت وركړى دے - چې كله څه ركاوټ نه وى نو هر يو مخلوق د خپل فطرت او مزاج مطابق چليږى ، مثلاً :

## مثال اول د فطرت

د اوبو مزاج دے په خكته باندے تلل او بهيدل - كه چرته ركاوټ و مانع دى مزاج او طبعيت ته نه وى موجود نو اوبه په خپل مزاج چليږى او په خكته باندے ځى ، خو كچرته دى ته ركاوټ او موانع راشى ، مثلاً : څوك ديته غټ ګټ كيدى ، يا ورته بند اوهى ، يا ورته ديوال اوهى ، نو اوبه خپل مزاج پريدى ، خو بيا هم دا موانع لرى كړه نو د اوبو خپل مزاج په خكته بهيدل دى دا به بيا هغه شان خكته ځى -

## دویم مثال

دارنګه د درنده ځناور مزاج نور ځناور او انسانان شلول او ماتول دی - کچرته د زمری بچی په کور کښې د ګډو بیزو سره اوپالی ، او هغه د خپل مزاج نه خبر نه وی ، د خپل مزاج دپاره هغه له سبق وئیلو ته ضرورت نه وی ، څه تعلیم ته ضرورت نه وی - دا د ګډو بیزو سره پالل دا هغه ته مانع دی د خپل مزاج نه - کچرته دا مانع ختم شی او دی خپل د زمرو ماحول ته لاړ شی نو ډارك دے خپل مزاج ته منتقل شی -

## دریم مثال

دارنګه مداری په میله کښې ماران ګډوی حالانکه دا د مارانو مزاج نه دی - په جادو او دمونو او نظر بندو باندے هغه مار د خپل مزاج نه اوباسی او موانع ورته جوړ کړی او ماران ګډوی - کچرته دغه موانع ختم شی نو ماران خپل مزاج غواړی او خپل فطرت او طبیعت ته ډارك واپس کیږی -

دارنګه انسان هم یو مخلوق دے - او په ټولو مخلوقاتو کښې اشرف المخلوقات دے ، قرآن کریم فرمائی :

**{وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِیْ آدَمَ } [الإسراء: 70]**

**{لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِی أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ} [التين: 4]**

په عجیبه بناوټ باندے انسان جوړ شوی دے ، نو دغه شان د انسان هم یو مزاج او طبیعت دے ،

## تعریف د فطرت

فطرت څه ته وائی : چې د هر مخلوق په خلقت او پیدائش او د هغه په خمیره کښې الله تعالی هغه ایخودی وی چې دی هم په دغی فطرت پسې ځی چه پیدا وی هغه غواړی چې کله څه رکاوټ ، موانع ددغی نه نه وی ، نو انسان او هر مخلوق په دغه فطرت باندے وی ، یو مزاج او فطرت وی ،

چې انسان ئې د نورونه حاصلوی -

## تقسیم دفطرت

او یو هغه مزاج او فطرت وی ، چې الله تعالی دده په خلقت او دده په خټه کښې دده په اصل کښې یعنی که انسان شی نو دده په روح کښې هغه ایخودی وی -
دلته مونږ د هغه فطرت او مزاج تذکره کوو چې دده په خټه کښې الله تعالی ایخودی وی ، اوس انسان ددغه مخلوقاتو نه یو مخلوق دے -

## د انسان فطرت

د انسان مزاج څه څیز دے ؟ فطرت او طبیعت د انسان څه دے ؟ د انسان فطرت او مزاج د الله تعالی په طرف ځان جوړول ، الله تعالی منل دی ، الله تعالی ته محتاجی کول ، د الله تعالی عبادت کول ، الله تعالی ته عاجزی کول ، الله تعالی خوښول دی ، او د الله تعالی سره تعلق جوړول دی ، ددے وجه نه انسان په ټولو کښې افضل دے -

## قاعده کلیه

او قاعده داده : چې افضل مفضول ته سجده او تابعداری نه کوی ، نو د انسان د ځان نه اوچت ذات سره تعلق قائمول دائی مزاج او فطرت دے - دی وجی نه حدیث قدسی دے -
وَإِنِّی خَلَقْتُ عِبَادِیْ حُنَفَاءَ کُلَهمْ ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّیاطِیْنُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِیْنِهِمْ . [صحیح مسلم 4/ 2197]
مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ إِلَّا یُوْلَدُ عَلَى الفِطْرَةِ ، فَأَبَوَاهُ یُهَوِّدَانِه أَوْ یُنَصِّرَانِه ، أَوْ یمَجِّسَانِه . [صحیح البخاری 2/ 95]

ددی احادیثو نه معلومیږی ، چې انسان فطرتاً او د هغه په خټه او خمبیره کښې دا خبره اچولی شوی ده چې دی به د الله تعالی په طرف وی ، الله تعالی به غواړی ، هغه سره به تعلق قائموی ، د

هغه عبادت به کوی - خو چې څنګه د هر مخلوق مزاج وو او هغوی ته رکاوټونه راتلل نو دغه شان انسان د انسانی فطرت نه اړولو دپاره هم مختلف موانع او رکاوټونه دی - چې کله دغه رکاوټونه ختم کړی نو انسان خپل فطرت ته واپس راشی -

## موانع الفطرة

د هغې موانع او رکاوټونو نه دری / ۳ مونږ دلته ذکر کوو : (۱) حجاب سوء معرفت (۲) حجاب رسم (۳) حجاب طبع -
دیته استاذان حجابات ثلاثه وائی ، دا د انسانی فطرت ، موانع او رکاوټونه دی -

## حجاب سوء معرفت

حجاب سوء معرفت : مطلب جهالت او بے علمی ددے وجی نه انسان اکثر د خپل فطرت نه اوړی ، الله تعالی د کائنات د ذرې ذرې نه معلومیږی او خکاری د کائنات یوه یوه ذرّه د خپل خالق خبرداری ورکوی ، زمکه ، آسمان ، نمر ، سپوږمۍ ، ونې بوټی ، دریابونه ، غرونه ، حیوانات د کائنات هغه د الله تعالی د قدرت او کمال نظاری دی - که انسان دی څیزونو ته سوچ اونکړی او الله تعالی معلوم نه کړی ددے دومره قدرتونو نه - چې انسان ځان ته هم لږ سوچ اوکړی خپل خلقت ته سوچ اوکړی ، نو دی به الله تعالی اوپیژنی ، نو دعدم علم و جهالت د وجی نه په کمالات او قدرتونو د الله تعالی باندے دهوکه شی او دا د غیر کمالات اوګڼړی ، او یا ترے انکار اوکړی ځکه علم ئې نه وی ، نو کله مشرك شی او کله ملحد شی - نو انسانی فطرت ته یو مانع جهالت او ناپوهی ده چې انسان د خپل فطرت نه اړوی - قرآن کریم :
{قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ} [الزمر: 9]
{ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُوْنَ قَالُوْا سَلَامًا} [الفرقان: 63]
داسې قرآن کریم کښې ډیر آیاتونه دی ، ددے باره کښې -

## حجاب رسم

(۲) حجاب رسم : مطلب د ماحول پرده - اکثر انسان د ماحول د وجې نه خپل فطرت پریدی او هیر ئې کړی ځکه په ماحول کښې دده ملګری وی ، رورولی وی ، خاندان وی ، قام قبیله وی هغوی په ناحقه باندے وی نو دی هم د هغوی سره خپه خپه کیږی ځکه وائی چې قام قبیله رانه بائیکاټ کوی ، ملګری راسره ملګرتیا ختموی ، په کلی علاقه کښې شرمیږم ، خلق به راپوری خاندی د ماحول د وجې نه دین ، اسلام ، توحید ، الله تعالی ، پیغمبر پریدی خو ماحول قام قبیله خاندان نه پریدی او وائی چې که دین دار شوم ، جومات ته لاړم ، قرآن کریم او حدیث شریف زده کولو ته کیناستم ، د اسلام خدمت می شروع کړو نو خلق به وائی چې د ځان نه دی څه شیخ جوړ کړی دے ؟ خلق به راپوری خاندی - غرض د ماحول د وجې نه خپل فطرت چې د الله تعالی په طرف باندے کیدل دی او د الله تعالی تابعداری عبادت احتیاجی کول دی هغه پریدی او ماحول قبول کړی - دا دویم مانع او رکاوټ وو فطرت انسانی ته -

## حجاب طبع

(۳) حجاب طبع : مطلب د طبیعت او نفس خواهشات ددے وجې نه اکثر انسان خپل مزاج او فطرت پریدی ، حب جاه ، بدنی خواهش ، عیش عشرت :

**{زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [آل عمران: 14]**

د بی بی په سوچونو کښې کله یو طرف ته کله بل طرف ته ګرځی ، د هغې مینی لیونی کړی وی ، کله د اولاد مینی لیونی کړی وی ، کله حب مال ، او جائیداد پسې منډهی وهی ، سره زر وی ، سپین زر وی ، آسونه وی ، ګاډی وی ، موټرې وی ، جائیدادونه وی - دا ټول د طبیعت او نفس خواهشات دی نو انسان دیکښ اخته شی او خپل فطرت ترے هیر وی ، الله ئې هیر وی ، دا ئې سوچ هم نه وی چې زه د چا بنده یم او د چا امتی یم ؟

اوس چې کله اوبه خپل مزاج او فطرت پریدی او ډیری یخی کړی شی نو د هغې نه واوره جوړه شی ، او د اوبو نوم ترے هم ختم شی ځکه بیا ورته خلق اوبه نه وائی ، واوره ورته وائی - دغه شان چې کله انسان خپل مزاج او فطرت هیر کړی نو ده ته قرآن کریم بیا انسان نه وائی کله ورته :
{أُوْلَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ} [الأعراف: 179]
{ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا} [الجمعة: 5]
داقسم القابات قرآن کریم دغه انسان له بیا ورکوی چې کله انسان خپل مزاج فطرت او طبیعت پریدی - دا انسان خپل فطرت پریدی ، کله د مال دولت د وجی نه ، کله د ناپوهی د وجی ، کله د کاروبارونو د وجی نه ، کله د مارکیټ د وجی نه ، کله د بینکونو ، سکولونو ، کالجونو ، وکالتونو ، هسپتالونو ، ډاکټرانو ، انجینیریانو ، نوکریانو ، روپو د وجی نه ، کله د خپل نفس د خواهش او د مالونو پوره کولو د وجی نه ، کله د قام قبیلې خاندان طرف داری د وجی نه خپل منعم هیر کړی او محسن هیر کړی -

## تیقظ

الله تعالی دغه انسان چې فطرت ئې اوده وی د دی څیزونو د وجی نه د هغه او ده فطرت راویخوی کله دعلماء په ذریعه ، کله د بیماری په ذریعه ، کله د حالات په ذریعه ، کله د مهنګائی په ذریعه ، کله د سیلابونو په ذریعه ، کله د زلزلو په ذریعه ، مختلف حالات راولی - انسان ته آواز کوی - چې واپس شه خپل فطرت ته - کله دا اوده انسان الله تعالی سمندر کښې ګیر کړی ، چې دی ماته واپس شی
{هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنْتُمْ فِى الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوْا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوْا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشَّاكِرِيْنَ} [يونس: 22]
دغه اوده فطرت والا انسان چې الله تعالی ته لاس اوچت کړی او آواز کوی ، اے الله تعالی ما معاف کړه ، الله تعالی دومره مینه کونکی ذات دے ، وائی : بنده :

{لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ} [الزمر: 53]
{ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ} [البقرة: 173]
{وَأَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ} [النور: 10]

انسان په دې مزو او چرچو کښې وی ناڅاپئ کښې :

اچانك دده په بهار زندګی باندے خزان راشی ، نوکرئ نه ئې اوباسی ، ښځه ئې بیماره شی ، مارکیټ ته اور اولګی ، سیلاب راشی کور ورله یوسی ، بچی په انګلینډ کښې سبق وائی ، دماغ یې خراب شی ، واپس راشی ، بل بچی ډاکټر وی ، هغه باندے د الله فیصله راشی وفات شی ، کروړ پتی انسان ناڅاپه غریب شی ، او دبل د صدق لائق شی - چې د هر څه او هر چا نه نا امیده شی ، هر څه ختم شی ، نعمتونه لاړ شی ، خوشحاله وی خفه شی ، مزی چرچی ختم شی نو دده فطرت رابیدار شی بیا خپل خالق اوپیژنی او هغه ته آواز شروع کړی ، هغه سره تعلق قائم کړی ، د هغه عبادت شروع کړی ، نو دا ټول څیزونه دده فطرت ته رکاوټ وو ، هغه لرې شو ، نو دې خپل فطرت ته واپس شو نو الله تعالی دې اوکړی چې زمونږ او ستاسو فطرتونه رابیدار کړی چه مونږ او تاسو د الله تعالی په طرف باندے شو -

بسم الله الرحمن الرحيم

# موت

## موت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِى تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيْكُمْ} [الجمعة: 8]

وقال تعالى : { كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ} [العنكبوت: 57]

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : اَلْمَوْتُ تُحْفَةُ الْمُؤْمِنْ

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : إِنَّ القَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ ، [سنن الترمذى 4/ 130]

په دنیا کښې د انسان منډه او سوچ تر مرګه پورې وی ، د خپل مقصد دنیا ګرځولی وی ، او په دې دنیا پسې دې خپله هم منډه وهی ، او خپل اولاد ئې هم ورپسی په منډه کړی وی - مقصد ئې دا وی چې مونږ عزت مند شوی په آرام شوی ، په معاشره کښې مو په عزت زندګی تیرولی ، خلقو راته په درنه سترګه کتلی او سوچ مو دا وی چې دی دنیا کښې چا سره غټه عهده وی ، ډیر مال وی ورسره ، نوکری وی ورسره نو هغه کامیاب دے - خو دا سوچ به هله صحیح وی چې زمونږ او ستاسو قصه په مرګ باندے ختمیدلی خو حقیقت دا دے چې زمونږ او ستاسو قصه په مرګ نه خلاصیږی بلکه د مرګ نه روستو اصل زندګی شروع کیږی چې هغه یوه ډیره لویه زندګی ده ، لوے حساب کتاب دے ، دی دنیا کښې که مونږ خه کوو او که بد کوو نو د مرګ نه پس به د ولی جواب ورکول غواړی -

فَإِنَّ اليوْمَ عَمَلٌ وَلاَ حِسَابٌ ، وَغَدًا حِسَابٌ وَلاَ عَمَلٌ . [صحيح البخارى 8/ 89]

بختور انسان هغه دے چې د سبا دپاره خه تیاری اوکړی چې د مرګ نه روستو ئې پکار راشی -

{يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اتَّقُوْا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ} [الحشر: 18]

ځکه زمونږ ګمان دا وی چې مال وی ، تجارت وی ، نوکری وی ، جائیدادونه وی ، بنګلی مارکیټونه وی ، هوټلی وی ، پارکونه وی ددنیا دپاره محنتونه وی - مونږ وایو چې دی سړی ډیری

منډهی اووهلی نو ګمان دا وی چې دی به کامیاب وی - الله تعالی ئې قرآن کریم کښې مثال وائی :
{مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِى هَذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْا أَنْفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ} [آل عمران: 117]

چې دنیا دپاره منډهی وی نو چې مرګ راشی ، نو دا زمونږه دنیا نه شی کامیاب کولی -

دارنګه :

{الْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [الكهف: 46]

{وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ بِالَّتِى تُقَرِّبُكُمْ} [سبأ: 37]

دا ظاهری ډول ډال خائست او فیشن مالونه ، دولتونه چې کله د ایمان په رنړا کښې نه شی کولی ، دا د مرګ نه روستو نه پکاریږی - چې کوم کار کښې د الله تعالی حکم د پیغمبر طریقه او د اسلام قانون نه وو نو دا دین نه دی بلکه دنیا ده -

## د ائرپورټ خپل ټکټ وی

یو سړی کراچی ته ځی ، او ټکټ ئې د ریل اغستی دے ، او روان دے ، اسلام آباد آئیرپورټ ته ، نو ده کراچی د ریل ټکټ د اسلام آباد آئیرپورټ کښې نه چلیږی ، د هری اډی خپل خپل ټکټ وی - چې کله انسان مړ شی نو دده د آخرت په آئیرپورټ چې هغه قبر دے په هغې باندے پرواز وی ،

## د آخرت د ائرپورټ ټکټ او سوالونه

نو ددغه آئیرپورټ ټکټ هغه درې / ۳ سوالونه دی : (۱) مَنْ رَّبُّكَ (۲) مَا دِيْنُكَ (۳) مَا تَقُوْلُ فِى حَقِّ هٰذَا الرَّجُلِ -

## مَنْ رَّبُّکَ

(۱) مَنْ رَّبُّكَ : تپوس به کوی چې دنیا کښې دی رب څوک وو ؟ د چا د تربیت لاندې دی زندګی

تیروله ؟ د چا په حکم به چلیدی ؟ کاروبار دی چا په حکم کوو ؟ سکول کښې د چا حکم لاندی وی ؟ ډاکټری کښې دی د چا حکم منلو ؟ او عمل دی پرې کولو - په سیاست کښې دی چا حکم منلو ؟ فیصلې دی د چا د حکم لاندی کولې ؟ کچرته ددے ټولو په جواب کښې ، الله راغے ، نو صحیح ده ، کنه دا جواب غلط او ټکټ کینسل شو - دا ټکټ د آخرت په آئیرپورټ کښې نه چلیږی - که یو سړی وائی چې زه به د ورځی سل / ۱۰۰ مرتبه دا وظیفه کوم ، مَنْ رَّبُّكَ ، رَبِّيُ اللّٰهُ ، خو زندګی او معاشره کښې ئې ځان له نور خدایان جوړ کړی وی ، نور خدایان منی ، په هغوئ پسې روان وی نو قبر کښې بیا به وائی : لَا اَدْرِیْ چې ما ته پته نشته ، بیا ربي الله نه شی وئیلی ځکه کاروبار کښې ئې د الله تعالی د حکم خیال نه وی ساتلی ، تجارت کښې ئې د الله تعالی د حکم خیال نه وی ساتلی ، کله په سود کاروبار کوی ، کله د رشوتونه کاروبار چلوی ، نوکری کښې ډاکټری ، انجینیرئ کښې ، پټی ، زمیدارئ ، سکول ، کالج ، هسپتال ، کچرئ ، سیاست کښې ئې د الله تعالی د حکم خیال نه ساتلو -

## مَادِيْنُكَ؟

(۲) مادینك : تپوس به کوی چې ده ژوند د تیرولو دی څه وو ؟ د چا په قانون دی زندګی تیروله ؟ غم ، ښادی ، پیدائش ، سنت ، سیاست ، قضاوت ، تجارت ، نوکری ، سکول ، کالج ، یونیورسټی ، لین دین دی د چا په قانون کولو ؟ خپلې فیصلې دی کوم قانون له اوړی ، نو آیا کچری دا ټول کارونه ئې د انګریزانو او یهودیانو په قانون دی نو بیا به دی وائی : هَاهْ هَاْ لَا اَدْرِیْ ، ما ته پته نشته -

او که چرته زندګی ، معاش ، معاشرت ، او دا ټول کارونه ئې موافق د قانون اسلامی او شریعت محمدی ، او قرآن کریم ، چې قانون خداوندی دی د هغې موافق کړی وو نو دی به جواب ورکړی چې دین می اسلام وو - زما په بدن کښې اسلام خکاریدو ، زما معاشره ، معاش ، تجارت ، غم ښادی کښې اسلام وو ، نو جواب کښې به دِيْنِیَ الْاِسْلَامُ راځی ، نو دا ټکټ به هم پاس شی - آخری حصه د ټکټ هغه ده مَا تَقُوْلُ فِی حَقِّ هٰذَا الرَّجُلْ ؟

## مَا تَقُوْلُ فِى حَقِّ هٰذَا الرَّجُلِ ؟

(۳) ما تقول فی حق هذا الرجل : تپوس به کوی ، د نبی علیه السلام باره کښې چې دی سړی باره کښې دی څه سوچ وو ؟ صرف لا اله الا الله محمد رسول الله اووئیل چې دا خو زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم دے - ستا او ددے سړی څه رشته وه ؟ ددے خبرے باره کښې به تپوس کیږی ، وائی به چې ددے سړی حق دی ادا کړی وو ؟ ځان دپاره دی زندګی کښې ماډل څوك ګرځولی وو ؟ غم ښادی ، واده کویږدن ، پیدائش سنت ، کور ، کلی ، زندګی ، دمعاشری زندګی ، د مور پلار سره زندګی ، د بی بی سره زندګی ، د بهر مخلوق سره زندګی ، د کاروبار او معاش زندګی ، د سفر حضر زندګی ، د سیاست ، قضاوت زندګی ، د سکول او کالج زندګی ، د تعلیم او صحت زندګی کښې دی د چا په طریقه عمل کولو ؟ ځان دپاره دې دی کښې ماډل څوك جوړ کړی وو ؟ که چرته دی ټولو کښې ستا د پاره ماډل نبی علیه السلام وو او تا د هغه په طریقه زندګی تیروله نو جواب به ورکړی چې دا زمونږ پیغمبر ، راهنما ، مرشد وو جناب محمد صلی الله علیه وسلم

**{ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ} [الأحزاب: 21]**

او که ځان له دی ، شکل ، شباهت ، لباس ، اخلاق ، اعمال ، افعال ، اقوال کښې او دارنګه زندګی په وړه معاشره او لویه معاشره کښې ماډل انګریز جوړ کړی وو ،

او دارنګی په انګریزی طریقې دی زندګی تیروله ، نو بیا دی دا جواب دی : هَاهْ ، هّاهْ ، لَاَادْرِیْ ، لَاَادْرِیْ ، ما ته پته نشته زه دا سړی نه پیژنم ، نبی علیه السلام فرمائی :

**لَا يؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِه .[مشكاة المصابيح 1/ 255]**

چې ستا طبیعت یو څه غواړی او نبی علیه السلام طریقه بدله وی - چې کله هغه د نبی علیه السلام طریقه پریخودله او خپل طبیعت دی واغستلو نو ایمان دی ایمان نه دی ، صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین چې کامیاب وو په هغوی د :

**{رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ} [المائدة: 119]**

{وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ} [آل عمران: 152]
{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ } [البقرة: 5]
{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ} [البقرة: 157]
{أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ } [الحجرات: 7]
{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ } [التوبة: 20]

دا اعلانات د بره نه راتلل ، صرف وجه دا وه چې هغوی خپله زندګی ماډل د نبی علیه السلام جوړ کړی وو ، د هغوی زندګی ، ډوډئ ، اوبه ، اوده کیدل ، اودس ماتی ، حاجت پوره کول ، کاروبار ټول دنبی علیه السلام په سنت طریقه باندے وو ځکه د هغوی باره کښې فرمائی :

أَصْحَابِىْ كَالنُّجُوْمِ بِأَيِهِمُ اقْتَدَيتُمُ اهْتَدَيتُمْ . [مشكاة المصابيح 1/ 275]

نو قبر د بل جهان آئیرپورټ دے ، چې دغه آئیرپورټ باندے ټکټ پاس شو ، او دغه مرحله تیره شوه ، نو بیا کار اوشو ، روستو به چې ك پوسټ وی ، خو صرف لږ چکنګ به کوی ، او وائی به چې ځئ مخکښې ، د الله تعالی په حکم د نبی علیه السلام په طریقه او د اسلام په قانون کښې آزادی ده او ددے نه علاوه مکمل غلامی ده -

## حدیث د نبی علیه السلام

حدیث کښې راځی :

چی کله انسان دا دري / ٣ جوابات صحیح ورکړی نو فرشتئ به ورته اوائی چې دا دی کوم ځاے دی زده کړی دی ؟ دی به جواب ورکوی چې قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ - نن امت په اجتماعی طور سره قرآن کریم شاته غورځولی دے حتی کښې بادشاهانو ، علماء ، طلباء ، تبلیغیانو ، او عوامو ټولو قرآن کریم پریخودی دے نو ځکه امت مسلمه په دنیا کښې هم په غلامئ او ذلالت کښې دی ، او که داسې وی نو آخرت کښې هم تباه او ذلیله وی - الله تعالی نبی علیه السلام ته فرمائی :

{وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ} [مريم: 39]

## د عمر رضی الله عنه قول

عمر رضی الله عنه فرمائی :
مُوْتُوا قَبْلَ أَنْ تَمُوْتُوا ، وَحَاسِبُوْا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوْا . رَوَاهُ الْبخاری
چی الله تعالی له به ځم ، څه جواب به ورکوم ، هغه جواب ځان له دنیا کښې تیار کړه -

## امام ذهبی رحمه الله

امام ذهبی رحمه الله فرمائی :
که دی خلقو ته پته وی چې روستو د مرګ نه کوم حالات راروان دی نو دوئ به ډېره هم نه وی لګولی - نبی علیه السلام فرمائی :
لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلبَكَيتُمْ كَثِيْرًا .[صحیح البخاری 2/ 34]
نبی علیه السلام فرمائی :
الدُّنْيا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ . [مشكاة المصابيح 6/ 2417]
دنیا د آخرت پټی دے نو آخرت له تیارې کول غواړی ، الله تعالی دی مونږ له په دې عمل کولو توفیق را نصیب کړی - او الله تعالی دی د قبر او آخرت دتیاری توفیق راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# القرآن اسمٌ للنظم والمعنى

## القرآن اسم للنظم والمعنى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوْا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيْلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ وَكَثِيْرٌ مِنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُوْنَ } [المائدة: 66]

وقال النبي صلى الله عليه وسلم : اقرؤا القرآن واتبعوا غرائبه وغرائبه حدوده -

دا د الله رب العزت فضل او احسان دے چې مونږ او تاسو ئې د خپل كتاب ( قرآن كريم ) او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په نسبت او د خپل نوم په نسبت راجمع كړو -

دا نعمت مونږ او تاسو په عقل باندے نه شو حاصلولی ، قرآنی كريم د الله تعالى كلام دے ، او كلام الملوك ملوك الكلام ،

## روايت د ابن عمر رضى الله عنه

دبادشاهانو خبرے د نورو خبرو بادشاهانی وی - قرآن كريم يوائى د الفاظو نوم نه دى بلكه د معنى نوم هم دے - عبدالله ابن عمر رضى الله عنه ابن روايت ماجه نقل كړی دے ،

فَتَعَلَّمْنَا الْإِيمَانَ قَبْلَ أَنْ نَتَعَلَّمَ الْقُرْآنَ ، ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ فَازْدَدْنَا بِهِ إِيْمَانًا .[سنن ابن ماجه 1/ 23]

دي روايت كښې لوے سبق دے ، ددے حديث خلق مختلف مطلبونه بيانوی ، څوك وائى مونږ ايمان عقيده او دقرآن كريم نچوړ مخكښې زده كړو بيت روستو مو الفاظ زده كړل - څوك وائى مونږ اول ايمان زده كړو نو اول ايمان دے روستو قرآن كريم دے - اوس د ناپوهئ د وجى نه يو ناپوهه سړی سوال كولی شی چې قرآن كريم كښې الله تعالى پيغمبر عليه السلام ته فرمائى :

{مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيْمَانُ} [الشورى: 52]

تا ته د ایمان او د کتاب څه معلومات نه وو یعنی ته د کتاب نه او د ایمان نه خبر نه وی نو کله ما قرآن کریم راولیږلو نو ته د کتاب ، قانون او ایمان نه خبردار شوی ، او حدیث نه معلومیږی چې اول ایمان دے بیا روستو قرآن کریم دے نو دا خو ظاهراً تعارض معلومیږی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم ایمان د قرآن کریم نه مخکښې په بل څه باندے زده کوو ؟

جواب : دادے ، چې صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی : چې اول مونږ اجمالی ایمان زده کړو ، بیا تفصیلی ایمان چې الله تعالی کوم ذات دے ؟ د هغه څه قدرتونه دی ؟ دا په الله د تعالی ایمان مطلب دے ، چې د قرآن کریم ایمان عقیده څه مطلب دے ، او حقوق د قرآن کریم څه دی ؟ دا تفصیل مو روستو زده کړه -

ځکه صحابه کرام رضی الله عنهم : تَعَلَّمْنَا الْإِيْمَانَ مونږ اول ایمان په قرآن کریم ، عقیده په قرآن کریم برابر کړه ، روستو مو د قرآن کریم الفاظ ، حفظ ، تجوید زده کول شروع کړل ، نو دا لازم دے چې د حفظ مدارسو کښې د الفاظ نه مخکښې طلباء باندے د قرآن کریم عقائد او ایمان ورته اوښائی

چه د رسالت او نبوت د ایمان مطلب دادے : د آخرت ، فرشتو ، کتابونو ، بعث بعد الموت ، د ایمان مطلب دا : مونږ د قرآن کریم نه زده کوو ، نو اول اجمالی ایمان د تفصیل د ایمان مو د قرآن کریم نه زده کړو ، نو فَازْدَدْنَا بِه إِيمَانًا ، زمونږ ایمان ترقی په قرآن کریم سره اوکړه نو د قرآن کریم نه مخکښې مونږ ته د ایمان د تفصیل پته نه وه - بیهقی دغه روایت تفصیلی حل کړی دے -

## تعريف د قرآن من حسامی نورالانوار

زمونږ د اصول مشهور کتابونه ، حسامی ، نور الانوار کښې د قرآن کریم تعریف چې کوی نو فرمائی :

اَلْقُرْآنُ اِسْمٌ لِلنَّظْمِ وَالْمَعْنٰى جَمِيْعاً ،

مطلب دا دے چې قرآن کریم د الفاظو او دمعنی دواړو نوم دے ځکه صاحب دحسامی دارنګه

ملاجیون دا خلق عریبان وو هغوی په معنی پوهیدل ، د هغوی معنی ته څه حاجت نه وو ، خو قرآن کریم یواځې د الفاظو نوم نه دی بلکه د معنی نوم هم دے ، نو ددے " والمعنی " څه مطلب دے ؟ چې ترجمه ئې وائی ، دا مطلب دے ، نه نه ،

## قول د کابلګرام شیخ رحمه الله

کابلګرام شیخ صاحب رحمه الله به فرمایل : چې تا د قرآن کریم الفاظ زده کول ، مطلب : ناظره دی اوکړه ، حفظ دی اوکړو ، تجوید دی اوکړو ، سبع عشره دی اوکړه ، د قرآن کریم لفظی ترجمه دی هم اوکړه ، تفسیر دی هم اوکړو ، توجیهات دی هم زده کړل ، ربطونه ، دعوی ، خلاصی دی هم یادی کړی ، د قرآن کریم صرفی تحقیق دی هم اوکړو ، سه اقسام ، شش اقسام ، هفت اقسام دی هم زده کړل ، ثلاثی مجرد ، مزید ، مثال ، اجوف ناقص ، مضاعف دا ټول دی جدا جدا کړل ، اجراء دی اوکړه ، نحوی تحقیق دی هم اوکړو ، ترکیب د نحوی دی زده کړو ، فاعل ، مفعول ، مضاف ، مضاف الیه ، مبتداء ، خبر دی ، ټول اوپیژندل ، معلوم دی کړل ، اصولی تحقیق خاص ، عام ، مشترک ، موؤل ، حقیقت ، مجاز ، صریح ، کنایه .. الخ ، اصولی اجراء هم په قرآن کریم کښې اوکړه ،

دارنګه منطقی طرز دی په قرآن کریم کښې جاری کړی وو ، تصور ، تصدیق ، صغریٰ ، کبریٰ ، نتیجه د شکل اول ، شکل ثانی ، مقدم ، تالی ، کلی ، جزی ، جنس ، نوع ، فصل ، شرطیه ، حملیه دا ټول اجراء په قرآن کریم کښې اچلوی ، دا ټول او دارنګه علمی معانی ، فصاحت ، بلاغت ، تشبیه کنایه ، استعارات ، محسنات بدیهه ، معنوی ، دا ټول دی په قرآن کریم اوچلول ،

نو شیخ صاحب رحمه الله فرمایل : دا ټول د لفظ تحقیق دے ، القرآن اسم للنظم ، دا صرف د لفظ خدمت دی اوکړو- د والمعنی ، څه مطلب : شیخ صاحب رحمه الله به فرمایل :

چی قرآن کریم د کاغذ دپاڼړی نه د ژوند پاڼړی ته رامنتقل کړئ ، عقیده ، عمل ، اخلاق ، ګفتار ، کردار ، عالم سیاست ، قیادت ته ، نو اوس قرآن قرآن شو-

اسم للنظم والمعنى جميعاً شو - په سکولونو او مدرسو کښې بعض کتابونه دی چې هغه د عمل دپاره نه وی بلکه نفس د املاء دپاره دی ، د الفاظو زده کړه وی ، عادت کول مقصود وی ، د هغه فن لکه په صرف کښې صیغی شوی ، ضرب یضرب په هغې عمل مقصود نه وی ، نفس گردان یادول مقصود وی ، او زمانه او صیغه پیژندل مقصود وی ، په نحو کښې ، زَیْدٌ مبتداء ، قَائِمٌ خبر ، قَامَ ، فعل ، زَیْدٌ فاعل ، په ضَرَبَ فعل او زَیْدٌ فاعل ، په دې څوك عمل نه کوی ، نفس تراکیب زده کول ، مقصود وی ، دغه رنگې سکولونو کښې وی ، **This is a Table , This is Cat** دغه ځاے عمل مقصود نه وی ، **This is a Ambraila** دغه ځاے عمل مقصود نه وی ، نفس په انگلش باندے ژبه عادت کول مقصود وی چې په انگلش باندے تلفظ زده کړی ، او انگلش اوئیلی شی - نو قرآن کریم ددنیا د کتابونو پشان صرف الفاظ زده کول نه دی بلکه قرآن کریم یو حقیقت دے ،

## علامه اقبال اشعار

علامه اقبال د قرآن کریم باره کښې فرمائی ، د قرآن کریم حقیقت ښائی :

*فاش گویم انچه درد دل مضمراست　　　ایں کتابیں نیست چیزیں دیگر است*
*چوں بجاں در رفت جاں دیگر شود　　　جاں چوں دیگر شود جہاں دیگر شود*

اقبال له هم چرته د هندوستان مسلمانانو زړه تنگ کړی وو چې نن زمونږ د ناظرے ، ترجمی ، ختم دے ، نن د نوی کور ، د نوی دوکان ، د کاکا پسې ختم دے ، ماما پسې ختم دے ، اقبال وائی : صفا خبره درته کوم چې قرآن کریم څه څیز دے ؟ چې دا قرآن کریم زړه ته دننه شی نو زړه کښې انقلاب راولی - نو په عالم کښې هم انقلاب راولی - چې په عالم کښې قرآن کریم نافذ شی په شخصیات کښې هم انقلاب راولی ددنیا په نقشه کښې هم انقلابی راولی - چې کله د کاغذ دپاڼړی نه د ژوند پاڼړی ته منتقل شو ، عملی کتاب شو ، سیاسی کتاب شو ، د معاشری کتاب شو ، د معاش کتاب شو ، د تعلیم کتاب شو ، د صحت کتاب شو ، د قضاء کتاب شو ، د عقیدی

کتاب شو ، د عمل کتاب شو ، د اخلاق کتاب شو ، د معاملاتو کتاب شو ، نو بیا په دې ټولو کښې انقلاب راولی -

## مثال د قرآن کریم

ددی زنده مثال د نبی علیه السلام زمانه وه چې مخکښې جهالت وو ، ظلمت وو ، د قرآن کریم د نزول نه پس رنړا او انقلاب راغے ، په هره شعبه د زندګی کښې ئې انقلاب راوستو ، چې کله انقلاب راغے نو بیا د هندوانو ، انګریزانو ، پیرانو ، عیسایانو ، یهودیانو ، رسم رواجونه ، تهذیب ، ثقافت ، طرز زندګی به ختم شی ، نن بیا خلق په ځان کښې انقلاب نه راولی بلکه قرآن کریم بدلوی او تحریف کوی ،

خود بدلتے نہیں قرآن کو بدل دیتے ہیں ہوئے کس درجہ فقیہان حرم بے توفیق

## نظریه د اکبر بادشاه

ددی دور نه لږ وخت مخکښې اکبر بادشاه وئیلی وو چې د نبی علیه السلام راوړلی شوی نظام ۱۰۰۰ سال اوشو ، اوس هغه دی دور سره نه چلیږی نو اوس زه یو نوی ددے دور سره چلیدونکی قانون جوړوم ، د نورو زرو کالو دپاره -

دارنګی غامدی ، تمنا عمادی ، پرویز ، هم دا خبرے کوی چې دا تیره تشریح غلطه وه کومه چې امام بخاری رحمه الله ، امام مسلم رحمه الله ، امام ترمذی رحمه الله ، امام نسائی رحمه الله ، ابن ماجه رحمه الله ، ابوداؤد رحمه الله کړیده - وائی : اوس نوی تشریح پکار ده ، تاسو ملیانو په غلطه اخته کړی دی ، دا خبره د انګریز وه خو اکبر په خوله ئې خوروله ، وائی : داسې کس پیدا کول غواړی چې دا اوائی چې دا اوسنی تشریح غلطه ده اوس نوی تشریح پکار ده نو اکبر ئې تیار کړو هغه دغه خبره اوکړه او د هغه تالی ستو هم دغه خبره اوکړه -

## شعر د علامه اقبال

نو اقبال ورته وائی :

*خود بدلتے نہیں قرآن کو بدل دیتے ہیں — ہوئے کس درجہ فقیہان حرم بے توفیق*

د قرآن د بدلیدو کوشش کوی ، حالانکه قرآن کریم خپله وائی چې د الله تعالی قانون او فیصله نه بدلیږی -

{لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ} [الأنعام: 115]

{لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ} [يونس: 64]

{ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ} [الرعد: 41]

*حرف او د لاریب نے تاویل نے — آئی ې شرمنده ایں تاویل نے*

ترجمه : نو د قرآن کریم د لفظ د بدلیدو څوك طاقت نه لرې چې کوم خلق د معنی یعنی د ژوند پانړی ته قرآن کریم رانقل کړی نو هغه خلق او هغه ملك ددنیا یو طاقت هم نه شی بدلولی ، او نه په هغې څوك غالب کیدلی شی ، د هغه خلقو اقتصاد هم برابر دی

{لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ} [المائدة: 66]

په قرآن کریم کښې صرف مونځ نه دی چې

{أَقِيمُوا الصَّلَاةَ} [الأنعام: 72]

یواځې روژه په کښې نه ده چې

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ} [البقرة: 183]

یواځې حج په کښې نه دی چې

{وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا} [آل عمران: 97]

{وَأَتِمُّوا الْحَجَّ} [البقرة: 196]

دارنګه یواځې زکوة په کښې نه دی چې

{ وَآتُوا الزَّكَاةَ } [البقرة: 43]

بلکه د معنی ، مطلب دادے چې مکمل قرآن کریم د کاغذ پانړی نه دی ژوند د هری شعبې

پانړی ته دا منتقل کولو ته وائی -
دی وجی نه ابودرالداء رضی الله عنه یو اثر هم دے - د هغې نه مخکښې دا خبره ده چې کله د ضلع مشر ، DPO د طرف نه خط راشی په هغې کښې یو حکم وی چې سبا به یارحسین کلی کښې ډبل سواری موټر سائیکل باندے منع وی ، په کلی کښې ټول خلق یو بل له خبرداری ورکوی چې هلکه DPO صاحب د طرف نه آډر شوی دے چې ډبل سواری بنده ده - نو ټول خلق پرې عمل کوی -
قرآن کریم د الله تعالی نه رالیږلی شوی خط دے مسلمانانو ته چې ددے مطابق خپله زندګی تیره کړئ ، او الله تعالی فرمائی :
{وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْأَلُونَ} [الزخرف: **44**]

## اثر د ابودرداء رضی الله عنه

د ابودردا رضی الله عنه اثر می وئیلی دے هغه فرمائی د قرآن کریم باره کښې :
اِنَّ اَخْوُفَ مَا اَخَافُ كَتَابُ اللّٰهِ لاتبقیٰ آیت اُمرة الا جاءت یوم القیامة فتقول قد اتیتك اُمرة فلم تائمر به ، ولاتبقیٰ ایت زاجرة الا جاءت یوم القیامة فتقول زجرتك فلم تتزجر به ،
ترجمه : چې زه ډیر زیات د الله تعالی دکتاب نه یریږم - د قیامت په ورځ به یو آیت کریمه چې هغې کښې امر شوی وی هغه به وائی : تا په دې حکم عمل ولی نه وو کړی ؟ آیت د زجر به وائی الله تعالی چې زما نه منع کړی وی نو ته ولی نه وی منع شوی ؟ دا ډیر خطرناك اثر دے - نن سبا خلقو دی دور کښې والمعنی : له څه توجه نه ورکوی بس تش د الفاظو په خدمت پسې روان دی

## حسن بصری رحمه الله قول

حسن بصری رحمه الله فرمایلی دی :
چی یو سړی به وائی :

قرأت القرآن كله لايُرى له القرآن فى خُلُقٍ ولا عملٍ

د قرآن كريم په صفاتو كښې يو صفت :

{هُدًى لِلنَّاسِ} [البقرة: 185]

چې دا قرآن كريم د ژوند هدايت دے -

{ إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِيْ لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ} [الإسراء: 9]

خائسته خائسته طريقه اعمال راته ښائى - قرآن كريم چرته دا نه دى وئيلى چې ډاكټرى مه كوه ، انجينيرى مه كوه ، پائيليټ مه جوړيږه ، استاذ مه جوړيږه ، افسر مه جوړيږه ، صدر ، وزير اعظم مه جوړيږه ، فزكس مه وايه ، كمسټرى مه وايه ، بيالوجى ، ميتهس ، انګلش مه وايه بلكه قرآن كريم وائى دا ټول وايه خو زما د قانون د لاندى ، زما د قانون نه په كښې خلاف مه كوه قرآن دا نه وائى چې خوراك مه كوه خو وائى چې حلال خوره - قرآن كريم د نكاح نه نه منع كوى خو وائى د محرمى سره مه كوه - قرآن كريم دى د كاروبار ، معاش ، معاشرت ، سياست ، كچرى ، تعليم ، صحت نه ئې نه منع كوى ليكن قرآن وائى چې دا ټول زما د قانون لاندى اوكه او زما د قانون خلاف ورځى په كښې مه كوه - نو حاصل داشو چې قرآن كريم يواځى نظم نه بلكه معنى هم ښائى ځكه قرآن كريم د ژوند قانون دے ، عقيده درته ښائى ، عمل درته ښائى ، اخلاق درته ښائى ، معاشره درته ښائى ، د معاشرى د اصلاح احكام درته تفصيلاً بيانوى ، د ملك د اصلاح احكام درته بيانوى لكه سورة نور ، سورة احزاب كښې درته معاشره ښائى ، معاش درته ښائى ، سورة بقره درته ښائى ، سياست درته خائى ، په بقره كښې ، سياسى احكام ، اجتماعيت ، اتفاق اتحاد ښائى ، اصول خمسه لتأسيس الجماعة ، حيا درته ښائى ، پاك دامنى درته ښائى ، رسم درته ښائى ، ثقافت ښائى ،

غـــرض ، غـــرض ، غـــرض

د زندګى هر موړ په پار كولو كښې انسان د قرآن كريم د معنى تعليم ته محتاج دے -

بسم الله الرحمن الرحيم

# قُوْا اَنفُسَكُمْ

## قُوْا اَنْفُسَكُمْ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا} [التحريم: 6]

الله رب العزت دنيا ته انسان د يو ذمه دارئ د پوره کولو دپاره راليږلی دے - د انسان ذمه واری ده چې هغه سر ته اورسی - او دی کامياب دے که دا ذمه داری دی پيژندلی يا ئې اوپيژندله - خو هغه ئې سر ته اونه رسوله ، دا انسان ناکام دے ، انسان چې کله په معاشره کښې پاتی کيږی ، په ده باندے د بل فکر او د بل نقصان ، او عيبو ته کتل ورته غالب وی او آسان وی او خپل ځان ترے هير وی حالانکه ما کښې څه نقصان او عيب دے ، دا د ځان نه لری کول مخکښې دی او د بل نه لری کول روستو دی -

(۱)اول خپل ځان ذمه واری ته برابرول دی چې هغه ذمه واری صحيح طريقې سره ادا کړی -

(۲) نورو ته د هغې بيان اوکړی او د هغې احساس په نورو کښې پيدا کړی ، د ځان دا فکر اصل دے او ددے ذمه واری هم زياتی ده ځکه يو پيژندل دی بل په عمل کښې راوستل ، نوره د خلقو ته صرف بيان بيان دے که منی او که نه ؟

### دا نسان دوه ذمه وارئ

خپله ذمه واری ډبل ده ، : (۱) پيژندل دی (۲) عمل کښې راوستل ، د ځان د عمل باره کښې تپوس کيږی البته د بل عمل تپوس نه کيږی د بيان تپوس کيږی - د خپل ځان باره کښې دوه / ۲ تپوسونه : (۱) معلومول ، (۲) عمل کښې راوستل ، دی وجی نه اکثر مونږ ګورو دبل عيب لټوؤ ، او وايو چې فلانکی له داسې پکار وو او خپل ځان رانه هير وی - پختانه وائی : بل ته يوه ګوته نيسی نو څلور / ٤ ګوتی دی خپل ځان ته راځی - نبی عليه السلام فرمائی :

ابصر الناس ، بینا کس هغه دے ، چې هغه ته خپل عیب خکاری - پختانه وائی : خپل عیب د ولو مینځ دے ، د ولو مینځ چا ته نه خکاری ، چا چه خپل عیب لرې کړو داسې شوه چه شاته نظر یې شته او نظر ئې تیز شو - خپل عیب لری کول اول دی مونږ د بل نه ګیله کوو او د بل نقصان ته ګورو خو ځان راته نه خکاری -

## حدیث د نبی علیه السلام

نبی علیه السلام فرمائی : مَنْ سَتَّرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
د یو انسان عیب دے چې د هغې نه امت ته نقصان نشته نو ته هغه باندے پرده واچوه ځکه که خکاره ورته وائی نو دا ورته طعنه ده - خپل نقصانات یاد کړه ، مونځ نه کوم ، دروغ وایم ... الخ ځان سمول درباندې فرض دی ، قرآن کریم فرمائی : قُوْا أَنْفُسَكُمْ -
مونږ معاشره کښې نقصان ددے وجی نه موندلی دے چه د بل نقصان ګورو او ځان رانه هیر وی،
{وَلَا تَجَسَّسُوْا} [الحجرات: 12]
د یو بل نقصاناتو پسې مه ګرځی چې تاسو د یو بل عیوب ګوری بلکه هغه عیوب ورته مخامخ وایی -
{وَلَا تَلْمِزُوْا أَنْفُسَكُمْ} [الحجرات: 11]
بل ته ئې کوو ،
{وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا} [الحجرات: 12]
غیبت مه کوی - مونږ نه بل کس ځان هیر کړی دے د بل نقصان لټولو زمونږ نه خپل ځان هیر کړی دے - پکار ده چه په یو څیز کښې د بل نقصان خکاره شو نو په ځان کښې یې اوګوره ،
اَلسَّعِيْدُ مَنْ وُعِظَ بِعَيْبِه ،
خپل عیوب تاته نه خکاری - کامیاب هوښیار سړی هغه دے چې د خپل ځان فکر اوکړی او په خپلو عیوبو باندے نظر اوکړی - په خپله باره کښې اول تپوس کیږی ځکه د بل نقصان چې دا

په کبنې ولی وو ؟ دا تپوس زمانه نشته ، هاں د بیان تپوس زما نه شته - الله تعالی مونږ هیر کړی دے ، الله تعالی حکم کړی دے ، اے مسلمانانو ځان د اور نه بچ کړئی ، کوم اخلاق چې دوزخ ته د تلو ذریعه وی د هغې نه ځان بچ کول اول پکار دی -

# اتفاق واتّحاد

## اتفاق اتحاد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوْا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ} [الحجرات: 10]

الله تعالی به د انسان برابر کولو دپاره د نبی علیه السلام نه مخکښې خپلو قومونو ته پیغمران لیږل ، په یو ملك کښې به لږ ساعت کښې ډیر پیغمبران وو - د ټولو مقصد دا وو چه د انسانیت تعلق د الله تعالی سره شی ، او معاشره ئې د انسانانو شی ، د انسانانو د برابر کولو او ژوند برابر کولو محنت به ئې کولو ، هغه سلسله د پیغمبرانو په نبی علیه السلام باندے سر ته اورسیده ، د هغوی ټولو کار نبی علیه السلام ته په یواځی کولو - الله تعالی نبی علیه السلام فرمایل :
{وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَذِيْرًا} [الفرقان: 51]
که مونږ غوختی وې نو په هر کلی مو به یرونکی رالیګلے وی -
خو دا می اراده اونکړه بلکه د ټول انسانیت د هدایت تاج می ستا په سر کیخودولو ، نبی علیه السلام ټول انسانان د الله تعالی په دعوت یو کړل ، یو پیغام ئې ورکړو - د ټولو انسانانو رب یك یواځی الله تعالی دے - د ټولو انسانانو هادی ، استاد ، مرشد مربی ، جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم دے - د ټولو انسانانو د ژوند د تیرلو نظام ، اسلام ، قرآن کریم دے ، په دې چې انسانان چلیږی ، ددنیا حال به ئې جنت وی ، او جنت خو هسی جنت دے -

## نبی علیه السلام حجة الوداع په موقعه

نبی علیه السلام د حجة الوداع په موقع اوفرمایل :

مسلمانان او انسانان ټول یو دی ، عربیت ، عجمیت ، تور ، سپین ، د ټبرونو ، قومونو او خاورو جدائی او فرق نشته بلکه دا ټول یو دی - نبی علیه السلام باره کښې الله تعالی فرمائی :

{لِيَكُوْنَ لِلْعَالَمِيْنَ نَذِيْرًا} [الفرقان: 1]

چې چا د نبی علیه السلام پیغام اومنلو ، قرآن کریم وائی :

{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ} [الحجرات: 10]

{فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ} [آل عمران: 103]

مسلمانان ئې د ایمان او قرآن کریم په تعلیم یو اوګرځول -

## مثال د اتفاق اتحاد

تردی پورې نبی علیه السلام اوفرمایل :

اَلْمُسْلِمُوْنَ كَجَسَدٍ وَاحِدٍ د یو اندام پشان دی - مثال نبی علیه السلام ذکر کړو چې دیوال کښې ګټې ، خختې وی ،

يَشُدُّوْ بَعْضُهُمْ بَعْضاً یو بل ئې مضبوط کړی ، كَبُنْيَانٍ وَاحِدٍ ،

## دویم مثال

دویم مثال : كَجَسَدْ وَاحِدٍ اِذَاشْتَكٰى عَيْنُهُ اشْتَكٰى اِذ اشْتَكٰى رَأْسُهُ اشْتَكٰى كُلُّهُ

چه ازغی په خپه کښې مات شی ، دردمند زړه وی ، ددے دوو مثالونو مطلب دادے چې مسلمانان چې کوم ځائے وی ، مسلمان به مسلمان مرسته کوی او تائید به کوی -

دویم مثال نه معلومه شوه چې د مسلمان په درد به دردمند کیږی - په خپله علاقه کښې به وی ، خو د دبلې دنیا د مسلمان به درد باندے به درد مند کیږی مسلمانانو کښې نه د ژبې امتیاز شته ، نه د قام امتیاز شته ، نه د نسل امتیاز شته ، دا ټول د یو باغ ګلونه نه دی د یوی اونی ښانګکی دی - دوی به نه وائی چې فلانکی ته تکلیف خیر دے ، نه نه ، مسلمان یو آبادی ده که خخته ووتې وی چه بلے خختی له مرسته نه ورکوم نو دیوال او آبادی محکمکښې نه ځی - که خپه باندے دا نه وی ، لاس بله خپه وائی ، چې مونږ ته خیر دی ، پریدوه ، کیدی شی دا به کینسر شی او دی به مړ شی - نن په مسلمانانو کښې ځان ځانی ده - قرآن کریم فرمائی :

{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ} [الحجرات: 10]

{ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ } [النساء: 1]

د نسل په اعتبار سره د يو مور پلار نه پيدا يو - مذهب په لحاظ يو پيغمبر امتيان يو او د الله تعالى بندګان يو - فرق د وطن او خاورى کول چې حد مقرر کړى دارنګه د ژبې فرق چه دا پختون ، پنجابى او سندهى دے ، دا د فرق کول دا د جاهليت نه پاتى څيزونه دى - مسلمانان په اسلام يو دى - مسلمانانو ته چې کوم ځاے کښې تکليف دے نو په ټولو مسلمانانو به تکليف وى او هر مسلمان باندے د هغه مدد ضرورى دے - د مسلمانانو په مراکزو حملې کيږى ، مسلمان په اور ستى کيږى ، مونږ دا هم کولې شو چې هغوى له دعا اوکړو ، بيت المقدس د مسلمانانو مرکز ، د انبياء قبله ، د مسلمانانو د مراکزو نه يو مرکز دے ، شام او فلسطين ، د مسلمانانو ملکونه دى ، يهود راځى او په هغوى حملې کوى - مونږ که نور څه نه شو کولې نو دعا خو کولې شو ، چه د هغوى په درد دردمند شو او د هغوى دپاره دعا اوکړو -

## د نبى عليه السلام د حملې وخت

نبى عليه السلام چې به حمله کوله نو کله د سحر مونځ او کله د ماسپخين د مونځ په وخت به ئې کوله ځکه څنې د مسلمانانو کورونو کښې ناست عاجزان دى نو سحر کښې هغوى مجاهدينو ته دعا کوى او ماسپخين مونځ کښې مجاهدينو ته دعا کوى ، زه دى وختونو کښې ځکه حمله کوم چې مونږ له د هغوى په دعاګانو الله تعالى فتح راکوى ، که سنګر کښې مجاهدين وى ، زمونږ دعاګانو هغوى له لاس ورکوى ، خپل عياشو کښې فرق راولو ، کم از کم هغوى دپاره دعاګانى اوکړو - چې کوم خلق مسلمانانو له تکليف ورکوى او مراکز لاندې کوى نو الله تعالى دى د هغوى اتفاق تس نس کړى ، د مسلمانانو دى اتفاق او اتحاد نصيب کړى - په پنځو مونځونو کښې لاس اوچتول غواړى ځکه هغه زمونږ خويندى ، رونړه دى ، اوس مونږ يَو يَو به ايمان او اسلام باندے يو يو ، د فلسطين او شام دپاره دعاګانى اوکړو چه الله تعالى د هغوى مدد اوکړى ،

آمین -

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د دینِ اسلام ذمه داریا نی

# (۱)منل ، (۲) عمل کول

## ددين اسلام دوه ذمه داريا نی

## (۱) منل (۲) عمل كول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ } [الحج: 40]**

د الله تعالی دنیا ته آخری پیغام د قرآن کریم په شکل د اسلام په نمونه او د نبی علیه السلام د تعلیم راغلی دے دا د الله تعالی پیغام دے سالم انسانانو ته پیریانو ، نارینو ، زنانو ته دا ټول انسانانو ته د هغوی د کامیابی د دنیا او آخرت سمولو پیغام دے - ددے ذمه وار هغه د نبی علیه السلام امت دے - د نبی علیه السلام نه روستو دا ذمه واری د نبی علیه السلام امت باندے ده :

**{ كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} [آل عمران: 110]**

دا ذمه واری په امت د نبی علیه السلام کیخودلی ده :

فَلْيُبَلِّغُهُ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ

اِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوْا مُعَسِّرِيْنَ

## د امت مسلمه دوه ذمه واری

تاسو ئې آسانو قوانینو طرف ته مقرر کړی یې ګرانو ته نه - دا د نبی علیه السلام د امت ذمه واری ده د اسلام باره کښې یوه ذمه واری د منلو ده چې د ټولو انسانانو ذمه واری دا وه چې دا دین دی اومنی -

دویم ذمه واری : د عمل ده - که څوك صرف وائی ، منم یې ، خو عمل نه کوی ، د قرآن په ژبه کښې ده ته منافق وائی لکه

**{ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا} [الحجرات: 14]**

بعض د منلو دعوی کوی حالانکه هغې کښې منل نه وی ، صرف د خُلې دعوی وی ځکه د منلو ثبوت عمل دے - نبی علیه السلام اعلان کړی وو ،

یا معشر المسلمین ، چې په خلې یې منلو ، هغوی ایمان زړه ته نه دی دننه شوی ، عملی ثبوت ورکړئ - چې کله منلو سره عمل راشی نو بیا الله تعالی ورته ریشتونی وائی لکه

{ أُولَئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا} [البقرة: 177]

دوی کلمه په رشتیا وئیلی ده - تش د خولی خبره ده چې اٰمَنَّا ، عمل ، کردار نشته ، مونځ منم خو کوم نه - زکوة منم خو ورکوم نه - زنا ، غلا ، حرام منم خو ځان ترے بچ کوم نه - ګانا بجانا حرام ده خو ځان ترے بچ کوم نه نو دا منافقانه ایمان دے -

زَيِّنُوْا الْقُرْآنُ بِالْاَعْمَالِ

خپل علم په عمل خائسته کړئ -

## انبیاء کرامو هم دین عملی کړی وو

پیغمبرانو ته هم وئیلی شوی دی :

{يا أَيهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا} [المؤمنون: 51]

دارانګه سلیمان علیه السلام ته وائی :

{وَاعْمَلُوْا صَالِحًا} [سبأ: 11]

سم عمل کوئی -

{اعْمَلُوْا آلَ دَاوُوْدَ شُكْرًا} [سبأ: 13]

زما د نعمت قدر اوکړئی ، چې اومنلو مو نو عمل پرې اوکړئی -

په اسلام کښې بعض څیزونه د کولو دی او بعض د ځان د بچ کولو دی - یو قسم اعمال دی چې بدن پرې خائسته کیږی دی ، او بعض داسې دی چې د هغې نه ځان بچ کول پکار دی ، ګناهونه دی ، د الله تعالی د نارضتیا ذریعه ده ددیننه ځان بچ کول په مؤمنانو فرض دی -

## حسن بصری رحمه الله قول ایمان باره کښې

حسن بصری رحمه الله فرمائی :

چې ایمان څه ته وائی ؟

اَلْاَيْمَانُ مَا وَقَرَ فِی الْقَلْبِ وَصَدَّقَهُ الْعَمَلُ -

په زړه کښې درونه دے ، د مال ، دولت او خواهشاتو نه درونه دے ، د دروندوالی پته په عمل کښې لګی څکه عمل ئې رشتیا والی کوی د اسلام - د هندو ، انګریز او د مسلمان دعمل نه پته لګی - چې زړه کښې ایمان شتے او که نه ؟ ایمان د زړه معامله ده د بنده او الله تعالی ما بین کښې د ایمان عملی ثبوت ورکول ، حلال حلال ګنړل دی ، حرام حرام ګنړل او ځان بچ کول دی ، دا ذمه واری ده نن د مونږ منلو نه علاوه د اسلام عملی کول ذمه واری نه ګنړو مونږ اکثر خلق نه کوی زکوة اکثر خلق نه ورکوی د دروغو ، غیبت ، بدکاری ، یارانو ، ډم توب فلمونو نه کم مسلمانان ځان ساتی بلکه ډیر ورته ګناه هم نه وائی - اسلام د الله تعالی پیغام دے د امت محمدی ذمه واری یواځې د منلو نه ده د عمل کولو هم ذمه واری ده - دا مونږ له پکار دی چه اسلام اوپیژنو او عمل پرې اوکړو ، د کولو او د نه کولو ګناه اومنو ، او ځان ترے بچ کړو ، دا زمونږ زمه واری ده -

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ

الحج: 40

# د دين اسلام دريمه ذمه واری

# دين د ژوند په هره څانګه کښې راوستل

## د دین اسلام دریمه ذمه واری

## دین د ژوند په هره څانګه کښې راوستل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ} [الحج: 40]**

د الله رب العزت آخری پیغام هغه د دین اسلام په شکل باندے الله تعالی دنیا ته رالیږلی دے او ددے ذمه داری الله تعالی د نبی علیه السلام په امت په سرونو ایخودی ده - ددے خدمت کونکی ددے ذمه داری د نبی علیه السلام امت دے - په هغې حقونو او ذمه وارو کښې یو حق او ذمه واری هغه منل وو ، دویم حق او ذمه واری په هغې باندے عمل کول وو چې په دین باندے عمل اوشی او دا په عمل کښې راشی - دریمه ذمه واری دا ده چې د ژوند په ټولو شعبو کښې دین خور کړی شی او ژوندی شی - د ژوند هره شعبه او هره څانګه هغه ددین په رنړا کښې شی د الله تعالی د حکم او د نبی علیه السلام د طریقو مطابق شی - دا ذمه واری الله رب العزت مسلمانانو ته حواله کړیده چې دوئ به هر یو تن د خپل ژوند هره څانګه عملی کوی -

## درې اهم خدمات ددین

د هغې دپاره یو : (۱) علم (۲) دعوت (۳) جهاد ضروری دی چې د ژوند په ټولو شعبو کښې دین راشی ، که کور ، حجره ، غم ښادی ، دنیوی تعلیم دے ، که دینی تعلیم ، صحت شعبه او هسپتال دے ، که ډاکټران دی ، که حاکمان دی ، که ایکسرو ، لیبارټرو ، میډیکل سټورونو والا دی ، که د جنګلونو ختمولو شعبه ده که د قضاء او سیاست ، عدالت محکمه ده که جج ، وکیل ، ګرداور ، پټواری ، تحصیل دار ، پولیس ، افسر او نوکر دے - دا ټوله محکمه به د شریعت په رنړا

کښې وی ، فیصلې به د شریعت په رڼړا کوی ، که معشیت ، مال ګټل ، لګول ، زمینداری ، تجارت ، اجاره ګانړه او امانت دی دا ټول به د شریعت مطابق وی - بادشاه جوړول ، لرې کول ، رعایه خیال ساتل دا ټول به د الله تعالی د حکم په رڼړا کښې وی ، دی ته دین غالب کول وائی ، د ژوند هر طرف د الله تعالی د حکم مطابق تیرول په مونږ فرض دی او دا ذمه واری په مونږ کیخودلی شوی ده -
{كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} [آل عمران: 110]
{وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ } [البقرة: 143]
{لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّه} [التوبة: 33]
{وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ} [المدثر: 3]
مطلب دا دے چې مسلمان ددے ذمه دار دے ، اوګې ئې درنې دی ، او په نه کولو باندے ذمه وار دے - د خپل وس مطابق به ددین په هره شعبه کښې کار کوی ، د کلي ناظم ، د ضلع ذمه وار ، اے سی ، ډی سی ، سیشن ، جج ، فیملی کوټ ، هائی کوټ ، سپریم کورټ ، هغه د خپل وس مطابق مکلف دے د هغه نه به تپوس کوی -
{وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْئَلُوْنَ} [الزخرف: 44] دې دپاره چې د ژوند په هره څانګه کښې دین اوښودلی شی ، دی ته ددین غالب کول وائی ، الله تعالی ورته د الله تعالی ددین خدمت وائی ، دی ته د الله خدمت وئیلی دے ، ددین مدد ته ئې خپل مدد وئیلی دے - د ژوند په هره څانګه کښې دا دین راوستل -

## قول د نبی علیه السلام په موقع د حجة الوداع

دا د نبی علیه السلام د امت ذمه واری ده :
اَلَا فَلْيُبَلِّغْهُ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ ،
اِنَّكُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ،
د نبی علیه السلام مشن ټولې دنیا ته رسول ، د ژوند په هره څانګه کښې دین بادشاه کول او

خکاره کول - دا د نبي علیه السلام امت ذمه واری ده ، مسلمانانو سره ئې مدد ذمه واری په دې تړلی کړیده -

## د مدد الهی وعده په اجتماعی دین نافذ کولو ده

په ځنې عباداتو باندے صرف د اجر وعده ده - د مدد وعده په ماحول کښې په دین راوستلو سره ده په غم ښادی او چاپیرچل ، حجره کښې ، دغه پښان په پټی کښې ، معاملاتو ، سیاست ، تهانه، تحصیل او کچرئ کښې چه فیصلې په دین باندے اوکړی شی نو په دې باندے الله تعالی د مدد وعده کړیده - الله تعالی وائی :
{إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ} [محمد: 7]
{وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ} [المائدة: 66]
زما دی په خپل ځان قسم : زه به ئې مدد کوم چې زما ددین مدد کوی --
دین پوره جاری کول او نافذ کول شروع کړئ - الله تعالی به په مسلمانانو د برکتونو دروازی کولاو کړی کچری مونږ د الله تعالی ددین خدمت اوکړو - هر سړے دے د ځان سره فکر اوکړی چه ما په خپل کور کښې ، حجره او کلی کښې د ګناه څومره خدمت اوکړو ، او د نیکی می څومره خدمت اوکړو ، چه د د نیکۍ خدمت اوکړو ، او اجتماعی زندګی کښې ددین د نفاذ کوشش اوکړو -
الله تعالی دی د عمل کولو توفیق راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# اساس العلم: الرضوان والتقوى

## اساس العلم: الرضوان والتقوى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّا بَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ} [التوبة: 109]**

دنیا کښې عام طور یو قانون دے چې ظاهری عمارت او آبادی چې کله کولی شی : (۱) نو د آبادی بنیاد وی ، (۲) آبادی وی - یو اساس او بنیاد وی اول بیا پرې هله دیوالونه اوچته وی عام طور په بنیادونو باندے ځان کړولی شی ، خرچه په هغې زیاته کولی شی ، بیا په هغې آبادی مضبوطه وی ، د هغه آبادی قیام په بنیادونو وی ، که هغه ئې کمزوری وی نو بره په آبادی خرچه کول بے کاره وی ، هغه نن دے او که صبا راغورځیږی به - خو چه کله بنیادونه مضبوط شی او لګه خرچه اوشی هم نو آبادی قائمه وی د ډیر وخت پورې -

دغه شان ددین آبادی او بنیاد وی که آبادی او بنیاد نه وو ، یا کچه وو نو ورپسی آبادی کول فضول دی - که لږ وخت خکاره شی خو لږ وخت پس به نه وی - او که بنیاد مضبوط وو او آبادی اوشوه نو هغه به قائمه او دائمه وی - دغه شان ددین اهم شاخ علم د شریعت دے ، هغه د الله تعالی ددین د خدمت په خاطر کولی شی چه ددین خدمت اوشی او ددین سر بلندی راشی - دا هم یو آبادی ده او ددے هم یو بنیاد دے - که ددین د خدماتو بنیاد ایمان او انقیاد وو نو ورپسی اعمال فائده کوی - که ایمان او انقیاد نه وو نو ورپسی اعمال هیڅ فائده نه کوی ، که فرائض وی او که نوافل -

## د علم بنیاد او آبادی

دغه شان ددے علمی خدمت یو بنیاد دے ، بله آبادی ده ظاهری - ظاهری آبادی تعلیم او تعلم ، سیکهنا سکهانا ، محنت دعوت ، وعظ او نصحیت کول ، په علم عمل کول ، او د علم پر چار

کول او علمی محنت خورول ، دا یوه لویه آبادی ده ، په چتونو بلډنګ دے نو ددے بنیاد مضبوط پکار دے - که بنیاد کمزوری وو نو ورپسی که تعلیم او تعلّم او ډیر کارونه اوکړی ، خواری محنت به اوکړی خو چه د ویخ بنیاد مضبوط نه وی نو هغه ټول به راغورځیږی -

اعمال اجتماعی او اعمال انفرادی چه وی نو نو بنیاد به مضبوط وی ، او که نه وی نو آبادی نه شی پاتی کیدی -

{ فَانْهَارَ بِهِ فِى نَارِ جَهَنَّمَ} [التوبة: 109]

د الله تعالی دربار کښې به هیڅ قیمت نه لری -

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اَلٰى صُوَرِكُمْ وَ اَمْوَالْكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ

د الله تعالی نظر په ظاهر نه وی ، نظر د ادراك خو په هر څه کوی خو دلته نظر المحبت مراد دے - د الله تعالی محبت د بنیاد د مضبوطولو سره دے - یعنی آبادی لکه فرض کړه ظاهری هم کوی چه کله خو دین له ئې کوی ، لکه مسجد ، مدرسه جوړول ، دا خو دین دے ، یا یو محنت علمی کوی ، تعلیم او تعلم ددے دپاره بنیاد پکار دے -

{عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ} [التوبة: 109]

## علم بناء په دوو څيزونو

چې یو په کښې تقوی وی او یو په کښې رضوان وی -

رضوان : دا اخلاص دے ، فعل د مَا يَنْبَغِىْ ته وائی -

تقویٰ : اجتناب عَمَّا لَايَنْبَغِىْ ته وائی چه په زړه کښې اخلاص وی ، او په زړه کښې د الله تعالی د مقابل څیزونه بائیکاټ وی ، او د آبادی بنیاد په تقویٰ او په رضوان وی - په علمی میدان کښې علمی خدمت کوی ، مدرسه کښې دننه او علمی ماحول کښې زړه او قلب مطمئن کول په تقوی او په رضوان باندے وی دا بنیاد مضبوط کول دی - که د الله تعالی سره تعلق مضبوط نه وی ، معرفت الهی نه وی ، یاداشت د الله تعالی نه وی نو دا علم علماء کرام فرمائی :

اَلْعِلْمُ هُوَ الْحِجَابُ الْاَكْبَرُ

دا علم د الله تعالی او بنده په مینځ کښې حجاب کیږی - که ته قرآن کریم او حدیث هم وائی خو تقوی او رضوان نه وو نو دا ستا او د الله تعالی په مابین کښې دیوال دے ځکه دا به تکبر ، عجب او انانیت پیدا کوی -

## اقوال علماء کرام

علماء کرام فرمائی :

د کفر ارکان چه تکبر ، حسد ، غضب ، بغض او شهرت دی دا د علم نه پیدا کیږی ، او بیا ورله دلائل وائی ځکه ده د علم بنیاد تقوی او رضوان نه دی ګرځولی ، دا علم لِلّٰه نه شو ، دا علم شرعی نه شو بلکه دنیاوی یو کاروبار شو - دی وجی نه صاحب د علم مشتغل بالعلم خواه که تعلماً وی او که تعلیماً وی نو هغه له محنت په تقوی او رضوان باندے پکار دے چې دده هر وخت په الله تعالی نظر وی ، که دی نحومیر ، منطق او فلسفه وائی خو دی وائی چې دی کښې زما نه د الله تعالی خلاف اونه شی -

کچری تقوی او رضوان ئې بنیاد وو نو هغه به دے الله تعالی ته نزدی کوی ، اګر که نفلی عبادت کم وی ، بنیاد مضبوطول پکار دی ، اکثر صاحب العلم دهوکه وی چې زه خو پیغمبری کار کوم - مولا وائی چې اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعِلِّماً

طلباء وائی چې مونږ د صحابو په منصب ناست یو حالانکه د خپل عملی زندګی او قلبی اصلاح نه بالکل غافله دی ، د اعمالو ، نیتونو ، اخلاقو پرواه نه کوی بلکه د لوفرانو په شان زندګی تیروی - یو لوفر په کالج کښې پنځه وخته مونځ کوی او بل لوفر په مدرسه کښې پنځه وخت مونځ کوی ، دا علم ظلمت دے دا نورو ته فائده نه ورکوی ځکه دا علم ده ته رنړا نه کوی نو بل ته به څه رنړا ورکړی ؟ خپله د تباهئ په لار روان دے نو بل به څنګه په لار کړی ؟

عالم په خپله صرف په ظاهری بناوټ مئین دے او په علم دنیوی مقاصد حاصلول غواړی یا نو

نور مقاصد - ملا دے وی چه زه به ملّا یم ، هغه په خپله گمراه دے ، ته به څه لار اوښائی ؟ په خپل بنیاد محنت کول او خواری کول غواړی ځکه چې

اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِاالنِیَّاتِ -

الله تعالی تقوی او رضوان د علم بنیاد گرځولی دے -

وَنَحْنُ عَنْهُ غِافِلُوْن

مونږ علم کوو خو په مونږ کښې خشیت الهی نه وی ، زمونږ مونځ ، تلاوت ، اخلاق ، گفتار د لوفرانو وی ، دا ټوله د زړه مسئله ده چې په زړه کښې تقوی من الله نشته ، یاداشت نشته ، عادات د سنتو خلاف دی ، مونځ د سنت خلاف دے - دا علم خو مونږ ته رنړا نه کوی نو بل ته به څه رنړا اوکړی ؟ ظاهری بلبونه اولگوو خو چه د گریډ نه بجلی نشته نو هغه بلبونه کار نه کوی - د بنیاد اصلاح ضروری ده - مونږ په علم کښې ځومره کوشش کوو ، تکرار کوو ، مدرسی ته راشو ، جومات کښې مطالعه او تکرار کوو خو چې کله ددے شاته تقویٰ ، رضوان او محبت نه وو نو دا محنت فضول دے - طالب یو عزم کړی دے چې زه به د دین خدمت کوم ، ددین د حاکمیت دپاره راوتلی یم ، ددے وجی نه په زړه محنت کول پکار وی دا الله تعالی ته سوال کوی-

## د یو عالم دعا

یو عالم طواف کوو ، دا د عا ئې کوله :

اَللّٰهُمَّ قِنِیْ شُحَّ نَفْسِیْ

د خپل نفس د شمتیا نه می اوساته - وائی : زما او زما د الله تعالی په مابین کښې دیوال نفس دے او شهوات دی ځکه قرآن کریم فرمائی :

{وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِه } [الحشر: 9] څه بچ دے ؟ مونږ علمی میدان کښې خپلی خوښی کوو ، سنت بیان شی په هغې عمل نه کوو ، ددے علم څه فائده ده ؟ الله تعالی ته داسې بیا علم دیوال شی او

داسې دا علم بيا قسوت راولی - خبره مونږ ته اوشی خو زمونږ په عمل کښې فرق نه راځی ځکه زمونږ په زړه کښې تقویٰ او رضوان نشته ، که دا وی ، نو آداب به راځی ، اتباع به راځی ، روستو به ددين دکار فکر راځی - زمونږ دپاره ضروری ده چې زړه کښې د الله تعالی يره راشی او د الله تعالی د رضا شوق راشی -

## طريقه د تقوی او رضوان

دا کله د باطن نه ظاهر ته ځی او کله د ظاهر نه باطن ته ځی - لوے خلق دباطن نه شروع کوی - مونږ ته علماء وائی : مونږ کمزوری يو ، کله د ظاهر نه باطن ته تلل پکار دی ،
ظاهری اعمال هغه زړه کښې شوق پيدا کوی ، يره او دلچسپې پيدا کوی ، په زړه د هغې اثر اولګی - علماء کرام فرمائی : په شوق او مينه تلاوت کول دا په زړه کښې ډير اثر کوی -
**{إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ}** [ق: 37]
دا ما سره کلام الله دے - - اکثر طلباء تلاوت نه کوی ، که کوی ، سيپاره کوی ، په يو کړ کښې يې کوی - عالم له پکار دی چه د تلاوت دپاره وخت مقرر کړی اګر که رکوع په کښې اوشی ، که نيمه سيپاره وی خو کوئ ، ترجمه باندے ئې کوه -

## د ويسه شيخ رحمه الله تلاوت کول

ويسه شيخ صاحب رحمه الله نه ما تپوس اوکړو ، چې تاسو څومره تلاوت کوی ؟
هغوی وئيل : ګهنټه تلاوت کوم - ما وئيل څومره ؟ هغوی وئيل په ګهنټه کښې پاؤ په مشکله پوره شی - مونږ اته / ۸ ګهنټې سبقونه او تکرار کوو خو زمونږ نيمه ګهنټه داسې نه وی چې يو په کښې زه يم او بل زما الله تعالی - د قرآن کريم د تلاوت اثر په زړه کښې کيږی -
تلاوت بعد الفرائض اذکار اوګوره امی سړی ته حديث نه دی معلوم هغه پرې عمل کوی - طالب ته حديث معلوم دے او کوی ئې نه ، نو کوم خه شو ؟ بيا طالب او مولا ته ځای هم ورکوی نو

څه فائده شوه ؟ د بيت الخلاء سنت طريقه معلومه شوه خو عمل پرې نشته ، ددے علم څه فائده شوه ؟

{قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِى يُحْبِبْكُمُ اللهُ ويغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيْمٌ } [آل عمران: 31]

زما د اتباع اثر محبت دے ، محبت مبنی للمفعول ، ته به محبوب شې - زمونږ اعمال ددے نه خالی وی - د اوبو سنت معلوم وی په هغې اوبه نه څکو - ډوډئ کښې بسم الله آخر کښې الحمد لله هيره ده ، اوس نه عادت شئ په دے سنتو باندے - ستا سره به بيا فكر وى - لس / ۱۰ ګهنټې علم كوى نو يوه ګهنټه الله تعالى له وركړه بيا به ستا ذهن او فكر ته الله طول وركړى - ورسره په اخلاقو محنت اوكړو نو زړه به ورسره مضبوط كيږى - آبادى به قائمه وى -

الله تعالى دى د عمل كولو توفيق را نصيب كړى -

بسم الله الرحمن الرحيم

# محبت د قرآن کریم

# محبت د قرآن کريم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا} [الجن: 1]**

وقال النبي صلى الله عليه وسلم : إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا ويرْجِعُ غَرِيبًا ، فَطُوبٰى لِلْغُرَبَاءِ الَّذِينَ يصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِی مِنْ سُنَّتِیْ . [سنن الترمذی 4/ 314]

د الله تعالی ډیره لویه مهربانی ده چې د قرآن کریم په وجه باندے ئې مونږ خپل کور ته راجمع کړو ، ددے دپاره چې مونږ سره فکر او احساس پیدا شی ، الله تعالی دی زمونږ مرګ او ژوند په قرآن کریم باندے اوګرځی -

## د قرآن کریم د مینی فوائد

قرآن کریم سره مینه کول د الله تعالی سره مینه کول دی -

د قرآن کریم خواله راتلل دالله تعالی خوا ته تلل دی -

په قرآن کریم عمل کول د بادشاه منل دی -

د قرآن کریم سره مینه کول د الله تعالی د رضا سبب دے -

د قرآن کریم سره مینه کول د قبر رنړا ده -

د قرآن کریم سره مینه کول د قبر سوال او جواب دی -

د قرآن کریم سره مینه کول د پل صراط په پل په پړق تیریدل دی -

د قرآن کریم سره مینه کول د حشر آرام او سکون دے -

د قرآن کریم سره مینه کول سبب د عمل نامې د ښی لاس دے -

د قرآن کریم سره مینه کول سبب د دخول الجنة دے -

## واقعه

واقعه : د قرآن کریم سره مینه ده صحابی ، نبی علیه السلام ته یو صحابی باره کښې ګیله اوکړې شوه - چې کله دی مونځ کوی ، نو په اولنے رکعات کښې چې کوم سورت هم وائی ، نو آخر کښې ورسره سورة الاخلاص وائی ، او چې دویم رکعت کښې کوم سورة هم وائی نو ورپسی سورة الاخلاص وائی - نبی علیه السلام صحابی ته فرمائی چې ته داسې ولے کوی ؟
صحابی نبی علیه السلام ته عرض کوی چې زما دی سورة الاخلاص سره مینه ده - نبی علیه السلام صحابی ته اوفرمایل :
حُبُّكَ اِيَّاهَا اَدْخَلَ الْجَنَّةَ ، ددے سورة مینی جنت ته ورسولی - د قرآن کریم د مینی ثبوت ورکول غواړی - چې د یو چا سره مینه وی د هغه نوم پرې خوږ لګی د هغه تذکره ورله خوند ورکوی ، په هره خبره کښې ئې هغه خولی له راځی ، لکه مریم بی بی مور وائی :
{وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَىٰ} [آل عمران: 36]
پکار دا وه چې داسې ئې وئیلی وی ، : لَيْسَ الْاُنْثٰى كَالذَّكَرِ خو د هغې مینه د هلك سره وه نو د هلك نوم ئې خولی له راتللو - چا سره چې مینه وی نو ټول اندامونه هغه طرف ته ځی ، مرګ د هغه لار کښې خوږ ګنړی ، د محبوب د لاس ګذار د ګل ګذار ګنړی ، کچرته محبوب ترے غیږه تاؤ کړی ، او څوك ئې د محبوب نه جدا کوی ، نو دی وائی ، تباه شی ولی می جدا کوی د محبوب نه ؟ د محبوب د لارو خاوری د سترګو رانجه ګنړی - آرمان چې د قرآن کریم مینه مونږ او تاسو ته نصیب شوې ، شعر :

ما به دروغ دروغ ګنړله     د جانان مینه په رشتیا وه رنزور ئې کړم

د الله تعالی نه د قرآن کریم مینه غوختل غواړی - بیا چه کله د قرآن کریم نوم څوك اخلی په تا به خوږه لګی ، د قرآن کریم تذکره به ده باندے خوږ لګی ، چې څوك رانه قرآن کریم اخلی ، هغه به درته لوئې ظلم خکاری - نو د قرآن کریم سره مینه کول پکار دی -

## واقعه

واقعه : مولانا رومی رحمه الله د لیلیٰ او مجنون د مینی قصه ذکر کوی وائی چې مجنون په شګو لیکل کوی د لیلیٰ لیلیٰ خلقو ورته اوئیل چې مجنونه څه کوی ؟

شعر

*مجنون گفت عشق نام لیلیٰ میں کنم        خاطر خود را تسلی میں دہم*

مجنون ورته وائی چې د لیلیٰ نوم ګردان کوم څکه په دې باندے خپل زړه ته تسلی ورکوم -

## واقعه

واقعه : یوه ورځ د لیلیٰ د کوڅو سپی راغلی وو نو مجنون ئې خپې خکل کړی - خلق ورته وائی چې دا څه کوی ؟ دا خو پمن سپی دے او ته ئې خپې خکلوی ؟ شعر :

*پائیِ سگ بوسید مجنون خلق گفت ایں چہِ سود        گفت مجنون ایں سگ در کوئیِ لیلیٰ رفتہ بود*

مجنون ورته وائی ته دی سپی ته په خپل نظر مه ګوره بلکه دی سپی ته لګ زما په نظر باندے هم اوګوره چې

(۱)دا سپی زما مولیٰ پیدا کړی دے -

(۲) دا زما د لیلیٰ د کوڅو څوکیدار دے نو زما په نظر کښې ددے سپی د خپو خاوری د بادشاهانو نه غوره دی - د هغه مینه دلیلی سره وه نو دلیلی د مینی لیونی کړی وو بس هر وخت به د لیلی په سوچونو کښې وو-

## واقعه

پلار مکی ته بوتلو او خانه کعبه ته مخامخ ئې اودرولو او پلار ورته وائی :

مجنونه توبه اوباسه د لیلی د مینی نه او د الله تعالی مینه خپله کړه - مجنون چې طواف شروع کړو طواف کښې د الله تعالی نه دعا غواړی ، وائی :

اِلٰهِیْ تُبْتُ مِنْ کُلِّ الْمَعَاصِیْ وَلٰکِنْ حُبِّ لَیْلٰی لَا اُتُوْبُ

مولانا رومی رحمه الله ذکر کوی چې نه لیلیٰ وه نه مجنون وو ، نه یوسف خان نه شیربانو وه ، نه آدم خان او درخانی وه ، او دا فرضی او مجازی قیصئ دی ، مجنون ، یوسف خان ، آدم خان په مجازی او د مخلوق په مینه کښې دومره حد ته رسیدلی وو ، چې هغوی ته هیڅ هم نه ښکاریدل -

## واقعه

مجنون روان دے د لیلیٰ په مینه کښې هلته یو سړې په مونځ باندے ولاړ دے ، دے د هغه په مخکښې تیر شو ، هغه ورپسی مونځ مات کړو ، وائی : په سترګو باندے ړوند ئې ، زه په مونځ باندے ولاړ یم او ته زما مخکښې تیر شوی ؟
مجنون ورته جواب کوی چې الله تعالی دی په دواړو سترګو ړوند کړه ، زه دلیلیٰ یعنی د مخلوق په مینه کښې دومره غرق یم چې ما ته نه ئې لیدلی او ته د خالق په حقیقی مینه کښې څنګه ما وینی ؟ دا ستا څنګه مینه ده د الله تعالی سره ؟

## واقعه

واقعه : صحابی د الله تعالی په مینه کښې د الله تعالی دپاره اوجنګیدو ، په سینه کښې ئې خنجر پروت دے او وینه ترے بهیږی دغه صحابی وینه راخلی او په خپل تندی باندے راکاږی او وائی چې
فُزْتُ وَرَبَّ الْکَعْبَةِ
د کعبې په رب می دی قسم وی چې زه کامیاب شوم -
مجنون د لیلیٰ نوم لیکی او خپل ځان له پرې تسلی ورکوی نو تا چرته په د قرآن په یادولو باندے خپل روح له تسلی ورنکړه ؟
مجنون د لیلیٰ د کوڅے د سپی خپې ښکلوی او تا چرته د طالب او عالم د قرآن کریم خپې ښکل

نکړی ؟
مجنون د لیلیٰ د مینی نه توبه نه اوباسی ، تا چرته د قرآن کریم د مینی په مقابله کښې د غیر د کتابونو د مینی نه توبه اونه اویستله ؟
مجنون دلیلی په مینه دومره غرق وو چې مونځ گذار ئې نه لیدلو او ته د الله تعالی د دیدار په محبت کښې په قرآن کریم کښې دومره مستغرق نه شوی چې تا ته په کښې صیغی ، تراکیب ، بلاغت ، فصاحت ، منطقی قضیې نه خکاری ؟
صحابی د الله تعالی په محبت کښې د سینی وینه خپل تندی باندے راکاری او دکامیابی آوازونه کوی او تا چرته د قرآن کریم د مینی محبت د وجی نه د خپل تندی سره اونه لګولو ؟ حدیث کښې راځی :
چې د نبی علیه السلام د قرآن کریم سره ډیر محبت وو ، ابیّ رضی الله عنه ته وائی :
چې ما ته قرآن کریم اوایه -
ابیّ رضی الله عنه ورته وائی چې په تاسو خو خپله نازل شوی دے ؟
نبی علیه السلام فرمائی چې زما خوښیږی چې ما ستا نه قرآن کریم واوریدی -
نبی علیه السلام د قرآن کریم سره مینه ولی کوله ؟ صحابه د قرآن کریم سره مینه ولی کوله ؟ تابعین ، تبع تابعین ، فقهاء کرام ، آئمه عظام ، مجتهدین ، مفسرین د قرآن کریم سره مینه به ولی نه کوله ځکه چې قرآن کریم د الله تعالی د ذات نه وتلی کلام دے د الله تعالی خبرے دی ، دا د الله تعالی نااشنا کلام او خبرے دی ځکه چې د الله تعالی د ذات په شان ذات نشته نو د الله تعالی د کلام په شان کلام نشته - دا یو ډیر نااشنا کلام دے ، او نا اشنا ځکه دے -

## د طائف واقعه

نبی علیه السلام چې کله د طائف نه واپس شو ، هغوی ورته ډیر تکالیف اورسول ، په کانړو ئې اویشتلو ، د تندی وینی ئې خپو ته اورسیدی ، پنړی پیزار ئې د وینو نه ډك وو ، او هغوی د کلی نه

باهر کړو نبی علیه السلام روان وو ، عائشه رضی الله عنها فرمائی :
ما ورته اووی چې د ټولو نه سخته ورځ ستاسو په زندګی کښې کومه وه ؟
فرمايي عائشه ستا قوم ماله خير نه دی راکړی -
خو د طائف ورځ به می هیره نه شی ، هلاکانو پورې خاندل ، لاسونه پړقول ، کنځل کول ، په کاڼړو ویشتل ، او زغلول ، او د کلی نه ویستل ،
نبی علیه السلام فرمائی :
لَقَدْ أُوذِيتُ فِى اللهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ ، [سنن ابن ماجه 1/ 54]
چی کله واپس شو د طائف نه نو یو باغ ته ته ننوتو ، هغه باغ د عتبه او شیبه وو ، نبی علیه السلام یوې اونې ته ډده اوهله ، وینی ترے بهیدلی ، دوی پرې ډیر خفه شو ، غلام ته ئې اووی ، چې اوبه ورله اوسه ، خو خبرے به ورسره نه کوی ، هغه لاړو اوبه ئې ورکړی ، نو نبی علیه السلام وی :
بسم الله الرحمن الرحیم ، هغه غلام وئی : بسم الله الرحمن الرحیم ،
نبی علیه السلام ورته وئیل : ولی ته بسم الله پیژنی ، نبی علیه السلام هغه غلام ته وائی :
چی ته د کوم کلی ئې ؟
غلام : د نِنْوَا ښار یم -
نبی علیه السلام : کوم کلی ؟ زما د رور د یونس علیه السلام د ښار ئې ته ؟
غلام : ته یونس علیه السلام پیژنی ؟
نبی علیه السلام : زما رور وو ، پیغمبر وو ، نو هغه غلام مسلمان شو ، عداس نوم ئې وو ، طائف کښې هغه باغ کښې مسجد عداسې وو نبی علیه السلام هلته پناه اغستی وه او سحر مونځ کښې نبی علیه السلام سورة الاعلی شروع کړو ، سبح رسم الاعلی ، پیریان تیریدل او هغوی واوریدو ، راوګرځیدل ،
{إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا} [الجن: 1]
مونږ خو یو نااشنا کلام واوریدلو چې کله پیریانو قرآن کریم واوریدلو نو ایمان ئې راوړو هغوی

ددے نه ځکښې داسې کلام نه وو اوریدلی ، نو ځکه هغوی باندے دا خبرے نااشنا اولګیدی ،

## قُرْآنًا عَجَبًا وضاحت

**قُرْآنًا عَجَبًا** : قرآن کریم نااشنا ځکه دے چې د قرآن کریم عقائد نااشنا دی -

د قرآن کریم عبادات که انفرادی دی او که اجتماعی دی نااشنا دی -

د قرآن کریم معاملات نااشنا دی د قرآن کریم تعلم نااشنا دے -

د قرآن کریم صحت نااشنا دے - د قرآن کریم سیاست نااشنا دے -

د قرآن کریم عدالت نااشنا دے - د قرآن کریم تهانه ، تحصیل نااشنا دے -

د قرآن کریم احکام نااشنا دی - د قرآن کریم معاشره نااشنا دے -

د قرآن کریم معشیت او اقتصاد نااشنا دے - د قرآن کریم حدود نااشنا دے -

د قرآن کریم قصص نااشنا دی - د قرآن کریم زواجر نااشنا دی -

د قرآن کریم تخویفات ، بشارات نااشنا دی - د قرآن کریم ایمان او توحید نااشنا دے -

د قرآن کریم رسالت نااشنا دے - د قرآن کریم آداب نااشنا دی -

د قرآن کریم اصول نااشنا دی - د قرآن کریم کور نااشنا دی -

د قرآن کریم جومات نااشنا دے - د قرآن کریم حجره نااشنا دے -

د قرآن کریم غم نااشنا دے - د قرآن کریم ښادی نااشنا ده -

د قرآن کریم رسم نااشنا دے - د قرآن کریم رواج ، ثقافت نااشنا دے -

د قرآن کریم جهاد نااشنا دے - د قرآن کریم تنظیم نااشنا دے -

د قرآن کریم بیان نااشنا دے -

غـــــرض غـــــرض

قرآن کریم د الله تعالی یو نااشنا کتاب دے چې د قرآن کریم نااشنا د یو جزء نظیر او مثل چرته هم نشته - نو مونږ او تاسو له پکار دی چې قرآن کریم سره مینه اوساتو - د قرآن کریم په احکامو

باندے عمل اوکړو -او خپله زندګی کښې نافذ کړو-

بسم الله الرحمن الرحيم

# زندگی

## ژوندکی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ } [العصر: 1 . 3]

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيْهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالفَرَاغُ . [صحيح البخارى 8/ 88]

الله تعالى ډير مهربانه بادشاه دے او ډيرى مهربانۍ ئې دى ، ډير احسانات ئې دى په مونږ او تاسو باندے که مونږ هغه احسانات او نعمتونه شمارل شروع کړو نو نه شو شمارلى :
{وَإِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا} [النحل: 18]

### د شيخ سعدى رحمه الله حواله

شيخ سعدى بابا رحمه الله چه کله ګلستان شروع کوى نو ابتداء کښې فرمائى : مونږ د الله تعالى شکريه نه شو ادا کولى نه ئې احسانات شمارلى شو ځکه چه يو ساه کښې د الله تعالى دوه نعمتونه دى :

(۱)ساه بره باندے راختل -

(۲) او خکته باندے تلل - نو ډير مهربانه دى نو هر نعمت ئې قيمتى دے خو داسې قيمتى چه د هغې قيمت څوك نه شى ادا کولى ، مثلاً :

سترګه ، غاښ ، غوږ ، لاس ، خپې ، بندونه ، ګوتى ډير قيمتى قيمتى نعمتونه ئې دى - دى وجى نه نبى عليه السلام فرمائى چې د انسان بدن ګښ ۳٦۰ بندونه دى چه کله انسان سحر پاسى او دا بندونه ټول برابر دى نو په دې انسان ددے يو يو بند په مقابله کښې شکريه واجب ده -

نبی علیه السلام فرمائی چه ددے شکر دپاره دی صدقه ورکړئ ، صحابو اوفرمایل چې د یو بند مقابله کښې یوه / ۱ روپئ نو دا خو ۳۶۰ روپئ شوی نو مونږ خو ددے نه عاجز یو ؟ نبی علیه السلام صحابو ته اوفرمایل :

فَكُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَكْبِيْرَةٍ صَدَقَةٌ ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ صَدَقَةٌ ، وَنَهْى عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ ، [صحيح مسلم 1/ 498]

نبی علیه السلام فرمائی چه د چاشت دوه / ۲ رکعته کول ، دا د ټولو بندونو شکریه ده -

کښی نبی علیه السلام فرمائی :

سيّد الاستغفار ، الله تعالی ستا د نعمتونو اقرار کوم ، زما کوتاهی منلی شوی ده ، زه د خپل کوتاهو اقرار کوم ، ستا د طرف نه نعمتونه راځی او زما د طرف نه ګناهونه درځی - داسې عجیبه بادشاه دی ، چه مونږه په ګناه وینی بیا هم خپله ډوډئ راباندې نه بندوی ، شرموی مو نه ، سحر راته په دروازه نه لیکی چې فلانکی بیګاه دا ګناه کړې ده - ډیر مهربانه دی او ډیر نعمتونه ئې دی - عالمان ذکر کوی چه د ټولو نه لوئی نعمت ئې ژوند او زندګی ده - کچرته ژوند نه وی نو یو نعمت هم نشته دے ، ظاهری نعمتونه ټول ، باطنی نعمتونه ټول ، دینی نعمتونه ، دنیاوی نعمتونه ملګرو سره ملاویدل ، مور پلار ، نعمت د هغوی سره د مینې محبت ژوند تیرول رونړو ، خویندو نعمت مال ، دولت ، زمکې ، آسمانونه ، مختلف نعمتونه دی خو دروازه ددے ټولو نعمتونو هغه ژوند او زندګی ده - دا یو بهترین نعمت دے ،

عجیبه خبره دا ده چه ددے نعمت ورکونکی او اغستونکی د الله تعالی نه علاوه بل څوك نشته که سالمه دنیا راجمع شی نو نه ئې چا ته ورکولی شی او نه ئې د چا نه اغستی شی ، دوائی ، ظاهری اسباب ددے دپاره دی چه انسان خپل نیتی ته په آسانه باندے اورسی -

## ګورباچوف واقعه

ګورباچوف د روس صدر تیر شوی دے - روسیان داسې خلق دے چې دوی الله تعالی نه منی ، دوی وائی : دنیا پخپله چلیږی ، دی بیمار شو ، ډاکټرانو ته وئیل چې ډاکټران دی راجمع شی ، د ډاکټرانو ټیم راغے ، چه تاسو کوم ټیسټونه کړی دی هغه راوړئ ، هر څه کیخودل ، ګورپاچوف اووئیل په تاسو کښې یو ډاکټر زما سره غداری کول غواړی ، هغوی وی : نه ، وائی : دا ټول زما د صحت طمع کوی ؟ هغوئ وی : او ، وئیل : داسې ده ، او دا ټیسټونه ټول چه دی زما هم دغه بیماری ده ، او دوائی د مرض د خه کیدو سره برابر دی ، خو وائی : زه ستاسو نه تپوس کومه ، زما بیماری ډیریږی ، خه کیږی نه دا ولی ؟

هغوی ټول غلی شول ، ګورباچوف اوئیل : معلومیږی داسې چه یو طاقت داسې شته ، یو ذات داسې شته ، چه هغه په دوایانو او ډاکټرانو باندے زورور دے چه هغه زما صحت ، ژوند نه غواړی ، اوس به هغه ذات ګټی او تاسو به بیلئ ، هغه په آخر کښې تسلیم کړه چه ژوند او زندګی دا یو لوے نعمت دے ، او ددے ورکونکی او اغستونکی یو ذات شته دے -

## واقعه

عالمان ذکر کوی : چه فرعون د زندګی او ژوند ورکونکی یو ذات نه منلو ، هغه په خپل تعلیم ، په خپل بادشاهت ، په خپل لښکرو ، په خپل تهذیب دهوکه وو ، مسلمانانو ته ئې تکالیف ورکول ، د هغه د کور نه په الله تعالی باندے غشی وریدل ، وائی : زه د موسی علیه السلام خدائے ته ګورم ، چه د موسی علیه السلام مدد دی اوکړی کنه ، چه کله ترے الله تعالی خپل نعمت ساه او زندګی اخلی نو فرعون په آخره کښې تسلیم کلمه وائی :

**{ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِیْ آمَنَتْ بِهٖ بَنُوْ إِسْرَائِیْلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ} [یونس: 90]**

اوګوره اوګوره مدونه ئې راخکلی دی او دا ئې تسلیم کړیده چه یو ذات زما نه دپاسه شته چه دا زندګی هغه ورکوله توبه ئې ویستله خو الله تعالی ورته جواب کښې وائی :

{آلْآنَ} [یونس: 91]

اوس توبه اوباسی چه کله ژوند په ختمیدو شی ، د قبر احوال اوینی ، آخرت اوینی ، جنت ، جهنم ، فرشتی اوینی نو دغه وخت بیا توبه نه قبلیږی -

## واقعه

برمکی بادشاه حج له راغلې دے طواف ئې کولو ، شرطه او پولیس اودریدل - وائی چې بادشاه ته ځاے پریدئ نو یو ملنګ جان راغے او د پولیس دائره ئې ماته کړه ، دننه د بادشاه سره روان دے ، او بادشاه ته وائی چې دا بهر ظلم دی کم وو ، چه اوس د بیت الله دننه هم ظلم شروع کړو ؟

بادشاه غصه شو وائی : دا د حرم نه بهر زما سره میلاؤ کړئ -

پولیس شرطه ورته وائی چې بادشاه صاحب دا لیونی دے - بهر بادشاه ته حاضر شو - بادشاه وائی ، زه یې قتلوم ځکه زما بی عزتی ئې کړیده - نوکران وائی چې لیونی دے مه وژنه ئې - هغه ملنګ جان په خندا شو -

بادشاه ورته وائی چې ولی خاندی ؟

ملنګ : خاندم ځکه چه بادشاه او وزیران دواړه لیونی دی - ځکه بادشاه وائی چې زه ئې وژنم ، او وزیران وائی ، مه وژنه ، او زما د رب فیصله ده چې :

{ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ كِتَابًا مُؤَجَّلًا } [آل عمران: 145]

الله تعالی وائی په خپله نیټه به مری ، بادشاه حیران شو -

بادشاه وائی : دا څوك دے ؟

خوا کښې ورسره فرزدق ولاړ دے ،

## د فرزدق اشعار

او هغه شعر اووی :

هَذَا الَّذِی تعرف الْبَطْحَاء وطأته　　　والـركن يعرفـهُ والحـل وَالْحـرم
هَذَا ابْـن خـير عبـاد الله كلهـم　　　هَذَا التقى النـقى الطَّـاهِرِ الْعلم

[تفسير السمعانى 5/ 113]

وائی : د مکی خورګئ ده لره پیژنی ، وائی ، دا علی رضی الله عنه نوسی زین العابدین رحمه الله دے ، بادشاه د هغه نه معافی اوغوختله -

نو معلومه شوه چه ژوند ورکونکی الله تعالی دے او اغوستونکی هم الله تعالی دے - قرآن کریم فرمائی :

{وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ } [آل عمران: 27]

{ لَه مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يحْيِي ويمِيتُ} [الأعراف: 158]

دا يو لوے نعمت دے په قيامت کښې به آرمان د ژوند وی -

{أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يتَذَكَّرُ فِيْه مَنْ تَذَكَّرَ} [فاطر: 37]

عالمان ذکر کوی چه ددنيا ژوند ډير قيمتی دے خو ډير بی اعتباره هم دے ګارنټی ئې نشته ، او لنډ ژوند هم دے - - صرف د آذان او مونځ ما بين کښې دغه ژوند دے ځکه چه پيدا شی نو آذان اوکړی او چه وفات شی نو مونځ پرې اوکړی - قيمتی ځکه دے چه د آخرت د ژوند مدار ددنيا په ژوند دے ، چه ددنيا ژوند دی سم تير کړو نو د آخرت هغه ژوند به دی هم خه وی - چه ددنيا ژوند دی برابر تير نه کړو نو آخرت زندګی به دی برابر نه وی -

خو عالمان ذکر کوی : چې يو ژوند تيرول دی ، دويم ژوند جوړول دی -

د ژوند تيرول مطلب : چه راځه ټائم به پاس کړو ، **Life Engoy** کول - وائی : راځه کنه **Gime** کول غواړی ، سيند غاړی ته به لاړ شو ، لګ ګپ شپ به اولګوو ، راځه لګ پروګرام به اوکړو ، ټائم به پاس کړو ، فيس بك به اوکړو ، ټائم به پاس کړو ، ان لائن ګيم به اوکړو ، ټائم به پاس کړو

، غیبت به اوکړو ، ټائم به پاس کړو ، فلم به اوګورو ، ټائم به پاس کړو ، ډرامه به اوګورو ، ټائم به پاس کړو ، کرکټ ، فټ بال ، هاکی به اوګورو ، ټائم به پاس کړو ، قرآن کریم ژوند تیرولو ته تمتع وائی ، وائی :

ژوند تیرول خو ځناور هم کوی لکه قرآن کریم فرمائی :

{ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ } [محمد: 12]

{ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ} [الحجر: 3]

{ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ} [إبراهيم: 30]

انسان ژوند تیروله نه دی راغلے بلکه ژوند جوړولو له راغلے دے - نو په انسانانو کښې بعض خلق ژوند تیروی ، هغه مخکښې څه مقصد هدف نه وی یعنی مقصد ورته نه وی معلوم ، نو قرآن کریم وائی : دغه انسان مثال پشان د ځناورو دے لکه

{أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ} [الأعراف: 179]

پشان د خنزیر دے ، کمثل الخنزیر ، پشان د سپی دے -

{كَمَثَلِ الْكَلْبِ} [الأعراف: 176] نو د انسان مقصد به ژوند جوړول وی ، ژوند تیرول به نه وی -

## د ژوند تیرولو مختلفی طریقې

(۲) ژوند جوړول : ژوند به په څه جوړیږی ؟ د ژوند جوړولو دپاره مختلفی نظریې پیش شوی دی ، قرآن کریم فرمائی :

{ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ° إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ° الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ } [الفجر: 6 ـ 8]

عادیانو وئیل چه په قوت او طاقت باندے ژوند جوړیږی -

ثمودیانو وئیل چې په هنرمندئ باندے ژوند جوړیږی -

قارون وئیل چې په مال او جائیداد ژوند جوړیږی -

قوم لوط وئیل چې په خواهش پرستئ باندے ژوند جوړیږی -

قوم شعیب وئیل چې په معیشت باندے ژوند جوړیږی -

فرعون وئيل چې په حکومت او سياست باندے ژوند جوړيږی -

اوسنی دور کښې څوك وائی چې په سائنس او ټيکنالوجی باندے ژوند جوړيږی -

څوك وائی چې چه تعليم زيات شی نو ژوند به جوړ شی -

څوك وائی چې ډاکټری زيات شی نو ژوند به جوړ شی -

څوك وائی چې انجينيری زياتی شی نو ژوند به جوړ شی -

څوك وائی چې په رشوتونو باندے ژوند جوړيږی -

څوك وائی چې په سودونو اغستلو باندے ژوند جوړيږی -

څوك وائی چې د آئی ايم ايف نه په قرضو اغستلو باندے ژوند جوړيږی -

څوك وائی چې په پارټئ باندے ژوند جوړيږی -

څوك وائی چې ۸۰٤ قيدی په آزادولو باندے ژوند او زندګی جوړيږی -

نـــــا ، نـــــا ، نـــــا

قرآن کريم فرمائی ، چه ژوند جوړول غواړی نو دا ژوند دی ژوند ورکونکی ته وقف کړه نو ژوند به دی جوړ شی -

{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ} [البقرة: 207]

په مالونو ، جائيدانونو ، طاقتونو ، هنرنونو ، خواهش پرستو ، معيشت او سياست او تعليم ډاکټری ، انجينيری او نوکری په دې څيزونو باندے ژوند نه جوړيږی بلکه خپل ژوند الله تعالی ته وقف کړه نو ژوند په دې جوړ شی - خپل بدن الله تعالی ته وقف کړه - داسې مه وايه چه بدن زما دے ، زما په اختيار کښې دے -

مال زما دے ، زما په اختيار به ګټلی کيږی ، او خرچ کيږی -

غوګونه ، سترګی زما دی نو اختيار به ئې زما وی -

زمکه ، ملك زما دی نو اختيار به په کښې زما چليږی - نه نه بلکه خپل بدن ، خپل مال ، خپل لاسونه ، خپې ، غوګونه ، سترګی ، زمکه ، ملك دا ټول الله تعالی ته حواله کړه نو ژوند به دی

جوړ شی -

عالمان ذکر کوی چه کله سحر شی ، نو تعلیم یافته طبقه سکول او کالج ته روان شی ددے دپاره چه ژوند می جوړ شی -

زمیندار سړی سحر پټی ته روان شی ددے دپاره چه زما ژوند جوړ شی -

دوکاندار دوکان ته روان شی ددے ددپاره چه ژوند می جوړ شی -

ډاکټران هسپتال ته روان شی ددے دپاره چه ژوند می جوړ شی -

انجینیر خپل دفتر ته روان شی دې دپاره چه ژوند می جوړ شی -

قاضی عدالت ته دې دپاره روان شی چه ژوند می جوړ شی -

نا ، نا ، نا قرآن کریم د صحابو کرامو رضی الله عنهم دا صفت ذکر کړی دے :

{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ} [البقرة: 207]

هغه هم انسانان وو ستاسو په شان خوراك به ئې کولو ، څکاك به ئې کولو ، بازارونو کښې به يې کاروبار کولو ، کورونه ئې وو ، ښځې او بچی ئې وو ، نو هغوی خپله زندګی او ژوند ټول الله تعالی ته حواله کړی وو ، نو د هغوی ژوندونه جوړ شوی وو -

عالمان ذکر کوی چه د ژوند جوړولو اصل قانون هغه قرآن کریم دے ، خپله مکمله زندګی قرآن کریم ته حواله کړه - زمونږ د قرآن کریم باره کښې څه سلوك دے ؟

## واقعه

یو بادشاه وو د هغه یو باز وو او هغه باز ورك شو - فوج ، پولیس په هغې پسې ګرځی ، هغه باز یوې بوډۍ نیولے دے ، نو اوبه ئې ګرمی کړی دی ، وائی ورته چې تاله به چا عمر کښې هم غسل نه وی درکړی ، نو په ګرمو اوبو ئې لامبولی دے ، نوکونه ئې ترے کټ کړی دی ، وزری ئې ترے کټ کړی دی ، مخوکه ئې ترے کټ کړیده ، نوکرانو چې اولیدو ، بادشاه ته ئې اوی ، چې یوې بوډۍ سره دے ، نو د باز سره ئې دا کارونه کړی دی ، بادشاه وئیل : باز راوړئ ، او مخاطب شو

ورته ، وائی : ته خو باز وی ، خو دنااهلو خواله او لاسو ته لاړی نو دا څیز ئې درنه جوړ کړو ، مونږ خپل دین قرآن کریم نه د بوډئ باز جوړ کړو ، صرف مونځ ، زکوٰة ، حج ، روژه ، کلمه ، د قرآن کریم منو ، او صرف د تلاوتونو او ختمونو کتاب ئې ګنړو بس -

د ژوند د جوړولو کتاب مو اونه ګرځولو - قرآن کریم ما او تاته ترغیب راکوی د ژوند د جوړولو په مختلفو مقاماتو کښې :

{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ} [البقرة: 207]

{ أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا } [آل عمران: 20]

{إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِي لِلَّذِى فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا} [الأنعام: 79]

{ وَمَنْ أَحْسَنُ دِيْنًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ} [النساء: 125]

{قُلْ إِنَّ صَلَاتِىْ وَنُسُكِىْ وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِىْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [الأنعام: 162]

{ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ } [الأنعام: 163]

چه زندګی او ژوند جوړول غواړی نو ځان او مال الله تعالی ته حواله کړه ، خپل تعلیم ، خپل سیاست ، خپل قضاوت ، عدالت ، معاشرت ، معیشت ، اقتصاد ، خپل کور ، خپل حجره ، خپل جومات ، خپل غم ، خپله ښادی ، خپل رسم رواج ، خپل ثقافت ، خپل تمدن ، خپل تهانه تحصیل ، خپل تجارت کاروبار ، خپله نوکری ، خپله ډاکټری ، خپله انجینیری ، خپله استاذی ، غـــــرض ، غـــــرض ، غـــــرض

خپل مکمل زندګی الله تعالی ته حواله کړه نو ژوند به دی جوړ شی ، په دې یو کښې هم د الله تعالی خلاف او دشمنی مه کوه ځکه دا ټول الله تعالی درکړی دی دا د الله تعالی نعمتونه دی - نبی علیه السلام فرمائی :

وقال النبي صلى الله عليه وسلم : نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ : الصِّحَّةُ وَالفَرَاغُ . [صحيح البخارى 8/ 88]

دوه داسې نعمتونه دی چې په هغې کښې ډیر خلق په دهوکه کښې مبتلاء دی یو صحت او دوئم فراغت -

زندگی دا یو لوے نعمت دے د الله تعالی - الله تعالی دی زمونږ ژوند د خپلی رضا مطابق تیر کړی ، او الله تعالی دی زمونږ ژوند فضول نه تیروی بلکه الله تعالی دی زمونږ ژوند جوړ کړی ،

بسم الله الرحمن الرحيم

# دانسانیت د کامیابۍ دپاره څلور اصول

## د انسانیت د کامیابۍ څلور اصول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِی خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوْا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ } [العصر: 1 . 3]
وقال النبی صلی الله علیه وسلم : قُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ -

د الله رب العزت ډیر حمدونه ، شکرونه دی چه د قرآن کریم په نسبت ئې راجمع کړو ، زمونږ او ستاسو مخکښې د قرآن کریم او حدیث ملغلری بیانیږی ، او زمونږ د ایمانونو آبیاری پرې کیږی ، الله رب العزت عالمان ، نیکان خلق په مونږ او تاسو دردولی دی او خفه کړی دی -

## دشاه اسماعیل شهید رحمه الله حواله

شاه اسماعیل شهید رحمه الله منصب امامت کښې ذکر کړی دی چې الله رب العزت د نبوت نه مخکښې پیغمبر په خپل امت باندے ډیر زیات مئین کړی چه دومره به د مور پلار بچی سره مینه نه وی - لکه څنګه چه مور پلار بچی په تکلیف خفه کیږی دغه شان پیغمبر د خپل امت په تکلیف خفه کیږی - لکه پلار د بچو په صحت او اصلاح کښې کوشش کوی دغه شان پیغمبر د امت اصلاح کښې د زړه نه کوشش کوی - پلار د بچی په برابرولو کښې څه قسم نقصان نه پریدی ، منت ورته کوی ، دعا ورله کوی ، وظیفی ورله کوی ، ملا صاحب ته وائی ، دعا ورته کوه ، چې نی ورله دم کړی چې اخلاق ، اعمال ئې خه شی نو دغه شان پیغمبر د امت په درد دردیږی ، د امت په اصلاح کښې قسما قسم کوششونه کوی - نو عالمان د پیغمبرانو وارثان دی ځکه دوی هم په مونږ باندے خفه کیږی ، زمونږ د سمولو دپاره ، زمونږ د ایمانونو د ترقی دپاره ، د اعمالو د برابرلو دپاره ، موقع ګوری چه دوی به څنګه سم شی ؟ د هغې دپاره درسونه کوی ، تعلیمونه

کوی ، ماشومانو سره مدرسو کښې محنت کوی ، قرآن کریم ، قاعده ، ناظره ، ترجمه ، مونځ ، دعاګانی ، جنازه دا ورته ښائی - د هغو د عقائدو ، اعمالو ، اخلاقو اصلاح کوی ، زمونږ د عوامو دپاره د تقریر موقع برابر کړی چې ددوی د ایمانونو آبیاری پرې اوشی ، عالمان ، خطیبان ، مقررین راولی ، او یو پروګرام جوړ کړی چې ددے کلی علاقی والا د ایمانونو آبیاری اوشی ، نو ددے عالمانو بیانونو ته په توجه سره کیناستل هم اوریدل او په هغې باندے عمل کول ضروری دی -

## حکیم الامة اشرف علی تهانوی رحمه الله قول

حکیم الامة اشرف علی تهانوی رحمه الله قول دے چې بعض خلق دا اشکال کوی :
چې دغه د قرآن کریم او حدیث زړی خبرے دی ؟
نو هغه فرمائی : زه تپوس کوم چه تا په هغه زړه د کوم طرف نه عمل اوکړو تهانوی صاحب بیا فرمائی چې ددین اسلام یوه خبره دی ۹۹۹ پیرې اوریدلی وی او یو عالم هغه خبره ۱۰۰۰ بار کوی ، نو هغه ته به په توجه سره کینی که چرته د هغې نه دی بے توجوهی اوکړه نو د علم په بے قدرو کښې به د الله تعالی حساب کړی -
الله رب العزت انسان دنیا ته رالیږلی دے نو ددے انسان د یو لفظ سره ډیر محبت دے یعنی ګټه کول ، خیر حاصلول ، کامیابی حاصلول ، فائده کول ،
لنډ حاصل کامیابیدل ، دا د انسان یو خوښ لفظ دے - خو ددے انسان دا سوچ ډیر کم برابریږی چه کامیابی خو زه غواړم ،

## خو کامیابی څه څیز دے ؟

انسان مادی دے د خاورو نه جوړ دے نو ځکه دے اکثر ددنیا مادی فائدی ته کامیابی وائی - نوکری ډګری چه کله حاصل کړی نو دی وائی کامیاب شوم - چه کله په دې کښې چرته انټرویو

وی ، او په هغې کښې فیل شی نو ډیر خفه وی ، مور ئې هم خفه وی ، چه هلك خو ډیر قابل وو هسی ئې فیل کړو ، دی بیا د چا سره خبرے نه کوی ، دده ذهن مختصر جوړ شوی وی ، دے د دنیا مادی ترقی ته کامیابی وائی ، چه کاروبار ئې برابر شی ، پټی ، زمکې واخلی ، فصل اوشی ، ګاډی واخلی ، نوکریانی ، ډګریانی ، ټیکنالوجی حاصل کړی ، دده خواهش پوره شی ، ښځه وی ، بچی وی ، کور وی ، مال وی ، شهوات البطن وی ، شهوات الفرج وی ، دی ورته کامیابی وائی ، ددے دپاره ختمونه کوی ، وظیفی کوی ، نفلونه کوی ، دعاګانی کوی ، چې زه دا کامیابی حاصله کړم -

## دانسانیت کامیابی

اصل د انسان دپاره د انسانیت کامیابی ده او د هغې ابتداء د زړه نه کیږی ، نبی علیه السلام فرمائی :

أَلاَ وَإِنَّ فی الجَسَدِ لَمُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الجَسَدُ كُلُّهُ ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ ، أَلاَ وَهِی القَلْبُ .[صحيح البخاری 1/ 20]

د انسان بدن کښې د غوښې ټکړه ده چه دا برابر شی نو انسان برابر شی چې دا خرابه شی نو انسان خراب شی - مطلب دا چه د انسانیت ابتداء د زړه نه کیږی چې د انسان نظریه ، عقیده برابر شی ، سوچ ئې برابر شی نو انسانیت برابر دے او چه عقیده ئې خرابه شوه نو انسانیت خراب شو ، اګر که دده سترګی ، لاسونه ، خپې غوګونه ، اندامونه ټول برابر وی نو دی خراب دے ځکه ده کښې انسانیت نشته -

## تاریخ د سلفو

قرآن کریم ذکر کوی چه تاسو د ځان نه مخکښې خلقو ته اوګورئ :

{وَلَقَدْ مَكَّنَّاهُمْ فِيمَا إِنْ مَكَّنَّاكُمْ فِيهِ  وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَارًا وَأَفْئِدَةً} [الأحقاف: 26]

الله تعالی فرمائی : ستاسو نه مخکښې هغوی له مې هم سترګی ، غوګونه ، زړونه ورکړی وو ، هغوی هم په دې خپلو طاقتونو ، مادیاتو باندے فخر کولو ، خو انسانیت ترے پاتی شوی وو۔
{ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ° إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ° الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ° وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ° وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ° الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ° فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ } [الفجر: 6 ـــ 12]
فرعونیان په خپله بادشاهئ ، ټیکنالوجی ، ثمودیان په صنعت کارئ ، عادیان په قوت او طاقت باندے ، قارون په مال او جائیداد باندے ، قوم شعیب په معیشت باندے ، قوم لوط په خپلو خواهشاتو باندے ، سائنس دانان ددے دور په خپل سائنس او حکمت فلسفی باندے غاوره شو ، د انسانیت فکر ئې اونکړو نو هغوی هم تباه شول نو که چرته تاسو هم په دغه بے فکرئ کښې لاړ شئ نو تاسو به هم تباه شئ۔

## دانسانیت ابتداء د زړه نه کیږی ، او د زړه اصلاح په قرآن کریم

نو د انسانیت د اصلاح دپاره قرآن کریم راغستل ضروری دی چې انسان عقیده او نظریه صحیح شی ځکه د نظریې کتاب قرآن کریم دے عقیده او نظریه په قرآن کریم برابر کړی ، ځکه د قرآن کریم او سنت نه علاوه عقیده او نظریه صحیح نه وی ، اول لازم د انسانیت دپاره د زړه او عقیده اصلاح ده ، کله چه د زړه او عقیده اصلاح نه وی شوی :

خشت اول چوں نہد معمار کج　　　تا ثریا می رَوَد دیوار کج

د آسمان پورې دیوال پرې نه شی کولی ،

## قول د خال شیخ صاحب حفظه الله

گر تو ے خواہی کہ دانی نامہ انسانی زقند　　　قلب قلب قلب رابر قلب قلب قلب زن

که غواړی چې د انسان اصلاح اوکړی نو قرآن کریم راواخله او د انسان د مغز سره یې اولګوه۔

## د قرآن کریم مغز

{كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ} [هود: 1]
{أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ} [يوسف: 40]
{فَاعْلَمُوْا أَنَّمَا أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَأَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ} [هود: 14]
{ اِتَّبِعْ مَا أُوْحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ} [الأنعام: 106]
{قُلْ إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [الأنعام: 162]
{بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ} [البقرة: 112]
{إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ } [الأنعام: 79]
{ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوْهَا } [يوسف: 40]
{مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ} [يوسف: 40]
{ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ} [يوسف: 40]
{أَنْ أَقِيْمُوْا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا} [الشورى: 13]
{وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ} [المدثر: 3]
{هُوَ الَّذِيْ أَرْسَلَ رَسُوْلَهُ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهِ} [التوبة: 33]
{إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ} [الكوثر: 1]

## د انسان مغز

د انسانیت مغز زړه او روح دے ، اے انسانه د قرآن کریم مغز د انسان د مغز سره اولګوه او د زړه نه شروع کړه- زړه ایمان ، عقیده ، نظریه دی جوړ کړه ځکه چه دا بنیاد دے-

## انبیاء محنت

د انبیاء محنت اول په زړه باندے وو چه د مخلوق زړه ایمان ، عقیده ، نظریه ، د الله تعالی سره برابر شی ، زړه ئې د الله تعالی سره اوتړلی شی-

## قول شیخ القرآن

*مغز قرآن مغز ما برداشت ایم* *است خواهش خدا اند یمحم*

انسان به په هر څه کښې د الله تعالی غلام وی ، په ایمان ، زړه ، عقیده کښې به د الله تعالی غلام وی ، بدن به ئې د الله تعالی وی ، مال به ئې د الله تعالی وی ، ژوند ، مرګ ، صحت ، بیماری ، کاروبار ، تجارت ، معاش ، معیشت ، معاشرت ، صحت ، تعلیم ، قضاء ، عدالت ، تهانه ، کچری ، سیاست ، رسم ، رواج ، ثقافت ، جومات ، حجره -

غـــــرض ، غـــــرض ، غـــــرض

دا پنځه / ۵ فټه بدن به ئې ټول د الله تعالی سره تړلی شوی وی - نو د انسان د کامیابی اولنی خبره دا ده چه انسان دا ټول هر څه د الله تعالی سره اوتړی ، چه دا ټول الله تعالی راکړی دی ، زما خپل نه دی ، زمکه ، آسمان ، ستوری ، اونی ، بوټی ، دریابونه ، غرونه ، دا ټول نعمتونه ئې زما دپاره پیدا کړی دی نو اوس دا عقیده ، ایمان ، نظریه برابر شوه -

**وَعَمِلُوْا الصَّالِحَاتِ**

## عمل صالح

چه کله دې عقیده ، نظریه ، ایمان په هر څه برابر شو او دا خکاره شوه چه دا هر څه دی د الله تعالی سره اوتړل ، خپل ژوند مرګ وغیره ، نو اوس ددے ټول په عمل کښې ثبوت ورکول غواړی -

## قول سندهی رحمه الله

چه د کوم انسان نظریه ، عمل او مادیاتو نه منتقل نه شی نو هغه نظریه بیا تش سوچ پاتی شی او دا پرې شکست خورده شی - نو په عمل کښې ددے خپلی نظرئی ګواهی ورکول غواړی چه ستا پنځه / ۵ فټه بدن کښې مکمل د الله تعالی قوانین او پیغمبر طریقه وی -

ستا خُله ، لاسونه ، خپې ، سترګی ، نوکونه ، ټول اندامونه د قرآن کریم د رڼړا لاندې استعمالیږی

، او د الله تعالی خلاف په کښې نه کیږی -
ستا معاش ، معیشت ، کاروبار د سود ، رشوت نه پاك وی د الله تعالی د قانون په رنړا کښې وی -
ستا معاشره په قرآن کریم منوره وی ، حیاء پاکدامنی ، عزت ، ناموس ، رورولئ ، خورولئ ، د مور پلار ، د ګاونډئ ، حقوق د قرآن کریم په رنړا ادا کیږی ، ستا تعلیم د قرآن کریم مطابق وی- په سکولونو ، کالجونو کښې په قرآن کریم او حدیث اعتراضات نه وی ، په دین او دین دارو پورې ټوقی او مسخری نه وی - ستا په کالج کښې د عقیدی او عمل بالقرآن ، اثرات او ترغیبات وی ، د هغې قانون وی د قرآن کریم د قانون لاندی وی ، د هغې نصاب وی ، د قرآن کریم د نصاب لاندی وی ، ستا سیاست ، قضاوت ، هسپتال ، جومات ، حجره ، رسم ، رواج د قرآن کریم په ښودنه وی ، نو ددے عقیدی ، نظری او ایمان په عمل سره ګواهی او ثبوت ورکول غواړی -
**وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ :**

## صبر

چه کله دی خپل ایمان عقیده ، نظریه او عمل په قرآن کریم برابر کړل ، او عملی ثبوت ، ګواهی دی هم ورکړه ، نو دی باب کښې به دربادندی تکالیف راځی ،
(۱)دمور د پلار دطرف نه -
(۲) د کلی د ناظم ، چې رمین د طرف نه -
(۳) دقانون سازانون مشرانو ، حکومت دطرف نه ، د ملك ، دبادشاه د طرف نه به دربادندی قسم قسم تکالیف راځی ، حدیث کښې راځی ، نبی علیه السلام فرمائی :
په ټولو انبیاء کښې په ما ډیر تکالیف راغلی دی ، ثم الامثل فالامثل زما نه پس چه کوم غوره خلق وی نو په هغوی به راځی - نو ته ځان ته د نوح علیه السلام تکالیف ، د ابراهیم تکالیف ، د یوسف علیه السلام تکالیف ، د لوط علیه السلام تکالیف ، دعیسی علیه السلام تکالیف ، د صاحب یاسین تکالیف ، د رجل مؤمن تکالیف رایامدم کړه چه هغوی د ایمان ، عمل صالح

ددعوت د وجه نه څومره تكاليف برداشت كړى دى - نو ته هم د هغوى وارث ئې نو ته به هم په تكاليفو صبر كوى -

**وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ :**

## بيان كول

ددى صحيح عقيدى ، نظريه ، صحيح اعمالو بيان هم كول ، او ددے د نافذ كول كوشش به هم كوى ، نو دا څلور / ٤ اصول د انسانيت د كاميابئ وو : (١) ايمان ، (٢) عمل صالح (٣) وصيت بالحق (٤) وصيت بالصبر -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د طالبِ علم دوه ذمه واریانی

## د طالب العلم دوه / ۲ ذمه واريا نى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{ إِيَاكَ نَعْبُدُ وَإِيَاكَ نَسْتَعِيْنُ ° اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ } [الفاتحة: 5، 6]
وقال النبى صلى الله عليه وسلم : اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ مَعَالِى الْاُمُوْرِ ويكْرَهُ سَفَاسِهَا ،

په مونږ او تاسو د الله تعالى ډير نعمتونه دى - د ايمان نه پس لوے نعمت د الله تعالى علم دے ، علم د پيغمبرانو وراثت دے ، د يو ، دوه نه بلكه يو لاكه ۲٤ هزار كم وبيش انبياء وراثت دے - وړوكى منصب نه دى بلكه لوے منصب دے - الله تعالى چه كله قرآن كريم كښې د جناب سليمان عليه السلام او جناب داؤد عليه السلام تذكره كوى نو الله رب العزت فرمائى :
{وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُوْدَ وَسُلَيْمَانَ عِلْمًا } [النمل: 15]
حالانكه دا دواړو له الله رب العزت ماديات ډير تابع كړى وو - سليمان عليه السلام به هوا تابع وه او تخت به ئې په هوا روان وو - او د داؤد عليه السلام تذكره كوى چه هغه له مې اوسپنه نرمه كړى وه -
{وَأَلَنَّا لَه الْحَدِيْدَ} [سبأ: 10]
چه ما داؤد عليه السلام لره اوسپنه نرمه كړى وه -
دارنګى د هغوى تذكره په علم سره كوى :
{ وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُوْدَ مِنَّا فَضْلًا} [سبأ: 10]
علم يادوى - نو دا علم د الله تعالى يو لوئې نعمت دے ، د علم دپاره دوه / ۲ خبرے ضرورى دى ، چه كله دغه دوه / ۲ خبرے وى نو علم به علم وى ، ورنه علم به تش معلومات وى -

## مقصد نبوت

(۲)مقصد نبوت : د علم په حصول کښې مقصد نبوت پیژندل ډیر ضروری دی ځکه علم د وراثت د انبیاء دے نو چه د علم سره د انبیاء د نبوت مقصد خامخا حاصل شی - الله تعالی دنیا ته انبیاء سلسله په دې خبره باندے جاری کړه چه په زمکه د الله تعالی نظام قائم کړی ، هر یو پیغمبر دنیا ته راغلی نو هغه د اسلامی نظام د نفاذ کوشش کړی دے چه دنیا کښې اسلام راشی -

قرآن کریم ما او تا ته مقصد ښائی :

{أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ} [يوسف: 40]

{فَاعْلَمُوْا أَنَّمَا أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللهِ وَأَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ} [هود: 14]

{ اتَّبِعْ مَا أُوْحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ} [الأنعام: 106]

{قُلْ إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [الأنعام: 162]

{بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ} [البقرة: 112]

{إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ } [الأنعام: 79]

{ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ} [يوسف: 40]

{أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ} [يوسف: 40]

{أَنْ أَقِيْمُوْا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا} [الشورى: 13]

{لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ ويَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ} [الأنفال: 39]

{ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّه} [التوبة: 33]

ټولو آیاتونو مبارکو نه مقصد د نبوت معلومیږی - صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین قول دے :

اِبْتَعَثَنَا اِلَيْكُمْ لِنُخْرِجَ الْعِبَادَ مِنْ عِبَادَةِ الْعِبَادِ اِلٰى عِبَادَةِ رَبِّ الْعِبَادِ

مخلوق د مخلوق د غلامۍ نه خلاصول د الله تعالی غلامۍ ته راوستل -

عالمان ذکر کوی : چه کوم عالم او طالب سره فکر د مقصد نبوت نه وی نو د هغه علم د الله تعالی دپاره نه دی ، هغه علم به ددنیا وی ، معلومات به وی خو هغې ته علم نه شی وئیلی -

دی وجی نه حدیث کښې نبی علیه السلام فرمائی :

الا اِنَّ الشَّرِّ شَرَارُ الْعُلَمَاءِ ،

په ټولو کښې بدتر خلق هغه بدترين علماء دی چه هغوی علم حاصلوی او مقصد نبوت نه وی پيژندلی - نو هر عالم لره مقصد نبوت پيژندل ضروری دی چه ددے عالم په بدن کښې په ماحول کښې ، په کور کښې ، دده په معاشره کښې ، دده په کاروبار کښې ، دده په تهانه ، تحصيل ، معاش ، صحت ، تعليم ، قضاء ، سياست کښې ، حجره ، جومات ، رسم ، رواج يعنی په ټوله زندګی کښې دده د الله تعالی قانون د نافذ کولو کوشش وی او نيت وی ، او د هغې دپاره محنت کوی چه قرآن کريم نظام به په زندګی کښې د راوستلو کوشش به کوم داسې نه چه لکه زمونږ ددے دور خلق قرآن کريم صرف د ختم دپاره استعمالوی ، د تلاوت د مړی دپاره استعمالوی ، دوکان ، هسپتال ، دفتر د برکت دپاره استعمالوی -

اګر که دغه دوکان ، هسپتال ، سکول ، دفتر ، کور کښې بيا د قرآن کريم په حکمونو خپې کيخودلی کيږی ، خير دے ، نه نه ، قرآنی نظام ستا مکمل زندګی جوړوی ځکه هغه د زندګی آئين او قانون دے خپله زندګی په هغې تيروی نو دا مقصد نبوت دے چه د هر عالم او طالب د طالبی دور کښې د مقصد نبوت فکر په ذهن کښې وی - وس انبياء سره د مقصد نبوت د قيام دپاره د هغوی سره څه اسلحه وه ؟ نو هغوی سره ددے مقصد دپاره اسلحه اخلاق وو -

## اخلاق نبوت

(۲) اخلاق نبوت : د پيغمبرانو سره د مقصد نبوت د قيام دپاره اسلحه هغه اخلاق نبوت وو ، حديث کښې نبی عليه السلام فرمائی :

بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْاَخْلَاقِ -

مونږ او تاسو اخلاق څه ته وايو ؟

چې بس يو سړی په هره خبره کښې " جی " وائی ، او خکته خکته ګوری ، او چه خبرے کوی ، نو په سينه ورسره لاس هم کيدی دا اخلاق نه دی - قرآن کريم د نبی عليه السلام اخلاقو تذکره

کوی :

{وَإِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيمٍ} [القلم: 4]

اخلاق خُلُقْ تعریف نور الانوار کوی :

مَلَكَةٌ يَصْدُرُ عَنْهُ الْاَفْعَالُ بِسُهُوْلَةٍ

دا خُلُقٍ دا د زړه یو کیفیت دے ، ملکه هغې ته وائی چه هغه زړه کښې راسخ شی - نو اخلاق وئیلی کیږی د زړه کیفیات ته - مثلاً : چه څه دین هم کوی نو دا په شوق او په مینه او محبت سره اوکړی ، مونځ کوی ، نو دی توجه سره اوکړی چه الله تعالی ما وینی -

أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يرَاكَ . [صحيح البخارى 1/ 19]

یعنی خپل هر عمل د احسان مرتبې ته رسول غواړی ، چه مونځ کوی ، چه الله تعالی ته مې وینی ، په شوق سره اوکړی ، په مینه سره اوکړی ، په محبت سره اوکړی ، چه الله تعالی اوفرمایی : چه او دا مونځ ئې زما دپاره اوکړو -

دارنګه روژه ، حج ، زکوة هر عمل داسې شوق ، مینه ، محبت سره کول چې زما رب ما ته ګوری - یا داسې اندازی سره کول چه زه خپل رب وینم او هغه ته ګورم او دا اعمال خاص د هغه دپاره کوم - قرآن کریم د کیفیات باره کښې فرمائی :

(1){وَأَحْسِنُوْا إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ } [البقرة: 195]

عالمان ذکر کوی : چه اخلاق او کیفیات باره کښې د پیغمبر علیه السلام حدیث مبارك هم مونږ زاد الطالبین ، ریاض الصالحین ، آثار السنن ، مسند امام اعظم ، مشکوة ، بخاری شریف ، مسلم شریف ټولو اول نمبر کښې وایو چه :

اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ -

چه د عمل تول په کیفیت باندے دے چه کله عمل په کیفیات سره اوشی نو هغه عمل وی ورنه دغه عمل دبدن سره پاتی شو او بدن قبر کښې خاوری شی نو عمل ورسره خاوری شی بل جهان ته لاړ نه شی -

## ضابطه اهل تصوف

د اعمالو د يو جهان نه د بل جهان پورې منتقل كولو دپاره قلبي كيفيات ضروري دي ، كنه دغه عمل د بدن سره په دنياوي قبر كښې خاوري شي - د اسلافو علم تش قال نه وو بلكه هغوی علم د قال نه حال ته كوز كړې وو -

## قول د علی رضی الله عنه

علی رضی الله عنه فرمائی :

ولكن اخشى عليكم كل منافق عليكم اللسان ،

چه ژبه ئې ملاپشان چليږی او حال ورسره نه وی - علم د قال نه حال كول غواړی او حال په كيفيات سره حاصليږی ځكه د علم تعريف صاحب د مرقاة كوی :

(١)حُصُوْلُ صُوْرَةِ الشَّيْئِ فِى الْعَقْلِ -

(٢) اَلْحَاضِرُ عِنْدَ الْمُدْرِكْ -

(٣) اَلْحَالَةُ الْاِدْرَاكِيَّةُ -

(٤) اَلصُّوْرَةُ الْحَاصِلَةُ عِنْدَ الْعَقْلِ -

## رومی رحمه الله وائی چې

قال رابگزار مودے حال شو　　　　پیش مردے کامل پامال شو

ترجمه : مولوی صاحب ته دی علم د قال نه حال كړه ، د يو كامل او نيك انسان په صحبت كښې پاتی شه دی وجی نبی عليه السلام فرمائی :

اِنَّ عَمَّاراً مُلِئَ اِيْمَاناً مِنْ قَرْنِه اِلٰى قَدَمِه وَاخْتَلَطَ الْاِيْمَانُ بِعَظْمِه وَبِدَمِه

يقيناً عمار د ايمان نه ډك دے د مرئ نه تر قدمونو پورې - او ايمان د هغه د غوښی او هډوكو سره خلط شوی دے -

## کیفیات قلبی

قرآن کریم د کیفیات تذکره کوی چه عالم دپاره اخلاق نبوت پکار دی ، او اخلاق نبوت کښې د زړه کیفیات هم راځی - قرآن کریم فرمائی :

(۱){وَأَحْسِنُوْا إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ } [البقرة: 195]

(۲) {إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} [فاطر: 28]

(3) { وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ} [الأنفال: 69]

(4) { فَتَوَكَّلُوْا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ} [المائدة: 23]

(5) {فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ} [يوسف: 18]

(6) { وَأَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ} [النساء: 146]

(7) {أَشَدُّ حُبًّا لِلّٰهِ} [البقرة: 165]

اخلاص ، نیت ، احسان ، خشیت الهی ، تقویٰ ، توکل ، صبر ، اخلاص ، مینه ، صحیح نیت دا ټول د انسان د زړه کیفیات قرآن کریم ذکر کړی دی - نو عالم دین او طالب العلم دپاره ضروری ده - چه خپل زړه او د زړه ټول کیفیات د الله تعالی سره اوتړی ، کوم علم کښې چه اخلاق نبوی او مقصد نبوت نه وی نو هغه علم هَبَاءً مَنْثُوْراً دے -

ځکه چه قرآن کریم د نبی علیه السلام اخلاق ته وائی چه څه قرآن کریم وئیلی دی نو هغه نبی علیه السلام کښې وو نبی علیه السلام ژوندې قرآن کریم وو - نو دی وجی عالِم له پکار دیز چه خپل ځان ، خپل نفس ، خپل زړه ، خپل اعمال ، اخلاق ، شکل ، شبهات ، صورت ، سیرت ، کردار ، ګفتار ، معاملات ، معاش ، معاشرت ، سیاست ، قضاوت ، تهانه ، تحصیل ، کچری ، ټول د قرآن کریم موافق وی نو اخلاق نبوی به راشی او بیا علم به علم اوګرځی -

فَاِنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ مِّنْ اِلٰهِیْ    وَنُوْرُ اللّٰهِ لَا یُعْطٰی لِعَاصِیْ

بسم الله الرحمن الرحيم

# حفاظة اللّسان (ژبه )

## حفاظت اللسان (ژبه )

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا} [الحجرات: 12]
وقال النبى صلى الله عليه وسلم :
المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِه ويدِه ، [صحيح البخارى 1/ 11]

د انسان د ملكيت تباه كولو ، ايمان ختمولو ، د زړه د رڼرا ختمولو ، د الله تعالى سره وصل ختمول ، د انسانيت نظام او تعلق ختمولو ډير اسباب دى چې په هغې كښې يو / ١ ژبه او د ژبې غلط استعمال دے - نبى عليه السلام فرمايلى وو يو صحابى رضى الله عنه ته :

اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ ،

د خپل ژبې كنټرول اوكړه - د ژبې واګې وى اونيسه ، ژبه دى په واك كښې كړه - نبى عليه السلام فرمائى معاذ رضى الله عنه ته

چه معاذ د خپلې ژبې خيال كوه ځكه ژبو ټول مخلوق لَوْ كړو ، ژبو تباه كاړل - دارنګه نبى عليه السلام فرمائى :

وَمَنْ كَانَ يؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَاليوْمِ الآخِرِ فَلْيقُلْ خَيرًا أَوْ لِيصْمُتْ . [صحيح البخارى 8/ 11]

چه څوك الله تعالى او پيغمبر منى او په آخرت يقين كوى نو هغه دى د خير خبره كوى او يا دى چپ اوسيږى -

دارنګه علماء كرام ذكر كوى :

السُّكُوْتُ سَلَامَةٌ ، چپ كيناستل سلامتيا ده -

مونږ او تاسو اكثر ژبه د غفلت په انداز استعمالو - دا سوچ راسره نه وى چه زه څه د خلى نه اوباسم ، او دا به زما په عمل نامه كښې ليكلى كيږى - قرآن كريم فرمائى :

{ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ} [ق: 18]
چه کله انسان د خلی نه خبره اوباسی نو فرشته ورته تیاره ناسته وی - چه د انسان چې د خلی خبره لیکلی کیږی نو ولی عمل د انسان به نه لیکلی کیږی ؟ عمل به په طریقه اولی سره لیکلی کیږی الله تعالی حکم کوی :
{ وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا} [الأنعام: 152]
چه کله تاسو خبرے کوی نو په انصاف کوی ، یعنی

## اول خبره تله بیا ئې کوه

د دی وجی نه هر انسان دپاره ضروری ده چه د خپل خبرو خیال اوکړی ، چه چرته زما دخلی نه د ګناه خبرو نه اوځی ، بده خبره رانه اونه ځی -

## قول د ملاعلی قاری رحمه الله

چه عوام په بازارونو کښې زنانه په کورونو کښې او عام خلق په معاملاتو کښې کله داسې خبره اوکړی چه هغې باندے د هغه ایمان ختم شی نو ملاعلی قاری لیکلی دی چې دا بعض بے باکه خلق دی ، چه هر ماسخوتن د نکاح تازه کوی ، نو ده ته به پته نه وی خو داسې خبره به اوکړی چه د هغوی ایمان ته نقصان ورسوی - د الله تعالی په فیصلو باندے اعتراض کوی ، کفری او شرکی خبرے کوی ، چه هغه خبرے د الله تعالی باره کښې د عدل خلاف وی ، شرکی خبرے کوی ، کفری خبرے کوی ، په هغې د الله تعالی د حکم انکار رانشی ، دی وائی : زه ګپ شپ لګوم ، قرآن کریم وائی :
{وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُوْلِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُوْنَ} [التوبة: 65]
قرآن کریم وائی : ولی د الله تعالی ، پیغمبر د آیاتونو پورې تاسو ګپ شپ لګوی - بل څه نه وو د ګپ شپ لګولو دپاره ؟

## دژبې ګناهونه

د ژبې ډیر ګناهونه دی - نبی علیه السلام فرمائی :

(۱)سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ ، [صحیح البخاری 9/ 50]

مسلمان ته کنځل کول کبیره ګناه ده -

(۲) لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ ، مسلمان به پیغور نه ورکوی -

(۳) وَلَا باللَّعَّانِ مسلمان به خبرے نه کوی -

بعض داسې وی ، چه د هغه ټولی خبرے د نامه نه لاندی وی یعنی بے حیائی خبرے به کوی حالانکه نبی علیه السلام فرمائی : چه مسلمان به فاحش متفحش نه وی - ځکه قرآن کریم فرمائی :

{وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا } [الإسراء: 32]

(٤) دارنګه قرآن کریم فرمائی :

{وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا} [الحجرات: 12]

غیبت به نه کوی -

(٥) د یو بل پورې ټوقی مسخری به نه کوی ،

{لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ } [الحجرات: 11]

(٦) د یو بل جاسوسی به نه کوی -

{وَلَا تَجَسَّسُوا} [الحجرات: 12]

(٧) چغلی به نه کوی - ځکه نبی علیه السلام فرمائی :

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ ،

چغل خور به جنت ته نه ځی -

(٨) دارنګه نبی علیه السلام فرمائی :

لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ

تعلقات او خبرے کټ کونکی به جنت ته نه داخل کيږی -

(۹) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی :

مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِه ويدِه ،

هغه سړی مسلمان نه دی چه د هغه د ژبی او لاس نه بل مسلمان محفوظ نه وی -

(۱۰) دارنګه نبی علیه السلام فرمائی :

مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَايَعْنِيْ ،

چه د فضول خبرو نه به ځان ساتی - قرآن کریم فرمائی :

{وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ} [المؤمنون: 3]

د ایماندارو صفت قرآن کریم دا وئیلی دے چې د لغو عبث خبرو نه به اعراض کوی -

دارنګه علماء کرام فرمائی :

فَاِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ قَسْوَةُ الْقَلْبِ ،

چه کثرت کلام بغیر د الله تعالی د ذکر نه دا د انسان زړه سختوی او قسوة قلبی راولی - دی وجی نه نبی علیه السلام فرمائی :

چه کله تاسو ناست ئې په یو مجلس کښې او په دې مجلس کښې په ما باندے درود اونه وئیلی شی ، نو تاسو پاسئ د هغه مجلس نه ، كَانَ عَلَيْه تِرٌ

دا مجلس به په تاسو باندے وبال وی - دی وجی نه نبی علیه السلام بل حدیث کښې فرمائی :

شُوْبُوْا مَجَالِسَكُمْ بِذِكْرِالْاَخِرَةِ ،

خپل مجالسو کښې د آخرت تذکرے کوی - اکثر علماء ، طلباء سره د وخت بوجئ ډکی وی ، او دومره فضول خبرے کوی - هغوی له پکار دی چه خپل مجالسو کښې د آخرت تذکری سوا کړئ ځکه په فضول خبرو باندے د انسان زړه سخت کيږی -

چه کله زړه سخت شی نو بیا پرې د نیکئ خبرے څه اثر نه کوی - مونږ اکثر چه کله د قرآن کریم درس کوو او هغې کښې زمونږ ژبه د خپل کنټرول نه بهر وی ، بړاس اوباسو او په خُله مو

چه څه راځی نو هغه پرې وایو ، اګر که بل مسلمان ته اذیت رسیږی ، او هغه پرې دردمند کیږی ، او د هغه زړه ته پرې درد رسیږی ، نه نه قرآن کریم خو د انصاف د خبرو ترغیب ورکوی -
{وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا} [الأنعام: 152]
نو د ژبې ګناهونه ډیر زیات دی - نو د خپلې ژبې حفاظت پکار دے - هر مسلمان له پکار دی چه دخپلې ژبې نګرانی اوکړی هغه په کنټرول کښې کول غواړی -
حدیث کښې راځی چې :
اَلَا کُلُّکُمْ رَاعٍ وَکُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهِ ،
هر مشر ، هر بادشاه د خپل رعایا ذمه وار دے - انسان بادشاه دے او بدن او اندامونه ئې رعایه دی - په دې رعایه کښې یو ژبه هم ده - ددے ژبې باره کښې به د انسان نه تپوس کیږی چه دا ژبه څه خبره کوی او که بده خبره کوی ددے تپوس به الله تعالی کوی - دی وجه نه طلباء کرام او علماء کرامو له پکار دی چه په ژبه داسې خبرے اوکړی چه هغه خلقو ته فائده اورسی - نبی علیه السلام فرمائی :
خَیْرُ النَّاسِ مَنْ یَّنْفَعُ النَّاسَ ،
چه غوره په تاسو کښې هغه انسان دے چه هغه خلقو ته فائده رسوی - چه د هغه د خبرو نه خلقو ته خیر ورسی - چه کومه خبره کوی ، نو هغه د شریعت مطابق برابر وی ، یا د الله تعالی خبره کوی ، یا د پیغمبر د سنت خبره کوی ، یا د امر بالمعروف خبره کوی ، یا د نهی عن المنکر خبره کوی -

## واقعه د اصحاب کهف

قرآن کریم الله کښې رب العزت واقعه د اصحاب کهف ذکر کړیده چه کله هغوی کښې یو ملګری بازار ته ځی ، د خوراك دپاره ئې لیګی نو نو هغه نورو ته حکم کوی :
{وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا } [الكهف: 19]

چه بازار ته ځئ نو خبرو کښې نرمی کوه په سختئ سره خبرے مه کوه ، لهجه نرمه او خوږه ژبه استعمالوه -

## واقعه د موسی علیه السلام

موسی او هارون علیهما السلام چه کله ېې فرعون ته دعوت دپاره لیګی ، نو الله تعالی ورته حکم کوی چه اے موسی ( علیه السلام ) او هارون ( علیه السلام ) :

{فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا} [طه: 44]

چه فرعون ته خو دعوت ورکوی خو خبرے ورسره په نرمئ باندے کوی ، ژبه او لهجه نرمی استعمالوه ، کیدی شی فرعون نصیحت قبول کړی -

## حقوق الوالدین

چه قرآن کریم کوم ځای هم د مور او پلار حقوق بیان کوی نو هغه ځاے د مور پلار سره د نرمی ژبی او نرمی لهجی ترغیب ورکوی - چه هسی نه ستا د سختی ژبی استعمالولو نه ستا مور پلار ته تکلیف اورسی - قرآن کریم فرمائی :

{ فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا} [الإسراء: 23]

چه مور او پلار ته اُف کلمه هم په ژبه باندے رانه ولی ، او هغوی به رټی هم نه ځکه دا د مور او پلار نافرمانی نه ده -

## حقوق د سائل

قرآن کریم کښې عام مؤمنانو ته خطاب کوی چه اے مؤمنانو : چه کله تاته څوك فقیر ، غریب ، مسکین راشی ، او د الله تعالی په نوم ستاسو نه سوال کوی نو تاسو هغه رټئ مه ، دوی ته کنځل وئیل ، او داسې خبرے چه ته خو روغ موټ ئې ، ځوان جان ئې ، غټه بادی دې ده ، مزدوری ولی نه کوی ؟ داسې قسم خبرے نه الله عام مسلمانان منع کوی ، او ترغیب ورکوی الله تعالی عام

مسلمانانو ته :

{قَوْلٌ مَعْرُوْفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيرٌ مِنْ صَدَقَةٍ} [البقرة: 263]

چه د صدقې ورکولو نه هغه ته خکلې خبره کول ، چې اوس نشته ، بيا به درکړم ، يا معاف کړه ، يا يوه بله خبره نرمه کول چه د هغه زړه پرې اونه در ديږی - نو دا ژبه د الله تعالی يو نعمت دے او نعمت شکريه پکار وی او ددے شکريه دا ده چه دا مونږ د شريعت په دائره کښې دننه استعمال کړو او د شريعت د دائرې نه بهر ئې استعمال نه کړو - الله تعالی دې زمونږ او ستاسو ژبې محفوظ کړی د هر قسم ګناهونو نه ، او صحيح وئيلو توفيق دې الله رب العزت مونږ او تاسو ته راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د قرآن کریم اوبه

## د قرآن کریم اوبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ} [الأنبياء: 10]
وقال النبی صلی الله علیه وسلم :
اعربوا القرآن واتبعوا غرائبه وفرائضه وغرائبه وحدوده ،
د الله رب العزت مهربانی ده چه مونږ او تاسو ته ئې ، زمونږ او ستاسو په علاقو کښې ، کورونو او کلو سره نزدی ددین کتاب یعنی قرآن کریم د زده کړې او ښودنې ځایونه او استاذان را نصیب کړې دی ، کوم ځلی کښې چه عالم وی ، مدرسه وی ، د قرآن او سنت خدمت کیږی ، نو د الله تعالی په هغه خلقو خصوصی فضل او احسان وی -

## قول د میمون ابن مهران

میمون ابن مهران رحمه الله فرمائی : چه کوم ځای یو عالم وی ، او په کوم ځاے کښې د عالم درس تدریس وی ، ددین مرکز وی ، ددے داسې مثال دے چه لکه هغه ځاے د خوږو اوبو چې نه ده - کچرته چې نه نه وی د اوبو نو د تندی ماتولو دپاره به لرې تلل پکار وی نو کیدی شی انسان هغې لرې ځاے ته اونه رسی ، یا دا ده چه کیدی شی چه ورسی هغه ځاے ته خو هلته اوبه نه وی په چې نه کښې - چه کله د بنده سره نزدی د اوبو چې نه وی نو هغه په آسانه باندے هغه ځاے ته ځی او خپله تنده ماتوی - قرآن کریم او د قرآن کریم والا مثال هغه د اوبو سره وئیلی دے ، نبی علیه السلام هم یو حدیث مبارك کښې د قرآن کریم مثال د اوبو سره وئیلی دے -
إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّه بِهِ ، [صحیح البخاری 9/ 93]
زما او زما د شریعت مثال پشان د اوبو دے - قرآن کریم هم ځای په ځای باندے د قرآن کریم

مثال د اوبو سره وئیلی دے لکه :

{أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا} [النحل: 65]

نو میمون ابن مهران رحمه الله ددے وجه ذکر کوی چه د قرآن کریم مثال د اوبو سره ځکه ورکړی دے چه الله تعالی فرمائی :

{وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ} [الأنبياء: 30]

چه هر یو څیز ژوند په اوبو باندے دے نو د انسان ، حیوان زندګی هم په اوبو باندے ده ، خو د انسان ، انسانی روحانی زندګی په قرآن کریم باندے ده - څنګه چه انسانی ژوند په اوبو ژوندی پاتی کیږی نو دغه شان د انسانیت ژوندی پاتی کیدل په قرآن کریم دی - د انسان مړه خیرونه ، مړه احسانات په قرآن کریم ژوندي کیږی نو ځکه ئې د قرآن کریم مثال د اوبو سره اووی چه لکه زندګی ئې د اوبو سره تړلی ده نو انسانیت زندګی د قرآن کریم سره تړلی ده ، چه انسانی زندګی په قرآن کریم حاصلیږی -

علماء کرام ذکر کوی : چې نبی علیه السلام فرمائی په باره د امثالو کښې :

فَاعْتَبِرُوْا بِالْاَمْثَالِ ، (الحديث)

په امثالو کښې نور څه اوګورئ ، د قرآن کریم مثال د اوبو سره دا ظاهری اوبه نه دی مراد ، بلکه دا د بل څه نه عبارت دے ،

د معلوم نه نامعلوم معلومولو ته اعتبار وائی ، قرآن کریم وائی :

{ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ} [العنكبوت: 41]

نو حقیقتاً جولاګی نه وی مراد بلکه په دې کښې څه بله اشاره وی ، د مثالونو باره کښې نبی علیه السلام فرمائی :

فَاعْتَبِرُوْا يٰاُولِى الْاَلْبَابِ . (الحديث)

او قرآن کریم الله تعالی فرمائی :

{وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُوْنَ} [العنكبوت: 43]

عالمان په امثله باندے پوهیږی -

وائی : زه مثال اوګورم او په هغې پوهه نه شوم ، نو ته ورته وایم چه بیا هسی درته خلق مولا او عالم وائی ، او الله تعالی خو عالم هغه چا ته وائی چه په امثله باندے پوهیږی -

د قرآن کریم مثال ځکه د اوبو سره ورکړی دے چه نبی علیه السلام کوم جماعت تیار کړی وو ، د هغوی لږ تاریخ اوګوره ، صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین چه دنیا کښې په هغوی زیری راغلی وو ،

ابوبکر فی الجنة ، عمر فی الجنة ، عثمان فی الجنة ، علی فی الجنة ، ابن مسعود فی الجنة (الحدیث )

دارنګه قرآن کریم د هغوی باره کښې فرمائی :

**{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ} [البقرة: 5]**

**{وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ} [التوبة: 20]**

**{ أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ } [الحجرات: 7]**

**{ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ} [الحشر: 8]**

دغه د نبی علیه السلام جماعت چه الله تعالی قرآن کریم کښې د هغوی ایمان ټول امت دپاره ماډل کوی چې د دوې پشان ایمان راوړئ ، کله قرآن کریم فرمائی :

**{وَإِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَا اٰمَنَ النَّاسُ}[البقرة : ١٣]**

**{فَإِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَا اٰمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِاهْتَدَوْا}[البقرة :١٣٧]**

الناس نه مراد صحابه کرام دی ، تاسو به په هدایت شی ، که د صحابو په شان ایمان راوړو -

هغه چه صحابه کرام وو ، هغوی مونږ او تاسو ته صحیح معاشره خودلی ده ، عملاً چه اسلامی معاشره به څنګه وی ؟ هغوی مونږ او تاسو ته اتفاق او اتحاد ښودلی دے -

هغه صحابه کرام وو چه هغوی مونږ ته د اسلامی تعلیم عملاً نمونې ښودلی دی ، هغوی مونږ ته د اسلامی قضاوت عملاً نمونې ښودلی دی ، هغوی مونږ ته د اسلام دپاره محنت کوشش کول یعنی د جهاد عملی نمونې ښودلی دی -

هغه صحابه کرام وو چه مونږ او تاسو ته ئې عملاً د انفاق نمونې ښودلی دی -

هغه صحابه کرام وو چه مونږ او تاسو ته ئې د تنظیم عملاً نمونې ښودلی دی -

هغه صحابه کرام وو چه مونږ او تاسو ته ئې د آدابو عملاً نمونې ښودلې دی -
نو د هغوی ایمان زمونږ دپاره ماډل دے ، دهغوی د نبی علیه السلام سره محبت زمونږ دپاره ماډل ، د هغوی د قرآن سره مینه او محبت او عمل بالقرآن زمونږ دپاره ماډل ، د هغوی د آخرت سره مینه زمونږ دپاره ماډل ، دهغوی جهاد زمونږ د پاره ماډل ، دهغوی انفاق زمونږ دپاره ماډل ، د هغوی تنظیم زمونږ دپاره ماډل ، د هغوی آداب زمونږ دپاره ماډل ، د هغوی ایمان دهغوی عبادات ، اخلاق ، اعمال زمونږ او ستاسو دپاره ماډل دے ، ددے وجې نه هغوی باندے د جنت زیری راغلی وو ، هغوی ته د {رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ } [المجادلة: **22**] اعزاز ورکړې شوې وو ، آخر دا دومره صفات د الله تعالی د طرف نه اعلانات او زیری د جنت دا په څه باندے وو ؟ نو دغه صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین وو چه هغوی خپلو ایمانونو ته د قرآن کریم اوبه اچولې وې ، خپل عمل ئې د قرآن کریم په اوبو برابر کړې وو ، خپل اخلاقو ته ئې د قرآن کریم اوبه اچولې وې ، خپل معاشرے ته ئې د قرآن کریم د اوبو چې نی راوستی وی ، هغوی خپل تعلیم ، خپل صحت ، خپل سیاست ، قضاوت ، معاشره ، معیشت ، رسم ورواج ټولو ته د قرآن کریم د اوبو چې نی راوستی وی ، هغوی د قرآن کریم د چې نی نه سیراب شوې وو ، هغوی په قرآن کریم بدل شوې وو -

## واقعه د عمر رضی الله عنه

هغه صحابه کرام اجمعین وو چه د قرآن کریم د وجی نه اسلام قبول کړې دے لکه عمر رضی الله عنه چه کله قرآن شریف واوریدو ، (۱) اول ځل د نبی علیه السلام نه نو زړه کښې په هغې سره چړق اوشو ،
(۲) دویم ځل چه کله ئې د خپل خور او اوخی سره د قرآن کریم پاڼې اولیدی او د هغوی نه ئې واوریدو نو عمر رضی الله عنه په هغې بدل شو ، أُمِّ هَيْثَمْ رضی الله عنها ته چا اوئې چه عمر ایمان راوړو ؟ هغې اووې ، چه نه نه د هغه زړه مړ دے ، وئیل به ئې چه د خَطَّاب خر به ایمان راوړی

خو د خطاب ځوئ به ایمان نه راوړی بیا دغه عمر وو چه د قرآن کریم په آواز د اوریدو سره بدل شو او ایمان ئې راوړو ځکه چه د عمر رضی الله عنه زړه ته د قرآن کریم اوبه لاړلی نو هغه ته ایمان نصیب شو -

## دا نسان بدن

انسان دی خپل بدن ته سوچ اوکړی چه آیا زمونږ بدنونو ته د قرآن کریم اوبه راوانې دی او که د انګریزی تعلیم دپختو د وطن ، د خاورې ، د مارکیټونو ، دولتونو ، مالونو ، خواهش پرستی ، عیش پرستی ، دبد عمل اوبه ورته روانی دی ؟ په دې خبره لګ سوچ پکار دے چه زمونږ او ستاسو بدنونو ته د قرآن کریم اوبه روانی دی ؟

## د بدن مرکز زړه دے

اول دې انسان خپل زړه اوګوری چه زما په زړه کښې د څه مینه محبت دے ؟ آیا ددنیا د مزو ، چرچو ، خواهشونو ، عیشونو ، مزو ، مالونو ، دولتونو ، مارکیټونو ، بنګلو آیا ددے سره محبت دے ، او کنه زما زړه کښې قرآن کریم شته ؟ د قرآن کریم مینه شته . د قرآن کریم عمل شته ؟ د قرآن کریم اخلاق شته ؟ د قرآن کریم معاشره ، د قرآن کریم معیشت د قرآن کریم سیاست ، تعلیم ، هسپتال ، رسم ورواج ، زما زړه ته قرآن کریم د چې نی اوبه روانی دی ؟ کچرته د یو انسان زړه په داسې شان سره وی نو دا زړه حیواة دے - او که ددے نه علاوه وی نو بیا ددغه انسان زړه مړ دے ځکه ژوند راځی په قرآن کریم باندے ، {وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ} [الأنبياء: 30]

## د بدن اندامونه

انسان دې خپل هر هر اندام ته اوګوری چه آیا دده اندام په قرآن کریم په اصولو باندے سیراب کیږی ، او د هغې نه بعد استمالیږی او کنه ؟ چه کله د انسان لاس د قرآن کریم په اوبو وینځلی

کیږی ، د انسان خپې د قرآن کریم په اوبو وینځلی کیږی ، د انسان سترګه د قرآن کریم موافق استعمالیږی ، د انسان غوږ ته د قرآن کریم ملغلری ځی ، د انسان پوزه د قرآن کریم وئیلی شوی ځیزونه بوئی کوی ، دماغ د انسان د انسان د اصلاح په فکر کښې دی ، نو دا اندامونه ژوندی دی او کنه ددے خلاف چلیږی نو هغه ځای هر اندام مړ حساب دے ، ځکه چه کوم اندام دی خلاف استعمال که د غه اندام به دربانديې قیامت کښې شکایتونه کوی - دی وجی نه په خپلو اندامونو سوچ اوکړی چه داسې نه چه زمونږ اندامونه ته د بی دینی اوبه جاری شی ، دی وجی نه خپل بدنونو او روحونو ته د قرآن کریم اوبه جاری کول غواړی -

## قول د امام مالک رحمه الله

چه د خلقو اصلاح به په هغه قانون کیږی چه مخکښې خلقو هغه قانون استعمال کړی وو :
لَنْ يصْلِحَ آخِرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا مَا أَصْلَحَ أَوَّلَهَا . [أضواء البيان 8/ 155]
د هغوی اصلاح په قرآن کریم تعلیم او د قرآن کریم په تربیت شوې وه نو امام مالك رحمه الله فرمائی : چه د اوسنی دور خلقو اصلاح به هم په هغه قانون کیږی چه په هغې باندے د صحابو اصلاح شوې وه او هغه قانون قرآن کریم دے - هغوی خپلی مکمل زندګی ته د قرآن کریم د چې نی نه اوبه راوستلی وی که هغه انفرادی زندګی وه او که اجتماعی زندګی وه ، که وړه معاشره وه ، که غټه معاشره وه ، هغه ټول په قرآن کریم باندے منور وو ، نو اوسنی دور خلقو د اسلامی قانون ، قرآن کریم او قرآنی تعلیم پریخودو ، او د غیر د قومونو تعلیم ئې راوغستو ، د بے حیائی ، د بے عزتئ ، د شرم ، د غلاګانو ، د ډاکو چه بعض خلقو په ډاکی په جامه کښې ډاکه کوی ، او بعض خلق ددے تعلیم والا په سپینه جامه کښې ډاکه کوی ، دارنګه د رشوتونو ، سودونو ، د کرپشن ددے قانون او تعلیم ئې راوغستو او خپل ژوند پرې برابر وی -

## قانون

علماء کرام ذکر کوی : چه امن راولی نو د امن تعلیم او قانون به راخلی -
چه حیاء نافذ کوی ، نو حیاء تعلیم به راخلی -
چه اتفاق راولی نو د اتفاق اتحاد تعلیم به راخلی -
چه رحمتونه راولی نو د رحمت تعلیم به راخلی -
چه برکتونه راولی نو د برکت تعلیم به راخلی -
چه نعمتونه غواړی نو د هغې مطابق تعلیم به راخلی -
نو ته غواړی امن ، حیاء ، اتفاق اتحاد ، رحمت ، برکت او نعمتونه او راغستی د بے امنی ، بے حیائی ، بے اتفاقئ ، غضب ، بے برکتئ عذابونو تعلیم دے -

## د زندګئ مثال

علماء کرام ذکر کوی چه د انسان د زندګئ او د ژوند مثال د ګلاب د بوټی دے چه کله دی بوټی ته اوبه په خپل خپل وخت اچولی کیږی نو ددے بوټی هر هر څانګ خائسته ګلابونه کوی ، او خائسته خوشبو کوی ، او خائسته په نظر راځی ، که دغه بوټی په کور کښې وی نو کور پرې خکلې خکاری - که په دیره کښې وی نو دیره او حجره پرې خکلې خکاری - که په جومات کښې وی نو هغه پرې خکلې خکاری - که په مدرسه کښې وی نو هغه پرې خکلې خکاری - که په کالج ، یونیورسټی ، هسپتال ، تهانه ، تحصیل ، عدالت کښې وی نو دغه ټول پرې خائسته خکاری - نو دغه شان د انسان د زندګی مثال دے چه کله د انسان دی زندګی ته د قرآن اوبه ورکولی کیږی نو ددے په وجه به د زندګی هره شعبه خائسته ثمرات قوم ته ورکوی ، او هره هره شعبه په یو نظر خائسته وی ، کچرته کور ته دی د قرآن کریم اوبه مطلب د قرآن کریم قانون دی کور کښې راوستو نو کور به دی په نورو کورونو کښې خائسته وی - که په معاشره ، حجره ، جومات ، مدرسه ، یونیورسټی ، کالج ، تهانه ، تحصیل ، عدالت ، هسپتال کښې

راوستو نو نو دا به په نورو کښې به خائسته وی او منور به وی او د امن به وی ، د الله تعالی د رضا به وی ، نو ددے په وجه باندے به د الله رحمتونه نازلیږی ، برکتونه به نازلیږی ، الله به خوشحال وی ، بارانونه به په خپل وخت کیږی ، آفتونه ، عذابونه به نه راځی ، زلزلی ، سیلابونه ، سوکړې ، قتلونه ، زناګانی ، شرابونه ، جواری ، کرپشن ، سودونه دا ټول به نه وی - الله تعالی دی زمونږ او ستاسو مکمل زندګی ته د قرآن کریم د اوبو چینی جاری کړی -

بسم الله الرحمن الرحیم

# د دعوت اصول

## د دعوت اصول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{أُدْعُ إِلَى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِى أَحْسَنُ}** [النحل: 125]

د الله رب العزت په نعمتونو کښې ایمان لوئې نعمت دے ، او د ایمان نه روستو د ایمان خدمت نصیب کیدل لوے نعمت دے ، د ایمان په خدمتونو کښې چه کوم خدمت د ملا د تیر حیثیت لری ، هغه علم دے۔

عالمان ذکر کوی : چه الاسلام دین حيٌّ ،

اسلام ژوندی دین دے ، او ژوندی کول کوی ، او ژوندې چه ژوندی پاتی کیږی هغه په تحرك باندے۔ چه کله ژوندی حرکت نه کوی نو بیا ترے د خلقو طمع قطع شی ، دی شمار ساهونه اخلی ، قبر ته نزدی شوی دے ، نو اسلام یو ژوندی دین دے ، او په تحرك باندے ژوندی پاتی کیږی ، او اسلام تحرك او حرکت هغه دعوت دے۔ چه د اسلام د کومی شعبی دعوت نه ورکولی کیږی هغه شعبه په معاشره کښې مړه کیږی۔ او دعوت د اسلام موقوف دے په علم باندے ، ځکه چه د کومی خبرے علم نه وی د هغې اهمیت نه وی ، چه د کومی خبرے اهمیت نه وی ، نو بیا دهغی دعوت ورکول څه فائده نه کوی نو دی وجه نه دعوت دپاره علم ضروری دے۔

نو معلوم شوه چه علم د الله تعالی لوئی نعمت دے ، او ددے نعمت شکر ادا کول پکار دی ، چه د کوم نعمت شکر ادا کیږی هغه زیاتیږی ،

**{لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيْدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِىْ لَشَدِيْدٌ }** [إبراهيم: 7]

او نبی علیه السلام هم د علم د زیادت دعا کړیده۔

**{رَبِّ زِدْنِى عِلْمًا}** [طه: 114]

د زیادت علم ذریعه شکریه ادا کول دی۔

نو د علم شکریه دا ده چه د بنده زړه او ټول اندامونه په علم کښې استعمال شی ، د بنده اعمال ، اخلاق د بنده معاشره ، او معیشت او سیاست او قضاوت او تهانه ، تحصیل ، غم ښادی ، رسم رواج ، ټول د علم د قرآن نه بهر نه وی ، چه بنده د هغې مطابق علم حاصل کړی وی ، او د هغې علم په تقاضه روان وی ، ځکه چه کوم نعمت الله تعالی بنده لره د څه دپاره ورکړی وی پکار دا ده چه هغه نعمت په هغې کښې استعمال شی نو دا د هغې نعمت شکریه ده -

چه کوم نعمت دڅه دپاره وی ، یا هغه نعمت استعمال نه شی ، او بیا هغه نعمت د استعمال د ځاے نه بے ځایه استعمال شی نو دا طغیان دے ، نو دی وجی نه علم زده کول ، او علم له ځان ورکول ، او علم په خپل ځاے باندے استعمالول ضروری دی -

نو چه علم زده کوی نو ځان به ورله پوره ورکوی ځکه علم غنی دے ، دا د غنی ذات صفت دے ، نو چه پوره دی ورته ځان نه وی وقف کړی نو نه شی حاصلولی او چه پوره دی ځان وقف کړو نو څه نه څه به ځان تاته حواله کړی ، د علم لړ هم ډیر زیات دے -

قلیلك لا یقال له قلیل ،

د علم لړو ته لږ نه وئیلی کیږی ځکه چه : (۱) علم ډیریدل دی ، (۲) معلومات ډیریدل دی ، نو کتابونه ذکر کوی ، لکه مرقاة صـ :چه علم څه ته وائی ، د هغه مختلف تعریفات کوی ،

(۱) الصورة الحاصلة

(۲) حصول صورة الشئ عند العقل ،

(۳) الحاضر عند المدرك

(٤) صاحب سلم محب الله بهاروی وی ، علم حالة ارداکی ته وائی -

صفة توجب تمیزاً بحیث لایحتمل النقیض ، د محققینو په نزد علم د کیفیت نوم دے ، علم د زړه کیفیت ته وائی ، او د زړه مختلف کیفیات دی -

## قول د کابلګرام شیخ صاحب رحمه الله

امام مالك رحمه الله قول به شيخ د كابلګرام رحمه الله به درسونو كښې بيانولو چه هغه فرمايل :
چه علم د زړه کیفیت ته وائی :
العلم نور يقذفه الله فی قلب المؤمن ،
چه علم نور دے او د انسان زړه ته نصیب کیږی - نو چه کله دا نور لړ هم زړه ته کوز شی نو ډیر کار کوی ، نو مونږ او تاسو تعريفات د علم کړی وو -
(۱)حصول صورة الشئ فی العقل ، دا محنت ته وائی ، خلق وائی ، علم کوی -
(۲) الصورةالحاصلة ، چه کله هغه نحو ګردانونه یادوی ، نو هغه ته دغه نوم وائی -
(۳) الحاضر عند المدرك ، چه کله دغه علم خه د انسان زړه زهن كښې پوخ شو -
(٤) حالت ادراكية ، چه کله دغه علم زړه كښې تاثير اوكړی ، كيفيت شی .
چه علم ثاثير کوی ، زړه كښې يو كيفيت پيدا کوی ، دی وجې نه به نبی علیه السلام دعا کوله :

## دعا د نبی علیه السلام

نو معلومات نه زياتول بلکه کیفیاتو د زياتولو دپاره ئې سؤال کړې دے ،
{رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا} [طه: 114]
اوس مونږ هغه خپل ته واپس راځو چې اصل څیز دعوت ددين اسلام دے ، او د هغې دپاره اسلحه پکار ده او اسلحه د دعوت هغه علم دے ، دی وجه قرآن كريم كښې الله تعالى فرمائی :
{أُدْعُ إِلَى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ } [النحل: 125]
او سبیله د رب ته دعوت ورکوی خو په (۱) حکمت سره (۲) موعظة ،

## معنی د حکمت

امام رازی رحمه الله تعریف کوی ، بالحکمة ، ای بالعلم والعمل والبیان ،
امام سیوطی رحمه الله الاتقان صـ : العلم والعمل ته حکمت وائی ،
نو دعوت د دین اسلام دپاره اسلحه علم د قرآن کریم دے ، او چه کله علم د قرآن کریم او عمل د قرآن کریم او بیان د قرآن کریم نه وی نو بیا ددعوت ددین اسلام دا ذمه واری د انسان نه نه فارغیږی ، ځکه د انبیاء میدان محنت دعوت وو ، د انبیاء منصب ده دعوت وو ، قرآن کریم کښې الله تعالی ځاے په ځاے انبیاء ته ددعوت ورکولو ترغیب ورکوی -

(١){فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ} [الشوری: 15]

(٢) {قُلْ هَذِهِ سَبِيْلِي أَدْعُوْ إِلَى اللهِ } [يوسف: 108]

(٣) {وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ} [فصلت: 33]

(٤) { فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ } [الحجر: 94]

(٥) {بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيكَ مِنْ رَبِّكَ} [المائدة: 67]

(٦) {اتْلُ مَا أُوْحِيَ إِلَيْكَ } [العنكبوت: 45]

(٧) {فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ} [الغاشية: 21]

(٨) {وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ} [الأعراف: 199]

(٩) {قُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ} [الكهف: 29]

(١٠) {وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ} [النمل: 92]

(١١) {وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ} [المزمل: 4]

(12) {أُدْعُ إِلَى سَبِيْلِ رَبِّكَ } [النحل: 125]

ددی ټولو آیاتونو مطلب دعوت دے چې د انبیاء منصب دعوت وو نو علماء کرام د انبیاء وارثان دی او انبیاء د عوت چلولی وو نو علماء کرام به هم دعوت چلوی ، نو چه کله انسان دعوت ورکړی ، نو دده دعوت به څه وی ؟ هغه قرآن کریم ذکر کړی دی ،

## د دعوت

ستا د دعوت به سبيله د رب وى ، چه دعوت ورکوى نو د الله د سبيلى ته به ورکوى ، دعوت به پارټو ته نه ورکوى ، دولتونو ، سيلونو ، نوکريانو ته ، عياشئ ته ، قومونو ، وطنونو ته ، خيلونو ته به دعوت نه ورکوى ، بلکه ستا د دعوت به (۱) سبيل ربك وى ، (۲) الله تعالى طرف ته به دعوت ورکوى ، ځکه قرآن کريم فرمائى :

{ أَدْعُوْ إِلَى اللّٰهِ } [يوسف: 108]

{وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ} [فصلت: 33]

نو ستا دعوت به دوه څيزونه وى ، (۱) سبيل رب (۲) الله به وى ،

## سبيله د رب

ستا دعوت به سبيله رب وى ، نو دا سبيله څه ته وائى ؟

علماء کرام ذکر کوى : چه د الله تعالى مکمل دين ته سبيله وائى ، چه :

{أُدْعُ إِلَى سَبِيْلِ رَبِّكَ } [النحل: 125]

اى الى دين ربك ، دخپل رب مکمل دين ته خلق راوبله چې ددين کوم شعبه وى په هغې کښې ددين محنت او دعوت ورکړه هغې ته ، نو ستا د دعوت به د الله تعالى ټول دين وى -

{ادْخُلُوْا فِى السِّلْمِ كَافَّةً} [البقرة: 208]

په اسلام کښې پوره پوره داخل شئ ، داسې چې جومات کښې دين او حجره ، کاروبار ، معاش ، معيشت ، سياست ، عدالت ، قضاوت ، تهانه ، تحصيل ، کچرى ، سکول ، کالج ، هسپتال کښې د انګريز او لارډميکالے قانون ،

نـــــا نـــــا نـــــا

ته به دعوت ورکوى په دې ټولو شعبو کښې دين اسلام ته ځکه دا دين اسلام ستا ددعوت ده -

## تنبیه

په هر خاوند د علم باندے د وخت مناسب سبیله پیژندل ضروری دی ، چه دی وخت کښې د الله تعالی ددین کومی شعبی ددعوت ډیر ضرورت دے ، نو چه عالم ته د هغې ټول جوانب معلوم وی ، د هغې دعوت په مختلفو اندازونو ورکولی شی ، د هغې فوائد ئې مخکښې وی ، د هغې نقصانات ئې مخکښې وی ، هغه ټول ورته معلوم وی ، او هغې ته ترغیبات ورکولی شی ، نو دا د هر عالم دین او عالم ربانی ذمه واری ده -

نو اوس چه ته کله ددین او سبیله رب ته دعوت ورکوی نو د هغې دپاره دوو / ۲ څیزونو ضرورت وو ، چه هغه به ستا اسلحه وی ، (۱) حکمت (۲) موعظة -

د حکمت بیان مخکښې اوشو ، چې د کوم سبیله ده رب دعوت ورکوی ، نو هغه به تا ته مکمل معلوم وی په ټولو جوانبونو او په هغې باندے به ستا عمل هم وی ، او د هغې بیان به هم کوی ،

## اَلْمَوْعِظَة

دویم څیز او اسلحه ددین اسلام او سبیلی رب نرمه لهجه ده لکه الله تعالی په مقام دعوت کښې ده نرمی لهجی ترغیب ورکوی لکه موسی وهارون علیهما السلام ته الله وائی :

**{فَقُوْلَا لَه  قَوْلًا لَّيِّنًا}** [طه: 44]

اصحاب کهف باره کښې وائی :

**{وَلْيَتَلَطَّفْ}** [الكهف: 19]

حقوق الوالدین باره کښې وائی :

**{فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا}** [الإسراء: 23]

د سوال کونکی باره کښې وائی :

**{قَوْلٌ مَعْرُوْفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ}** [البقرة: 263]

نو چه داسې دعوت ورکوی هغې دپاره لهجه نرمه استعمالول -

## قول ویسه شیخ صاحب رحمه الله

هغوی فرمایل : چه مسئله ګرمه او لهجه نرمه ، نو پدې باندے خائسته انداز سره مخاطب خبره منی - نو معلوم شوه چې ددین دعوت اسلحه دوه / ۲ څیزونه دی ، (۱) حکمت (۲) موعظة -

## موانع د دعوت

چه کله ستا منصب د الله تعالی د دین دعوت دے ، نو دا دعوت به ورکوی ، او موانع ته به هساریږی نه ، نو په خپله مخه به روان ئې ، موانع روکاوټونه به مخے ته راځی ، خو ته به د هغې پرواه نه کوی ، داسې نه چه ته هغې پسې شی او اصل مقصد چه دعوت ددین اسلام دے هغه درنه پاتی شی -

## قول د کابلکرام شیخ رحمه الله

هغوی فرمایل : چه هوښیار سړی جاړې ته شپه نه کوی ، چه یو سړی په لار روان وی غنی او ازغی ته ئې څادر اونخلی ، چه هوښیار سړی وی نو هغه زر خپل څادر آزاد کړی او روان وی ، سفر کوی ، داسې نه چه هغې ته شپه اوکړی - نو تا ته ترغیب درکوی چه ته به هم موانع نه ګوری ، خپل سفر ددعوت دین ته به کوی او مخکښې به ځی -

## د خلقوبه نه ئې خوښ

چه کله دی دعوت ورکولو نو د خلقو به ستا سره دشمنی شروع شی - قرآن کریم هم وائی:
{ وَلٰكِنْ لَا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ} [الأعراف: 79]
دوی د نصیحت کونکو سره مینه نه لری ،
دارنګه انبیاء کرام چه کله صالحین وو ، قرآن کریم ګواه دے په هغې باندے چې د ټولو قومونو به خوښ وو خو چه کله به مصلحین شو نو هغوئ ټولو ورته بدی ردی او کنځلی کولی - نو ته به

هم د خلقو نه ئې خوښ ځکه چه ته د هغوی د خواهش خلاف خبره کوی -

## ملګری به دی لږ وی

یعنی مطلب دادے : چه ستا ملګری به په قلاره ډیریږی ، داسې نه چه دیته اوګوری چه دا مسئله خو خلق نه منی ، زه ئې بس کوم ، نه نه داسې چې رته اونکړی - مونږ به په اول ورځ شیخ القرآن کیږو ، نو چه د هغوی انتهائی دور ته ګورو ، چې دومره دومره طالبان وو ورسره ، خو د هغوی ابتدائی دور او جامع مسجد کښې یو ، دوو ، دوو ، طالبانو درس واقعی ته نه ګورو چې هغوی سره اول څوك وو ؟ نو دا عالم ته مانع اوګرځی چې یره زما سره خو څوك ملګرتیا نه کوی ، نو زه دعوت پریدم ، نه نه نه ، ته به کله تش جومات ته دعوت ورکوی ، تش یوی ګټی ته به دعوت ورکوی ، ستنی ته به دعوت ورکوی ، کله به یو کس ته څو څو وخت پورې دعوت ورکوی ، بل به دی ملګری نه وی ، اثرات به ئې روستو راوځی کنه ، واقعات د کابلګرام بابا رحمه الله په سلونو دی ، ځان له ئې ګوره ، مونږ هر څه په تلی کښې زرغون کوو ، دعوت ګران کار دے ، دی سره ئې سختی لیکلی دی دی وجی نه

## قول د مولانا ابوالکلام آزاد رحمه الله

ابوالکلام آزاد رحمه الله فرمائی : چه څوك ددعوت میدان ته راځی ، او هغه وائی چه زه ګلزار ته راغلم ، نو وائی ، زه هغه ته وایم چې نه نه دا ګلزار نه دی ، بلکه دا کانټازار دے او د چا چې خپې د ازغو عادت نه وی ، نو هغه دې دې میدان ته نه راځی -

شعر د کابلګرام بابا رحمه الله :

لالیه جنګ کښې په شا نه شی راله به جوړ کړی د همزولو پیغورونه

## التدریس

دریم مانع ددعوت نه التدریس دے چې سړی په فاعل او مفعول ، مضاف الیه کښې

اونخلي ، خو د طالب د نظرئی ، فکر ، عقیدی ، عمل ، اخلاق او ورسره فکر نه وی ، نو داسې تدریس دعوت نه مانع دے۔

## تصنيف

څلورم مانع هغه تصنیف دے۔ بعض سړی وائی چې زه تصنیف کوم دا زما دعوت دے۔ خو دا خبره یاد اوساته چه تصنیف کول ، د دعوت لسانی قائم مقام نه شی جوړیدی۔ د هغې خپل مقام دے ،

## مناظری

پنځم مانع هغه ددے دور مناظری کول ، مکابری کول ، مجادلی کول ، جهګړی کول ، یو بل ته کافر ووئیل ، مختلف قسم القابات یو بل ته ورکول ، او داسې ددے دور فضول او بے فائدے بحثونه چه هغې کښې فائدی نه وی۔ دا انسان د اصل مقصد نه پاتی کوی۔ دا غیر ضروری مسئلی انسان د خپلی سبیلی نه اړوی۔ علماء طلباء دا غیر ضروری مسائل راواخلی نو بیا د اصل مقصد نه به ۱۰۰ سال شاته پاتی شی۔

*ماندیم که خار است پاک شد سوسال راهم دور شد*

طالبان لاړ شی ، په ۱۰۰ سلو کالونو بیا واپس راوړول ګران وی۔

## د حسرت وینا

مفتی صاحب حفظه الله اوفرمایل : افسوس چه زمونږ سره ګیم اوشو ، دا مسائل اختلافیه او غیر ضروری مسائل دا په پنجاب کښې وو خو په سرحد کښې نه وو ، شیخ القرآن رحمه الله البصائر په عربئ کښې اولیکلو چه هغې کښې وسائل د شرك ، بدعت ، سماع موتی دا یو څو مسئلی اولیکلی چه صرف عالمان پرې تحقیق کوی ، چې دوی خپل موقف معلوم کړی ، او عوام ترے نه وی خبر په عربئ کښې ئې ځکه اولیکلو د هغه مقابل حمدالله جان ډاګئ هغه هم هوښیار وو ، د

هغې جواب ئې هم په عربئ کښې اوليکلو ، بيا خان بادشاه شيخ صاحب رحمه الله قطر ، هغه د هغې جواب اوکړو په نوم صواعق المرسلة لی اعتراضات الداجواية په نوم باندے -
دارنګه خان بادشاه شيخ صاحب رحمه الله ارشاد الناظر هم عربئ کښې اوليکلو ، دارنګه بل کتاب الصارم الوروجی هغه شبيراحمد منيب صاحب رحمه الله يو عالم وو د اشاعت نو هغه هم په عربئ کښې اوليکلو ، مقصد دا وو ، چه عوام ته ددے مسائل بوئ هم قدری او نه رسی -

## واقعه شيخ رستم رحمه الله

رستم شيخ صاحب چنګلئ کښې بيان وو ، ملګرو ورته وئيل : دلته حق چار يار والا دی ، او حياة النبی والا دی ، شيخ صاحب رحمه الله په هغې بيان کښې په هغوی رد اوکړو او تفصيل سره دلائل پيش کړل - سحر يو کس راغے ، شيخ القرآن رحمه الله ته ئې وئيل : چه بيګاه شيخ رستم ډير خکلے بيان اوکړو ، او په فلانکو ئې رد اوکړو نو شيخ القرآن رحمه الله رستم شيخ راوغوختلو ، وی : د پنجاب غول دی دلته هم راوړل او غصه شو ورته ، ځکه چې رستم شيخ صاحب ګجرات کښې مدرس هم وو نو دغه مسائل ورته خه ياد وو ، نو شيخ القرآن رحمه الله هغه منع کړو ، دی وجی نه شيخ القرآن رحمه الله چه وو نو هغه غير ضروری مسئلو کښې مشغول شوې نه دی ، بس دغه تحقيق دپاره ئې البصائر اوليکلو ، او مخکښې خپل مشن بوتلو - نن طالبان دی چې غير ضروری مسئلو تباه کړل ، او د خپل مقصد نه ئې واړول ، او د مشرانو نهج ترے هير شو بلکه د هغوی په نهج طالبانو خپې کيخودی - ارتباط بالماضی ضروری وو ، نو افسوس چه زمونږ سره چل اوشو او مونږ دا اصل مقصد نه واړولی شو -

## وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ

چه ستا دعوت سبيله ده ، رب ته ، او ته د هغې دعوت ورکوی ، نو په تا باندے لازم دی چه د خپلی سره انتهائی محبت اوساتی ، مينه ورسره اوکړی ، داسې نه چه دا دعوت ستا نه بل خوك

واخلي نو دی وجی په تا باندے ددے خپلی حفاظت هم ضروری دے چه ته محافظ اوګرځی د خپلی دعوت - دی وجی نه خلق به په تا باندے حملی کوی ، څوك به حمله کوی باللسان ، څوك بالسيف ، بالحجة والدليل ، نو ته به د هغې جواب کوی ، تکاليف به په کښې راځی ، قسما قسم-

## عارف شيخ صاحب رحمه الله واقعه

يوه ورځ داسې تنګ ووم ، زړه می ساړوبې وو ، هډوکی رو رو خوګيدل ، ما وئيل چه څوك نشته چه لګ مې وډبوی چه دا هډوکی می برابر شی - شيخ صاحب رحمه الله فرمائی : سوات کښې بابا وو هلته لاړم د توحيد مسئله می شروع کړه ، منجوران د بابا راغلل ، او شروع ئې راباندې اوکړه ، سم ئې اوهلم ، ما وی چه : هډوکی مې دمه شول او هغه سترتيا می ختمه شوه - نو تکاليف به راځی په ميدان دعوت کښې -

نو اغيار به ستا نه دعوت په زور اخلی ، نو ته به ورسره جنګ کوی ، کله به درباندې د علم به جامه کښې راځی ، ستا په دعوت او باندے اعتراضات کوی علمی نو ته به د هغې نه هم مخ نه اړوی بلکه مو توړ جواب به ورکوی - نو چه کله هغوی علمی اعتراضات کوی نو د هغې نه مخکښې تاله د علم فنون ، منطق ، فلسفه ، صرف ، نحو ، معانی ، قرآن کريم ، احاديث صحيح زده کول ضروری دی ځکه د علوم آليه او عاليه زده کول او په هغې کښې رسوخ حاصلول ، هغه بغير د تعلق او مينی محبت د مرشد ، استاد نه نه کيږی چه ته به مکمل د هغه په لاس چليږی نو چه هغه څه وائی ، هغه به کوی - چه وائی ، مه کوه ، نو نه به ئې کوی -

## واقعه د موسی عليه السلام

واقعه د موسی عليه السلام په قول د مفتی مسلم صاحب حفظه الله ، مفتی صاحب به فرمايل : چه کله موسی عليه السلام د خضر عليه السلام سره مدرسه کښې داخله اخلی ، نو شرط ورته خضر عليه السلام لګوی چه :

{فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ} [الكهف: 70]

زما نه به د طالبی دور کښې د یو څیز باره کښې هم تپوس نه کوی ځکه خضر علیه السلام ته پته وه چه زه کوم کارونه کوم هغه د موسی علیه السلام د شریعت نه خلاف دی ۔ شرائط به استاذ لګوی خو نن د علم دوران کښې شرائط شاګرد لګوی استاذ ته افسوس نن شاګرد خود سره وی ، خپله نظریه ، خپل مطالعه ، خپل ذکر اذکار ، خپل سوچ فکر لری ، د استاذ خبره نه اوری ، او نه ئې قبلوی ، تابعداری ده استاذ ضروری ده په دوران د علم کښې ۔

## قول د سندهی رحمه الله

هغوی فرمایل : چه جماعتونه او تحریکونه په اتباع چلیږی ، وائی : چه زما نه روس خلافت صرف په یو " کیوں " لفظ باندے تلې دے ۔ وئیل ئې ، ما ته زما استاذ وی چې سندهی روس ته ورشه ، نو ما ورته کیوں؟ استاذ غلی شو ، او دوه / ۲ میاشتې پس ئې راته بیا اوی ، چه سندهی روس ته لاړ شه ، ما بیا اوی چه جی کیوں؟ وئیل ، دوه میاشتې پس ئې راته بیا اووی ، چه سندهی روس ته لاړ شه ، وائی ، ما وئیل : جی لاړم ۔ روان شو راسره بستره سامان ئې راسره واغستو ، او په لاره ئې راته ټول انتظام خبره برابر کړه چه د وزیراعظم سره به ملاقات اوکړی او فلسفه د شاه صاحب به پیش کړی ۔ چه زه لاړم هلته روس کښې د کارن مارکس فلسفه چلیدله بیا وزیراعظم سره یو میټنګ کښې ملاقات اوشو او ما په هغې کښې فلسفه د شاه صاحب رحمه الله هغه ته پیش کړه ۔ وائی ، هغه وزیراعظم افسوس اوکړو ، او ما ته ئې وئیل : چه ته یو څلور میاشتې مخکښې راغلی وی نو ما به دا فلسفه جاری کړی وی ۔ اوس مونږ د کارن مارکس فلسفه قوم ته پیش کړیده او اوس هیڅ هم نه کیږی ۔ سندهی رحمه الله به وئیل چې افسوس زمانه د روس خلافت په یو کیوں؟ باندے تلې دے ۔ نو تحریکونه په اتباع چلیږی ۔ د طالب دپاره خپل ځان د استاذ لاس ته اچول ضروری دی ، طالب له د استاذ په مشوره چلیدل پکار دی ۔ چه استاذ ورله کوم مشوره ورکوی او کوم طرفته ئې لیګی ، نو هغه طرف ته به ځی ۔

## قول د ويسه شيخ رحمه الله

مفتي صاحب حفظه الله فرمائي : چه استاذ محترم مشفق اعظم شيخ د ويسه رحمه الله هغوی به ما ته امير صاحب وئيل - وئيل به ئې امير صاحب : چه د چا سره د\ط عقيدت او محبت نه وی نو هغه ته کتاب مه غوړوه ځکه هلته به معلومات وی خو علم به نه وی ځکه علمد سينی نه سينی ته منتقل کيږی ، علم د کتاب نه سينی ته نه منتقل کيږی ، چه د کوم استاذ درسره عقيدت او محبت نه وی نو ستا به د هغه استاذ سره وصل نه راځی ، نو چه کله د استاذ سره وصل نه وو نو ربط به هم نه وی نو بيا به علم د سينی نه سينی ته نه منتقل کيږی ، او علم به هم نه وی ، بلکه معلومات به وی نو هغه علم کښې به قوت هم نه وی دی وجی نه هغه استاذ سره سبق وايه چه کوم ځاے دې عقيدت او محبت ، مينه وی -

## ضلع شانګلی والا ته اهم نصيحت

مفتي صاحب حفظه الله د بيان په آخری لمحاتو کښې د ضلع شانګله ملګرو ته اهم نصيحت اوفرمايلو چې طالبانو تاسو شانګلي والو ته يو لوے بوج او لويه ذمه واری په سر ده ، تاسو له د هغې دپاره سوچ پکار دے په هغې ځان نانګاره کول ، او د هغې نه غفلت کول ، تاسو له نه دی پکار - هغه ذمه واری ستاسو د شيوخو تحريکونه چلول او هغه ژوندی کول دی - د اشاعت په مشرانو کښې دوه اهم تحريکونه د شانګلي په خاوره زمونږ شيخ د کابلګرام رحمه الله او شيخ د شاه پور رحمه الله هغوی چلولی دی -

(۱)انقلابی تحريك (۲) اصلاحی تحريك ،

انقلابی تحريك د شيخ د کابلګرام رحمه الله او اصلاحی تحريك د شيخ شاه پور رحمه الله وو و دغه دوه تحريکونه اوس د ختميدو په طرف روان دی په دغه علاقه باندے - نن د هغه علاقی په عوامو کښې د هغه تحريکونو نوم او نشان نه خکاری ، هغه علاقو کښې د هغې څوك نوم هم نه اخلی ، لهذا تاسو طلباء ئې د هغه علاقه ، د خپلو مشرانو په مشنونو او تحريکونو باندے خاوری

مه اړوی ، دا یو لوے بوج ستاسو په سر دے - هغه به بیا په هغه علاقه تاسو ژوندی کوی دا د هغه علاقې د علماء او طلباء ذمه داری جوړیږی چه د هغې تحریکونو ژوندی کولو دپاره دی دعوت شروع کوی او په خپل ځان دی شپه او ورځ یو کړی خو چه د خپلو شیوخو مشن هسی پریندی ،

مفتی صاحب حفظه الله اوفرمایل : چه مونږ او مولانا مفرح شاه صاحب حفظه الله په کابلګرام کښې په درس کښې وو ، چه کله درس ختم شو ، او مونږ واپس روان وو ، واپسی کښې ما د مولانا مفرح شاه صاحب نه تپوس اوکړو چه کابلګرام درس نه دی څه حاصل کړل ؟

وی فرمایل : چې دی سړی کښې انتهائی ددین اسلام درد دے او دا درد دنیا ته منتقل کول غواړی ، نو هغه مشرانو ددین اسلام خدمت او دعوت خپله فریضه ګنړلی وه نو کشرانو له پکار دی چه د هغوی مشن ژوندی کول خپله فریضه اوګنړی -

## واقعه د کابلګرام بابا رحمه الله

مفتی صاحب بیان کښې اوفرمایل : چه تاسو د خپلو مشرانو د دعوت سفری مطالعه کړئ ، هغوی د دعوت دپاره سفری کوم کوم ځاے ته شوی دی ، د کومو کومو غرونو سرونو ته ختلی دی ، صرف ددین د دعوت په غرض باندے -

مفتی صاحب فرمایل : چه زما بیان وو ، دی شګی علاقه کالش کابلګرام کښې ، چه هلته می بیان اوکړو ، وی یو عالم راغے ، ما ته وئی ، چه جی تاسو هم لری راغلی ئې ، مفتی صاحب وی ، مونږ ګاډی لاندې ولاړ وو ، او مونږ ګهنته سفر کړی وو ، وائی : هغه مولا وئیل : جی تاسو هغه پورې غر وینی ؟ ما وئیل : او ، هغه اوئیل : چې شیخ رحمه الله هغه غر ته ددعوت رسولو دپاره هم تلی وو ، مفتی صاحب وی : چه مونږ کتل په نظر باندے ، نو هم څلور / ٤ ګهنټی پیاده سفر ورته وو ، دومره لرې علاقو ته پیادل مزلی کول صرف ددعوت به عرض باندے -

او زمونږ حال اوګوره ، چه مونږ دعوت له په دعوت باندے ځو چه څوك دعوت اوکړئی ، ډوډئ

اوکړی ، یا د بیان دعوت راکړی ، نو شیوخو حضرات خصوصاً کابلګرام بابا رحمه الله هغه به ځان سره سره الاوډ سپیکر اغستی وو ، او بی دعوته به دعوت د اسلام له روان وو ، هغوی سره دومره ددین اسلام درد وو ، الله تعالی دی مونږ او تاسو له د مشرانو په مشن ژوندی کولو کښې د بهرپور محنت کولو توفیق راکړی ، او الله تعالی دی زمونږ او ستاسو نه ددین اسلام دعوت خدمت واخلی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# دشمن

# دشمن

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَہ

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا} [الملك: 2]

الله تعالی دنیا ته انسان د امتحان دپاره رالیګلی دے ، ځکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی : چې الله تعالی په تاسو ازمائش کوی ،

چه تاسو کښې خائسته عمل کونکی څوك دے ؟ نو انسان دنیا ته راغلی دے چه د الله تعالی حکم ، عبادت ، اطاعت اوکړی ، او هغه په خائسته طریقې سره خپله زندګی تیره کړی ، چه د آخرت امتحان کښې ورته بیا مشکلات نه وی ، ځکه دا ژوند ورکول دپاره ددے دی چه الله تعالی به بیا ددے ژوند امتحان اخلی چه دا می درکړی وو ، څنګه دی تیر کړی وو - نو پکار ده چه انسان په دنیا کښې د هغه امتحان دپاره تیاری اوکړی او خائسته اعمال اوکړی - چه کله انسان خپل هدف او مقصد ددنیا ته راتلو اوپیژندلو چه هغه د الله تعالی حکم منل ، ځان ساتل ، او محفوظ کول هم ضروری دی ، نو اوس دوه خبرے نورے پیژندل پکار دی -

(۱)خبره : چه انسان له خپل مقابل پیژندل هم پکار دی -

(۲) خبره : د هغه نه ځان بچ کول هم پکار دی - چه کوم سړی خپل مقابل نه پیژنی ، د خپل مقصد د شمنان او مقابل نه پیژنی ، کیدی شی د هغه دشمن په اتباع کښې راشی ، او په هغه امتحان کښې دپاس کیدلو په ځاے فیل شی ، او ناکام شی ، نو ددے دپاره ضروری ده ، چه انسان د خپل مقاصدو دشمنان او مقابل اوپیژنی ، نو د انسان د مقصد دشمنان خو ډیر دی خو یو څو به ترے ذکر کړو-

## لفظ دشمن

لفظ دشمن کښې څلور / ٤ حروف دی ، (١) د (٢) ش (٣) م (٤) ن
نو د « د » نه دنيا ، او د « ش » نه شيطان ، او د « م » نه مال ، او د « ن » نه نفس نو د انسانی مقصد دشمنان هغه څلور څيزونه دی ، هغه پيژندل او ځان ترے ساتل د هر انسان دپاره ضروری دی -

## (١) دنيا

(١)دنيا : د انسانيت مقابل او دشمن اول هغه دنيا ده ، کله د انسان نظريه په دې لنډه دنيا باندے وی ، ددے دی په مزو پسې شوی وی ، ددينا زيب او زينت ته ګوری ، دنيا په جالونو کښې ګير وی ، ددنيا فائدو ته فائده وائی ، او ددنيا نقصان ته نقصان وائی ، قرآن کريم د داسې انسان حال ذکر کوی :

{ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَياةِ الدُّنْيا} [الروم: 7]

{وَقَالُوْا مَا هِى إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيا} [الجاثية: 24]

د آخرت فائدې ته ئې سوچ نه وی ، ددنيا فائده اصل ګڼړی ، د آخرت فائده هميشه او باقی ده ، او د آخرت نقصان هم هميشه او باقی دے ، دی هغه لږ او معمولی د فنا کيدو فائده ګوری ، او هغه هميشه او دائم نقصان د آخرت ته ئې فکر نه وی ، قرآن کريم به ورته وائی : انسانه فکر اوکړه ، سوچ اوکړه ، ته په کوم طرف روان ئې ، معمولی فائده دی اغستی ده ، او د هميشه فائدې نه ځان محروم کوی ، لږ فکر اوکړه -

{ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝ فِى الدُّنْيا وَالْاٰخِرَةِ} [البقرة: 220 . 119]

دنيا او آخرة ته اوګوره ، د هغې فوائد او نقصاناتو ته اوګوره ، ددنيا خوشحالو او غمونو کښې سوچ اوکړه ، ته خپل آخرت تباه کوی ، او دی لنډې دنيا له ترجيح ورکوی ، دا دنيا خو روانه ده تيريږی - ددے مثال خو داسې دے چه ماشوم وړوکی وی او د خاورو او خټو نه کور جوړ کړی ، خاړه ئې هم کړی ، او خوشحاله وی ورته ، چه کله ورته ماښامی کښې مور آواز اوکړی ، چه

بچیه کور ته راشه ، ماشوم هغه د ختو ګټو کور زر وران کړی او وائی : لوبې لوبې ورانې ، د سحر نه تر ماښامه دنیا ده لږ وخت پس ورانه وی ، ختمه به وی -

{اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ} [الأنبياء: 1]

انسان ته آخرت قیامت نزدی دے ، دی لا اوس هم په غفلت کښې پروت دے - قرآن کریم دنیا ته مَتَاعْ وئیلی دی نو متاع وئیلی کیږی " د زنانو ماهواری والا کپړه " چه هغوی ئې ماهواری کښې استعمالوی ، نو دومره ګنده دنیا ده او ته بیا هم ددے پسې ئې او د آخرت نه غافله ئې - نو د انسان نه اکثر ددنیا د وجی نه دینی اعمال پاتی شی ، اعمالو ته ئې توجه نه وی ، مونځ ترے پاتی شی ، نو دا اعمال ترے پاتی شی ، ولے ؟ دې په دنیا کښې مصروف وی ، نو اولنی دشمن د انسانیت او انسانی مقصد هغه دنیا ده ،

## (۲) شیطان

(۲) شیطان : دویم مانع رکاوټ او مقابل د انسانی مقصد هغه شیطان او د شیطان وسوسی دی چې انسان په خپلو وسوسو سره د الله د عبادت او اطاعت نه اړوی ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

{ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا } [فاطر: 6]

شیطان ستاسو دشمن دے او دده سره دشمنی اوکړئ ، نو د شیطانانو سره دشمنی د الله اطاعت او مکمل ځان حواله کول دی ، درانګه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

{وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ} [البقرة: 168]

الله تعالی فرمائی : د شیطان په قدم باندے مه ځئ -

## خُطْوَةٌ

خُطْوَةٌ وئیلی کیږی : قدم ته ،چی د شیطان په قدم باندے قدم مه ږدئ ، ځکه د هغې نتیجه یا فحشاء وی ، او یا منکر وی ، ددے وجی نه الله تعالی مقدمات د ګناه حرام کړی دی :

**{ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا } [الإسراء: 32]**

ځکه چه دا مقدمات د ګناه د شیطان خطوات دی او ددے نتیجه خرابوی - نو انسان له د شیطان د اطاعت نه ځان بچ کول پکار دی ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

چې اے بندګانو ما ستاسو نه وعده او لوظ نه دی اغستی چه تاسو به د شیطان بندګی او اطاعت نه کوی -

**{ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ° وَأَنِ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ} [يس: 60، 61]**

زما اطاعت اوکړئ ، دا صراط مستقیم دے ، جناب ابراهیم علیه السلام چه کله خپل بابا ته نصیحت کوی ، نو د شیطان د بندګی او اطاعت نه د بچاؤ ترغیب ورته ورکوی ، چه اے بابا شیطان پسې مه ځه -

**{ يا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا} [مريم: 44]**

شیطان د الله تعالی نافرمانه دی د هغه اتباع مه کوه ، او راشه د رحمٰن اطاعت اوکړه - انسان له خپل دوست او دشمن پیژندل ضروری دی - قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

**{ وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا } [النساء: 38]**

چه د چا دوست شیطان شو نو دا شیطان ډیر بد ملګری دے - انسان د الله تعالی اطاعت نه اړوی ، شیطان د دین دشمن ، د قرآن کریم دشمن ، د نبی علیه السلام دشمن ، د نبی علیه السلام د حدیثو دشمن - نو انسان له سوچ پکار دے چه زه د الله تعالی د دشمن او د نبی علیه السلام دشمن ، د قرآن کریم او حدیث او د انسان دشمن سره ولے دوستی اوکړم ؟

دا خبره ډیره ضروری ده ، چه انسان دیته سوچ اوکړی چه زمونږ بابا حضرت آدم علیه السلام د شیطان د وسوسی د وجی نه د جنت نه وتلی دے ، د ټولو نه اول ئې د حضرت آدم سره دشمنی کړیده ، نو چه هغه ئې د جنت نه اویستلو نو ما او تا به ورته پریږدی څه ؟

نـــه نـــه ! ما او تا هم دغې جنت ته او جنتی اعمالو ته نه پریدی ، او دومره سخته دشمنی ده دانسان سره چه قسم ئې الله رب العزت ته کړی دے چه زه به ستا بندګان ګمراه کوم نو هغه

زمونږ او ستاسو دشمنئ ته ملا تړلی ده او زه او ته به خپل دشمن نه پیژنو او هغه دشمن سره ملګرتیا کوو - نو د انسانی مقصد پس د الله تعالی مکمل تابعداری ده د هغې دویم دشمن شیطان دے -

## (۳) مال

(۲) مال : د هر انسان د هغه مناسب مال وی ، نو مال د انسانیت او انسانی مقصد دپاره هم رکاوټ جوړیږی ، او دهغی دریم دشمن باره کښې قرآن کریم کښې الله رب العزت فرمائی :
{إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ} [الأنفال: 28]
ستاسو مال او اولاد فتنه ده ، تاسو ددین اسلام نه اړوی ، انسان د مال په ګټلو او خرچ کولو په حرص کښې وی ، خپل دین ، مذهب ، اسلام ، احکام الهی ته ئې فکر او سوچ نه وی ، د هغې نه غافله وی ، او دا سوچ کوی چې مال به په کوم طریقه ډیر شی ؟ نو دغه مال دے د الله تعالی نه اوړی ، ددین نه اړوی - انسان خپل مقصد ددنیا مال ګټل ، او خرچ کول ، او مال ډیرول ګرځولی وی چه زه دنیا له ددے دپاره راغلی یم ، ډیر مال په ده کښې تکبر راولی ، قرآن کریم واقعه د قارون ذکر کړیده ، چې اے انسانه د قارون نه عبرت واخله ، هغه په ټوله دنیا کښې مالدار وو خو مال هغه د الله د عذاب نه بچ نه کړو نو ته هم مال ګټې او خپل رب ، دین ، اسلام پریدی ، نو خپل انجام ته ته سوچ اوکړه ، ځاے په ځاے قرآن کریم کښې د مال مطابق بیان شوې دے -
بیا د هر انسان مناسب خپل مال دے چه کوم څیز دی ، د الله تعالی نه غافله کوی نو هغه مال دے - بیا مال په دوه قسمه دے :

## د عوامو مال

(۱)د عوامو مال : د عوامو مال خو دغه د ظاهری دنیا ګټل او خرچ کول ، بینک ، بیلنس ، جائیداد ، دولت ، زمکې ، مارکیټونه او کمپیانی ، کاروبارونه دا ټول ظاهری چه څومره دی دا د

عوامو مال حسابيږی ، او عوام ددے څیزونو سوچونو د الله تعالی نه غافله کړی دی ، نو دا د هغوی مانع دے ، او د الله تعالی د احکامو او دین اسلام نه چه دا څیزونه دوی منع کوی -

## دعلماء مال

(۲) د علماء مال : علماء کرام اکثر د دنیا مال ته توجه نه کوی ځکه هغه خپله زندګی ده ضرورت مطابق تیروی او په ضرورت پوره کیدلو باندے اکتفاء کوی ، خو د علماء مال اکثر د علم نشه وی ، معلومات زیاتول ، حواله جات ، توجیهات ، تحقیقات ، معقولات ، تراکیب ، فلسفه ، دعلماء سوچ او فکر ددے خبرے سره چه دا څیزونه حاصل کړی او دا زیات شی چې خلق راته فلسفی ، منطقی ، محقق ، محدث ، مدقق اوائی ، دا د عالم سوچ وی -

## تنبیه

تنبیه : دا خبره ډیره د یادولو وړ ده ، چې کوم علم په زړه کښې تاثیر اونکړی ، او د زړه کیفیات پیدا نکړی ، نو هغه علم علم نه وی ، بلکه هغه مال دے ، د عالم دا سوچ وی چه فنون خه زده کړم ، خلق به راته اوائی ، چه دا فنی عالم دی ، دده شهرت خوښ وی ، خپل تعریفات کوی ، شومنتې کوی ، چه څنګه کتاب وایم ؟ څنګه تحقیق کوم ؟ څنګه نکتی بیانوم ؟ څنګه تراکیب کوم ؟ څنګه منطقی یم ؟ خپل شهرت ئې غرض او مقصد وی نو ځان پوهه کړه چې دا علم نه دی بلکه دا مال دے -

ځکه علماء کرام ذکر کوی : چه کوم علم صورة حاصله وی ، صورة انطباعی وی ، او خشیت تقوٰی ، محبت ، زهد ، تعلق الهی عبدیت پیدا نه کړی نو هغه علم علم نه دی ، بلکه دا مال دے -

حقیقت کښې عالم هغه انسان ته وائی ، چه :

{إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} [فاطر: 28]

ده کښې خشیت ، تقوٰی ، مینه ، زهد ، تعلق مع الله وی نو دا اصل عالم دے ، دی وجی نه علماء

له ددے صفاتو د حصول سوچ پکار دے ، کنه زمونږ دا علم د قیامت په ورځ مونږ له نجات نه شي راکولی بلکه زمونږ علم به د قیامت په ورځ په مونږ او تاسو باندے وبال وي -
ځکه که مونږ ددے کتابونو زده کولو سره الله اونه پیژندلو ، او دغه صفات مذکوره مو حاصل نه کړو نو دا علم او کتابونو د انسان زړه کښې قسوت راولی ځکه دی کښې د مخلوق په تذکره ډیره ده ، د خالق تذکره په کښې نشته ، د مخلوق تذکرې سره زړه کښې قسوت پیدا کیږی ، او د خالق په تذکرې باندے زړه نرمیږی ، نو مال دا د انسانانو د مقصد دریم دشمن دے ، نو د مال د مینې نه ځان ساتل ضروری دی -

## (٤) نفس

(٤) نفس : ددین اسلام او انسانیت په دشمنانو کښې یو دشمن هغه نفس هم دے چه انسان نفساني خواهش راوخلی او د الله تعالی نه غافله شي ، دا یو لوئې رکاوټ دے انسان ته ځکه چه انسان د الله تعالی نه غافله کوی - د انسان په زړه کښې د مختلفو څیزونو خواهش وی دا نفس دی انسان ته کله وائی چې راځه ، دی فلانکی جینۍ ته اوګوره ، دی فلانکی خکلی هلك ته اوګوره ، راځه ډیر عمر دے ، توبه به اوباسی ، راځه مره لږ فلم به اوګورو ، ډرامه به اوګورو ، کرکټ به اوګورو ، فیس بك به اوګورو ، یوټیوب به اوګورو ، راځه لږ ګیم به اوکړو ، تاش به اوکړو ، قط به اوکړو ، چکه به اوکړو ، ټائم به پاس کړو ، د مختلفو څیزونو خواهش دده نفس کوی او په هغې عمل هم کوی -
چرته د انسان دی نفس دا خواهش اونکړو چه راځه لږ د الله تعالی عبادت به اوکړو ، د الله تعالی سره به ملاقات اوکړم ، د الله تعالی سره خبرے به اوکړم ، د الله تعالی خبرے به واورم ، د الله تعالی په حکم به خپله زندګی تیره کړم -
چرته دی نفس انسان په سنت طریقو ادا کولو او په هغې زندګی تیرولو باندے آماده نه کړو ، انسان هم د نفس پسې روان وی ، نفس ئې خپل مقتدا جوړ کړی وی او په هغه پسې اقتداء کوی

- نفس د شيطان جال دے نو انسان له پكار دى چې دخپل مربى ، الله تعالى ، پيغمبر ، قرآن كريم ، او د سنت اقتداء اوكړى او د نفسانى خواهشاتو نه ځان اوساتى -

ځكه دده امتحان راروان دے كچرته دا انسان دنيا پسې او د شيطان د دوستى پسې ، مال او نفس په اتباع پسې روان وى نو الله تعالى دى نه كړى چې كيدى شى دغه انسان به هغه امتحان كښې فيل شى ، نو انسان له د مقصد د حصول دپاره او د امتحان د پاس كولو دپاره ددے څلور دشمنانو نه ځان ساتل پكار دى ، الله تعالى ددے مونږ ددے دشمنانو نه بچ كړى -

بسم الله الرحمن الرحيم

**وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ**

**البقرة: 129**

# صفات المعلمين

## صفات المعلمين

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه
اَمَّا بَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
{وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ} [البقرة: 129]
وقال النبی صلى الله عليه وسلم : وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا . [سنن ابن ماجه 1/ 83]

الله تعالى ددے دنيا د نقشی بدلولو اراده اوکړه ، نو الله تعالى دنيا ته آخری پيغمبر جناب محمد صلى الله عليه وسلم د مُعَلِّم په پوسټ راوليګلو ، او د هغه دپاره ئې تعليمی نصاب خپل کلام هم راوليګلو ، چې د هغې نوم قرآن کريم دے نو قرآن کريم ددنيا د نقشی بدلولو قانون دے - چه څوك د قرآن کريم خدمت کوی ، د قرآن کريم تعليم کوی نو هغه د الله تعالى په نزد به مسلمانانو کښې غوره دے ، د نبی عليه السلام حديث مبارك دے :
خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ . [صحيح البخاری 6/ 192]

د ټولو نه اول انسان په مخلوقاتو کښې غوره دے بيا پکښې د نبی عليه السلام امت غوره دے ، او د نبی عليه السلام په امت کښې هغه انسان غوره دے چه هغه د الله تعالى د کتاب قرآن کريم تعليم او تعلّم کوی ، نو دا انسان په غورو کښې غوره دے - نو نبی عليه السلام د مُعَلِّمْ په پوسټ الله تعالى دنيا ته راليږلی وو چې دنيا کښې به د قرآن کريم تعليم او تعلم کوی ، خلق به د الله تعالى د کلام نه خبروی ، هغوی ته به ددے تعليم ورکوی ، نو چه جناب رسول مُعَلِّمْ د قرآن کريم وو او صحابه کرام رضی الله عنهم ته ئې قرآن کريم تعليم ورکولو ، چه کله هغه صحابه کرام رضی الله عنه د قرآن کريم په تعليم تعليم يافته شو ، نو هغوی دنيا او آخرت دواړو حاصل کړل ، او دنيا کښې ورته د جنت زيری راغلل ، او اعزازی تمغی هغوی ته په دنيا کښې واوروِلی شوی دی ، رضی الله عنهم ورضوا عنه مهرونه په هغوی باندے په دنيا کښې اوليګيدل - اصل وجه دا وه چې هغوی د قرآن کريم تعليم حاصل کړی وو ، نوچه څوك هم د قرآن کريم

تعلیم ورکوی او د قرآ ن کریم مُعَلِّمْ وی نو هغه د پیغمبر وارث دے نو ده له د پیغمبر د وراثت لحاظ ساتل ډیر ضروری دی - داسې نه چه بعض داسې کارونه اوکړی چې وراثت د انبیاء دده نه لرې کړی شی ، او داسې ورته اووئیلی شی ، چې ته د انبیاء د وراثت قابل انسان نه ئې - نو د هغې دپاره ضروری دا ده - چې معلمین حضرات دی په قرآن کریم او نبوی صفاتو باندے ځان موصوف کړی چه ددوی محنت باعث د اجر او ثواب او د حسن انجام شی -

تنبیه : دا بیان مفتی صاحب حفظه الله په مدرسه جواهر القرآن سلیم خان صوابی کښې هغه طلباء ته چه کوم طلباء سره د خپلې علاقې ماشومان دی ، او هغه معلمین ته چې هغوی د سلیم خان کلی دی ، او جوماتونو کښې آئمه دی ، او هغه جوماتونو کښې د کلی ماشومانو ته د قرآن کریم ، ناظره ، قاعده ، ترجمه ، درس ورکوی ، او د کلی عوامو ته هم د الله تعالی د کتاب تعلیم ، درس ورکوی ، نو دی دواړو قسمو معلمین ته دې بیان کښې د معلم دپاره چه کوم صفات اختیارول ضروری وی د هغې ترغیب ئې ورکړه او دواړو قسمه معلیمنو ته ئې د هغوی مناسب صفات د معلم بیان کړل -

## هغه معلمین چه هغوی سره کشران چنړی وی

مفتی صاحب محترم هغه طلباء عظام چې هغوی سره د کور ، کلی ماشومان چنړی وی ، او هغوی له وظیفه راوړی ، او دوی هغوی ته سبق ښائی ، قاعده ، ناظره ، حفظ او ترجمه ورته کوی ، نو مفتی صاحب هغوی ته د هغوی مناسب صفات د معلم بیان کړل ، چې داسې قسم مُعَلِّم له څه کول پکار دی او کوم صفات اختیارول پکار دی ، چه هغه معلم او طالب ددغه صفاتو په رنړا کښې د خپلو کشرانو تربیت اوکړی ، او هغه ماشومان ئې چه کوم مقصد له دکلی علاقې نه راویستی وی ، چه هغه مقصد ورته حاصل شی ، نو هر هغه طالب چه هغه سره خپل کشران وی هغه معلم چه هغه د قرآن کریم او حدیث تعلیم نورو خلقو ته ورکوی ، نو د هغوی دپاره دا مذکوره صفات یادول پکار دی او د هغې په رنړا کښې د خپلو کشرانو تربیت کول پکار دی -

ځکه چه دا کشران ماشومان چنړی د بوزغلی حیثیت لری په دین اسلام کښې ، چه کله بوزغلی خراب وی نو فصل روستو بیا فائده نه ورکوی نو چه کله ددے ماشومانو تربیت اونشی نو بیا به آئنده کښې ددے قوم او معاشری لره د فائدې په ځاے نقصان ورکوی -

## صفت اول

صفت اول د معلم : د معلم د احساس ذمه داری باره کښې ، چه معلم لره پکار دی چه خپل زړه کښې دا کمی محسوس کړی چه نن زمونږ په کشرانو باندے د سکول رنګ خیژی ، د انګریزی تعلیم اثر په هغوی باندے کیږی ، خو افسوس دادے چه دغه کشران زمونږ دی ، او مونږ علم کوو ، د علوم د شریعت سره زمونږ وابستګی ده ، پکار ده چه د خپلو کشرانو باره کښې فکر مند شو ، ځان سره احساس پیدا کړو چه زما په کشرانو د انګریزی تعلیم اثرات او د انګریز چړاؤ کیږی او ما دومره محنت اونکړو چه دغه ماشومان د شریعت تعلیم ته کینوو ، د قرآن کریم او حدیث تعلیم په هغوی باندے اوکړم - نو معلم سره اول خپله زړه کښې ددے کمی احساس پکار دے چه ولی زمونږ نه زمونږ کشران خرابیږی ځکه مونږ مشران یو او حدیث کښې راځی :

كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيتِهِ ، [صحيح البخاری 2/ 5]

د مشر نه به د کشرانو باره کښې تپوس کیږی - نو هر مشر او معلّم سره د کشرانو احساس پکار دے چه د دوی تربیت اوکړی -

## صفت ثانی

صفت ثانی : د هر معلم د پاره ضروری ده چه ماشومانو ته د حفظ او د ناظرې سره سره ضروری عقائد اوښائی لکه چه ایمان څه ته وائی ؟ اسلام څه ته وائی ؟ دین څه ته وائی ؟ فرائض ئې څه دی ؟ نواقض د ایمان ، اسلام څه دی ؟ په کتابونو ، ملائکو ، انبیاء کرامو ، قیامت ، بعث بعد الموت

او تقدیر باندے د ایمان راوړلو څه مطلب دے ؟ مختصراً په ماشومانو باندے دا یادول ددے عقائدو باره کښې کابلګرام شیخ صاحب رحمه الله کتاب دے ، " عقیده ، مونځ او ضروری مسائل " نو دغه کتاب پرې یادول پکار دی -

## صفت ثالث

هر معلم لره د اصفت اختیارول ضروری دی چه د عقائدو سره سره د کشرانو د اعمالو لحاظ کول ، او د اعمالو عملی مشق ورسره کول ، مثلاً : داودس عملی مشق ورسره کول ، د مونځ عمل مشق ورسره کول ، د مونځ ډهانچه او صحیح طریقه د مونځ ورته ښودل ، داسې نور چه څومره اعمال دی ، د هغې مشق ورسره کول پکار دی -

## صفت رابع

صفت رابع دا اختیارول ضروری دی چه ماشومانو ته مونځ الفاظ ، د کلمی الفاظ ، د شپږو / ٦ کلمو الفاظ دعاګانی ، ایمانیات سره د ترجمی نه یادول چه مختصراً هغه ماشومان د مونځ ، کلمو ، ایمانیاتو په ترجمه باندے او د هغې په مقصد باندے هم پوهه شی ، او دی باره کښې د نیلوی صاحب رحمه الله کتاب دے ، " *کلمه طیبه اور نماز کی تشریح* "

## صفت خامس

صفت خامس : ورسره په معلم دا ضروری دی ، چه هغه د خپلو کشرانو نګرانی کوی - نبی علیه السلام به د خپلو صحابو کرامو نګرانی کوله چې د هغې د وجی نه ده صحابه کرامو نه ملغلری جوړی شوی وی - نو هر معلم د پاره ضروری دی چه د کشرانو چنړو مکمل نګرانی کوی -

## صفت سادس

صفت سادس : د هر معلم دپاره ضروری ده چه کشرانو ته د نبی علیه السلام اخلاق اوښائی ، ځکه د نبی علیه السلام اخلاق قرآن کریم وو نو چه قرآن کریم ورته اخلاقی لحاظ سره بیان کړی - او د نبی علیه السلام د اخلاقو مطابق کوم احادیث دی هغه ورته بیانوی ، او ورسره د نبی علیه السلام سنت طریقه ښودل ، ددے بهترین کتاب " علیکم بسنتی " دے ، دهغی نه کشرانو ته لږ لږ روزانه وئیل ، او بیا د هغې تپوسونه کول ، چه هغه ده سنت طریقې مطابق زندګی تیره کړیده او که نه ؟ نو د کشرانو د اخلاقو او اعمالو لحاظ ساتل ډیر ضروری دی -

## صفت سابع

صفت سابع : اُستاد محترم لره کشرانو طالبانو او خپلو چنړو ته په ورځ کښې یا په هفته کښې یو کلاس د عربئ اغستل چه په هغې کښې د عربی هندسی ، د ورځو نومونه ، د میاشتو نومونه ورته یاد کړی شی ، او ضروری قواعد د عربی ورته اوښودلی شی چه هغه د ماشومانو آئنده دور کښې پکار راځی - د هغې دپاره بهترین کتاب د مفتی صدیق صاحب " عربی کا معلم " دے -

## صفت ثامن

صفت ثامن : ورسره خپلو کشرانو باندے د نبی علیه السلام مختصر سیرت یادول چه د نبی علیه السلام نوم ، د مور پلار نوم ، د نیکه نوم ، د ترونو نومونه ، د خلفاء اربعه نومونه ، د ازواج مطهرات نومونه ، د نبی علیه السلام د اولاد ځامنو لونړو نومونه ، مختصراً انداز سره د نبی علیه السلام شجر نسب ، او د نبی علیه السلام غزوات چه څومره دی ؟ د نبی علیه السلام غلامان ، وینځی چه څومره مختصراً ، نومونه هم په هغوی یاد کړی شی - دا به ډیر ضروری وی او ډیر فائده به اوکړی -

## د کلی معلمین

**هغه معلمین چه کلی کښې درس قرآن کریم کوی** ، مفتی صاحب حفظه الله دویم نمبر هغه معلمین حضرات چه د سلیم خان کلی کښې یا خواشوا علاقه کښې د کلی عوامو ته درس د قرآن کریم کوی ، نو هغوی دپاره یو څو ضروری خبرے بیان کړی چه هغوی دپاره کوم کوم صفات خپلول پکار دی چه هغه د صفاتو مطابق دروس کولو سره به د هغوی دروس فائده مند شی ، عوام دپاره به هم ډیر فائده مند وی ، او عوامی او اجتماعی فوائد به ئې ډیر زیات وی - نو دغه صفات هم هر معلم د قرآن کریم لره خپلول پکار دی -

## صفت ۱

صفت اول : د ټولو نه اول معلم د قرآن کریم د درس له پکار دی چه اول خپل ځان سره د درس قرآن اهمیت پیدا کړی چه زه عالم یم او زما دا ذمه داری د ختم نبوت په صدقه کښې په سر شوی ده چه زه به د نبی علیه السلام وراثت سنبالوم ، او دین اسلام به په ترقئ بوځم ، او د هغې غټه لار د قرآن کریم دعوت ورکول دی خلقو ته ، او قرآن کریم بیانول دی - چه کله معلم سره ددے فکر وی ، نو دی خپله هم درس اهم کار ګنړی ، چهتی به نه کوی ځکه چه د کوم کار تا سره اهمیت وو نو د نور سره به ئې هم وی خو چه استاذ خپله اهمیت نه ساتی نو شاګردان به ورسره څه اهمیت اوساتی ؟ استاذ دپاره ضروری دی چه خپل ځان سره دا فکر اوکړی چه د الله تعالی د کتاب بیانول به د هر څه نه مخکښې وی او نور کارونه به روستو وی - چه ددے د اهمیت خیال اوساتلے شی -

## صفت ۲

صفت ۲ : خپل زړه کښې دا خبره راوستل په وخت د بیان د قرآن کریم چه زه د الله تعالی بنده یم ، او قرآن کریم د الله تعالی کتاب دے ، او دا د الله تعالی خبرے دی ، نو په دې وخت کښې زه د

الله تعالى ترجمان يم ، نو چه كله انسان ځان د الله تعالى ترجمان حساب كړى نو دى به په دوران درس كښې هغه خبرے كوى چه د قرآن كريم او سنت مطابق وى نو خپل براس به نه اوباسى او په جذباتو كښې به نه راځى ، چه ځُلى له ئې څه راځى نو دې به هغه وائى ، نه نه خوله به ئې په كنټرول كښې وى -

## صفت ۳

صفت ۳ : معلم له ددے خبرو خيال ساتل ضرورى دى : (۱) د خپلو مخاطبينو د الله تعالى سره تعلق جوړول ، او د غير نه ئې تعلق كټ كول -
(۲) تزكية النفس د مخاطبينو كول چه د گناه نه ئې نفرت پيدا شى -
(۳) او د آخرت د فكر ترغيب وركول چه هغوى سره د آخرت فكر پيدا شى -

## صفت ٤

صفت ٤ : په معليمنو باندے د قرآن كريم د احكامو ده عملى كولو كوشش كول او هغوى ته ئې ترغيب وركول چه د قرآن كريم اعمال ، اخلاق هغه په خپل عمل كښې راولى ، او عملى طور سره د قرآن كريم عمل ته تيار شى -

## صفت ۵

صفت ۵ : دوران درس كښې داسې خبرے كول چه هغوى كښې ددين اسلام جذبه او فكر پيدا شى چه ددين اسلام اهميت د هغوى زړونو ته كوز شى او ددين فكر اوكړى - دعقيدى او نظرئى او فكر خبرے ډيرى ډيرى كول چه د مخاطبينو نظريه عقيده صرف په الله تعالى جوړه شى -

## صفت ٦

صفت ٦ : د درس دپاره بهرپور طريقې سره مطالعه کول ، زه د ويسه شيخ صاحب رحمه الله سره درس کښې ووم اولنی کال باندے او د ويسه شيخ صاحب رحمه الله ۳۲ وان درس وو نو ماتپوس اوکړو د شيخ صاحب رحمه الله نه چې : جی تاسو اوس هم مطالعه کوئ ؟
شيخ صاحب رحمه الله اوفرمايل : چه زه اوس هم د درس قرآن کريم دپاره مطالعه کوم - نو مونږ او تاسو لره ډير ضروری ده -

## صفت ٧

صفت ٧ : چه کله درس ته کېنی ، نو د ټولو نه اول د خپل نيت اصلاح اوکړه -
اِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّياتِ ، [صحيح البخاری 1/ 6]
ځکه د اعمالو دارومدار په نيت دے چه کله نيت صحيح وی نو اجر به وی - چه کله نيت صحيح نه وی نو ثواب او اجر نشته - د ټولو نه اول آيت کريمه ځان ته متوجه کول ځکه قرآن کريم کښې الله تعالی فرمائی :
{يا أَيهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا قُوا أَنْفُسَكُمْ } [التحريم: 6]

## قول د کابلګرام بابا رحمه الله

کابلګرام شيخ صاحب رحمه الله به په درس کښې د نيت باره کښې پنځه / ٥ اصول بيانول ، هغه ډير ضروری دی : (١) نيت کول (٢) صحيح نيت کول (٣) قوی او مضبوط نيت کول (٤) استحضار نيت کول په وخت د عمل کښې (٥) په نيت باندے دوام کول -

## صفت ٨

صفت ٨ : چه د کوم آياتونو درس وی نو هغه آياتونه لفظی طريقې سره تلاوتاً يا خپله باندے

ووئيل ، يا يو يو خوش آواز قاری باندے په خائسته انداز سره وئيل -

## صفت ۹

صفت ۹ : او د آيت آسان انداز ترجمه کول - نو د ترجمی دپاره ضروری تفاسير کتل چه هغې کښې دپاره فتح الرحمن د شيخ عبدالجبار خاکی صاحب حفظه الله او افضل التراجم د شيخ د شاه پور رحمه الله دارنګه نثر المرجان د شيخ شاه پور رحمه الله تفاسير اهم دی چه سړی د ترجمی دپاره اوګوری - او دی دور کښې خصوصاً لفظی ترجمه دپاره شيخ صاحب حفظه الله رضية التراجم ام يمان ليکلی دے نو هغه کتل د لفظی ترجمی دپاره ډير ضروری دی -

## صفت ۱۰

صفت ۱۰ : عوامو ته د آيت لنډ مقصد اووئيل چه دی آيت کريمه کښې الله تعالی مونږ او تاسو ته ددے خبرے حکم کوی يا مو ددے خبرے نه منع کوی - آسان انداز سره د آيت حل کول -

## صفت ۱۱

صفت ۱۱ : آيت کريمه کښې که يو عقيده وی نو د هغې مختصراً حل کول - که عقيده نيکه او صحيح وی نو د هغې په خکلی انداز سره ترغيب ورکول - او که د ګناه عقيده وی نو د هغې نه د منع کيدو ترغيب په صحيح انداز سره ورکول -

## صفت ۱۲

صفت ۱۲ : د درس نه روستو لفظی ترجمه دوباره وئيل ځکه د تفصيل په وخت کښې اکثر د عوامو نه ترجمه هيره شی نو چه هغوی ته دوباره ترجمه مستحضره شی -

## صفت ۱۳

صفت ۱۳ : آخر کښې د یو کس نه لا علی التعین لفظی ترجمه اورول ضروری دی ، ددے دپاره چه ټول مخاطبین درس ته په توجه سره ناست وی او درس اوری ، وائی به چه استاذجی به اوس زما نه اوری نو هغه به توجه کوی ، او ددے دپاره چه د کوم کس نه په کښې یو ټکی نیم هیر شوی وی چه هغه ورته دوباره یاد شی -

## صفت ۱٤

صفت ۱٤ : د درس نه روستو په هغوی باندے یو پیره به ګروپونو کښې د هغې تکرار کول چه ټولو ملګرو ته ترجمه خه یاده شی -

## صفت ۱۵

صفت ۱۵ : معلم دپاره ضروری دی چه خلق ۳۰ منټ درس ته کینی ، نو چه حتی الوسع کوشش کوی ، چه ۲۰ منټه درس اوکړی چه څومره لنډ وخت وی دومره به خلق خوشحاله وی ، او کینی به هم ، او نورو ته به هم د درس ترغیب ورکوی نو ۲۰ منټ درس شو او بقیه ۱۰ منټ تکرار شو کنه -

## صفت ۱٦

صفت ۱٦ : د درس د ملګرو حاضری اغستل چه کوم ملګری حاضر دی او کوم غیر حاضر دی ؟ چه کله حاضری اغستلی کیږی نو ملګری به بیا پابندی کوی -

## صفت ۱۷

صفت ۱۷ : چه کوم ملګری نه وی راغلی یعنی غیر حاضر وی نو د هغوی تپوس کول او کور

دروازی له ورله تلل چه ولی نه وی راغلی ؟ بیمار وی یا بل څه عذر وو ؟ نو د هغه تپوس کول چه هغوی سره بیا دپاره د درس اهمیت وی -

## صفت ۱۸

صفت ۱۸ : په هفته کښې یو ځل د روستو نه سبق اورول چه د مخاطبینو سره ده یادولو احساس وی او د سبق ګردان او تکرار کوی -

## صفت ۱۹

صفت ۱۹ : هر یو ملګری له ترغیب ورکول چه درس له نور ملګری راولی - په هغوی کښې ددعوت جذبه به پیدا کول چه دعوت صفت په کښې پیدا شی ، نو ملګری به زیاتیږی کمیږی به نه -

## صفت ۲۰

صفت ۲۰ : د درس ملګرو دپاره تنظیم جوړول چه د هغې یو امیر وی ، او یو ناظم وی ، یو ئې خزانچی وی - کله نه کله هغوی سره چکر له تلل چې یره راځی نن به پروګرام اوکړو ، سټیفا غاړی ته به لاړ شو ، چرګ به پوخ کړو ، نو څه ملګری به مینه محبت سره وخت تیروی ، او خوشحاله به وی ، او کله کله ورسره تبلیغ سه روزه کښې په جمع باندے تلل ، خو درس په کښې کول -

## صفت ۲۱

صفت ۲۱ : نن سبا الحادی ، ارتدادی ، جمهوریت ، وحدة الادیان ، انکار حدیث فتنه وغیره ، دا قسم فتنی موجود دی نو نصیحانه انداز سره د هغو رد کول ، جذباتو طریقې سره نه وی ، چه مخاطبین په مسئله خکلی پوهه شی او داسې فتنو نه ځان اوساتی -

## صفت ۲۲

صفت ۲۲ : چه کله نوی ملګری راشی نو معلم دی فوراً دا کوشش نه کوی چې دے ډارك زما پشان شی ، او ډارك ورته وائی ، چې ګیره پریده ، نه نه په قلاره به کیږی ، داسې نه چه د هغه ددین اسلام نه نفرت پیدا نه شی - اول د هغه زړه واخله - چه کله مطمئن شی نو بیا ورته وایه چه دا کار اوکړه -

## صفت ۲۳

صفت ۲۳ : کشرانو هلکانو سره درس قرآن کښې وهل ټکول مه کوه - ځکه د وهلو اثر کم وی او د مینی محبت اثر ډیر وی ، نو هغه سره مینه کوه - خو کله کله د ادب دپاره ضرب یضرب پکار وی چې یو کس بغیر د وهلونه کار بلکل نه کوی -

## صفت ۲٤

صفت ۲٤ : ماشومان او عوامو سره ډیر ازادی نه کول هغوئ سره ډیر ګپ شپ نه لګول ځکه چه دی سره د معلم رعب او دبدبه ختمیږی - الله تعالی دی مونږ او تاسو لره په دې صفاتو د عمل کولو توفیق راکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا

الفرقان: 52

# ددين خدمت

## ددين خدمت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبى بَعْدَه
اَمَّابَعْدُ!
فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{ فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِه جِهَادًا كَبِيْرًا} [الفرقان: 52]
وقال النبى صلى الله عليه وسلم :
مَنْ خَرَجَ فِى طَلَبِ العِلْمِ فَهُوَ فِى سَبِيلِ اللهِ حَتَّى يرْجِعَ . [سنن الترمذى 4/ 325]
د الله رب العزت لوئى مهربانى ده ، چه د بنده يو لږ وخت ددين وئيلو ، اوريدلو كښې خرچ شى - حديث شريف كښې راځى ،
چه دقيامت په ورځ به په هغه وخت او ساعت پسې بنده افسوس كوى چه كوم وخت د الله تعالى د ياد نه او ددين نه فضول تير شوى وى - ددے وجى نه د قيامت يو نوم دے ، " يوم الحسرة "
چه هغې كښې به بنده د دنيا د وختونو پسې افسوس كوى چه كاش خپله زندګى مى د دين په محنت او خدمت كښې صرف كړى وى - په هر سړى باندے د الله تعالى د طرف نه څه ذمه واريانى دى : (١) بعض د منلو دى (٢) بعض دعملى كولو دى ، (٣) بعض د محنت او خدمت كولو دى ،

دين اسلام د الله تعالى خوښ او كامل دين دے ، نو ددين اسلام منل ، او د دين اسلام په عمل كښې راوستل په هر مسلمان نارينه او زنانه د الله تعالى دطرف نه فرض دى ، چه دين د الله تعالى احكامات ، د نبى عليه السلام سنت اول اومنى ، او دويم درجه د عملى كولو ده چې دا ټول احكامات او سنت طريقې د نبى عليه السلام په عمل كښې راولى - خو يوه دريمه ذمه وارى د الله تعالى د طرف نه په مسلمانانو ددين خدمت كولو او ددين د پاره دمحنت كولو ده چه هر مسلمان به ددين اسلام خدمت او محنت كوى - قرآن كريم كښې الله تعالى فرمائى :

{كُوْنُوْا أَنْصَارَ اللّٰهِ} [الصف: 14]

د الله تعالی د دین خدمت اوکړئ ، او د هغې دعوت اوچلوئ په خپل ژوند کښې ، معاشره کښې ، معیشیت ، معاش ، تهانه ، تحصیل ، کچرئ ، غم ښادی ، هسپتال ، کالج ، یونیورسټئ کښې د الله تعالی ددین محنت او خدمت اوکړئ چه په دې ټولو کښې دین غالب شی ، څنګه چه په مسلمان باندے مونځ فرض دے نو دغه شان په مسلمانانو د الله تعالی د دین خدمت کول هم فرض دی -

## د عمل قبلیدو وعده

مسلمان یواځی په دې نه خلاصیږی چه دې ځان له مونځ کوی ، او ځان له روژه ، تلاوت ، ذکر ، عبادت کوی ، نه نه د انفرادی عمل د قبلیدو شرط هغه د اجتماعی دین خدمت کول دی چه کله د اجتماعی دین خدمت کیږی نو انفرادی دین او اعمال به ورسره هم قبلیږی - ددے دپاره به محنت کوی چه اجتماعی زندګی کښې دین راشی ، او د دین خدمت اوشی ، مثلاً : نظام معاش ، نظام معاشره ، نظام تعلیم ، نظام صحت ، نظام سیاست ، نظام قضاوت ، نظام عدالت ټولو کښې د الله ددین خدمت اوشی نو هله به انفرادی اعمال هم قبلیږی او هله به د الله تعالی نه د قیامت په ورځ انسان خلاص شی ، چه کله ئې اجتماعی میدانونو کښې ددین خدمت کړی وی -

## د الله تعالی وعدی په اجتماعی خدمت دی

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی : چه که دوی توراة او انجیل باندے عمل کړې وې او هغه ئې نافذ کړې وې نو :

{ لَأَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ } [المائدة: 66]

د دنیا نعمتونه او د زمکې چه څومره نعمتونه دی نو ما به په دوې باندے رالیږلی وی - نن موازنه اوکړه چه قرآن کریم نافذ نه دی ، نه عملاً نه نافذاً ، د قرآن کریم عمل هم نشته ، د قرآن کریم نفاذ هم په اجتماعی میدانونو کښې نشته ، انفرادی خلق قرآن کریم هم وائی ، سنت طریقې ،

مونځ ، روژه ، زکوة ، څوك خدمت كوى ليكن ددين خدمت په اجتماعى ميدانونو كښې نشته او نه ئې څوك خدمت كوى - په هغه ميدانونو كښې ټول د انګريز قانون د انګريز طريقې دى او د انګريزى قانون خدمت كيږى ، د الله تعالى د قانون خدمت په كښې نه كيږى ځكه چه زمونږ غم ښادى ، رسم رواج ، كور ، معاشره ، ثقافت ، كلچر دا ټول د انګريزى قانون او هندوانو سكهانو د قانون لاندې دى ، نو د الله تعالى وعدى چه كوم د نعمتونو دى نو هغه زمونږ سره نه كيږى - الله تعالى فرمائى :

چه ددين خدمت كوى نو بارانونه به په خپل وخت كوم ، كوئله ، سونا ، چاندى چه څومره دى دا به تاله دركوم ، د دريابونو نعمتونه چه هغې كښې د الله تعالى د قدرتونو ملغلرى دى هغه به تالره دركوم ،

غــــــرض غـــــــرض

دا ټول كائنات الله تعالى د انسان د خدمت دپاره پيدا كړې دے خو او انسان ئې د خپل خدمت دپاره پيدا كړى دے -

## دا انسان او كائنات د پيدائش مقصد

الله تعالى خپله بادشاهى ښكاره كول اوغوختل نو زمكه او آسمان غرونه ئې پيدا كړل چه په دې به زه خپله بادشاهى او حكومت ښكاره كوم ځكه قرآن كريم فرمائى :

(١){وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ} [الروم: 8]

(٢) {وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا} [ص: 27]

(٣) { رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ } [آل عمران: 191]

(٤) {وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ} [هود: 7]

دى آياتونو مباركو نه معلوميږى چه الله تعالى زمكه او آسمان عبث نه دى پيدا كړى بلكه د يو مقصد دپاره ئې پيدا كړى دى ، او هغه د الله تعالى د حكومت ښكاره كيدل دى ، په دې زمكه او

آسمان باندے - نو د الله تعالی په دې کائنات کښې په یو وړه صوبه ، چه هغې ته صوبه ارض وائی ، په هغې باندے د الله تعالی بادشاهی او حکومت خکاره شی ، ځکه د الله تعالی د حکومت غټې غټې صوبې دی ، (۱) مشتری (۲) زهل (۳) مریخ (٤) ارض ، دا ټولې صوبې دی ، غټې غټې صوبې دی ،

په هغې کښې وړه صوبه ارض ده ، په دې باندے الله تعالی خپله بادشاهی خکاره کول نو حضرت انسان ئې ددے زمکې او ددے صوبې کنټرولر او نظام چلونکی راولیږلو -

{إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً} [البقرة: 30]

چه یو مُسَلَّمْ حکومت وی نو د هغې یو هیرو وی نو انسان به ددے زمکې هیرو وی ، او په دې کښې یو قانون هم پکار وی چه په هغې باندے ددے زمکې د مخلوق اصلاح کیږی ، نو هغه قانون ورله الله تعالی راولیږلو چه د هغې مطابق احکامات ، اعمال ، اخلاق ، اعتقادیات ، عبادات دا ټول به ورته خائی ، او ددے مطابق حکومت به چلوی ، ددے خلاف ورزی به دې هم نه کوی - نو ددے بحث نه معلوم شوه چه د انسان او مسلمان مقصد د الله ددین او قانون الهی خدمت کول دی - چه په دې کائنات کښې د الله مخلوق دے او په هغه مخلوقاتو کښې انسانان دی نو دی انسانانو ذمه واری هغه د الله تعالی ددغه قانون خدمت کول په انفرادی او اجتماعی زندګی کښې ، چه کله دغه انسان ددے قانون خدمت د نافذ کولو کوی په انفرادی او اجتماعی زندګی نو هله به دده ذمه واری فارغیږی -

چه کله انسان د الله تعالی ددین خدمت کوی نو کائنات به ددے انسان خدمت کوی ځکه دا کائنات او ددے ټول مخلوق د انسان د خدمت دپاره پیدا دی -

## ټول کائنات د انسان خدمت کوی

الله تعالی انسان د خپل خلافت دپاره رالیږلی دے چه انسان به په زمکه زما خلیفه وی یعنی زما احکام به نافذ کوی - نو چه کوم انسانان د هغې قانون باغیان وی نو هغوی دپاره سزا ګانی دنیوی

او اخروی - او چه کوم خلق د الله تعالی د قانون د تنفید خدمت کوی نو دنیوی او اخروی بدلو او ثوابونو سره سره ورله الله تعالی د کائنات مخلوق تابع کوی هم - د هغې بے شمیره واقعات دی ، چه کومو انسانانو د الله ددین خدمت کړی دے نو الله تعالی کائنات د هغوی خادم ګرځولی دے-

## واقعات

### جناب ابراهیم علیه السلام

واقعه د ابراهیم علیه السلام اوګوره - قرآن کریم ذکر کوی چه کله ئې د الله تعالی ددین خدمت کوو نو اور د الله تعالی مخلوق دے هغه ورته الله تعالی یخ کړو - قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

{قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا } [الأنبياء: 69]

اور د ابراهیم علیه السلام خدمت کړې دے ، او په اور کښې دننه د خوراك دپاره میوه او د څكاك دپاره اوبه هم الله تعالی هغه لره ورکړی دی -

### جناب موسی علیه السلام

واقعه د موسی علیه السلام په دې خبره باندے ګواهی کوی چه کوم انسان د الله تعالی ددین خدمت کړې دے نو الله تعالی د هغه دپاره کائنات تابع کړی دے ، دریاب دوی له ئې لار ورکړه ، او قوم فرعون ئې تباه کړو -

دارنګه د کائنات یو لرګی دے چه هغې ته همسا وائی ، او د هغې نه ددشمن د یرولو خدمت چه د هغې نه ورله الله تعالی مار جوړوی - نو هر قسم مخلوق د کائنات ئې بیا خادم شی -

## جناب سلیمان علیه السلام

واقعه اوګوره چه په سیلئ باندے هغه حکومت کړې دے - او په سفرو باندے به تلو خه په نرم انداز سره د هغه په حکم به باندے چلیدله چه هغه به کوم طرف ته حکم اوکړو نو هغه طرف ته به تله - دارنګه مارغان اوګوره چه د هغه حکم منی او د هغه خطونه او پوستونه نورو خلقو ته رسوی او دین دعوت محنت کوی ، د هغه په حکم دا ورله الله تعالی تابع کړی وو -

## جناب داؤد علیه السلام

واقعه د داؤد علیه السلام مشهوره ده چه هغه له الله تعالی د کائنات د مخلوقات نه اوسپنه نرمه کړی وه ، اوسپنې د هغه خدمت کولو ځکه هغه د الله تعالی د دین خدمت کولو نو کائنات د هغه خدمت کولو :

{وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ} [سبأ: 10]

## جناب هود علیه السلام

چه کله هود علیه السلام عادیانو ته ددین دعوت ورکړو او ددین خدمت ئې کوو نو هغوی کښې بعض خلقو اومنله مسئله د هود علیه السلام او زیات د هغوی نه د هود علیه السلام د مسئلې نه منکِر شو ، نو الله تعالی د کائنات د یو مخلوق په ذریعه چه هوا ورته وائی ، په هغې ئې تباه کړل -

## جناب صالح علیه السلام

د صالح علیه السلام قوم واقعه هم مشهوره ده چه کله ئې ددین دعوت نه منکِر شو نو پیغمبر صالح علیه السلام الله تعالی نه په دوئ خیری اوکړی نو الله تعالی په دوی عذاب راولیږلو - الله تعالی د کائنات د یو مخلوق په ذریعه باندے هغوی هم تباه کړل چه هغه هوا وه ، دا دواړه قومونه ئې په هوا تباه کړل -

## جناب لوط علیه السلام

واقعه د لوط علیه السلام مشهوره واقعه ده چه کله لوط علیه السلام قوم ته دعوت ورکولو او قوم خپلو بد عملونو نه توبه نه ویستله بلکه اُلټا ئې لوط علیه السلام ته تکالیف ورکول ، آخر کښې هغه الله تعالی نه په دوئ خیرې اوکړې نو الله تعالی د کائنات د مخلوق نه خدمت واغستلو چې زلزله پرې راغله او زمکه پرې اوچړقیدله ، او الله تعالی پرې زمکه الټا کړله ، او فرشتې پرې چغه اووهله -

## جناب شعیب علیه السلام

واقعه د شعیب علیه السلام مشهوره ده چې شعیب علیه السلام به مدین والا ته ددین دعوت ورکړو نو هغوی د شعیب علیه السلام خبره او نه منله معجزه طلب ئې کوو ، نو الله تعالی د کائنات په ذریعه د شعیب علیه السلام خدمت اوکړو ، او د یو ګټې نه یا د یو غر نه ورته ده اوخې بچې راوتلو - غر او ګټې هم خدمت کړی دے د داعی د الله تعالی -

اصحاب کهف

واقعه د اصحاب کهف سورة کهف کښې ده چه د بادشاه مخکښې ئې ددین دعوت ورکړو ، او د خپل ملك نه ئې هجرت کول ، نو په لاره کښې ئې غار کښې شپه کوله نو د کائنات یو مخلوق چه سپې دے نو هغه د هغوی خدمت کړې دے ، او روان دے ورسره او غار کښې په دروازه کښې ناست دے او خلق دننه غار ته نه پریدی -

## جناب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

کائنات د نبی علیه السلام خدمت څومره کړی دے ، هغه بے شمیره واقعات دی : (۱) چه کله نبی علیه السلام غار ثور ته تلی او کافر د مکی د نبی علیه السلام پسې ګرځی او د غار خوا کښې ولاړ دی ، کونترې اګۍ واچولی ، جولا جال جوړ کړو - دا د نبی علیه السلام خدمت ئې کوو -

(۲) د جنګ بدر اوګوره چه کائنات مخلوق فرشتی الله تعالی د مدد دپاره رالیږلی دی ،
(۳) دارنګه د کفارو د اعتراضونو په مقابله کښې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه ، د نبی علیه السلام خدمت ئې کوو ، داسې ډیر واقعات د نبی علیه السلام چه کائنات الله تعالی تابع کړی دے او د نبی علیه السلام خدمت ئې کړی دے۔

## عمرو ابن العاص رضی الله عنه

چه کله د دریاب نه پورې مجوسیان وو او هغوی خپلی کشتۍ هم پورې اړولی وی ، نو عمرو ابن العاص رضی الله عنه ملګرو ته وی چې مونږ امیر المؤمنین جهاد له رالیږلو یو واپس کیدلو له ئې نه یو رالیږلی ، او څه اشعار ئې اووی ، او ملګرو ته ئې اووی چې په دریاب پورې اوځی ، دریاب هغوی له لار ورکړه - او مجوسیان حیران وو چه دا کوم مخلوق دے ؟

## حضرت سفینه رضی الله عنه

زمرې د ځنګل باشاه دے و حضرت سفینه رضی الله عنه زمری ته وائی :
انا غُلَامُ غُلَامِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم .
زما نه زما ملګری ورك شوې دی او لار رانه خطاء شوې ده نو لار راته اوخایه شابه ، زمری ورته لکۍ اووهله ، اشاره ئې ورته اوکړه ، وائی ، راځه ، او مخکښې ترے روان دے - چه کله ئې د ځنګل نه اووباسو ، او لار ئې ورته برابر کړه نو اوغړمبیدو او لکۍ ئې اووهله ، وائی ، داسې څه - چه ددین خدمت ئې کولو - نو الله تعالی ورته د ځنګل زمری هم تابع کړل -

## صحابه کرام رضی الله عنهم جهادی جماعت

د صحابه کرامو رضی الله عنهم د جهاد یو جماعت او یوه ډله په سفر باندے روانه وه نو ځنګل کښې شپه راغله - امیر د مجاهدینو په ځنګل کښې اودریدو او خطاب ئې اوکړو - وائی ، اے د ځنګل ځناورو ټول اعلان واورئ : مونږ د نبی علیه السلام ملګری تاسو ته اعلان کوو چه مونږ

ځنګل ته راغلی یو او دلته شپه کوو نو تاسو ځنګل خالی کړئ - که مونږ څوك هم اولیدو نو خیر به ئې نه وی - صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی ، چه مونږ کتل نو هر یو ځناور ځان سره خپل خپل بچی راغستی وو او ځنګل ئې خالی کولو ، او روان وو ، دغه خلقو د الله تعالی ددین خدمت کړې وو نو کائنات هم ددوی خدمت کولو -

## کونوا انصار الله

نو الله تعالی ټولو مسلمانانو ته حکم کړې دے ، الامر للوجوب چه اے مسلمانانو چه د ایمان دعوی مو کړیده نو د الله تعالی ددین خدمت اوکړئ - د الله تعالی دین د الله تعالی په زمکه باندے د راوستلو کوشش اوکړئ ، چه دین د الله تعالی په زمکه نافذ شی ، هم په انفرادی زندګی کښې هم په اجتماعی زندګی - نو چه ددین خدمت مو اوکړو نو کائنات به ستاسو قدمونه خکل کړی او ستاسو خدمت به اوکړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اللّه ملاقات

## د الله تعالی ملاقات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ} [البقرة: 286]**

وقال النبی صلی الله علیه وسلم :

اقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ ، فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ ، وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ ، وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ [صحيح مسلم 1/ 553]

قرآن کریم د الله رب العزت کلام او صفت دے یعنی الله رب العزت په قرآن کښې ځان ښودلی دی - دکه یو سړی الله تعالی پیژندل غواړی نو په قرآن کریم به ئې پیژنی ، که قرآن کریم ئې نه وئیلی ، نور فنون او علوم صرف ، نحو ، منطق ، معانی ، فلسفه ، میټرك ، ایف اے( FA ) ، ایف بی سی(FBC ) ، بی اے (BA)، بی ایس سی (BSC) ، ایم اے (MA)، ایم بی بی ایس (MBBS)، چه څومره ډګرئ دی دنیاوی هغه ټولی ئې حاصلی کړی وی ، خو چه قرآن کریم ئې نه وی وئیلی نو دی انسان الله تعالی نه دی پیژندلی ، ځکه قرآن کریم خپله په دې خبره باندے ګواه دے چه د انسان مقصد الله تعالی پیژندل دی :

**{وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ} [الذاريات: 56]**

نو چه الله تعالی پیژندل غواړی نو ده پیژندلو آله هغه قرآن کریم دے ، ددے نه بغیر به بل څیز الله تعالی نه شی پیژندلی - قرآن کریم اوریدل ، او قرآن کریم وئیل ، دا د الله تعالی تعالی سره شغل او مشغولتیا ده ځکه قرآن کریم د الله تعالی کلام دے - څوك چه قرآن کریم وائی نو دی د الله تعالی سره خبرے کوی ، چه څومره قرآن کریم ته نزدی کیږی نو دومره به الله تعالی ته نزدی کیږی - او چه څومره انسان د قرآن کریم نه لرې کیږی نو دومره به د الله تعالی نه لرې کیږی ، نو

مونږ او تاسو له پکار دی چه قرآن کریم ته خپله هم کینو او خپل ماشومان هم قرآن کریم ته راولو نو ددے به په مونږ او تاسو او ماشومانو باندے اثر کیږی - د ماشومانو اعمال ، اخلاق ، عبادات باندے به اثر وی ځکه قرآن کریم ته نزدی کیدل او بل څوك ورسره نزدی کول دا الله تعالی ته نزدی کول او نزدی کیدل دی چه څومره الله تعالی ته نزدی کیږی نو دومره به په راحتونو کښې يې - چه څومره د الله تعالی نه لرې کیږی نو دومره به په مصائبو او مشکلاتو ، ګناهونو ، بدعملو کښې اخلو ، ځکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

{أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ } [الرعد: 28]

د الله تعالی د ذکر یادولو ، الله سره مشغولتیا کولو کښې د زړه راحت او اطمینان دے او د زړه سکون دے - په دې کښې که هیڅ درسره هم نه وی خو زړه به دی په سکون باندے وی ، خوشحاله به ئې - نن چه مونږ څومره د پریشانو سره مخامخ یو نو د نورو وجوهو سره سره یوه وجه دا هم ده چه مونږ د الله تعالی د کتاب نه لرې شوې یو ، نو چه څومره کتاب الله ته نزدی کیږی نو پریشانی به دې ختمیږی -

## قول د مولانا رومی رحمه الله

شعر :

*گر به گریز بر امید راحتے*      *هم ازاں کنجے بیاید آفتے*

مولانا رومی رحمه الله وائی : د الله تعالی د کتاب او ددین نه چه کوم ګټ ته ځی ، د آرام ، سکون ، او چې ن په طمع باندے نو هلته به مصائب راځی او تکالیف به راځی ځکه د الله تعالی نه علاوه بل ځاے آرام نشته ، الله تعالی سره خوشحالی ده ، آرام او سکون او اطمینان دے -

## د الله تعالی سره د ملاقات ذریعه

علماء کرام ذکر کوی چه د الله تعالی سره د ملاقات ذریعه د الله تعالی کتاب قرآن کریم دے ، ځکه حدیث شریف دے او فضائل اعمال کښې شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله ذکر کړی

دے نبی علیه السلام فرمائی :
چه ما ته الله تعالی فرمایلی دی : چه دوی ما ته نه شی نزدی کیدی مګر په هغه کتاب باندے چه کوم زما د ذات نه وتلی دے نو د الله تعالی د ذات نه چه وتلی دے هغه قرآن کریم دے ، نو قرآن کریم الله تعالی ته د نزدیکت او الله تعالی سره د ملاقات ذریعه ده - او قرآن کریم کښې الله تعالی خپله فرمائی :
{وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَلَا تَفَرَّقُوْا } [آل عمران: 103]
چه زما رسی مضبوطه اونیسئ نو ما ته به رانزدی شئ - بله داسې ما ته د راتللو لاره نشته چه تاسو په هغې باندے ماته راورسیږی -

## قول د ویسه شیخ رحمه الله

ویسه شیخ صاحب رحمه الله به فرمایل : چه ددے مثال داسې دے لکه آسمان یو چهت وی ، او دغه چهت ته د ختولو لار نه وی بلکه دا چهت ئې سوری کړی وی ، او یوه رسئ ئې په کښې زوړنده کړی وی چه کله یو سړی دا رسئ مضبوطه اونیسی نو بره به اوخیژی -

## اقسام د خلقو

(۱)بعض خلق زورور وی په خپل طاقت او زور باندے به بره لاړ شی -
(۲) بعض خلق دومره زور ور نه وی نو لږ بره به لاړ شی ، بیا به راوغورځیږی ، بیا بره لاړ شی ، بیا راوغورځیږی ، ټرائی ، ټرائی اګین ( Triy Triy Again ) نو ددے سړی نه هم دا امید شته چه دی به بره لاړ شی -
(۳) یو سړی وی چې رسئ ئې کلکه نیولی وی ، پریدی ئې نه چه کوم خلق بره ختلی وی هغوی ته ګوری او خوشحالیږی ، زور ورکښې نشته ، او د بره ختو طاقت په کښې هم نشته خو هسی رسئ ئې نیولی ده ، پریدی ئې نه ، ددے سړی نه هم د بره ختلو امید شته ، کیدی شی بره ختلی

كسان ورسره زور اوکړی ، او بره لاړ شی ، یا د رسی مالك رسی بره راکاږی نو د خو هسے رسئ نیولی ده نو دې به بره لاړ شی -

نو قرآن کریم د الله تعالی رسئ ده ، د رسئ یو طرف د الله تعالی سره دے او بل طرف ئې ستاسو سره دے ، نو :

(۱)بعض خلق نیك عمل کوی ، بیان د قرآن کریم کوی ، دعوت د قرآن کریم کوی ، نو هغوی کښې زور او طاقت وی نو هغوی په دغه رسئ باندے الله ته ورسیږی -

(۲) بعض خلق ګناهګار وی ، نو لږ بره ځی ، او بیا خکته راځی ، بیا بره ځی او بیا خکته راځی ، خو امید ئې د ختلو وی ، ټرائی ټرائی آګین ( Triy Triy Again ) آخر کیدی شی چې دی هم اوخیژی الله تعالی ته -

(۳) هغه خلق چه دوی سره مینه کوی ، د قرآن کریم او قرآن کریم والا سره نو دا درې / ۳ واړه قسم خلق د الله تعالی په فضل کښې دی -

{ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ} [فاطر: 32]

دا ټول د الله تعالی فضل دے چه انسان د قرآن کریم دعوت ، ایمان ، عمل کوی ، او لږ ګناهګار وی خو بیا هم قرآن کریم نه پریدی ، بل هغه چه نه قرآن کریم ورځی ، دعوت ئې هم نه شی کولی ، عمل ئې هم نه شی کولی ، خو د قرآن کریم او قرآن کریم والا سره ئې مینه وی ، دا درې / ۳ واړه د الله تعالی په فضل کښې دی ، الله تعالی ورته فضل کبیر وائی - الله تعالی وائی دا درې کارونه چه کوم انسان کښې وی په هغوی د الله تعالی لوی فضل دے -

## الله تعالی په قرآن کریم کښې پټ دے

علماء کرام ذکر کوی : چه الله تعالی یو سړی ګوری نو هغه دی د الله تعالی په کتاب کښې اوګوری ، نو د الله تعالی دیدار چه نصیب کیږی نو هغه په قرآن کریم باندے نصیب کیږی ځکه

چه موسی علیه السلام ته الله تعالی فرمائی :

{إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي} [الأعراف: 144]

چه اے موسی ما تالره خپل کلام توراۃ درکړې دے د قیامت په ورځ باندے زما دیدار په دې ملاؤیږی ، او دیدار الهی قیامت کښې په قرآن کریم نصیب کیږی -

## د زیب النساء شعر

بادشاه او وزیران پارلیمنټ کښې ناست دی ، ناڅاپه د بادشاه د خلې نه د شعر یوه کړئ اوتله ، د بادشاه ډیره خوښه شوه نو ډارك بادشاه اووی وزیرانو ته چه ددے پسې دویمه اوائی ، وزیرانو اونه وئیله ، بادشاه انعام مقرر کړو او وزیران ئې اولیږل ، چه په علاقه کښې اوګرځی ، چه څوك هم ددے پسې دویمه کړئ برابر اوائی ، نو دومره دومره انعام به ئې وی ، وزیران ګرځی ، آخر ډیر وخت پس زیب النساء د عالمګیر بادشاه خور وه هغې ته پته اولګیدله چه بادشاه داسې خبره کړیده ، نو هغې ډارك د هغې شعر پسې بله کړئ اولیکله ، او د بادشاه وزیرانو ته ئې حواله کړه ، وزیرانو بادشاه ته اورسوله نو بادشاه ډیر خوشحاله شو خو بادشاه اووی ، چه زه دا شاعر لیدل غواړم ، وزیرانو ته وئ ، چه شاعر ما ته حاضر کړئ ، وزیران راغلل ، هغې ته وائی چه بادشاه دی لیدل غواړی ، هغې ورته شعر اولیکلو ، او ورته وائی چه زه زنانه یم ، او دا شعر بادشاه له ویسئ نو هغه به ما اوپیژنی ، او شعر ئې ورته په کاغذ اولیکلو -

*در سخن مخفی منم چوں بوے گل در برگ گل* *ہر کہ دیدن میں ندارد در سخن بیند مرا*

ترجمه : چه بادشاه ته اوائی چه زما مثال د ګل دے ګل خوشبو کوی ، خو خوشبو ئې خکاری نه ، نو که مالیدل غواړی نو بس زما دی شعر کښې دی ما اوګوری - نو قرآن کریم د الله تعالی کتاب دے ، او الله تعالی په قرآن کریم کښې پټ دے نو که څوك الله تعالی لیدل غواړی نو قرآن کریم کښې د اوګوری -

## اقسام د زړه

عالمان ذکر کوی : چه د الله تعالی دیدار هغه انسان کولی شی چه هغه روغ زړه والا وی ، او هغه دا دعا هم کوی ، چه : اللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا الشَّوْقَ اِلٰی لِقَائِكَ ،
چه اے الله ستا دملاقات او لیدلو شوق لرم - چه کوم زړه روغ وی او د الله تعالی د لیدلو شوق لری ، نو هغه د الله تعالی دیدار کولی شی -
(۱)روغ زړه والا دے قرآن کریم د هغې نه تعبیر په قلب سلیم سره کوی -
(۲) هغه بیمار زړه دے ، قرآن کریم د هغې نه تعبیر کوی -
{ فِی قُلُوْبِهِمْ مَرَضٌ} [البقرة: 10]
(۳) هغه مړ زړه دے مکمل قرآن کریم د هغې نه تعبیر کوی -
{ خَتَمَ اللہ عَلَی قُلُوْبِهِمْ} [البقرة: 7]
نو هغه ایمان او زړه والا چه هغه مکمل د قرآن کریم مطابق عقیده ساتی او قرآن کریم مطابق عمل ساتی په قرآن کریم زندګی تیروی ، خپله معاشره ، معیشت ، سیاست ، عدالت ، کالج ، یونیورسټی ، هسپتال ، خپل کور ، خپل کلے دا ټول د قرآن کریم په احکاماتو منور کوی او هغې کښې د قرآن کریم دبادشاهت محنت کوی نو هغه زړه او ایمان والا انسان چه دے نو دده زړه روغ دے ، او قلب سلیم دے - چه کوم انسان دورنګه پالیسی چلوی چه اسلام قرآن کریم او دین کښې ئې فائده وی نو بیا وائی : دین به منی - او چه قرآن کریم کښې دده فائده نه وی نو وائی : کچرئ عدالتونه دا د څه دپاره دی ؟ دی د قرآن کریم قانون له نه راځی بیا په انګریزی قانون فیصله کوی نو دا منافق وی ، دده زړه مرضی دے ، ددے علاج کول غواړی په قرآن کریم باندے ، هغه سړی چه مکمل د قرآن کریم نه خلاف وی او بل قانون د قرآن کریم مقابله منی ، په قرآن کریم باندے بل قانون غوره ګڼړی نو دده زړه مړ دے -
{ خَتَمَ اللہُ عَلَی قُلُوْبِهِمْ} [البقرة: 7]
نو روغ او قلب سلیم زړه والا انسان چه ددنیا نه لاړ شی نو دی به دیدار الهی کوی ، الله تعالی

سره به ملاقات کوی ، الله تعالی به وینی ، الله تعالی دی مونږ او تاسو ته خپل دیدار نصیب کړی۔

## موانع د دیدار الهی

د الله تعالی ملاقات کول ، الله تعالی سره خبرے کول ، د الله تعالی سره مشغول کیدل ، الله تعالی ته نزدی کیدل ، ددے ټولو نه مونږ او تاسو ته مانع هغه ګناهونه دی - انسان په ګناهونو کښې اخته شی نو الله تعالی ترے هیر شی ، ددنیا په عیش عشرت ، مزو او چرچو کښې په خواهش پرستی کښې ګیر شی نو بیا ئې الله تعالی هیر وی - الله تعالی پرې لږ تکلیف راولی دده مړ ضمیر بیدار شی چه کله نه خه کیږی د بیمارۍ نه نو الله تعالی ته متوجه شی ، الله تعالی غواړی ، د الله تعالی نه بخنه غواړی ، چه اے الله زما دا مصیبت زما د ګناه او عیش عشرت او خواهش د وجه نه دی ، الله زه ددے ګناه نه معافی غواړم ، الله ما معاف کړی ، ستا عاجز بنده یم ، خپل مړ ضمیر ئې بیدار شی ، اصل فطرت ته واپس شی ، مونږ او تاسو خپله د مړ زړه صفا شیشه په ګناهونو باندے خړه کړیده ، ددے دپاره صوان پکار دے ، او د ګناه صوان هغه توبه کول دی داسې انسان چه الله تعالی ته توبه اوباسی - الله تعالی فرمائی :

{لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا} [الزمر: 53]

الله تعالی ټول ګناهونه معاف کوی حدیث شریف کښې راځی چه کله ګناهګار بنده اوائی ، اللّٰهُمَّ اغفر لی ،

الله تعالی ترے مخ واړوی ، دا بنده بیا اوائی ، اللّٰهُمَّ اغفر لی ، الله تعالی بیا مخ واړوی ، بنده بیا اوائی ، اللّٰهُمَّ اغفر لی ، الله رب العزت فرشتو ته اوفرمایی ، اے :

یا ملائکتی اشهدوا قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِیْ -

دارنګه بل حدیث شریف کښې راځی چه الله تعالی فرمائی ، چه ما ددے بنده زړه خکاره کړو ، چه دا بنده د زړه نه توبه اوباسی ، او که د خولی نه نو الله تعالی فرمائی ، ماله شرم راځی ، چه درې / ۳ ځله بنده زمانه معافی اوغواړی ، او زه ئې معاف نه کړم ، شیخ سعدی رحمه الله فرمائی :

چه الله تعالی فرمائی ، چه مالره شرم راځی ، چه زه بنده معاف نه کړم ، دارنګه حدیث شریف کښې راځی ، چه الله تعالی د خپل شان مطابق د شپې آخری حصه کښې دنیا ته راځی ، او اعلان کوی :

هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ ؟ هَلْ مِنْ تَائِبٍ ؟ هَلْ مِنْ سَائِلٍ ؟ هَلْ مِنْ دَاعٍ ؟ حَتَّى ينْفَجِرَ الْفَجْرُ " .[صحيح مسلم 1/ 523]

چه څوك بخنه غواړی ، غوختونکی شتې ، چه زه د هغه ګناهونه معاف کړم ؟ دارنګه نبی علیه السلام فرمائی : چه بنده دی د الله تعالی نه داسې دعا غواړی ، چه اے الله ، ستا نه داسې څیز غواړم چه ستا نه پرې څه کمیږی نه ، او زما پرې دواړه جهانونه برابر کیږی ، هغه د ګناهونو معافی ده -

## چلاسی بابا قول

بابا وائی : چه زه د الله تعالی نه دعا غواړم د ګناه د معافی نو زه وایم چه الله ما معاف کړی ، ډیر خلق دی معاف کړل ، ما صفا زړه دنیا ته راوړے وو ، او وس مې په ګناهونو سخا کړو ، نو الله ستا نه معافی غواړمه چې نور خلق معاف کوی نو ما هم معاف کړه ، الله تعالی دی زمونږ ګناهونه معاف کړی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# صفات المعلمين

## دینی مرکزونه جوړول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ} [البقرة: 127]**

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : اَلْقُرْآنُ مَاْدُبَةُ اللهِ فَتَلَّمُوْا مِنْ مَاْدُبَتَه□ مَا اسْتَطَعْتُمْ -

دالله تعالی مهربانی ده چه مونږ او تاسو ئې ددین ده یو خدمت په شعبه کښې راجمع کړی یو ، ددین د خدمت څانګی ډیری دی ، او هغه ټولی څانګی الله تعالی د نبی علیه السلام امت باندے ژوندے ساتی ، الله تعالی دی مونږ له توفیق راکړی چه ځان ددین د یو څانګی سره اوتړو ځکه ټولو ته رسیدل ګران کار دے ، نو چه ټول نه شی کولی نو ټول خو خلق نه پریدی کنه ، (١) دعوت تبلیغ دے (٢) جهاد فی سبیل الله دے (٣) علم د شریعت دے ، (٤) دا درې / ٣ څانګی ددین اسلام د نبی علیه السلام امت ذمه واری دے چه دا ژوندی ساتی -

عالمان ذکر کوی : چه د علم د څانګه داسې ده چه دا نوذ دواړه دیته محتاجه دی ځکه که علم نه وی او تبلیغ والا تبلیغ کوی نو کیدی شی صحیح خبرے په ځاے غلطی خوری کړی ، دی وجه نه علم زده کول ډیر ضروری دی چه انسان بیا صحیح خبرے را اخلی ، او دهغی تبلیغ کوی - رائیونډ مشرانو ترتیب هم دادے چه هغه کوشش کوی چه د هر جماعت سره یو عالم خامخا وی چه دا عالم ددے عوامو د عقائدو ، اعمالو ، عباداتو ، اخلاقو ، د صحیح کولو کوشش کوی ، د حلال حرام د صحیح معاشری ، د صحیح کاروبار ، د صحیح زندګی ، د صحیح سیاست ترغیب ورکوی ځکه کچرته د یو جماعت سره عالم دین نه وی نو کیدی شی دا عوام د صحیح دین زده کولو په ځاے د کتابونو نه بغیر د رهبر نه غلطی خبرے ، غلطی عقیدی زده کوی ، او هغه ئې بیانوی او د خلقو ته ئې ښائی نو د هغې نه به د اصلاح په ځاے فساد خور شی - دی وجه تبلیغ جماعت کښې د علماء ډیر ضرورت وی -

د جهاد دپاره د علم هم ضرورت دے هسی نه مجاهدین په سنګر کښې یا په میدان جهاد کښې داسې افعال اختیار کړی چه د هغې شریعت اجازت نه ورکوی ، هسی خلقو باندے حملې کوی ، هسی خلق شهیدان کوی چې د هغې شریعت اجازت نه ورکوی ، نو د علم هغوی ته سخت ضرورت دے - نو دا شعبه د علم ډیره اهمه ده او دا یو څانګه ددین اسلام ده -

علماء کرام ذکر کوی : چه د اغیارو یهودو ، نصارو کوشش دادے چه د مسلمان نه علم واخلی ، او هنرونو ، تعلیمونو کښې ئې اخته کړی ، او تنخواګانی ورله زیاتی کړی ، مراعات ورله زیات کړی وی ، دوی د قرآن کریم علم پریدی ، او انګریزی تعلیم راواخلی ، دوی کښې د حلال او حرام تمیز ختم شی ، د حق او باطل تمیز ختم شی ، نو انګریزان ، یهودیان ، نصاروا ددین علم د ختمولو کوشش کوی ، او الله تعالی او نبی علیه السلام د علم ترغیب ورکوی ، چه علم اوکړئ ، نبی علیه السلام فرمائی :

فَضْلُ العَالِمِ عَلَى العَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ . [سنن الترمذی 4/ 347]

دارنګه بل حدیث شریف کښې راځی :

وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ ، [سنن ابن ماجه 1/ 81]

عالم فضلیت په عابد باندے داسې دے لکه د څوارلسمی / ١٤ سپوږمۍ ته په ستورو باندے ، حدیث شریف کښې راځی ، نبی علیه السلام فرمائی :

مَنْ خَرَجَ فِى طَلَبِ العِلْمِ فَهُوَ فِى سَبِيلِ اللهِ حَتَّى يرْجِعَ . [سنن الترمذی 4/ 325]

عالم چه هغه د شریعت علم زده کوی هغه فی سبیل الله دے د هغه لوږه ، تنده ، بیماری ، یخنی ، ګرمی ، تکلیف دا ټول الله تعالی ته حساب وی ، ځکه د الله تعالی په لاره کښې دے ، څوك چه د چا په لاره کښې وی نو دهغه هر څه د هغه پسې وی -

العلم نور ، علماء کرام ذکر کوی : چه علم رنړا او جهل تیاره ده ، زمونږ او ستاسو په عقیدو ، اعمالو ، اخلاقو کښې تیاره ده ، علم د وجی نه زمونږ عقیدی رنړا شوی ، او اعمال رنړا شو ، اخلاق رنړا نشو ، زمونږ کاروبارونه بے دعلم نه تیاره دی ، زمونږ سیاست بے دعلم نه تیاره دی ،

نو علم رنړا ده ، جهل تیاره ده ، نو ددے علم دپاره مراکز آبادول هم ضروری دی ځکه علم بغیر د مرکز نه نه حاصلیږی ، نو مدرسه ، جومات آبادول ددے علم دپاره چه په هغې کښې د علم ښودل او زده کول کیږی ، ددین او اسلام د حفاظت خدمت په کښې کیږی -

## د شیخ صاحب حفظه الله د پنج پیر دوه خبرې

حضرت شیخ صاحب حفظه الله د پنج پیر هغوی د علم د مرکز آبادول ، او مدرسه له زمکه ورکول ، مدرسه جوړول ، او آبادول ، جومات جوړول ، د هغې په مناسبت سره شیخ صاحب حفظه الله (۱) خبره دا کوی ، چه په تعلق سره نسبت بدلیږی ، (۲) خبره دا کوی ، چه د اونی قیمت د هغې د میوی نه معلومیږی -

## تعلق سره نسبت بدلیږی

حضرت شیخ صاحب حفظه الله اکثر دا دوه خبرے ډیرے کوی چه په تعلق سره د یو څیز نسبت بدل شی - مثال داسې دے چه یو سړی د کپړو والا دوکان ته لاړ شی ، هلته کپړی واخلی ، د یو تان نه ددے یو ماشوم له پرتوګ جوړ کړی ، او بل ددغی کپړی نه د قرآن کریم دپاره قمیص جوړ کړی نو د یو تان کپړه ده ، خو پرتوګ اکثر په نالئ کښې ګنده پروت وی ، څوك ورله ګوتی نه اوړی ، اکثر ئې خلق ددوو ګوتو کښې اونیسی او ګذار ئې کړی ، کله یو ځاے کښې د وړو بولو او لویو بولو ګنده بل ځاے پروت وی ، او هم دغه د یو تان نه د یو رنګ دغه کپړه ده خو چه کوم قمیص ترے د قرآن کریم دپاره جوړ شوی دے ، نو غرځول لا څه کوی ، خو فتوی د علماء کرامو دا ده چه بے اودسه هغې ته لاس لګول هم صحیح نه دی ، دی وجی نه تعلق سره نسبت بدل شی او اوچت شی ، د یوې کپړی نسبت د قرآن کریم سره راغے ، د هغې نسبت د هغې بلی نه اوچت شو دغه رنګه مثال د زمکې هم دے د زمکې بعض ټوټی په بعض باندے سکول دی ، په بعض باندے کالج وی ، په بعضو باندے تهانه وی ، په بعض هسپتال وی و به بعضو باندے

عدالت وی ، په بعضو زمکو باندے کارخانی وی ، خو په بعضو زمکو باندے د الله تعالی کور وی ، هغه الله تعالی د خپل کور ، خپل کتاب ، خپل ځان دپاره خوښ کړی وی ، نو دهغی زمکې نسبت ددے نورو نه بدل شو او اوچت شو ، ځکه ددے زمکې نسبت د الله تعالی سره ، د الله تعالی کتاب سره راغے ، نو په تعلق سره نسبت بدلیږی ، هغه انسان ډیر بختور وی ، چه د هغه د زمکې الله تعالی د خپل ځان دپاره انتخاب اوکړی -

حدیث شریف کښې راځی ، نبی علیه السلام فرمائی :

أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا . [صحيح مسلم 1/ 464]

د الله په ټولو کښې خوښ ځایونه جوماتونه ، خپل کورونه ( د الله تعالی کورونه ) دی ، په بعضو زمکو باندے مالټې ، په بعضو باندے شمتالو ، په بعضو باندے الوچه ، په بعضو باندے املوك ولاړ وی ، خو هغه الله تعالی ته خوښ نه وی ، بلکه الله تعالی ته خوښه زمکه ، او چه الله تعالی ورسره مینه کوی ، هغه زمکه د جومات او د مدرسی ده ،

## د اونی قیمت د میوې نه معلومیږی

حضرت شیخ صاحب حفظه الله دویم خبره کوی چه د اونی قیمت د هغې د میوی نه معلومیږی ، چه میوه څومره قیمتی وی ، نو اونه او بوټی هغومره قیمتی وی ، مونږ او تاسو ګورو چه په کومه زمکه باندے کومه میوه خه کیږی ، د بعض زمکو میوه غنم ، د بعضو زمکو میوه جوار وی ، د بعضو زمکو میوه ګنې وی ، د بعضو زمکو میوه چاول وی ، د بعض زمکو میوه سبزیانی وی ، مختلف قسم زمکه مختلف قسم میوی کوی ، د ټولو نه قیمتی زمکه په دې تولو کښې هغه زمکه ده چې د هغې میوه الله تعالی دے د هغې میوه د الله تعالی کتاب دے ، د هغې میوه د نبی علیه السلام سنت دی ، ددے زمکې نه بله بهتره زمکه نشته دی ، ددے زمکې نه خلق الله تعالی پیژنی ، د الله تعالی کتاب ترے زده کوی ، نبی علیه السلام او دین سنت ترے اخلی او زده کوی ، نو مدرسی نه انسان الله تعالی زده کولې شی ، دین د الله تعالی ترے زده کولی شی ، د الله تعالی

کتاب ترے ښودلی شی ، نبی علیه السلام او د نبی علیه السلام سنت ترے ښودلی شی ، چه دغه زمکې ته راځی الله تعالی سره به دی ملاقات کیږی ، الله تعالی سره به دی خبرے کیږی ، آرام ، سکون ، اطمینان په دې کښې وی ، نو کوم زمکه چه دین سره نزدی شوه ، نو هغه قیمتی شوه د نورو زمکو نه نو چه کوم انسان ددین سره نزدی شی نو هغه به نه قیمتی کیږی ؟

## قول د شیخ سعدی رحمه الله

وائی چې یوه خټه مې لاس کښې واغستله نو ډیره خوشبوداره وه ، ما ترے تپوس اوکړو چه ته خټه ئې او که څه بلائی ؟ دا دومره خوشبو درنه ولی ځی ؟ وائی چې خټه راته ګویا شوله چه په ماباندې خوشبودار ګلونه کیږی نو زما د هغې سره تعلق راغلے دے نو ځکه زما نه هم خوشبو ئې ، نو انسان هم د خټې نه جوړ دے نو چه کله ئې ددین سره تعلق راشی نو قیمتی شی او ددین خوشبویانی بیا دده نه خوریږی -

## د شیخ عبدالرحیم شاه پوری حفظه الله قول

چه هر انسان دا طمع ساتی چه زه دی جنت ته لاړشم خو دې ځان ته نه ګوری چه زه د جنت د تلو یم ، خو ځکه چه زه خو د ګنده نطفی نه پیدا یم نو جنت خو پاك ساك ځاے دے څنګه به ورته ګنده انسان لاړ شی ؟ نو هغه فرمائی ، چه کله دی ځان د قرآن کریم په اوبو نه وی پاك کړی نو جنت ته نه شی داخل کیدی ، دی وجه نه چه د کوم انسان تعلق چه مدارسو سره وی ، قرآن کریم سره وی ، د نبی علیه السلام حدیث سره وی ، نو هغه انسان قیمتی دے او قیمتی زمکې د جنت ته به داخل کیږی -

## دینی مراکز جوړول سنت الانبیاء دی

زما عزت مندو خوك د کاروبار دپاره مراکز جوړوی ، څوك د بې دینی دپاره مراکز جوړوی ، څوك د سود خورولو دپاره او سود عامو کولو دپاره مرکزونه جوړوی ، څوك د بے حیائی ، بدکارئ دپاره

مرکزونه جوړوی ، او څوک بختور د الله تعالی ددین مرکزونه جوړوی ، نو د الله تعالی ددین دپاره مرکزونه جوړول دا سنت الانبیاء دی -

(۱)ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام لګیا دی ، د الله تعالی ددین مرکز جوړوی ، بابا دیوالونه وهی او بچی اسماعیل علیه السلام ورله ګټه او خټه ورکوی ، خدمت ورسره کوی ، د الله تعالی کور او دینی مرکز جوړوی - الله تعالی ته دا عمل د هغوی ډیر خوښ وو ، نو خپل کتاب کښې د هغې تذکره کوی :

**{وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ} [البقرة: 127]**

(۲) موسی علیه السلام ته الله تعالی فرمائی :

**{وَاجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً} [يونس: 87]**

دینی مرکزونه جوړ کړئ ،

(۳) نبی علیه السلام ته چه کله علی الاعلان اجازت ددعوت نه وو نو اولنی دینی مرکز د نبی علیه السلام دار ارقم وو - په هغې کښې نبی علیه السلام ددین دعوت او تعلیم ورکولو ، بیا چه کله نبی علیه السلام مدینی منوری ته تشریف راوړو نو اول ددینی مرکز بنیاد ږدی ، د مسجد قباء بنیاد کیخودولو ، روستو دینی مرکز د تعلیم او تعلُّم هغه مسجد نبوی او بیا په مسجد نبوی کښې اصحاب صفه خاص طور د تعلیم او تعلم مرکز وو ، دارنګه د ټولو انبیاء سنت دی دین مرکز جوړول -

## د کابلګرام شیخ رحمه الله قول

شیخ صاحب رحمه الله به فرمایل : چه دینی مراکز ورانول ، دا د فرعون او ابرهه مشن وو ، او دینی مراکز جوړول ، آبادول ، دا د انبیاء او د انبیاء نه ورستو د نبی علیه السلام د امت مسلمانانو ذمه واری ده چه دینی مراکز جوړوی او آباد ئې ساتی ځکه چه زمونږ ددین اسلام د حفاظت مراکز دینی مراکز دی - په دې کښې زمونږ د ایمان ، اسلام ، عقائدو ، عباداتو ، اعمالو ، اخلاقو ،

معاشرى ، معاش ، تعليم ، صحت ، سياست ، قضاوت ، عدالت ددے ټولو صحيح طريقې سره حفاظت كيږى -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د روح شفاخانه

## د روح شفاخانه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَه

اَمَّابَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{يا أَيهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِى الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ° قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهِ □ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُوْنَ} [يونس: 57، 58]**

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : خَيرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ .[صحيح البخاری 6/ 192]

د الله رب العزت د شان مقدار حمدونه ، شکرونه دی چه مونږ او تاسو عاجزان ئې خپل کتاب ته کينولو ، الله تعالی د وئيونکو وئيل ، او د اوريدونکو اوريدل ، زده کونکو زده کول ، د خپل دين د غلبې ذريعه اوګرځی ، الله تعالی دې قبول او منظور کړی ، مونږ او تاسو کلې ، معاشره کښې وخت تيرؤ ، زمونږ هسپتالونو ، ډسپنسريانو ته د صحت دپاره ضرورت راځی چه کله مونږ ناجوړه شو علاج له ځو ، دوايانو له ځو ، د الله په فضل مونږ ته صحت نصيب شی - که په وړوکی هسپتال کښې علاج صحيح نه کيږی نو غټ هسپتال ته غټ ډاکټر له ځو ، چه بيماری معلوم کړی او صحيح علاج اوکړی - که صوابئ ټوپئ کښې علاج نه کيږی نو پښور ته ځو که هلته نه وی نو اسلام آباد ته ځو او که هلته هم نه وی نو لاهور ته ځو ، خو چه زمونږ صحيح علاج اوشی - نيك انسان هغه وی چه هغه وائی ، چه په دوايانو سړی بچ کيږی نه بلکه په آسانه سره نيتې ته ورسيږی -

## بدنی ژوند روحانی ژوند

بدنی بيماريانو نه د بچاؤ دپاره ظاهری هسپتالونه ، ډسپنسريانی پکار دی چه هغې کښې د مريض علاج کيږی نو دغه شان روحانی ژوند باندے هم بيماری راځی د هغې د صحت دپاره هم شفاخانو ته ضرورت دے ځکه چه کله يو سړی قرآن کريم او حديث شريف ته ګوری د انسانيت

تاریخ ته اوګوری نو په صحت روغو ته الله تعالی بیماران وائی او په ژوند ژوندو ته الله تعالی مړی وائی ، خه برابر وی قرآن کریم ورته بیمار وائی ، خه ژوندې وی خو قرآن کریم ورته مړ وائی - په بدن مریض کمزوری هغه ته قرآن کریم صحت مند او روغ وائی ، په بدن مړ د خاورو لاندې وی قرآن کریم ورته ژوندی وائی -

{ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ } [البقرة: 154]

{بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ} [آل عمران: 169]

ددنیا دپاسه ناست وی او ګرځی راګرځی هم خو قرآن ورته مړ وائی - معلومه شوه چې د قرآن کریم په نزد ژوند یواځی د بدنی ژوند نوم نه دی بلکه د انسان یو روحانی ایمانی ژوند هم شته دے چه کله هغه مفلوج او کمزوری شی - که دا سړی ظاهراً ډیر خکلی خکاری ، حسین وی ، مزیدار وی ، مالدار وی ، خو دې تباه دے - زمونږ او ستاسو په معاشره کښې د بدنی هسپتالونو نه زیات د روحانی شفاخانو ضرورت دے -

## روحانی شفاخانه

هغه روحانی شفاخانی چه زمونږ د روح خیال ساتی ، د بیماریانو نه زمونږ او ستاسو روح بچ کوی هغه شفاخانی د قرآن کریم درسګاهونه دی چه دی کښې زمونږ دایمانی روحانی صحت خیال ساتلی کیږی - مونږ او تاسو په د بدن تکلیف او درد محسوس کیږی خو د روح تکلیف او درد نه محسوس کیږی ، چه مرچکی اوخوری ، وائی ، معده مې خرابه شوه ، د هغې درد محسوس کیږی ، ازغی په خپه کښې لاړ شی ، سکروټه باندے اوسوځی ، په چپلو کښې میخ راوځی ، او مونږ له تکلیف راکړی ، ددے څیزونو درد مونږ او تاسو ته محسوس کیږی -

لیکن د روح د بیماری ، درد مونږ او تاسو نه محسوس کوو - ګناه سره زمونږ روح بیمار شی ، کنځلو سره ، بدو ردو سره ، شرکی خبرو سره ، شرکی کارونه سره ، د قرآن کریم او سنت خلاف خبرو او کارونو سره زمونږ روح بیمار شی خو افسوس د هغې درد مونږ او تاسو ته نه محسوس

کيږی ځکه زمونږ او ستاسو د روحونو علاج د روح په شفاخانه کښې نه دی شوې - چه د کومو خلقو علاج په روحانی شفاخانو کښې شوې وی نو هغه ته بيا د ګناه ، د شرکی خبرو ، د بدعاتو درد محسوس کيږی -

## جناب ابراهيم عليه السلام

واقعه د ابراهيم عليه السلام مشهوره ده چه کله ئې اوکتل ،
{ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى النُّجُوْمِ ۝ فَقَالَ إِنِّى سَقِيْمٌ} [الصافات: 88، 89]
د ابراهيم عليه السلام روح بيدار وو د هغوی روحانی علاج شوې وو ، د روح په شفاخانو کښې - قوم ورله دعوت ورکوی چه زمونږ سره به ميلی ته لاړ شی ، ابراهيم عليه السلام ورته وائی ،
إِنِّى سَقِيْمٌ
زه بيمار يم ، شرکی ماحول ته تلل د هغې درد هغوی ته محسوس کيدوچه دی سره روحانيت بيمار کيږی ، ابراهيم عليه السلام وائی ، ما ته ډير ټينشن دے ، چه کله د سړی روحانيت بيدار شی نو بيا ورته د ګناه اثر محسوس کيږی ، چه کله ترے ګناه اوشی نو په هغه باندے رپيندې راځی ، ګناه سره ورته هارټ اټيك کيږی - نو زمونږ او ستاسو روحانی شفاخانو ته ضرورت دے چه هغې سره زمونږ د روح شفا نصيب کيږی ، چه کله د انسان روحانيت مفلوج وی نو بيا ګناه کوی خو ده ته د هغې درد نه محسوس کيږی حالانکه زمونږ او ستاسو ګناهونه کول د روح دپاره ازغی وی ، لړمانان دی ، ماران دی د سکروټو سوځيدل دی ، ځکه قانون دا دے چه د جهنم سزاګانی انسان ځان له دنيا کښې مقرر کوی ، ددنيا ګناه کول ، د بعض ګناه نه لړمانان جوړ شی ، د بعض نه ماران جوړ شی ، د بعض نه اور جوړ شی ، د بعض نه سکروټی جوړی شی -
او دارنګه د جنت نعمتونه د دنيا په اعمالو انسان ځان له حاصلوی - د بعض نيکو نه باغونه جوړ شی ، د بعض نه منړی جوړی شی ، دبعض نه مالټې ، قسم قسم نعمتونه ، د جنت هغه د دنيا نيکو نه جوړيږی ،

خبره اصل کښې دا وه چه مونږ د روحانی بیماری اثرات نه محسوس کوو نو وجه د هغې دا ده چه کوم څیز سره زمونږ دننه روح بیدار کیږی او ژوندی کیږی هغه څیز مونږ دننه زړه ته نه دی اچولی د هغې مجالسو ته مونږ نه ځو ، هغه قرآن کریم دے ، د هغې مجالس د قرآن کریم درسګاهونه دی ،

## قول د چلاسی بابا

خدایاتن پرست امد شد اندر دیارما رخ مردم بفضلش سوی حابودے چه خوش بودے
کلاع عشق ... الخ

بابا وائی : اے الله زمونږ په وطنونو کښې خلق په بدن مئین دی د بدن د علاج دپاره هر هر ځاے ته ځی ، هر هسپتال ته ځی ، هر ډاکټر له ځی ، هر قسم دوایانی استعمالوی ، کله بدن ته یو شان لباس اچوی ، کله ورته بل شان لباس اچوی ، د دننه روح ئې بربنډ وی ، انسانیت ئې بربنډ وی ، د هغې د علاج او لباس سوچ نه کوی - الله وائی ،
{وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ} [الأعراف: 26]
د ظاهری بدن فکر کوی هغې له کور جوړوی ، د لباس فکر ئې کوی ، د بیمارئ نه د بچاؤ فکر ئې کوی د خوراك فکر ئې کوی ، د اوبو فکر ئې کوی ، وائی چه زما بدن ته راحت وی صرف د بدن غلامی کوی ، سحر کښې سوچ اوکه ، چه دنیا له او د بدن خدمت له څومره روان وی ؟ سکولونو ، بازارونو ، دفترونو ، بارګینونو ته څومره روان وی ؟ بازار کښې ټول خلق د بدن نوکری کوی ، دفتر کښې د بدن نوکری کوی ، تهانه کښې د بدن نوکری کوی ، تحصیل کښې د بدن نوکری کوی ، تحصیل کښې د بدن نوکوری کیږی - سیاست کښې د بدن نوکری کیږی ، چه ګوری یو څو لیونی به روان وی د روح نوکری به کوی ، د الله تعالی نوکری به کوی -
شعر :

ہر صبح گاہیں مردم بہ کاروبار میں روند عاشقان کوہ لیلی سو یہ یار میں روند

سحر هر سړی د کاروبار په تکل کښې روان وی خو د قرآن کریم او پیغمبر عاشقان د قرآن کریم مرکزونو ته روان وی۔

## قول مفتی مسلم صاحب حفظه الله

مفتی مسلم صاحب حفظه الله فرمائی : چه سحر څوك منډهی وهی نو اوګورئ ، د دوو کسانو نه به خالی نه وی ، یا به لیونی وی ، یا به د قرآن کریم طالب وی ، د مدرسی به پرې ناوخته شوې وی او منډهی به وهی ، ډیر خلق ګوره د بدن نوکری کوی ، مازیګر ګراونډ ته څومره خلق روان وی ، کلبونو ته څومره خلق روان وی ، چه ګوری یو څو طالبان به د روح خدمت کوی ، جومات ته به روان وی ، مدرسی ته به روان وی ، نن اوګوره ، د بدن شفاخانی هر چا ته نزدی دی ، هر څوك ورته ځی ، د روح شفاخانی زمونږ د مشرانو ، لیډرانو ، افسرانو ، بوډاګانو ، ځوانانو ، زنانو ټولو نه لری شوی دی ، وائی ، سکول دلته دے ، هسپتال دلته دے ، بازار دلته دے ، ګراونډ دلته دے ، چه تپوس اوکړی ، مدرسه نو وائی د هغه د کلی په بهر سر کښې ده ، نو د روح د شفاخانو سره زمونږ تعلق نه وی ، د بدن د شفاخانو سره زمونږ تعلق وی هر وخت ورته ځو راځو ، مونږ او تاسو له پکار دی ، چه د روح د شفاخانو سره تعلق اوساتو ، هغې ته ځو راځو چه زمونږ د روحونو شفا پرې کیږی ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

**يا أَيهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِى الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِيْنَ [يونس ٥٧]**

چه خلق پټی ژوندی کوی ، تازه کوی ئې نو اول ئې وتر کړی ، اَلْ دُوَلْ ئې واړوی ، کبل ، کاریزې ، سخا بوټی ، ازغی دار مرکونډئ ، ترخی هندوانی دا ټولی ترے راغونډې کړی ، غنم پرې اوکری ، نو څه وخت پس ټول پټی تک شین خکاری ، نو قرآن کریم زړه ته متوجه کړه ، د قرآن کریم وَتَرْ پرې اوکړه ، اَلْ دُوَلْ ئې واړوه ، هغې ته موعظه وائی ، کاریزې ، ډډمې ، سخابوټی یعنی ګناهونه ، د غیرالله مینه محبت ترے لرې کړه ، د لیډرانو ، فلمونو ، ډرامو مینه ترے لرې کړو۔

د قرآن په احکاماتو باندے ورله شفاء ورکړه۔

شعر

ہر تمنا دل سے رخصت ہو گئی　　　اب تو آجا اب تو آجا اب تو خلوت ہو گئی

زړه ته دی د الله تعالی د کتاب هدايات ، او رحمتونه متوجه کړه ، چه زړه دی ، منور شی ، او د روح شفاء د ايمان شفاء درته نصيب شی -

بسم الله الرحمن الرحيم

# د دين د خدمت دوه طريقې

# هجرت او نصرت:

## د دین د خدمت دوه طریقې: هجرت او نصرت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نبی بَعْدَہ

اَمَّا بَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**{وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا فِى سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ آوَوْا وَنَصَرُوْا أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ} [الأنفال: 74]**

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : مَنْ آوٰى مُحْدِثاً فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ -

د الله رب العزت مهربانی ده چه ددین اسلام په عظیم الشان خدمت کښې او د هغه خدمت په مرکز کښې الله رب العزت زمونږ او ستاسو ملاقات نصیب کړو - نبی علیه السلام فرمائی : الله رب العزت په زمکه کښې ټینکئ او خزانې پیدا کړی دی ، د بعض خزانو د خولو نه شرونه خوریږی او د بعض ټینکو او خزانو د خولو نه خیرونه خوریږی - نبی علیه السلام اوفرمایل :

طُوْبٰى لِمَنْ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحاً لِلْخَيْرِ وَمِغْلَاقاً لِلشَّرِّ -

څه خوش قسمته دے هغه بنده چه هغه الله د خیر کونجی کړی د هغه د وجی نه خیرونه خوریږی - د هغه د جومات ، مدرسی او دیرې او بیټك نه خیرونه خوریږی ، د هغه د وجی نه الله تعالی شرونه جرنده کړی وی ، د هغه خیر په خزانو کښې او د خیر په ټینکو کښې یو جوماتونه او مدرسی هم دی چې ددے نه خیرونه خوریږی ځکه په خیرونو کښې لوئې خیر دالله تعالی کتاب او د نبی علیه السلام سنت دے -

## کلام الله خیر محض دے

ځکه چه د الله کتاب خیر محض دے ، د نبی علیه السلام سنت خیر محض دے ، الله خیر محض دے ، د نبی علیه السلام د هغه خیر سره تعلق وو نو هغه هم خیر محض وو ځکه د نبی علیه السلام کردار خیر محض وو ، د نبی علیه السلام ګفتار خیر محض وو ، د نبی علیه السلام وئیل د

خير ، کيناستل د خير ، پاسيدل د خير ، خبرے کول ئې د خير ، د نبی علیه السلام اخلاق د خير ، سنت طريقې ، اعمال ئې د خير وو ، نو قرآن کريم خير دے نو ځکه قرآن کريم کښې الله تعالی فرمائی :

{وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا خَيْرًا } [النحل: 30]

کوم خلق د شرك او د کفر نه ځان ساتی چه کله هغوی ته اوئيلی شی ، چه الله تعالی څه رالیږلی دی ؟ نو دوی وائی قَالُوا خَيْرًايعنی اَنْزَلَ خَيْراً الله تعالی خير نازل کړے دے -

د قرآن کريم وئيل د خير ، د قرآن کريم اوريدل د خير ، د قرآن کريم قانون د خير ، د قرآن کريم عقائد دخير ، د قرآن کريم اعمال د خير ، د قرآن کريم اخلاق د خير ، د قرآن کريم معاشره د خير ، د قرآن کريم معاش د خير ، د قرآن کريم تعليم د خير ، د قرآن کريم صحت د خير ، د قرآن کريم عدالت د خير ، د قرآن کريم تهانه د خير ، د قرآن کريم تحصيل د خير ، د قرآن کريم سياست د خير ، د قرآن کريم پارليمنټ د خير ، د قرآن کريم سينټ د خير ، د قرآن کريم حج د خير ، د قرآن کريم زکوة دخير ، دقرآن کريم روژه د خير ، د قرآن کريم نظام د خير ، د قرآن کريم د عوت د خير ، د قرآن کريم قاتلو ، جهاد د خير ، چرته به هم د قرآن کريم په حکم کښې بے خيرې نه وی ، چرته به هم د نبی علیه السلام په گفتار ، کردار کښې بے خيری نه وی ځکه نبی علیه السلام باره کښې قرآن کريم وائی :

{وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ} [الأنبياء: 107]

نبی د ټول امت دپاره رحمت الله تعالی راليږلی دے ،

قرآن کريم اول نه تر آخره پورې خير دے ، ايمان خير دے ، اسلام خير دے ، ، عالم خير دے ، طالب خير دے ، جومات خير دے ، او مدرسی د خير ټينکئ دی ، ددے نه خيرونه خوريږی ، اوس به تاسو تحفی د مدارسو اوگورئ -

## د مدارسو تحفه

لګ وخت بعد به تاسو اوګورئ چه دا مدرسې مونږ او تاسو له کومې کومې تحفې راکوی - دی مدرسی به یو ډاکو نه وی تیار کړی ، یو غل به ئې نه وی تیار کړی -
داسې یو ډاکټر به ئې نه وی تیار کړی چه د خلقو په سرونو چاړه راکاږی او حلالوی ئې ، دغریب او مالدار فرق به په کښې نه وی چې د غریبانانو وینې څکلو ته تیار ناست وی -
یو پټواری به ئې نه وی تیار کړی چه په یو پیټه باندے د زرګونو روپۍ اخلی -
داسې یو افسر به ئې نه وی تیار کړې چه د خلقو د مالونو او عزتونو اوګی وی -
داسې یو وزیر به ئې نه وی تیار کړی چه خلق خپل غلامان کوی او خپل عابدین ئې جوړوی -
بلکه تاسو به اوګورئ چې تیار کړی وی نو د خیر مُعَلِّمْ به ئې تیار کړی وی ، حافظ قرآن ، عالم دین ، مفتی اعظم ، شیخ الحدیث ، روحانی ډاکټر ، روحانی افسر ، روحانی معالج به ئې تیار کړی وی چه د خلقو د روحونو علاج کوی -
داسې خلق به ئې تیار کړی وی چه د هغوی باره کښې نبی علیه السلام فرمایلی دی ،
وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ ، [سنن ابن ماجه **1/ 81**]
داسې خلق معاشری له ورکوی ، چه هغه ته په پروټوکول کښې فرښتې روانې وی ، فرښتې ډیر اوچت مخلوق دے چه دا ټول افسران ، وزیران ، د یوې فرښتې نه قربان شه - ډیر لوے حیثیت دے ، قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :
**{ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ مَقَامٌ مَعْلُوْمٌ ° وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّوْنَ ° وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ} [الصافات: 164 . 166]**
دا د فرښتو مقام قرآن مجید ذکر کړے دے - عالمان ذکر کوی چه کله فرښتې طالب جان اووینی ، فرښتې خپل وزرې بندی کړی د طالب العلم سره شی چه طالب العلم څه کار کوی نو دوی هم هغه کار کوی - که طالب العلم وظیفه غواړی نو دوی ورسره وی که طالب العلم سبق وائی ، نو دوی ورسره وی ، چه طالب العلم څه هم کوی ، نو دوی هغه کارونه ورسره کوی ، او ورسره وی ، دومره مینه کوی د طالب العلم سره ، نو مدارس مونږ او تاسو لره د قرآن کریم حافظان او ددین

خادمان راکوی نو په مونږ او تاسو هم ددین خدمت لازمی دے ځکه الله تعالی فرمائی :
{ كُوْنُوْا أَنْصَارَ اللهِ } [الصف: 14]
ددین امداد اوکړئ - د صحابو کرامو په زمانه کښې ددین خدمت په دوو طریقو سره شوې وو -

## د خدمت دین دوه طریقې

یوه طریقه د خدمت دین هغه هجرت وو ، دویمه طریقه نصرت وو ، صحابه کرامو خپل کورونه پریخودل ، مدینی منوری ته راغلل ، هلته ئې کورنه وو ، خپل خپلوان ئې نه وو ، صرف ددین په نسبت ئې هجرت اوکړو ، مدینی والا هغوی له ځای ورکړو ، قرآن کریم د انصارو صفت ذکر کوی ،
{يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِى صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ} [الحشر: 9]
(۱)د مهاجرین سره به ئې مینه هم کوله
(۲) زړه کښې ئې بالکل څه نه راتلل ، صفا زړه سره ئې خدمت کولو -
(۳) هغوی له به ئې په خپل ځان ترجیح ورکوله ، دا د مدینی والا انصارو صفات قرآن کریم ذکر کړل - نبی علیه السلام یواځی هیڅ هم نه شو کولی ، الله تعالی ورسره یو بهترین جماعت تیار کړی وو چه هغوی ددین دپاره سر او مال ورکولو ته تیار وو - دی وجی نه نبی علیه السلام ۲۳ سال کښې دومره خدمت اوکړو چه څوك تحریك والا اوګوری نو خپل مال ، جائیداد ، ټیکنالوجی ، فیس بك ، میډیا ، جهازونه هر څه استعمال کړی نو هم به د نبی علیه السلام په شان ددین خدمت اونکړی په لږ وخت کښې ځکه چه د نبی ۲۳ سال کښې سالم جزیرة العرب په اندر کښې راغے ، د مکی نه بهر عجمو ته مهم شروع شو ، جیش اسامه رضی الله عنه تیار شو ، دا ټول کارونه چه اوشو نو دا د مهاجرینو په هجرت او د انصارو په نصرت باندے نن ستاسو کلی کښې عثمان اُستاذجی خواله طلباء راځی هغوی هجرت کوی دا کلی والا د هغوی نصرت کوی ، خپل مال لګوی ، خپل ځایونه ورکوی ، د طلباء خدمت د ډوډئ کوی - نو یو طرف ته هجرت بل

طرف ته نصرت شو - په دې طريقه باندے ددين د خدمت بيړئ اوچتوی -

## حديث د نبی عليه السلام

(۱)إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى اخْتَارَنِي وَاخْتَارَ لِي أَصْحَابًا . [حلية الأولياء وطبقات الأصفياء 2/ 11]

(2) فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ [سنن الترمذی 6/ 179]

(3) اللّٰهَ اللّٰهَ فِی أَصْحَابِی ، [سنن الترمذی / 179]

چه د نبی عليه السلام سره هم مهاجرين او هم انصارو ددين خدمت کوو - نو نبی عليه السلام اوفرمايل : چه څوك زما د اصحابو سره مينه کوی نو هغه زما سره مينه کوی ځکه الله تعالی زه غوره کړی يم او زما ملګری هم غوره کړی دی - او زما د ملګرو په باره کښې د الله تعالی نه اويريږئ ، زما د مرك نه پس زما د ملګرو پسې څه مه وائی -

## حديث د نبی علیه السلام

إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ ، وَإِنَّهُمْ سَيأْتُونَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرْضِ يتَفَقَّهُونَ فى الدِّينِ ، فَإِذَا جَاءُوكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيرًا . [سنن ابن ماجه 1/ 91]

نبی علیه السلام اوفرمایل ، اے د مدینی خلقو دا مدینه د علم مرکز دے نو دی ته به خلق د لرې لرې نه راځی زه تاسو ته دوی باره کښې د خیر وصیت کوم چه دوی سره احسان او ښیګړه کوی-

## قول ابن مسعود رضی الله عنه

چه کله به ددے نه روستو ده مکی ده طرف نه طالبان راروان وو ، ابن مسعود رضی الله عنه به ورته کتل او هغوی ته به ئې وی ، مرحباً بوصیة رسول الله صلی الله علیه وسلم ، چه اے د نبی علیه السلام وصیته پخیر راغلی ، پخیر راغلی ، او کله به ابن مسعود رضی الله عنه داسې وئیل ، اخلاق الثیاب جُدد القلوب رَیحان کل قبیلة ، مرحبا بوصیة رسول الله صلی الله علیه وسلم ،
زړو جامو والا ، صفا زړونو والا ، وی دا مه وایه ، چه دا څوك راغے ، بلکه دا د خپلو قبیلو کشمالان دی ، الله تعالی تا ته کشمالان رالیږلی دی ، بیا به ئې وئیل ، چې د نبی علیه السلام وصیة پخیر راغلے ، اے د الله تعالی میلمنو پخیر راغلی ، نو طالبانو سره احسان کول ، پخیر راغلی وئیل دا د نبی علیه السلام وصیت دے ځکه چه دا د الله تعالی ملیمانه دی -

## قول د ویسه شیخ صاحب رحمه الله

اوائی اے د ویسه خلقو چرته می درنه یوه روپئ غوختلی ده ، نه نه نه مې ده غوختلی ، خو یوه چنده ستاسو نه ضرور کوم چې زما دې طالبانو ته د مینی په ډکو ډکو سترګو ګورئ ځکه زما د طالبانو سره احسان کول دا د نبی علیه السلام په وصیت باندے عمل کول دی -

## قول مولانا حسين احمد مدنی رحمه الله

د طالبانو د مقام کښې مولانا حسين احمد مدنی رحمه الله فرمائی :

ومداد ما تجری به اقلامهم

ازکی وافضل من دم الشهداء

د طالبانو قلم چه په کوم باندے قرآن کريم او حديث ليکی د هغې هغه سياهی د شهيد د وينی نه بهتر ده - نو د طالبانو سره احسان کوی دوی ته په سپك نظر مه ګورئ - دا د الله تعالی مليمانه دی ، د نبی عليه السلام وصيت دے ، نو د الله تعالی ميلمنو او د نبی عليه السلام وصيت ته سپك مه ګورئ -

## قول مفتی مسلم صاحب حفظه الله

ما کله مدرسه جواهر القرآن جوړه کړه نو زما خوا له مفتی مسلم صاحب حفظه الله راغے ، ما ته وصيت کوی چه مجتبی اداره دې جوړه کړه ، خو په ډيرو طالبانو راتلو به خفه کيږئ نه چه ډير شو ، ځکه چه د دوی بخت به په سليم خان کښې وتلې وی - او په لږو به انا اميده کيږی نه ځکه چه ددوی بخت به په سليم خان کښې نه وی وتلی ، طالبان خپل رزق ځان سره راوړی ، نو اے د عثمان مولوی صاحب کلی والو طالبانو سره احسان کوئ ، دوئ هجرت کړئ دے ، تاسو نصرت اوکړئ ، د نبی عليه السلام په وصيت باندے عمل اوکړئ ، د دوی سره د محبت اظهار اوکړئ ، په دې مه يريګی چه ډير شو ، زمونږ رزق به کم کړی ، نه نه ميلمه خپل قسمت خوری او چه د نبی عليه السلام حديث دے ،

مَنْ آوٰى مُحْدِثاً فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ ،

چا چه خپل کلی ، کور ، بيټك ، حجره ، جومات کښې بے دينه ته ځاے ورکړو ، نو په ده د الله لعنت دے ، دوی دې کلی ته لعنت راولی -

## قول د شاه پور شيخ عبدالرحيم حفظه الله

چه دی حديث نه معلومه شوه چه څوك دين دارو له ځاے ورکوی ، هغه ځان ته رحمتونه راولی او چه څوك بے دينه له ځاے ورکوی هغه ځان ته لعنتونه راولی ، انصارو مهاجرينو له ځاے ورکړونو ځان له ئې رحمتونه راوستل ، نبی عليه السلام هم مدينه ته راغے ، او نبی عليه السلام اوفرمايل ، چه خلق په کولاؤ لار روان وی او انصار په تنګه لار روان وی نو زه به د انصارو سره ځم - او نبی عليه السلام هم انصارو ته اوفرمايل : چه خلق خپلو کورنو ته مالونه راوړی ، ستاسو خوښه نه ده چه ځان سره مدينی ته نبی عليه السلام بوځئ ، انصارو د مهاجرينو مدد اوکړو خيال ئې اوساتلو ، الله ورله نبی عليه السلام حيّاً وميّتاً ورکړو ، دا د نصرت ثمرات وو ، الله تعالی دی آيت د قرآن کريم کښې فرمائی ،

{وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا فِی سَبِيْلِ اللهِ وَالَّذِيْنَ آوَوْا وَنَصَرُوْا أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا } [الأنفال: 74]

چه څوك دين دارو لره ځاے ورکړی دا په حقه مؤمنان دی ددوی دپاره بخنه او رزق دے ، دا د الله تعالی خوښ خلق دے -

نو اے د عثمان مولوی صاحب کلی والو : ددے طالبانو مهاجرينو سره احسان اوکړئ او دوی له ځاے ورکړئ ، د دوی د ډوډئ بندوبست کوئ چه الله تعالی درباندی رحمتونه نازل کړی - چرته هم ددے نعمت ناقدری اونکړئ ځکه چا چه د نعمت ناقدری کړې ده نو الله تعالی ترے نعمت اغستی دے نو ستاسو نه به رحمتونه واغستی شی - الله تعالی دی زمونږ او ستاسو په زړونو کښې د طالبانو سره مينه ، محبت پيدا کړی -

# اشخاص ، افراد

## اشخاص ، افراد

الحمد لحضرت الجلاله والصلوة على خاتم الرسالة

اما بعد: فاعوذ باالله من الشيطن الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم ،

**{ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ } [البقرة: 129]**

وقال النبى صلى الله عليه وسلم : اِنَّمَا اَنَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا . [سنن ابن ماجه 1/ 83]

الله تعالى زمونږ او ستاسو دپاره دين اسلام خوښ كړى دے ،

**{وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} [المائدة: 3]**

او ددى دين اسلام حفاظت ذمه دارى هم الله پاك اغستى ده ، او ددى دين اسلام ته الله د ټولو دينونو اصل وئيلى دى ، او دا د الله تعالى په نزد غوره دين دے ،

**{إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ} [آل عمران: 19]**

اوس ددى دين اسلام د حفاظت دپاره د الله تعالى دنيا كښ : (۱) د بعض خلقو (۲) د علاقو ، (۳) د بعضو ځايونو انتخاب كړى دے ، چې كوم خلق به ددى دين خيال ساتى ، او كوم ځايونو كښ به ددى حفاظت كيږى ،

## محافظین د دین اسلام

محافظین د دین اسلام : ددی دین اسلام د حفاظت دپاره الله تعالی دنیا ته حضرت انسان راولیږلو ، او هغه له الله تعالی ملګری صحابه کرام رضی الله عنهم ورکړل ، چی هغوی ددین اسلام په حفاظت ځان قربان کولو ته تیار وو ،

## صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین

جناب ابوبکر رضی الله عنه وائی : چی د نبی علیه السلام په دور کښ زکوة کښ د اوښ سره مهار ورکوو ، او ما له ئی نه راکوی ، نو زه به ورسره جهاد کوم ، زه په دین اسلام کښ کمی نه برداشت کوم ،

دارنګه ابوبکر رضی الله عنه وائی : چی جیس اسامه به ځی ، که امهات المؤمنین د مدینی په کوڅو کښ راخکلی کیږی ، او مسلمانانو ته تکالیف رسی ، خو جیش اسامه به ځی ، ځکه دا نبی علیه السلام په خپل ژوند لیږلو ، اوس نبی علیه السلام نشته ، دوی به ځی ، زه په دین کښ کمی نه برداشت کوم ،

جناب عمر رضی الله عنه فرمائی : که فرات په غاړه یو بیزه د تندی نه مری ، زما نه به الله تعالی تپوس کوی ، که د فرات د پل په سوری کښ د بیزی خپه لاړه شی ، نو الله تعالی به زما نه تپوس کوی ، چی عمره ! څنګه بادشاهی کوله ، تا ددی سوری غم نه شو کولی ،

دارنګه علی رضی الله عنه واقعات اوګوره ، د عثمان ابن عفان رضی الله عنه واقعات اوګوره ، د ابوعبیده ابن الجراح رضی الله عنه ، دسعد ابن ابی وقاص رضی الله عنه واقعات اوګوره ، د خالد بن ولید رضی الله عنه واقعات اوګوره ، د معاویه رضی الله عنه واقعات اګوره ، یو یو صحابی د اسلام د حفاظت ذمه واری ادا کړی ده ،

## تابعین رحمهم الله

د هغوی نه پس تابعین ، تبع تابعین ، امام ابوحنیفه رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ، امام مالك رحمه الله ، امام احمد رحمه الله ، امام ابویوسف ، امام محمد رحمهم الله پشان شخصیات اوګوره ،

د هغوی نه روستو د شیخ الاسلام ابن تیمیه ، د شیخ الاسلام ابن قیم ، د شاه ولی الله رحمهم الله غوندی شخصیات اوګوره ،

## علماء دیوبند رحمهم الله

دارنګه علماء دیوبند بانی مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله ، مفتی رشید احمد ګنګوهی رحمه الله ، شیخ الهند محمود الحسن دیوبندی رحمه الله ، یعقوب نانوتوی رحمه الله ، مولانا شیخ حسین احمد مدنی رحمه الله ، د هغوی نه روستو ددی زماني او ددی دور شیوخ اوګوره ، مفتی محمد شفیع رحمه الله ، مفتی رفیع رحمه الله ، مفتی تقی عثمانی حفظه الله

شیخ المشائخ مولانا محمد طاهر رحمه الله ، شیخ المشائخ مولانا غلام الله خان رحمه الله ، ددی هستیانو په شان خلق الله تعالی پیدا کړی دی ، او دی دور کښې مختلف علماء کرام ددین خدمت او حفاظت په ډیوټۍ الله تعالی لګولی دی ، او دغه ذمه داری ئی اغستی ده ، او مصروف دی ، ددین اسلام د حفاظت او نورو خلقو د رسولو ذمه داری ادا کولو باندې ،

## ملکونه

(۲) خبره : چې په دنیا کښې په کومو ملکونو کښې ددین د حفاظت خدمت ډیر شوی دے ، د ټولو نه اول الله تعالی ددین اسلام د حفاظت ځائے عرب ممالك ، خصوصاً ، مکه مکرمه ، مدینه منوره ګرځولی وه ، د هغی نه پس چې د عربو خلقو ددین سره مینه محبت کم شو ، نو الله تعالی ترې دین اسلام اوچت کړو ، او سمرقند ، بخارا ته ترې ویوړو ، چې هغه ځائے کښې ددین اسلام ، دوه اهمې کړۍ ، قرآن او سنت ، د هغی مختلف دروس به کیدل ، په لکونو خلق به د احادیث په دروس کښې حاضریدل ، چې کله هغوی ددین اسلام سره بے قدری شروع کړه ، اهمیت ئی ورنکړو ، نو الله تعالی دغه خدمت د هغوی نه واغست ، او د برصغیر کښې د هندوستان په علاقه ئی دا خدمت شروع کړو ، چې دهغی اولنے مقام دیوبند وو ،

چی کله په هندوستان کښې د اسلامی نظریاتو خلاف ده ، انګریز سازشونه سیوا شو ، او دخلافت اسلامی سقوط هم اوشو ، نو الله تعالی ددین اسلام د حفاظت علاقه پاکستان اوګرځوله ، نن دور کښې پاکستان په پوره ایشیاء او پوره دنیا کښې د دین اسلام د محافظین نه اوچت سطح کښې روان دے ، الله تعالی دی همیش ددی نه دا خدمت قبول کړی ، او ترقیامة دی دا خدمت الله تعالی ددی نه اخلی ، چی په مختلف شعبو ددین اسلام کښې اهل پاکستان مصروف دی ، او خپله ذمه داری ددین اسلام د حفاظت سر ته رسوی ، که هغه د جهاد میدان کښې وی که هغه د علم میدان کښې وی که هغه د تبلیغ میدان وی .

## مقامات

(۳) خصوصاً هغه مقامات چی هغی کښې ددین اسلام د حفاظت او د یوی پیړۍ نه بلې پیړۍ ته ددین اسلام انتقال کونکی ، هغه مدارس دی ، زمونږ زیر بحث موضوع مدرسه ده ،

## د نبی علیه السلام د تبلیغ څلورشاخونه

دی آیت کریمه کښې الله تعالی د نبی علیه السلام د تبلیغ څلور شاخونه ذکر کوی ، چی نبی علیه السلام اولنے ذمه واریانی څه څه دی ؟

چې په نبي علیه السلام باندې ئې د خلقو تیارولو او دین اسلام خدمت کولو دپاره مقرر کړی وی :

(۱)**یَتْلُو عَلَیْهِمْ آیَاتِكَ**: تلاوت کول ، قرآن کریم لوستل خپله باندې ،

(۲)**وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتَابَ** :خلقو ته قرآن کریم ښودل ،

(۳) **وَالْحِکْمَةَ** : خلقو ته احادیث ښودل ،

(٤) **وَالْحِکْمَةَ** :خلقو ته اخلاق ښودل ،

ددی کارونو سره څه څیزونه لازم دی :

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱)معلم | (۲) متعلم | (۳) کتاب | (٤) ځاے ، |
| نبي علیه السلام | صحابه کرام | قرآن کریم | مدرسه ، |

مدرسه د عمارت نوم نه دے ، مدرسه د سهولیاتو نوم نه دے ، مدرسه د ریا ، ناموس نوم نه دے ، بلکه مدرسه د قرآن کریم او حدیث د زده کړی ځاے ته وائی ، او چې ددین اسلام حفاظت په کښې کیږی ،

## بنیاد د مدارسو

مدرسه په دې وخت کښ نه بلکه ددی مدارسو بیناد جناب نبی علیه السلام ایخودی دے ، چی کله نبی علیه السلام د ایمان او اسلام دعوت شروع کړو ، او قرآن کریم نزول شروع وو ، نو نبی علیه السلام افراد سازی شروع کړه ، او د هغه افرادو دپاره نبی علیه السلام یو تربیت ګاه ، یو درس ګاه مدرسه ، دار ارقم مقرر کړه ، چی هغه کښ به نبی علیه السلام صحابو کرامو ته تعلیم ورکولو ، او هغوی سره به ئې ددین اسلام له تبیلغ مشوری کولی ، چی دا د قرآن کریم نظام به څنګه عام شی ، یو څو طالبان وو ، د ګرمئ نه د بچاؤ پروګرام نه وو ، د یخنئ نه د بچاؤ سهولت نه وو ، د طعام انتظام نه وو ، خو هغوی د قرآن کریم تعلیم حاصلولو ، د هغوی طالبان جناب ابوبکر رضی الله عنه ، جناب علی رضی الله عنه وو ، جناب عمر رضی الله عنه ، جناب عثمان رضی الله عنه ، دارنګه بلال د حبشو نه راغے ، صهیب د روم نه راغے ، سلمان د فارس نه راغے ، ابوذر د غفار نه راغے ، رضی الله عنهم او د قرآن کریم علم حاصلول ئې شروع کړل ، دا اولنے مدرسه وه ،

## د مدرسی شاخونه

په دنیا کښ بیا دهغی نه روستو د هغی شاخونه اوګوره ، مدینه منوره کښ مسجد نبوی د هغی شاخ وو ، او جامعه وه ،

دارنګه شام کښې د ابودراء رضی الله عنه جامعه اوګوره ، په دمشق کښې د ابوموسی اشعری رضی الله عنه جامعه اوګوره ، چې هغې کښې ٤٠٠ مفسرین ، محدثین پاتې کیدل ، په فارس کښې د ابن مسعود رضی الله عنه جامعه اوګوره ، دارنګه په فارس کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله جامعه اوګوره ، دارنګه په مصر کښې د عمرو بن العاص رضی الله عنه جامعه اوګوره ، په برصغیر کښې د افغانستان په زمکه د محمود غزنوی رحمه الله جامعه اوګوره ، په هندوستان کښې د سلطان حلبی رحمه الله جامعه اوګوره ، او په هندوستان کښې د دیوبند په علاقه د مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله جامعه اوګوره ، په پاکستان کښې د مفتی محمد شفیع رحمه الله جامعه دارالعلوم اوګوره ، دارنګه د اکوړی په علاقه د شیخ سمیع الحق رحمه الله او شیخ عبدالحق رحمه الله دا جامعه اوګوره ، دارنګه د صوابی د پنج پیر په علاقه د شیخ محمد طاهر رحمه الله جامعه اوګوره ، دارنګه د پنډئ په علاقه د شیخ غلام الله خان رحمه الله جامعه اوګوره ،

دا هغه جامعات دی ، چې په دی کښې ددین اسلام د حفاظت خدمت کیږی ، داسی ډیرې مدرسی ، جامعات ، په لکهونو ، زرګونو دی ، خاص کر په پاکستان کښې چې څومره مدراس د قرآن کریم او سنت خدمت کوی ، په پوره دنیا کښې دومره د مدارسو تعداد نشته ، الحمد لله

## اهمیت د مدارسو

دی دور کښې مدرسې ولې اهمې دی ؟ څه ضرورت دے مدرسو ته ؟

علماء کرام ذکر کوی : چې اوسنې د الحاد دور کښې ، ملحدین حضرات دا اعتراض کوی ، چې ستا مدرسې څه اوکړل ، ستا د مدرسې اهمیت څه دے په معاشره کښې ، ستا د مدارسو نه دهشت ګردی خوریږی ، په مدارسو کښې دهشت ګرد پیدا کیږی ، ستا په مدارسو کښې تیار خواره ناست وی ، ځان ئې دضروریاتو د دنیا نه فناء کړی وی ، او پردو ډوډو ته ناست وی ، او وخت تیروی ، څه سوچ فکر نه لری ، څه د ترقی نظریه نه لری ، جامد ذهن والا وی ، معاشره کښې نه وی پاتې شوی ، نو معاشرې سره نه چلیږی ، ددنیا په تقاضا او د وخت په تقاضه نه پوهیږی ، د مستقبل څه سوچ ئې نه وی ، د بدنی ضروریاتو نه نه وی خبر ، د معاشرتی او معاشی ضروریات نه نه وی خبر ، د ځان نه ئې د مدرسې او د جومات چیندخ جوړ کړی وی ، بهر نه اوځی ، دنیا سره نه چلیږی ؟ دا مختلف قسم اعتراضات زما او ستا په مدرسه باندې دا اوسنی ملحدین کوی ،

## جواب

جواب : نو زه دی ملحدین ته دا جواب ورکوم ، چې دی اوسنی الحادی او مادی دور کښې د مدرسو دومره ضرورت دے چې که په کوڅه کوڅه کښې مدرسه شی نو بیا هم

کمه ده ، ددی دپاره چی هغه غرځیدلی امت د مدرسو په وجه بیا اوچت شی ، هغه هیر شوی ، سبق رایاد شی ، زما مدرسی هغه اداری دی ، چی په هغی کښ د اسلام اصل حلیه محفوظ ده ،

☆ که چرته مدارس نه وی ، نو ده اسلام صحیح شکل او صحیح حلیه به ورانه شوی وه ، که مدارس نه وی ، نو د دین بنیاد به ختم شوی وی ،

☆ که چرته مدارس نه دے نو زمکه به د وینو تویونکو نه ډکه شوی وی ،

☆ که مدارس نه وی نو د اسلام یو حکم به هم چا نه وو پیژندلی ،

☆ که مدارس نه وی ، نو د اسلام یو حکم به هم نه وی نافذ شوې ،

☆ که مدارس نه وی نو په جوماتونه د مونځونو کونکو نه خالی وی ،

☆ که مدارس نه وی نو نن به ده مبلغینو مراکز نه وی ،

☆ که مدارس نه وی ، نن به په زمکه باندې د مجاهدین نوم هم نه وی ،

☆ که مدارس نه وی ، نو نن به د مجاهدینو معسکرات نه وے ،

☆ که مدارس نه وی ، نو د کفارو په زړونو کښ به د مسلمان رعب نه وې ،

☆ که مدارس نه وی ، نن به علماء نه وې موجود ، نن به طلباء نه وې موجود ، نن به د قرآن مفسرین نه وې ،

☆ که مدارس نه وی ، نن به محدثین نه وی ،

☆ که مدارس نه وی و نو نن به فقهاء کرام رحمهم الله ، آئمه مجتهدین نه وی ،

☆ که مدارس نه وی ، نن به د رورلئ او خورولئ نه وه باقی ،

☆ که مدارس نه وی ، نو نن به د نبی علیه السلام سنت نه وی ژوندی ،

☆ که مدارس نه وی ، نو نن به سیرت د نبی علیه السلام چا نه پیژندلو ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ابوبکر رضی الله عنه به څنګه د عدالت حکومت کوو ، عمر رضی الله عنه به څنګه د عدالت حکومت کوو ، علی رضی الله عنه ، عثمان رضی الله عنه ، معاویه رضی الله عنه ، بنوامیه ، بنوعباس به څنګه د عدالت حکومت کوو ،

☆ که مدارس نه وې ، نو نن به جهاد نه وو ، مونځ به نه وو ، روژه به نه وه ، زکوة به نه وو ، عُشر به نه وو ، حج به نه وو ،

☆ که مدارس نه وی ، نو د مشر او کشر آدب به نه وو ،

☆ که مدارس نه وی ، په کشر شفقت او رحم به نه وو ،

☆ که مدارس نه وی ، نو نن به دی زمکه به زما د ګل پشان شیوخ نه وی موجود،

☆ که مدارس نه وی ، نو نن به په ددنیا په ګوټ ګوټ کښې د قرآن د درسونو او آوازونه نه وو ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ما ته به صحیح اسلام چا پیش کولو ،

☆ که مدارس نه وی ، ما ته به ایمان چا ښودلو ، زه به په تفصیل د ایمان چا پوهه کولم ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ما ته به صحیح معاشره ، صحیح معاش ، صحیح صحت ، صحیح عدالت ، صحیح تعلیم ، قضاؤت ، او صحیح سیاست د کوم ځائے نه حاصلیدی ،

☆ که مدارس نه وې نن نه به په زړنو کښې لِلّٰهیت ، اخلاص ، تقویٰ ، خشیت ، اُنس ، محبت نه وی ،

☆ که مدارس نه وې ، ددی دور د فتنو نه به امت محمدیه څنګه بچ کیدلو ، که هغه فتنه د ارتداد ، که فتنه د الحاد ، که فتنه د دجال ، که فتنه د وحدة الادیان ، که فتنه د جمهوریت او ډیموکراسی ده ، که فتنه د فکری ارتداد ده ،

☆ که مدارس نه وی ، د خلافت اسلامی محافظین د کوم ځاے نه پیدا کیدل ،

☆ که مدارس نه وی ، نو په منهج نبوی باندې ، دعوت کونکی داعیان به مونږ ته د کوم ځاے نه ټرانفسر کیدلی ، که مدارس نه وی ، نو ما به د الف او ب او د ماشومانو آوازونه د کوم ځاے نه اوریدلے ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ما به قال الله او قال الرسول آوازونه د کوم ځاے نه اوریدلے ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ما به د قرآن کریم د درسونو او خوږو شیوخو ملفوظات د کوم ځاے نه اوریدلی ،

☆ که مدارس نه وی ، نو ما ته به د ابوبکر رضی الله عنه پشان صدیق د کوم ځاے نه راتلو ،

☆ د عمر رضی الله عنه پشان به فاروق او شجاع او بهادر لیډر د کوم ځائے نه راتلو ،

☆ د عثمان رضی الله عنه پشان غنی به د کوم ځائے نه پیدا کیدلو ،

☆ نن به تاسو معاویه رضی الله عنه ، سعد رضی الله عنه ، طلحه رضی الله عنه ، خالد بن ولید رضی الله عنه ، بلال حبشی رضی الله عنه ، صهیب رومی رضی الله عنه ، سلمان فارسی رضی الله عنه ، ابوذر غفاری رضی الله عنه ، ابوهریره رضی الله عنه ، ابن عباس رضی الله عنه ، ابن مسعود رضی الله عنه د کوم ځائے نه پیدا کول ،

غـــــرض ، غـــــرض ، غـــــرض .............

که مدارس نه وی نو نن به ما او تا ته کلمه د لا اله الا الله نه وه وئیلی شوی ،

ځکه چی دا کلمه ما او تاته د هغه خلقو په محنت مشقت رارسیدلی ده ، چی هغوی د نبی علیه السلام په مدرسه اصحاب صفه ، دار ارقم کښ د نبی علیه السلام نه سبق او تربیت حاصل کړی وو ،

## کردار د مدارسو

کردار د مدارسو : که چرته څوك اعتراض کوی ، چی ستا مدرسی څه کړی دی ، ستا د مدرسو کردار څه دے ؟ او څه ئ اوکړل ؟

## جواب

**جواب** : نو مونږ په توفیق د الله تعالی د خپلو مدارسو کردار وړاندی کوو ، ان شاء الله الرحمن

## فی الاعتقادیات

(۱)فی الاعتقادیات :

☆ زما مددسی ماته الله اوښودلو ،

☆ زما مدرسی ما ته پیغمبر اوښودلو ،

☆ زما مدرسی ما ته صفات د الله تعالی اوښودلو ،

☆ زما مدرسی ماته سنت د نبی اوښودلو ،

☆ زما مدرسی ماته فرشتی اوښودلی ،

☆ زما مدرسی ما ته ئ‌ د فرشتو حقیقت اوښودلو ،

☆ زما مدرسې ما ته پیمغبران ، نبیان ، رسولا ن اوښودل ،

☆ زما مدرسی ما ته آسمانی کتابونه اوښودل ،

☆ زما مدرسی ماته د تورات تعلیم راکړو ، د زبور او انجیل تعلیم ېی راکړو ، خصوصاً د قرآن کریم تعلیم راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د تقدیر تفصیل اوکړو ، زه د تقدیر په مسئله ېی پوهیږم ،

☆ زما مدرسی ما ته د دقیامت احوال راوښودل ، د قبر د عذاب تعلیم ئ‌ راکړو ، د قیامت ، د جنت ، د دوزخ عقیده ئ‌ راته اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د حشر ، د حساب کتاب ، د میزان عقیده ئ‌ راته راوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د پل صراط تذکره اوکړه ،

☆ زما مدرسی ما ته د جنت د نعمتونو تفصیل اوکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د دوزخ دعذابونو تفصیل راوښودلو ،

غـــــرض ، غـــــرض ، غـــــرض ..........

چې څومره اعتقادیات ټول ما ته زما مدرسی ما ته راوښودل ،

## العبادات

(۲) العبادات

☆ زما مدرسی ما ته مونځ راوښودلو ، او د مونځ په طریقه ئ پوهه کړم ، د سجدی او د رکوع ، قیام ، او جلسی تعلیم ئ راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته روژی- طریقه بیان کړه ،

☆ زما مدرسی ما ته د حج تعلیم راکړو ، او طریقه د حج ئ اوښودله ، بیان د طواف ، منی ، مزدلفه ، عرفات ئ راته په تفصیل سره اوکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د زکوة بیان اوکړو ، د عشر او خِراج په حقیقت ئ پوهه کړم،

☆ زما مدرسی ما ته د جهاد تعلیم راکړو ، او طریقه د جهاد ئ راته رااوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د ذکر تعلیم او طریقه ئ اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د تلاوت تعلیم او طریقه ئ اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د جنازی طریقه اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د مړی د غسل طریقه اوښودله ، د مړی د کفن طریقه ، د مړی د دفن طریقه ئی اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته د نکاح طریقه او تعلیم ئی راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د نکاح فوائد بیان کړل ،

☆ زما مدرسی ما ته د سنت طریقی اوښودل ،

☆ زما مدرسی ما ته د فرائضو او واجباتو طریقه اوښودله ،

☆ زما مدرسی زه په حقیقت د کلمی پوهه کړم ،

☆ زما مدرسی زه په تقاضاتو او تفصیل د کلمی پوهه کړم ،

☆ زما مدرسی ما ته د علم ترغیب راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د عمل فضائل راوښودل ،

غـــرض ، غـــرض ، غـــرض ......

چی څومره عباداتو متعلقات دی ، هغی باندې ئی پوهه کړم ، د هغی تعلیم ئی راکړو ،

## فى الاخلاق

(۳) فى الاخلاق :

زما محترمه ! زما مدرسى ما ته د اخلاقو تعليم راکړو ، اخلاق ئى راته اوښودل ،

☆ زما مدرسى ما ته حياء او پاکدامنى راوښودله ،

☆ زما مدرسى ما ته د کور ژوند ، او معاشرى ژوند راوښودلو ،

☆ زما مدرسى ما ته د مور ، پلار ، او رونړو ، خويندو سره ژوند او د هغى متعلقات ئى راوښودل ،

☆ زما مدرسى ما ته دپردى زنانه حق او د هغى نه پرده ، او هغى ته نه کتل ئى اوښودل ،

☆ زما مدرسى ما ته سورة النور او سورة النساء ، سورة الاحزاب ، د اخلاقو باره کښې راوښودل ، دى کښې ټول د اخلاقو باره کښې ترغيب دے ،

☆ زما مدرسى ما ته د نرمئ ترغيب راکړو ، د خو الفاظو او نرمې لهجى ترغيب ئى راکړو ،

☆ زما مدرسى ما ته اخلاق باطن اوښودل ،

☆ زما مدرسی ما ته د تکبر ، بغض ، حسد ، کینه ، ددی نه د بچاؤ ترغیب ئی راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د خشوع ، خضوع ، د عاجزئ د مینی ، د محبت ، د خشیت ، د اخلاص نیت ، د لِلّٰهیت دعوت ئی راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د عالم قدر اوښودلو ،

☆ زما مدرسی ما ته ئی د مشر سره ملاقات طریقه اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته ئی د کشر سره ملاقات طریقه اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته ئی د مور پلار سره ، د رونړو سره ، دعام معاشری د خلقو سره د ملاقات طریقه اوښودله ،

غــــرض ، غــــرض ، غــــرض ........

چی څومره متعلقات د اخلاق دی هغه ئی ما ته راوښودل ، دا زما د مدرسی کردار دے ،

## فی المعاملامات

(٤) فی المعاملات

زما محترمه لږ زما سره مخکښې لا ړ شه ، چې زه تا ته د مدرسی کردار بیان کړم ،

☆ چې زما مدرسی معاشری ته د معاملات بیان په کومه طریقه اوکړو ،

☆ زما مدرسی په کوم انداز سره ئې خلق په معاملات صحیحه او باطله باندې پوهه کړل ،

☆ زما مدرسی ما ته د جمیع بیوعاتو طریقه او تعلیم راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د مضاربت ، د زراعت طریقه اوښودله ،

☆ زما مدرسی ما ته ئې د تجارت متعلق معاملات ،

☆ زما مدرسی ما ته د زمینداریځ متعلق معاملات ،

☆ زما مدرسی ما ته دقرض متعلق معاملات ،

☆ زما مدرسی ما ته د کرنسی متعلق معاملات ،

☆ زما مدرسی ما ته د ګټې او تاوان متعلق معاملات ،

☆ زما مدرسی ما ته د سود متعلق معاملات ،

چی څومره په معاملاتو کښې شکوك شبهات د سود دی ، هغه ئی راته اوښودل ،

☆ زما مدرسی ما ته د سودی او باطل معاملاتو نه د بچاؤ ترغیب ئی راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د سنتو مطابق د معامله طریقه ئی راوښودله ، که هغه دبارګنګ متعلق معاملات دی ، که دپراپرټۍ متعلق معاملات ،

غـــــرض ، غـــــرض ، غـــــرض ......

چی څومره د متعلقات د معاملاتو نه دی ، نو د هغی تعلیم ئی په خائسته انداز سره راکړو ،

## نظام معاشرت

(٥) فی المعاشرة (٦) فی المعاش (٧) فی التعلیم (٨) فی الصحت (٩) فی القضاء (١٠) فی السیاسة (١١) فی الاشخاص ،

☆ زما مدرسی ما ته د معاشری د ژوند طریقه اوښودله ، معاشره کښې کلے وی ، کور وی ، ګاؤنډ وی ، مشران وی ، کشران وی ،کورنۍ زندګۍ وی ، ازدواجی زندګی

وی ، اُخَوّتِیْ کښې زندګی وی ، د ګاونډیتوب زندګی وی ، ددی ټولو بیان او تعلیم ئی
راکړو ،

## نظام معیشت

☆ زما مدرسی ما ته د صحیح کار کسب طریقه اوښودله ، د اندرونی تجارت ، بیرونی تجارت طریقه ئی اوښودله ، دسودی او فاسد ، بیوعات نه د بچاؤ تعلیم ئی راکړو ،

## نظام تعلیم

☆ ما ته زما مدرسی د تعلیم د حصول طریقه او فوائد اوښودل ، د قرآنی تعلیم درجه او عصری تعلیم درجه ، او تقابل ئی راوښودل ، فوائد د قرآنی اسلامی ، تعلیم ئی راوښودل ، او دا تعلیم ئی راکړو ، چی کوم تعلیم کوی ، خو چی په رنړا د قرآن او سنت کښې وی ،

## نظام صحت

☆ زما مدرسی ما ته د صحت د بچاؤ اسباب ، او د صحت د خرابیدو طریقه او اسباب اوښودل ،

☆ زما مدرسی ما ته د طب او حکمت تعلیم راکړو ،

☆ زما مدرسی ما ته د مرض روحانی او بدنی تعلیم راکړو ، او د روحانی علاج او بدنی علاج تعلیم ئی راکړو ،

## نظام قضاء

☆ زما مدرسی ما ته اسلامی قضاء اوښودله ، ده اسلامی قضاء اصول ، شرائط ئی اوښودل ، چی د اسلام په طریقه قضاؤت اوکړه ، او دغیر او انګریزی تعلیم لاندی قضاؤت او طرف داری د یو جانب مه کوه ،

☆ زما مدرسی ما ته د قاضی شرائط چی قاضی به څوك وی ، او د هغه صفات ئی راوښودل ، او دهغه کارونه ئی راوښودل ،

## نظام سیاست

☆ زما مدرسی ما ته اسلامی سیاست او غیر اسلامی سیاست اوښودل ، د اسلامی سیاست اصول ، چی ملك کښې به په کومو اصولو سیاست کوی ، او په کومه طریقه باندی به ملك برابروی ،

☆ معاشری متعلق سیاست ، د انسانانو متعلق سیاست راوښودل ،

## تعريف السياسة

ځکه سیاست وائی : اصلاح المخلوق بدین الخالق ، د خلقو اصلاح به په کومه طریقه کوی ، موجوده جمهوری سیاست نه د بچاؤ ، نقصانات ئی راوښودل ، او دا ئی تعلیم راکړو ، چی په موجوده جمهوری سیاست باندی اسلام نه راځی ، او اسلام چی راځی ، نو اسلامی سیاست اصول ئی راوښودل ، او اسلام به نافذ شی ،

ته ما ته وائی : چی ستا مدرسی څوك پیدا کړل ، کوم شخصیات دی چی ته هغه پیش کړی ، او زه ېی اومنم ، چی دا د مدارسو کردار دے ، داسی شخصیات زما مدرسی پیدا کړل ، د ټولو نه اول زه تاته ښایم :

چی زما مدرسی کوم سیاست دانان او حاکمان او وزیر اعظمان ، او کوم شخصیات معاشری له ورکړل ، د ابوبکر رضی الله عنه پشان ، او د عمر رضی الله عنه پشان ، او د عثمان رضی الله عنه او د علی رضی الله عنه پشان عادلان سیاست دانان زما مدرسی جوړ کړی دی ،

چی نن ستا انګریزان او یورپ د هغوی ده سیاست نه متأثره دی ، او په خپلو ملکونو ددی سیاست دانانو په طریقه سیاست نافذ کوی ، چی دی خلقو کوم سیاست کوم طریقه دخلافت له ، چی د هغوی حکومت یواځی په انسانانو نه مګر په حیواناتو باندې هم وو ،

د عمر رضی اللہ عنه واقعات مشهور دی ، چی د هغه ده بادشاهئ ډیر واقعات دی ، چه کوم طریقه باندې عمر رضی اللہ عنه عدالت کړی وو په زرګونو واقعات دی د عمر رضی اللہ عنه د عدالت ، د هغوی نه روستو اسلامی خلفاء اوګوره ، چی په کومه طریقه ئی خلافت کړی دے ، دا مختصر شان تاریخ وو ، زما د مدارسو اللہ تعالی دی ددینی مدارسو محافظ او ناصر شی ،

وآخر دعوانا ان الحمد للہ رب العلمین

# فكر ددين

## فکر ددین

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

اما بعد : فاعوذ باالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحیم

**{فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ} [التوبة: 122]**

وقال النبی صلی الله علیه وسلم : العلماء ورثة الانبیاء ،

الله تعالی په مونږ او تاسو بے شماره نعمتونه دی ، پس د ایمان نه الله تعالی مونږ او تاسو د علم په نعمت کښ مشغول کړی یو ، دا علم د الله تعالی د غټو نعمتونو نه یو نعمت دے ، او علم د انبیاء وراثت دے ، علم صفت د الله تعالی دے ، چې کله بنده له الله تعالی صفت د علم ورکړے نو دې متصف په صفت د الله تعالی شو ، او وارث د انبیاء شو ، نو چې کله بنده له الله تعالی علم ورکړی ، نو ده له بیا د انبیاء وراثت سنهبالول پکار دی ، د انبیاء په وراثت کښ یو اهم کار فکر ددین وو ،

## دعلماء قول

علماء کرام ذکر کوی :

فکرة ساعة خیر من عبادة سنة ،

ددين او انسانيت فکر لړ ساعت کول ، دا د زرو کالو د عبادت نه غوره دی ، ددين فکر راتلل دا بعينه د انسانيت فکر دے ، ځکه انسانيت بغير ددين نه نه راځی ،

## د عالم اولنی ذمه واری

علماء کرام ذکر کوی : چی د کوم عالم سره ددين فکر نه وی نو دی به ډاکټر وی ، پروفيسر به وی ، خو ده ته عالم نه وئيلی کيږی ، ځکه د عالم اولنے ذمه داری ددين فکر دے ، چی کوم آياتونه او حديثونه د عالم په فضليت کښ راغلی دی ، هغه د هغه عالم باره کښ دی ، چی کوم عالم سره فکر ددين وی ، دا فکر ددين او انسانيت دا د نبی عليه السلام فکر وو ، د ټولو انبياء فکر وو ، ځکه نبی عليه السلام ته الله فرمائی : قرآن کريم کښ :

{قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي } [يوسف: 108]

دا فکر ددين او انسانيت زما لار ده او د هغه چا چی څوك زما تابعداری کوی ،

## نبوت نه مخکښ د نبی عليه السلام دين او عبادت

علماء کرام ذکر کوی : چی نبی عليه السلام د نبوت نه مخکښ په کوم دين باندې وو ، او د نبی عليه السلام عبادت په غار حراء کښ څه وو ،

## مولانا شبلی رحمه الله

مولانا شبلی په عمدة القاری شرح بخاری کښې ذکر کوی :

عبادة التفکر ، د نبی علیه السلام عبادت په غار حراء کښې د نبوت نه مخکښې ددین او امت فکر وو ، او د انسانیت فکر وو ، دا فکر کول ، عین عبادت دے ، دا ددین او انسانیت فکر د ټولو انبیاء وو ،

## انبیاء سره ددین فکر وی

(۱)جناب موسی علیه السلام فرمائی :

**{فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا} [طه: 86]**

غم او فکر وو د موسی علیه السلام سره د قوم د اصلاح ،

(۲) جناب ابراهیم علیه السلام ته چې کله قوم وائی : زمونږ سره میلې ته لاړ شه ، هغه وائی :

**{إِنِّي سَقِيمٌ} [الصافات: 89]**

زه بیمار یم ، مطلب چې زما زړه کښې فکر دے ددې خبرې چې تاسو به څنګه د بتانو عبادت نه د الله تعالی عبادت ته راځی ،

(۳) جناب یونس علیه السلام وائی :

{وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ} [الأنبياء: 87]

یونس علیه السلام هم په قوم فکر مند دے ، چی ولی ددی خبره نه منی ، او لاړو تری ، په دغه سوچ فکر کښې کشتئ کښې روان دے ، بیا د مهی خیټې ته لاړلو ،

(٤) جناب عیسی علیه السلام فرمائی :

{إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ} [المائدة: 118]

جناب عیسی علیه السلام سره ددی نه چی قوم ئې مسئله نه منی ، بیا هم الله تعالی ته وائی ، که ته ورته بخنه کوی ، نو ته بخونکی ئې ، صرف او صرف د قوم ددین فکر دے ورسره ،

(٥) جناب نوح علیه السلام فرمائی :

{ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا} [نوح: 5]

شپه او ورځ می ورله دعوت ورکولو ، شپه او ورځ ورسره د قوم د اصلاح فکر دے ،

(٦) جناب هود علیه السلام خپل قوم ته وائی :

{إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ} [الأحقاف: 21]

د قوم د اصلاح او اسلام فکر دے ، ورسره چی ایمان راوړی کنه عذاب به درباندی راشی ،

(۷) جناب صالح علیه السلام فرمائی قوم ته :

{إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ} [الشعراء: 143]

وی زه الله تعالی تاسو ته رالیږلی یم ، پیغمبر یم ، او امانت دار یم ، د قوم فکر کوی ،

(8) جناب لوط علیه السلام قوم ته فرمائی :

{ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ} [الشعراء: 163]

د الله تعالی نه اویریږی ، زما تابعداری اوکړئی ، د هغه سره د قوم اصلاح فکر دے ، وی داسی نه چی په دوی باندې عذاب راشی ،

(۹) خطیب الانبیاء جناب شعیب علیه السلام د قوم فکر کوی ، هغوی ته فرمائی :

{أَلَا تَتَّقُونَ ★ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ★ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ} [الشعراء: 177 179]

د قوم فکر دی ورسره ، چی د الله تعالی نه اویریږی ، زما تابعداری اوکړئ ، د قوم ددین او اسلام فکر دے ، د شعیب علیه السلام سره ،

(۱۰) صاحب یس هم دقوم د اصلاح فکر کوی ، او په قوم باندې خفه دے ،

**{قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ}** [یس: 26]

(۱۱) رجل مؤمن هم یو نیك بنده دے ، د قوم د اصلاح فکر کښې فرمائی :

**{ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ}** [غافر: 28]

## نبی علیه السلام سره ددین فکر

دارنګی نبی علیه السلام هم ددین او اسلام او امت فکر کوی ،

قرآن کریم مختلف مقاماتو کښې د نبی علیه السلام د فکر هغه احوال ذکر کړی دی ،

کله قرآن کریم وائی :

**{ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ}** [الشعراء: 3]

کله قرآن کریم وائی :

**{فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا }** [الکهف: 6]

کله قرآن کریم فرمائی :

{ مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى} [طه: 2] ،

کله قرآن کریم فرمائی :

{وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَنْ يَقُولُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ } [هود: 12]

{يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ} [الحجر: 97]

دی ټولو آیاتونو کښې د نبی علیه السلام ددین او امت فکر ته اشاره ده ،

## صفات د نبی علیه السلام

دارنګه د نبی علیه السلام صفات کښې هم راځی ، متواسلا والاحزان دائم الفکر ،

## صحابه کرام سره ددین فکر

دارنګه صحابه کرام رضی الله عنهم سره ددین فکر وو ، جناب ابوبکر رضی الله عنه اوکوره ، چې د زکوة منکرین په باره کښې چې د نبی علیه السلام په زمانه کښې د سورلی سره مهار ورکوو ، او ما لره ئې نه راکوی ، نو زه به ورسره جهاد کوم ، دغسه ابوبکر رضی الله عنه دے اوکوره ،

د نبي عليه السلام د وفات نه پس حالات ګډوډ وو ، خلق ټول حيران وو ، دا اکثر صحابه رائے دا وه ، چې جيش اسامه چې نبي عليه السلام خپله مقرر کړی وو ، هغه دی لږ وخت حصار شي ، ابوبکر رضی الله عنه وئيل : جيس اسامه به ځی ، هغه ئی رخصت کړو ،

وائی : زه په دين کښ کمی نه شم برداشت کولی ، دغه ددين فکر دے ، جناب عمر رضی الله عنه ته اوګوره ، چې کوم علاقه کښ ګورنر مقرر کوی ، نو د هغه دين حالات ګوری ، ددنيا حالات نه ګوری چې دی مالدار دے ، او که غريب ، بلکه د هغه دينی حالات ګوری ، خپله ورسره ددين دومره غم وو چې هغه ددين مشر او امير المؤمنين د مسلمانانو وو ، دا د مسلمانانو خدمت ورته حواله شوی وو ، وئيل به ئی کچری د دجلی په پل کښ سوری وی ، او هغی کښ بيزی خپه اوښلی ، ماته شی ، زما نه به تپوس کيږی ، او که فرات په غاړه بيزه د تندی نه مری نو زما نه به تپوس کيږی ،

## واقعه

د بوډئی واقعه ئی مشهوره ده چې هغی ماشومان ژړل ، وائی : اميرالمؤمنين نه به د قيامت په ورځ تپوس کوم ، عمر رضی الله عنه په خپله اوګه هغی له خرچه اوړی ، د هغوی سره ددی خبری فکر وو ، چې دين ذمه واری ، مونږ ته ملاؤ شوی ده ، حواله شوی ده ،

قیامت کښې به ئې الله تعالی تپوس کوی ، دغه شان عثمان رضی الله عنه سره ددین فکر ، علی رضی الله عنه سره ددین فکر ، داسی نور صحابه کرام رضی الله عنهم ټول په فکر ددین کښې د یو بل نه مخکښې وو ، د صحابو نه روستو آئمه کرام ، مفسرین ، مجتهدین ، فقهاء کرام چې هغوی ټول د دغه فکر ددین خدمت کړی دے ، دی اوسنی زمانه کښې علماء دیوبند چې حقیقی ددین خدمت ئې کړی دے ، او ددی فکر ورسره وو ، چې د الله تعالی د کتاب به څنګه د خلقو په لاس کښې شی ، او دا به نافذ شی ، په خلقو کښې ، او دا به حاکم شی ، په عالم کښې ددی فکر ورسره وو ، د علماء دیوبند په حقیقی بچو کښې حضرت شیخ القرآن د پنج پیر رحمه الله هم وو ، چې هغه سره دا فکر وو ، او دا فکر پرې دومره غالب وو ، چې ورځ او شپې ته ئې نه دی کتلی ، صرف پدی خدمت کښې ېې ژوند صرف کړې دے ، په دې کښې ئې تکالیف برداشت کړی دی ، د هډوکو هار ، په ډنډونو کښې اچولی شوی دے ، ټانګې پری بندی شوی دی ، جیلونو ته تلی دے ، مناظرے ورسره شوی دی ، بدی ردی ورته وئیلی شوی دی ، د هغه په حقیقی شاګردانو کښې لکه : شیخ د کابلګرام رحمه الله ، شیخ د ویسه رحمه الله ، شیخ د شاهپور رحمه الله دارنګه اوګی خطیب صیب ، دارنګه خال شیخ صیب ، پنج پیر شیخ صیب حفظهم الله ، میر سمیع الحق صیب رحمه الله

او اوسنی دور کښې ددی ټولو حقیقی ترجمان مفکر اسلام مفتی مجتبی عامر صیب حفظه الله چی هغه په دغه فکر کښې خپل ژوند صرف کوی ، او ددی خدمت کوی ، صرف د الله د رضا دپاره ، او دائی محنت وی ، چی د دین د ژوند په هره شعبه او هره څانګه کښې راشی ، غالب شی ، که هغه شعبه د تعلیم ، صحت ، سیاست ، معاشره ، معاش ، قضاؤت ، عدالت ده ، شخصی اصلاح ده ، اجتماعی اصلاح ده ، په هره شعبه ددین کښې د هغوی دا محنت دے ، او دا فکر دے ، چی دین په کښې غالب شی ، نن د هر مسلمان بحیثیت مسلمان چی کلمه لا اله الا الله ئې وئیل ده ، دا ئې ذمه داری ده ، چی ددین فکر به په هغه غالب وی ، ددنیا د فکر نه ، او ددی دپاره به بهر پور محنت کوی ،

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین